و وزارت
هنتون
علومو پوهنځی

# حقوقو بنسټونه

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم: د حقوقو بنسټونه
مؤلف: پوهندوی احمد ګل واثق دراني
کمپوز چارې: نصرت ارمان
ډیزاین چارې: صادق الله صادق
خپرندوی: مازیګر کتاب پلورنځی
لومړی چاپ: ۱۳۹۲ل / ۲۰۱۳م
دویم چاپ: ۱۳۹۳ل/۲۰۱۴م
چاپشمېر: ۲۰۰۰
خپرونو لړ: ۱۸
پته: مازیګر کتاب پلورنځی، لاندیني پوړ، اسحاقزی مارکیټ، بزازی څلور لارې - جلال آباد: ۰۷۹۸۰۴۰۹۱۰

د چاپ حقوق خوندي دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ!

دغه علمي اثر خپل ګران شهید، مجاهد پلار او د هغه د حــق د لارې د ســـنګر ملګـــرو شهیدانو او غازیانو ته چې د دین، هېواد او خپلواکۍ لپاره یې سرونه د الله تعالی حضور ته نذرانه کړي.

هغه قهرمانو مجاهدینو تــه، چې اوس هم پــه نړیواله سطحه د دغه شهیدانو او غازیـانو پـه نقش قدم باندې روان دي.

خپلې مهربـانې مـور تـه چې غېـږ یـې زمـا د ښوونې او روزنې لومړۍ پوړۍ وه او مـا سره یې د ژوند په هر پړاو کې نه هېرېدونکې هلې ځلې کړې دي، ډالۍ کوم.

ا. واثق

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کوروداني!

تر ټولو دمخه د خالق لایزال شکر او حمد ادا کوم، چې ما عاجز بنده ته يې د دې کتاب د راټولولو او ليکلو توفيق راکړ، بلکې د ژوند ټولې ښېګڼې او نعمتونه چې زه يې په خپل ځان کې د هغه د کسبولو توان او طاقت نه ګورم، راباندې لورولي دي.

د الله تعالی له حمد او ثناء څخه وروسته د خپل محبوب پيغمبر محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم او د هغه د حق د لارې سرښندونکو صحابه وو رضی الله عنهم او ټولو مجاهدينو، چې د خپلو وينو په قربانۍ سره يې تر موږ پورې د اسلام مقدس دين راورسولو، شکر ادا کوم.

همدارنګه د خپلو ټولو قدرمنو او معززو استادانو څخه چې زما په روزنه کې يې ډېرې هلې ځلې کړې دي، خاصتاً د ډېر قدرمن استاد پوهاند دوکتور حفيظ الله چې د ټول افغانستان وياړ دی، واقعاً د څلور کلنۍ دورې او اوس مهال د ماسترۍ برنامې د تکميل په برخه کې زموږ خاصه روزنه کړې ده.

او داسې روزنه او تدريس يې راته کړی، چې نن ورځ زه دا جرائت کوم، چې د يو حقوقي کتاب په راټولونه اقدام وکړم.

د الله تعالی په فضل او کرم سره دا کتاب، چې اوس ستاسې په لاسو کې دی، تکميل کړ.

د دې تر څنګ محترم ورور عالم زېب او شمس الحق دوست، چې د کتاب په تصحيح کې يې راسره پوره همکاري وکړه، همدارنګه نصرت ارمان، چې د کمپوز او صادق الله صادق چې د دې کتاب په ډيزاينولو کې يې ځانونه ستړي کړي او ټولو استادانو او دوستانو څخه چې زه يې د دې کتاب ليکلو ته هڅولی يم، مننه کوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه کتاب لیکل زه خپل ابتکار او ذکاوت نه گڼم، بلکې د لوی الله تعالی خاصه لورېینه ده، که گران لوستونکي په دې کتاب کې کوم قوي نظریات یا خوبیانې گوري، په حقیقت کې دا د محترم استاد پوهاند دوکتور حفیظ الله دانش علمي هلې ځلې دي، چې د افغانستان په سطح یې کړې دي او دا د نوموړي استاد تکالیف موږ دلته رانقل کړي دي او که احیاناً کومه اشتباه په لیکنه کې گورئ، نو هغه به له ما څخه شوې وي

نو ټول قدرمن لوستونکي دې د اسلامي ورورگلوۍ له مخې ټول متني او شکلي خطاگانې په نښه او له موږ سره دې یې شریکې کړي په پای کې بیا خپلو ټولو استادانو، خاصتاً پوهاند دوکتور حفیظ الله ته د حیاء، عزت، عفت او اوږد ژوند او سعادة الدین غوارم

په درنښت

واثق

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د حقوقو بنسټونه | ۱ |
| د حقوقو مفهوم | ۴ |
| د حقوقو مانا: | ۵ |
| د حقوقو د مبادي پېژندنه | ۱۲ |
| **لومړۍ برخه** | |
| آفاقي حقوق | ۱۵ |
| **لومړی څپرکی** | |
| د آفاقي حقوقو پېژندنه | ۱۵ |
| **دويم څپرکی** | |
| حقوقي قواعد | ۲۱ |
| لومړی مبحث- د حقوقي قاعدې ځانګړتياوې | ۲۱ |
| دويم مبحث -له نورو علومو سره د حقوقي قواعدو اړيکې | ۲۲ |
| درېيم مبحث -د علم ځانګړتياوې | ۲۷ |
| څلورم مبحث- د حقوقو د علم اړيکې د دين، اخلاقو او عدالت سره | ۲۸ |
| درېيم مبحث- د طبعي علومو او حقوقو تر منځ اړيکې | ۳۹ |
| **درېيم څپرکی** | |
| د آفاقي حقوقو وېشنه | ۴۱ |
| لومړی مبحث -ملي حقوق | ۴۳ |
| دويم مبحث-بين المللي حقوق | ۷۸ |
| **څلورم څپرکی** | |
| د آفاقي حقوقو منابع | ۹۰ |
| لومړی مبحث - اصلي منابع | ۹۱ |
| په اسلامي ممالکو کې څرنګه له اسلامي شريعت څخه | ۹۲ |
| د قضاياوو په حل او فصل کې د قرآن کريم څه رول دی؟ | ۹۷ |


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی -لویه جرګه.................................................. ۱۴۱
دویم- مقننه قوه( ملي شورا یا پارلمان)............................ ۱۴۴
درېیم-د دولت د ریاست مقام.......................................... ۱۵۰
څلورم-د وزیرانو شورا.................................................... ۱۵۲
دویم مبحث-د آفاقي حقوقو فرعي منابع............................. ۲۱۱

دویمه برخه

عندي یا ذاتي حقوق...................................................... ۲۴۲

لومړی څپرکی

د عندي حقوقو پېژندنه................................................... ۲۴۳
لومړی مبحث-د عندي حقوقو تعریف................................. ۲۴۳
دویم مبحث-عندي حقوق اعتبار دی او که اصطلاح؟............ ۲۴۵
درېیم مبحث -د عندي حقوقو ځانګړتیاوې......................... ۲۴۶
څلورم مبحث-د عندي حقوقو بنسټ.................................. ۲۴۸

دویم څپرکی

د عندي حقوقو موضوع................................................... ۲۵۰
لومړی مبحث -حقیقي یا فزیکي اشخاص........................... ۲۵۰
دویم مبحث -حکمي، معنوي یا حقوقي اشخاص.................. ۲۲۵

درېیم څپرکی

د عندي حقوقو منابع..................................................... ۲۷۳
لومړی مبحث - حقوقي اعمال......................................... ۲۷۳
دویم مبحث - حقوقي حوادث......................................... ۲۸۳

څلورم څپرکی

د عندي حقوقو ډولونه.................................................... ۲۸۹
لومړی مبحث -سیاسي حقوق.......................................... ۲۸۹
دویم مبحث -عمومي حقوق............................................ ۲۹۰
درېیم مبحث -خصوصي حقوق......................................... ۲۹۱
اخځلیکونه.................................................................. ۲۹۵

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حقوقو بنسټونه

الحمد الله الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهر علی الدین کله ولو کره الکافرون، و لصلاه و السلام علی رسوله الامین و قاید المجاهدین محمد و علی اله و اصحابه اجمعین؛ و بعد.

الله تبارک و تعالی په خپلو بنده ګانو باندې ډېر زیات مهربانه دی او د خپلې زیاتې مهربانۍ او لورینې له مخې یې خپل بنده ګان (انسانان) تر نورو ټولو مخلوقاتو غوره او اوچت پیدا کړي، شرافت یې ورکړی، پیریانو او ملایکو ته یې د تعظیم د سجدې امر کړی، په ځمکه کې یې خپل خلیفه ګرځولی دی او ان تر دې چې نور مخلوقات یې د انسانانو د خدمت او ګټې رسولو لپاره پیدا کړي دي.

بل دا چې انسانان ټولنیز مخلوقات دي، په ډله ییزډول په ټولنه کې ژوند کوي او نشي کولای چې په یواځې ځان له نورو څخه په منزوي ډول ژوند وکړي، بلکې مجبور دي چې ټولنیز ژوند وکړي، دا ځکه چې په یواځې ځان ورته یا ژوند کول ناممکن دي او یا دا چې په مطلوبه طریقه ژوند سر ته نشي رسولای.

په دې ټولنه کې هر فرد د دېته ضرورت لري چې داسې اعمال او حرکات وکړي چې د هغې په نتیجه کې:

- خپلې اړتیاوې او ضرورتونه پوره کړي
- له ځان څخه د فاع وکړي یانې له خپلو حقوقو څخه ګټه پورته کړي
- د نورو حقوق تلف نه کړي
- نورو خلکو ته د ګټې رسولو هڅه وکړي او داسې نور.

چې د دغه پورته ذکر شوو اعمالو اجرا به په ټولنه کې کوي او مجبور دی چې له نورو انسانانو سره اړیکې او روابط ولري، د د غو اړیکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتون په ټولنه کې اړین دي او د ټولنيز ژوند لپاره د ملا د تير حيثيت لري، چې د نه شتون په صورت کې ئې انسانان په ټولنه کې داسې ژوند نشي کولای چې خپل ضروريات او احتياجات پوره کړي او د کمال درجې ته ورسيږي.

ددې لپاره چې په ټولنه کې ټول ټولنيز روابط منظم او ترتيب شي، هر شخص خپلې اړيکې په منظم شکل پر مخ بوځي، يو د بل په حقوقو تعرض او تيرى و نه کړي، په ټولنه کې نظم او دسپلين موجود وي، انکشافات او پرمختګونه رامنځته شي نو يو لړ قواعد، مقررات او نورمونه بايد موجود وي چې د انسانانو اړيکې ترتيب او تنظيم کړي او دغه روابط بايد په داسې شکل باندې وضع شي چې خلک يې په خپله خوښه او رضا باندې قبول کړي او دا کار هله شوني دى، چې نوموړي مقررات د خلکو د دين، مذهب، عرف، عاداتو، رسم، رواج، ملي افتخاراتو او حتى جغرافيوي جوړښت سره په ټکر کې نه وي.

د دغو پورته اهدافو لپاره او س په ټولنه کې، خاص ټولنيز قواعد، مقررات او اصول وضع شوي دي چې د حقوقي قواعدو او مقرراتو په نامه يادېږي، چې په پخوا وختو کې دا قواعد او مقررات موجود نه وو بلکې اخلاقي او عنعنوي مقرراتو شتون درلود، لکه عرف، عادات، رسم، رواج او داسې نور.

نن ورځ په ټوله نړۍ کې د حقوقو قواعد او مقررات دومره غښتلي او پېچلي دي، چې په ملي او بين المللي سطحه د دولتونو، خصوصي افرادو، بين المللي سازمانو او نورو ټولو حقيقي او حکمي اشخاصو روابط ترتيب او تنظيموي.

همدارنګه د خصوصي افرادو صلاحيتونه او واکونه ټاکي، چې د دغې پراخې ساحې د ترتيب او تنظيم له امله حقوق په ډېرو زياتو رشتو او برخو باندې ويشل شوي دي، چې د حقوقو مبادي (بنسټونه) د ټولو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقو د بنسټ ډېره ده او د حقوقو د علم له ډېرو مهمو او عمده علومو څخه ګڼل کېږي، دا ځکه چې له یوې خوا د ټولو حقوقو له اساساتو او بنسټونو څخه بحث کوي، بل دا چې د حقوقو د مبادي علم په اساس د نورو حقوقي علومو په پوهېدلو کې اسانتیاوې او سهولتونه رامنځته کېږي او تر ټولو مهمه خو یې دا ده چې د حقوقو د مبادي په اساس د ټولو حقوقو د موضوعاتو په رابطه عمومي معلومات تر لاسه کېږي او د حقوقو د زده کړې اسانتیاوې رامنځته کېږي.

همدا علت دی چې نن ورځ د حقوقو مبادي په نامه مضمون یوازې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې بلکې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي تر څنګ د شرعیاتو، اقتصاد، ژورنالیزم او عامه اداري پوهنځیو کې هم د اساسي مضمون پتوګه تدرئیس کېږي.

ددې لپاره چې د حقوقو مبادي (اساساتو) په رابطه بهتره معلومات ترلاسه کړو او د حقوقو مبادي اصلي موضوعات (افاقي حقوقو او عندي حقوقو هر اړخیزه څېړنه) تر بحث لاندې ونیسو، پکار ده چې د مقدماتي معلوماتو پتوګه لومړی د حقوقو د کلیمې په معنی او مفهوم او بیا د حقوقو د مبادي کلیمې په معنی او مفهوم د دوه جلا جلا عنوانو په ترڅ کې بحث وکړو.

د حقوقو مانا او مفهوم

د حقوقو د مبادي مانا او مفهوم

لومړی: د حقوقو مانا او مفهوم:

په دغه عنوان کې، په ښکاره ډول دوه ټکي ښکاره کېږي، یو مفهوم او دویم مانا، چې موږ هم لومړی مفهوم او په دویم قدم کې په مانا باندې بحث کوو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حقوقو مفهوم:

لکه څرنګه چې مخکې دې خبرې ته اشاره وشوه چې انسانان ټولنيز مخلوقات دي او په ټولنه کې ژوند کوي، نو لازمي خبره ده چې يو له بل سره به روابط او اړيکي ولري چې د دغه اړيکو او روابطو په نتيجه کې حقوقي قواعد او مقررات رامنځته کېږي، يا دا چې حقوقي رابطې رامنځ ته کېږي، دواړو خواو ته يې انسانان وي، چې يو د بل په مقابل کې حقوق او وجايب لري په دې مانا چې يو شخص به د حق، صلاحيت، قدرت او امتياز خاوند وي او بل شخص به يې په مقابل کې مکلفيت او وجيبه لري، چې هېڅ يوه حقوقي رابطه له داسې حالاتو څخه خالي نه وي، د مثال په ډول:

احمد غواړي چې بکر ته کور په کرايه ورکړي، چې په دې صورت کې يوه حقوقي رابطه رامنځ ته شوه، دلته ګورو چې احمد د حق او صلاحيت خاوند دی او هغه دا چې د کور کرايه به اخلي، اوس له احمد څخه پرته بل څوک دا صلاحيت او واک نه لري، له بلې خوا بکر وجيبه لري او هغه دا چې د کور کرايه به ورکوي، بل څوک دا وجيبه نه لري، ددې برعکس احمد وجيبه لري چې بکر ته کور تسليم کړي او بکر صلاحيت او حق لري چې په دغه کور کې و اوسېږي.

په دغه مثال کې مو ولیدل چې د حقوقي رابطې دواړه خواوې حقوق او وجايب لري، يوه حقوقي رابطه هم له دې څخه خالي نه وي، نو ددې لپاره چې حقوق تلف نه شي او هر سړی خپل مکلفيت او وجيبه په ښه شان تر سره کړي، يو سلسله مقررات او قواعد بايد موجود وي، چې دغه ټول روابط ترتيب او تنظيم کړي او هم هر شخص ته خپل حقوق او وجايب وټاکي چې د دغه قواعدو او مقرراتو څخه سرغړونه مدني تخلف رامنځ ته کوي، په دې مفهوم سره حقوق له قانون سره ورته والی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کوي، د حقوقي روابطو اجرا او رعایت يې د دولت له خوا تضمین کېږي، چې هدف يې د ټولنیز ژوند ترتیب تنظیم، د عدالت تامین، ټولنیز پرمختګ، انکشاف او سوکالي ده، دا په مجموع کې د حقوقو مفهوم شو.

## د حقوقو مانا:

د حقوقو علم لکه څرنګه چې معلومېږي له ټولنیزو علومو څخه یو برجسته او مهم علم دی چې تر اوسه پورې یو واحد تعریف نه لري او هر چا ورته جلا جلا تعریفات کړي دي چې موږ يې ځیني د نمونې په شکل دلته ذکر کوو.

ـ کانت وايي: حقوق د هغو ټولو شرایطو مجموعه ده چې د هغې په اساس د یو شخص اراده د ازادۍ له اصل سره سم د نورو د ګډې ارادې او ګټو سره یووالی مومي.

ـ مایوس مک دوګال وايي: حقوق د قدرت لرونکي مقام هغه احکام دي چې د اغېزمن ځواک او قوي کنترول سره یو ځای وي(سبحاني، حقوق مبادي، ۴ مخ).

حقوق هغه مقررات دي چې د ټولنیز نظم د تنظیم لپاره رامنځ ته شوي وي.

حقوق عبارت له هغه اختصاص څخه دي چې اسلامي شریعیت هر فرد ته د هغه تسلط او قدرت ورکړی وي.

حقوق هغه مقررات دي چې دولت په رسمیت پېژندلي وي او په عدلي محکمو کې تطبیق کېږي.

یا په بل عبارت حقوق یو امتیاز دی چې یو شخص يې په ټولنیز ژوند کې د نورو په مقابل کې پیدا کوي او مقررات يې تضمین ورکوي

لکه څرنګه چې ولیدل شو د حقوقو په اړه علماء مختلف نظریات

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، اما تر کومه حده چې معلومه شوې، د حقوق دغه وړه کلمه چې د (ح، ق، و، ق) او یا د حق کلمه چې له (ح او ق) حروفو څخه جوړه شوې او مروجه کلمه هم ده چې ټول خلک یې په خپل ورځني ژوند کې ډېره زیاته استعمالوي، تر اوسه پورې علماء په دې نه دي توانیدلي چې په یو واحد تعریف سره موافق شي او حتی دا چې ټول دې نتیجې ته رسیدلي، چې داسې یو تعریف چې د حقوقو مفهوم په ټولنیزه افاده کړي شونی نه دی، نو ځکه یې لومړی په دوه برخو وېشل کړي او بیا هر یو ته یې جلا جلا تعریف کړی دی، چې موږ هم په دې ځای کې لومړی د حقوقو لغوي تعریف او وروسته د علماوو له خوا هر یو وېشل شوی برخه جلا جلا تعریفوو.

## د حقوقو لغوي مانا:

حقوق یوه عربي کلمه ده چې د حق جمع ده، په پښتو او دري ژبو کې هم همدغه کلمه استعمالېږي او زیاتې مانا ګانې لري چې ځینې مهمې ماناوې یې په لاندې ډول ذکر شوي دي

۱ـ حق د الله ج له نومونو څخه یو نوم دی.

۲ـ حق د باطل د ضد په مانا دی، لکه چې الله ج فرمايي (وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ. بقره ۴۲). ژباړه: او مه پټوئ حق په باطل سره.

۳ـ حق د ملکیت په مانا دی، مثلاً نثار وایي چې دا قلم زما حق دی او دا ځکه چې دا زما ملکیت دی.

۴ـ حق د برخې او حصې په مانا دی: مثلاً عدنان په کور کې د عاطف په څېر حق لري، په دې ځای کې له حق څخه مقصد برخه او حصه ده دا ځکه چې دواړه ورونه دي.

۵ـ حق د رښتیا په مانا دی: کله چې یو سړی رښتیا خبره وکړي نو نور خلک ورته وایي چې حق خبره یې وکړه، چې په دې ځای کې له حق څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدف ربنتیا دی

۶_ حق د واقعیت او حقیقت په مانا دی: لکه چې وایي شاکر په دې تجارتي معامله کې حق په جانب دی، دا ځکه چې دا حقیقت او واقعیت دی.

۷_ حق د ورتیا په مانا دی: کله چې نصرت د حقوقو بنسټونو په مضمون کې پوره نمرې واخلي، نور ملګري یې دا خبره کوي چې حق یې دی، ځکه چې ورتیا پکې شته

۸_ حق د نېکۍ په مانا دی: لکه خلک وایي ضیا د هر حق شناس سړی دی.

۹_ حق د عوض او بدلې په مانا دی: احمد په یو پوهنتون کې قرار دادي استاد دی، هغه وایي چې زه د یو ساعت تدریس په مقابل کې پنځه سوه افغانۍ حق الزحمه اخلم یانې د یو ساعت په عوض کې پنځه سوه افغانۍ اخلم

۱۰_ حق د انصاف او عدالت په مانا دی: کله چې محکمه د عدل فیصله وکړي او حق خپل حقدار ته ورکړي، نو خلک ددې په ځای چې د عدل فیصله وو وایي وایي چې حق فیصله یې وکړه.

۱۱_ حق د مالیې او ټکس په مانا دی: لکه حق العبور.

۱۲_ حق د سلطې، امتیاز او صلاحیت په مانا دی: مثلاً پلار خپل زوی ته وایي چې: ته باید نن ورځ بازار ته لاړ شې او یو کار ورته په ګوته کوي چې دا کار به وکړې، دا ځکه چې پلار حق لري

۱۳_ حق د یقین په مانا دی: لکه الله ج چې په قرآن کریم کې فرمایي: اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا (انفال_٤).

ژباړه: خاص دغه کسان مومنان دي په حق سره_ احسن الکلام، ۴ جلد، ۴۴۹ مخ.

۱۴_ حق د حکمت په مانا هم راغلی، لکه الله ج چې فرمایي: كَمَآ اَخْرَجَكَ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِالۡحَقِّ ۚ (انفال_۵).

ژباړه: څکه چې وويستلې يې رب ستا د کور ستانه په حکمت سره (احسن الکلام_۴ جلد_۴۵۰مخ)

۱۵_ حق د جنګ په مانا هم راغلی لکه چې الله ج فرمائي: يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ (انفال_ ٦).

ژباړه: بحث کوي دوی تا سره په باره د جنګ کې، (احسن الکلام_۴ جلد_۴۵۱ مخ).

۱۶_ حق په مانا د ثبوت او ظهور هم راځي لکه د الله ج کلام کې: وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ (انفال_ ۷).

ژباړه: او غوښته الله ج چې ښکاره(ثابت) کړي حق (احسن الکلام_۴ جلد_۴۵۲ مخ).

۱۷_ حق په مانا د غالب هم راځي لکه الله ج چې فرمائي: لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ (انفال_۸).

ژباړه: ددې لپاره چې غالب کړي حق(احسن الکلام، ۴ جلد، ۴۵۲مخ).

۱۸_ حق په مانا د لازم لکه: كَذَٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ الْمُؤْمِنِينَ (يونس، ۱۰۳).

ژباړه: دغسې لازم دي پر موږ چې بچ کوو به مومنان(احسن الکلام، ۵ جلد، ۸مخ).

په خلص ډول وايو چې د حق کلمه مصدر دی او د نوم په بڼه هم استعمالېدای شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حقوقو اصطلاحي مانا:

لکه څرنګه چې مخکې دې خبرې ته هم اشاره وشوه چې حقوق له ټولنيزو علومو څخه يو علم دی چې تر اوسه پورې علماؤ ورته له يو داسې تعريف کولو څخه عاجز شوي دي چې د حقوقو ټولې خواوې معرفي کړای شي، ځکه چې حقوق هم د فرد او هم د ټولنې لپاره د سلطې، امتياز او صلاحيت ورکولو تر څنګ د ټولو روابطو ترتيب او تنظيم هم کوي، نو په همدې اساس علماو لومړی حقوق په دوه برخو ويشلي کړي او بيا يې هرې برخې ته جلا جلا تعريف کړی، چې هغه له آفاقي حقوقو او عندي حقوقو څخه عبارت دي چې موږ هم هر يو جلا جلا دلته تعريف کوو.

دا فاقي حقوقو تعريف: آفاقي په نسبتي(ی) د افاق څخه اخيستل شوی دی، افاق يوه عربي کلمه ده، چې د اطراف، چاپېريال، ما حول او ټولنې مانا ورکوي، چې په دې ځای کې ترېنه هدف ټولنه ده، آفاقي حقوق د هغې اجباري قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې په ټولنه کې موجود دي او د ټولنې ټولې برخې ترتيب او تنظيموي.

د عندي حقوقو تعريف: د عندي کلمه عربي کلمه ده چې د ذاتي او نفسي مانا لري، عندي حقوق عبارت له هغه صلاحيت، قدرت او امتياز څخه دي چې يو شحص يې د بل شخص يا يو شخص يې د يو شي يا جنس په مقابل کې لري.

دا چې موږ او تاسې آفاقي او عندي حقوق دواړه و پېژندل ، اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې آفاقي حقوق ډېر مهم دي او که عندي حقوق؟

په دې اړه علماؤ درې نظريې وړاندې کړيدي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی نظر دا دی چې عندي حقوق تر آفاقي حقوقو بهتر دي، دویم نظر دادی چې آفاقي حقوق تر عندي حقوقو بهتر دي، درېیم نظر دا دی چې دواړه یو له بل سره لازم او ملزوم دي، یانې دا چې دواړه ډېر مهم دي، چې دغه درې نظریات یا تحلیلونه جلا جلا ذکر کوو.

لومړی تحلیل: ددې تحلیل له مخې نظر لاندې دلایلو ته عندي حقوق تر آفاقي حقوقو بهتر دي.

۱ـ دلیل: عندي حقوق قدامت لري، یانې د انسانانو له پیدایښت سره سم منځ ته راغلي دي او آفاقي حقوق د عندي حقوقو په نظر کې نیولو سره ډېر وروسته منځ ته راغلي دي.

۲ـ دلیل: دویم دلیل دا دی چې آفاقي حقوق مورِد ته بنایي چې له عندي حقوقو څخه څرنګه استفاده وشي، په دې مانا چې آفاقي حقوق د عندي حقوقو د خدمت لپاره پیدا شوي، که چېرې عندي حقوق نه وای نو آفاقي حقوقو ته به هېڅ ضرورت نه ؤ، د دغه دواړو دلایلو په اساس دا حکم شوی چې عندي حقوق تر آفاقي حقوقو بهتره دي.

دویم تحلیل: ددې تحلیل په اساس آفاقي حقوق تر عندي حقوقو بهتر دي، نظر لاندې دلایلو ته

۱ـ دلیل: آفاقي حقوق دي چې د عندي حقوقو د استفادې لارې چارې ترتیب او تنظیموي او دا را په ګوته کوي چې له عندي حقوقو څخه څرنګه استفاده وشي.

۲ـ دلیل: د عندي حقوقو د عدم رعایت په صورت کې آفاقي حقوق رسیده ګي کوي، همدغه آفاقي حقوق دي چې د عندي حقوقو د اجرا تضمین کوي او که چېرې څوک له عندي حقوقو څخه سرغړونه وکړي، په دې صورت کې ځینې لازم تولنیز عکس العملونه پېش بیني کوي، چې د دغه دواړو دلایلو له مخې دا حکم کېږي چې له عندي حقوقو څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



آفاقي حقوق ډېر مهم دي

دريیم تحليل: دريیم تحليل او نظر دادی چې عندي حقوق او آفاقي حقوق دواړه يو بل لپاره لازم او ملزوم دي او د يوه په نه موجوديت کې بل يا بالکل منځته نه راځي او يا دا چې که منځ ته راشي هغه به ناقص او نيمګړی وي

بل دليل دا دی چې د عندي حقوقو او آفاقي حقوقو د اهميت ثابتول ډېر مشکل کار دی يانې د دې حقوقو تفکيک او جلا والی ډېر مغلق دی او حتی که وواېو امکان نه لري، ځکه چې دواړه ځانګې يو له بل سره تړلي دي او د يوه حقوقو د نه موجوديت په صورت کې دويم ته ضرورت نه ليدل کېږي، په دې مانا که عندي حقوق نه وي، آفاقي حقوقو ته ضرورت نشته او که آفاقي حقوق نه وي، عندي حقوق نه عملي کېږي، نو همدا قوي نظر دی چې دا دواړه حقوق يو له بل سره لازم او ملزوم دي او د يوې ټولنې د پرمختګ او انکشاف لپاره دواړو رشتو ته اشد ضرورت دی چې همدا رايه موږ هم قبوله کړې ده.(حفيظ الله دانش).

دلته يوه بله پوښتنه هم مطرح کېږي او هغه دا چې د آفاقي حقوقو او عندي حقوقو تر منځ څه توپيرونه (فرقونه) شتون لري؟

د دغه دواړو حقوقو تر منځ لاندې توپيرونه شتون لري:

۱ـ عندي حقوق همېشه د قدرت، صلاحيت، امتياز او سلطې په مانا سره استعمالېږي، په داسې حال کې چې آفاقي حقوق همېشه د مقرراتو، قواعدو، اصولو، پرنسيپونو، موازينو او... نورو په مانا استعمالېږي

۲ـ په عندي حقوقو کې د حقوقو کلمه جمع ده او کله مفرد ته هم استعمالېږي، لکه موږ واېو چې د پلار حق، د مور حق، د استاد حق او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور، اوس دغه هر یو لفظ مفرد دی او کله چې مورږ وایو حقوق، نو هدف ترینه جمع ده.

په داسې حال کې چې په آفاقي حقوقو کې د حقوقو کلمه همېشه مفرده ده: لکه مورږ او تاسې چې کله یو مفرد لپاره هم دغه د جمع کلمه استعمالوو. د مثال په ډول، د جزا حقوق، یا اداري حقوق، مورږ کله هم نه وایو چې اداري حق یا د جزا حق، مالي حقوق کله هم نه وایو چې مالي حق، نو ځکه وایو چې په آفاقي حقوقو کې چې کله د حقوقو کلمه استعمالېږي، اکثره مفرد وي جمع نه وي، یا په لنډ ډول وایو چې په آفاقي حقوقو کې مفرد ته هم جمع استعمالېږي.

۳ـ عندي حقوق همېشه فرد پورې تړاو لري او مستقیماً د ټولنې پورې کوم خاص تړاو نه لري او آفاقي حقوق همېشه د ټولنې پورې تعلق لري، د یو فرد او شخص پورې تعلق نه لري.

## د حقوقو د مبادي پېژندنه:

په دې کې په عمده ډول په دوه موضوعاتو رڼا اچول شوې یو د حقوقو د مبادي تعریف او دویم د حقوقود مبادي د مطالعې ګټې.

۱ـ *د حقوقو د مبادي (حقوقو بنستونو) تعریف*: د حقوقو مبادي ته که وګورئ له دوو کلمو څخه جوړه شوې، یو مبادي او بل یې حقوق دي، چې په لومړي قدم کې دغه دواړه جلا جلا تعریف شوي او وروسته د حقوقو د بنستونو تعریف شوی دی.

*د مبادي پېژندنه*: مبادي د مبدا جمع ده او یو عربي کلمه ده چې د اصل په مانا استعمال شوې ده چې اصل د بنیاد، تهداب، بنسټ، اساس او نورو په مانا سره راځي او په دې ځای کې مبادي د حقوقو د علم د اساس، بنسټ، او تهداب په مانا سره راغلی.

دویمه کلمه حقوق ده، چې په دې رابطه مخکې بحث شوی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس راځو دېته چې د حقوقو مبادي څه ته وايي؟

د حقوقو د مبادي په اړه مختلف تعریفات شوي دي، خو موږ له هغې څخه دلته یوازې دوه تعریفات مطالعه کوو.

## ۱ـ د حقوقو مبادي:

عبارت له هغه علم څخه دی چې د حقوقو د ټولو برخو سره ارتباط لري، چې د هغوی عمومي پرنسپونه او مختلفې څانګې معرفي کوي، د بلې خوا د حقوقو د علم مختلفې څانګې د دغه څانګو په خپل مینځ کې او نورو علومو سره روابط مطالعه کوي او د هغوی تر منځ شریکې نقطې ټاکي.(۱۲ مخ د/د محمد نذیر د مبادي حقوق اول جلد ).

یا په بل عبارت د حقوقو مبادي علم عبارت له هغه علم څخه دی، چې د حقوقو د علم له اساساتو او بنسټونو څخه بحث کوي(*حفیظ الله دانش*).

د حقوقو د مبادي علم ګټې: د حقوقو د مبادي علم مطالعه لاندې ګټې او فایدې لري.

۱ـ لکه څرنګه چې د نوموړي علم له نوم څخه معلومېږي چې دا علم، د نورو حقوقي علومو لپاره، اساس، بنسټ، تهداب او مقدمه ده، نو ځکه ددې علم مطالعه شخص دې ته اماده کوي چې په نورو حقوقي علومو باندې اسانه او ساده پوه شي.

۲ـ ددې علم د مطالعې په اساس د حقوقو د نورو علومو په هکله عمومي معلومات تر لاسه کېږي.

۳ـ ددې علم د مطالعې په نتیجه کې د نورو ټولو حقوقي رشتو په رابطه په دې پوهېږو چې په کوم مضمون کې په کومو مسایلو باندې بحث کېږي.

۴ـ د حقوقو مبادي د مطالعې په نتیجه کې موږ په دې پوهېږو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقو علم کومې رشتې لري او دا رشتې په خپل منځ کې او د نورو انساني علومو سره څه ارتباط لري؟

۵ـ د حقوقو مبادي په خپل ذات کې یو ډېر جالب او په زړه پورې مضمون هم دی.

A ۶ـ په دې علم کې د هغه قواعدو او مقرراتو څخه بحث کېږي چې د ټولنیزو چارو ترتیب او تنظیم لپاره مفید او ګټور وي او هم یې د اشخاصو لپاره حقوق او مسوولیتونه ټاکلي وي.

## د حقوقود مبادي موضوع

د حقوقو مبادي د حقوقو له اساساتو او بنسټونو څخه بحث کوي چې عمده موضوع یې خپله د حقوقو د علم او د هغوی د رشتو مطالعه ده.

مخکې هم دې خبرې ته اشاره وشوه، چې د حقوقو مبادي خپله له حقوقو څخه بحث کوي او دا هم مخکې مطالعه شول چې د حقوقو لپاره علماء په دې و نه توانیدل چې یو واحد تعریف وکړي، نو ځکه یې لومړی په دوه وویشل چې هغه عبارت دي له آفاقي او عندي حقوقو څخه او وروسته هر یو ته جلا جلا تعریفات وشول، چې موږ په دې مضمون کې همدغه دواړه حقوق په جلا جلا ډول مطالعه کوو چې په لومړۍ برخه کې آفاقي حقوق او په دویمه برخه کې عندي حقوق مطالعه کوو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

# افاقي حقوق

ددې لپاره چې د آفاقي حقوقو په رابطه بهتره او ښه معلومات تر لاسه کړو نو لازمي ده چې لاندې سرليکونه مطالعه کړو.

د آفاقي حقوقو پېژندنه، د آفاقي حقوقو خصوصيات، د آفاقي حقوقو ويشنه، د آفاقي حقوقو منابع او د آفاقي حقوقو د علم اړيکې د نورو علومو سره، چې د ښه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي.

# لومړی څپرکی

# د افاقي حقوقو پېژندنه

آفاقي حقوق (Objective Law) د ټولنيزو علومو له جملې څخه يو علم دی او خپله د ټولنې، چاپېريال او اطراف مانا هم ورکوي، چې د علماءو له خوا ورته ډېر زيات اصطلاحي تعريفات شوي دي، موږ يې د نمونې په توګه يو څو تعريفونه دلته ذکر کوو.

۱ـ تعريف: آفاقي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې په يوه سياسي ټولنه باندې حاکميت لري، د افرادو رابطه تنظيموي او د دولت له خوا يې تضمين کېږي (۱۱ مخ، د/د محمد نذير، *حقوق مبادي اول جلد*).

۲ـ تعريف: آفاقي حقوق د دولت صريح او مشخص بيان دی، چې ټولنې ته خبر ورکوي چې کوم کارونه بايد اجرا شي؟ او څرنګه بايد اجرا شي؟ (۴۱ مخ، *صانعي*).

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳_ تعریف: آفاقي حقوق د هغه مقرراتو مجموعه ده، کوم اشخاص او افراد چې په ټولنه کې ژوند کوي، پر هغوی حکومت چلوي (بشیر دودیال، احصایه، ۲۲ مخ).

۴_ تعریف: آفاقي حقوق د قوانینو، نظامونو او عاداتو مجموعه ده چې د خلکو په اعمالو او اړیکو باندې حاکم دي او د ضرورت په صورت کې دولت افراد د هغې په رعایت باندې مجبوروي (۲ مخ، علي شایګان، حقوق مدني ایران، دویم چاپ، اول جلد).

۵_ تعریف: د سیسرون له نظره: آفاقي حقوق د منطق د لوړ حد د قواعدو مجموعه ده چې په طبیعت کې نغښتي او د اعمالو د تر سره کولو حکم ورکوي چې باید صورت و نیسي اما برعکس حال یې نه مني.

۶_ تعریف: د علمي نظره حقوق په لومړۍ مرحله کې یو لړ قواعد دي چې د ټولنې د ننه انساني ژوند رهبري کوي چې رومیانو د (jus)اصطلاح ورکړې وه. (۱۱ مخ، ستانکزی) چې د نن ورځ (Justice) یا عدالت کلمه هم ورڅخه اخیستل شوې ده. (۸ مخ، سجاني).

ددې په څېر نور ډېر زیات تعریفات د آفاقي حقوقو لپاره شوي دي خو زما په نظر تر ټولو ښه تعریف، د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ استاد دوکتور حفیظ الله (دانش) کړی دی چې ډېر جامع تعریف دی.

پوهاند دوکتور حفیظ الله دانش وایي:

آفاقي حقوق د هغه جبري قواعدو له مجموعې څخه عبارت دي چې په ټولنه کې موجود وي او د ټولنې ټولې برخې ترتیب او تنظیموي

یا په بل عبارت: آفاقي حقوق د هغه اجباري قواعدو مجموعه ده، چې په انسانانو تطبیق کېږي او د دغه انسانانو د ژوند ټول اړخونه په ملي او بین المللي سطحه، د دولت د مداخلې او نه مداخلې په صورت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ترتیب او تنظیموي.

له پورته تعریفاتو څخه کوم چې دانش کړی دی، په لاندې کرښو کې یادونه کولای شو.

آفاقي حقوق د هغه اجباري قواعدو مجموعه ده چې په ملي سطحه د یو خصوصي فرد رابطه د بل داخلي خصوصي فرد سره، یا د یو خصوصي فرد رابطه د داخلي دولت سره، یا د دولت د اداراتو روابط په خپل منځ کې ترتیب او تنظیموي.

همدارنګه په بین المللي سطحه د یو خصوصي فرد رابطه د خارجي دولت د خصوصي فرد سره، یاد خارجي دولت سره یا د دولتونو روابط په خپل منځ کې یا د دولتونو او بین المللي سازمانونو تر منځ روابط او یا د بین المللي سازمانونو روابط په خپل منځ کې ترتیب او تنظیموي.

چې د ښه پوهېدو لپاره موږ پورته ذکر شوې اړیکې او روابط سره د مثالو په لاندې ډول ډول تشریح کوو.

### - په ملي سطحه د خصوصي افرادو روابط:

هغه مقررات او قواعدو مجموعه چې د یو خصوصي فرد رابطه د بل داخلي خصوصي فرد سره ترتیب او تنظیموي، دا عبارت له هغه قواعدو څخه دی چې د انسانانو روابط په ملي سطحه د دولت د نه مداخلې په صورت کې ترتیب او تنظیموي.

لکه یو افغان ځوان د یوې افغانۍ جلۍ سره نکاح کوي، یا دا چې یو افغان تجار د بل افغان تجار سره یوه تجارتي رابطه لري، البته ددې خبرې یادونه هم باید وکړو چې دغه روابط به د افغانستان د قلمرو په داخل کې منځ ته راغلې وي.

په پورته ذکر شوې رابطه کې و لیدل شو چې نه خارجي عنصر لري او نه پکې دولت مداخله کوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د يو خصوصي فرد رابطه د داخلي (خپل متبوع) دولت سره:

دا عبارت د هغې قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دی چې د يو خصوصي فرد رابطه د داخلي (خپل متبوع) دولت سره ترتيب او تنظيموي لکه: د يو محصل رابطه د پوهنتون د اداري، يا د پوهنتون د اداري سره د استاذ رابطه، يا دا چې يو افغان غواړي چې د تابعيت تذکره واخلي، نو يو خوا خصوصي فرد بل خوا ته د خپل متبوع دولت يوه اداره ده، د دغه ډول روابطو په ترتيب او تنظيم کې و ليدل شوچې دا هم خارجي عنصر نه لري، ولې يوې خوا ته خصوصي فرد او بلې خوا ته متبوع دولت قرار لري.

- د يو دولت د داخلي اداراتو روابط په خپل منځ کې:

دا عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دی چې د يو دولت د يوې اداري رابطه د بلې اداري سره ترتيب او تنظيموي.

لکه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي رياست رابطه د ننګرهار پوهنتون رياست سره، يا د ننګرهار پوهنتون د رياست رابطه د لوړو زده کړو وزارت سره، له ښکته څخه پورته او د پورته له خوا ښکته روابطو ترتيب او تنظيم.

- په بين المللي سطحه د روابطو ترتيب او تنظيم:

د يو خصوصي فرد رابطه د خارجي خصوصي فرد سره:

دا د هغه قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی چې د يو شخص رابطه د بل خارجي دولت له تابع شخص سره ترتيب او تنظيموي، په دې شرط چې د دولت مداخله په کې نه وي.

د مثال په ډول يو افغان زلمی غواړي چې د يوې تاجکې پېغلې سره واده وکړي، يا دا چې يو افغاني تجار غواړي او په چين کې له يو چينايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجار ځخه ځینې تجارتي اجناس اخلي. دلته ولیدل شوچې، دواړو خواو ته خصوصي افراد دي، دولت په کې مداخله نه لري، له بلې خوا لیدل کېږي چې د دواړو تابعیت د بېل، بېل دولت پورې تړلی دی یانې له یو دولت ځخه نه دي او خارجي جنبه لري.

*- د یو خصوصي فرد رابطه د خارجي دولت سره:*

د هغه قواعدو له مجموعې ځخه عبارت دي، چې د یو شخص رابطه د غیر متبوع دولت سره ترتیب او تنظیموي.

د مثال په ډول: یو افغان غواړي چې یو بل خارجي دولت لکه انګلستان، جرمني او یا سعودي عربستان ته سفر وکړي، یا دا چې یو افغان غواړي چې د استرالیا په هېواد کې مېشت شي، یا دا چې غواړي د امریکا متحده ایالتو په یو دولتي پوهنتون کې زده کړې وکړي، یا دا چې غواړي د کاناډا د دولت تابعیت واخلي، چې په دې ټولو صورتونو کې د یو دولت تابع شخص د بل غیر متبوع دولت سره رابطه لري او دغه رابطه چې ترتیب او تنظیموي هغه عبارت د آفاقي حقوقو له مقرراتو ځخه دي.

*- د یو دولت رابطه د بل دولت سره:*

دا عبارت له هغه قواعدو ځخه دي چې د یو دولت رابطه د بل دولت یا نورو دولتونو سره ترتیب او تنظیموي.

د مثال په ډول د افغانستان دولت د تاجکستان دولت سره د برق په رابطه یو یو تړون امضا کوي، چې دا او ددې په شان نور روابط د همدغه حقوقي قواعدو په اساس ترتیب او تنظیم کېږي.

*- د یو دولت رابطه د بین المللي سازمانونو یا د بین المللي سازمانونو روابط په خپل منځ کې:*

دا هغه قواعد دي چې کله یو دولت غواړي چې د یو بین المللي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان سره رابطه ولري او هغه ترتيب او تنظيم کړي

لکه، د هند په دولت کې سيلابونه راغلل او زيات خلک له کورونو څخه بې ځايه شول، په دې صورت کې د هند دولت، د يو بين المللي سازمان، د مثال په ډول (يو نسيار) يا د (UN) د يو سازمان سره د خيمو او کمپلو يا نورو شيانو قرارداد کوي، يا يوه رابطه کوي چې دا او ددې په شان نور روابط ترتيب او تنظيم کړي

(لنډيز)

ددې فصل لنډيز دا شو، چې آفاقي حقوق هغه قواعد او مقررات دي چې په ټولنه کې شتون لري او د ټولنې ټولې برخې ترتيب او تنظيموي دا چې يوازې د يوه دولت د قلمرو پورې تړلې وي او که د ډېرو دولتونو پورې، ياني له قلمرو څخه د باندې روابط هم ترتيب او تنظيموي

بل دا چې کله نا کله داسې روابط وي چې خپله د رابطې د اجرا په وخت کې دولت ته ضرورت نه ليدل کېږي او يوازې خصوصي افراد يې تر سره کوي او ځينې وخت داسې وي چې پرته له دولت څخه نه تر سره کېږي او همدا رنګه ځينې روابط دي چې خصوصي افراد پکې، هيڅ قسم رول نه لري او يوځې دا دولت له خوا تر سره کېږي چې د غه ټولې اړيکې د آفاقي حقوقو په اساس ترتيب او تنظيمېږي

**پوښتنې:**

۱- د آفاقي حقوقو لغوي مانا وليکئ؟

۲- د آفاقي حقوقو لپاره ستاسې په نظر درې غوره تعريفات وکړئ؟

۳- آفاقي حقوق له عندي حقوقو سره څه توپيرونه لري بيان يې کړئ؟

۴- د حقوقو مبادي ولې مطالعه کوو؟

۵- د حقوقو مبادي څه ته وايئ؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

# حقوقي قواعد

ددې لپاره چې حقوقي قواعد او د هغوی جلا والی د نورو قواعدو سره کوم چې په فرد او ټولنه حاکم وي ښه و پېژندل شي، نو لازمي ده چې په لومړی قدم کې د حقوقي قواعدو ځانګړتیاوې او په دویم قدم کې د حقوقي قواعدو اړیکې د نورو علومو او قواعدو سره مطالعه کړو.

## لومړی مبحث- د حقوقي قاعدې ځانګړتیاوې

ددې لپاره چې د نوموړې موضوع په رابطه په ښه ډول پوه شو، نو بهتره به وي چې لومړی د حقوقي قاعدې لپاره تعریف وکړو.

حقوقي قاعده: هغه الزامي او جبري قاعده ده چې، د ټولنې د نظم، ټولنیز ژوند، ثبات، د عدالت د تطبیق، استقرار په ټولنیز ژوند او حقوقي سستم باندې حاکم وي او د اجرا تضمین یې دولت کړی وي، عبارت له حقوقي قاعدې څخه دی.

یا په بل عبارت: افراد په ټولنیز ژوند کې حقوق، وجایب، امتیاز او صلاحیتونه لري نو هر هغه امر چې دغه حقوق، وجایب، امتیازات او صلاحیتونه ټاکي عبارت له حقوقي قاعدې څخه دي(۵۸_۵۹ مخ،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارتوزیان، مقدمه علم حقوق).

لکه څرنګه چې مخکې هم دې خبرې ته اشاره و شوه چې حقوقي قواعد د نورو ډېرو قواعدو سره نږدې اړیکي لري لکه دین، مذهب، عرف او عادات، اخلاق او نور.

ولې د دې لپاره چې په دقیق ډول و کولای شو چې حقوقي قواعد له نورو څخه جلا کړو نو لازمي ده چې د حقوقي قواعدو ځینې ځانګړتیاوې او خصوصیات چې له نورو څخه یې تفکیک او جدا کوي، په لاندې ډول تر بحث لاندې ونیسو.

## لومړی مطلب- د حقوقي قاعدې د الزامي والي ځانګړتیا (خصوصیت):

د دې لپاره چې حقوقي قاعده خپل اصلي هدف ته کوم چې عبارت د ټولنې د نظم، ثبات او د عدالت د تطبیق استقرار څخه دی، ورسېږي او تطبیق شي، نو باید د حقوقي قواعدو رعایتول اجباري وي دا ځکه چې د حقوقي قواعدو هدف دا نه دی چې حقایق بیان کړي یا دا چې پېښې اعلان کړي، بلکې هدف یې دا دی چې یو تعداد افراد د ځینو اعمالو په اجرا باندې مکلف کړي او د ځینو اعمالو له اجرا څخه یې منع کړي، چې د همدغه اعمالو د تحقق او اجرا د تضمین اجباري والی یو طبیعي ضرورت دی، چې د حقوقو ذاتي صفت ورته هم وایي.

نو په لنډ ډول وایو چې آفاقي حقوق همېشه په جبري ډول په انسانانو باندې تطبیق کېږي او هر شخص چې د آفاقي حقوقو قواعد و نه مني مسوولیت ورته راجع کېږي او دولت په هغه باندې مؤیدات تطبیق کوي، اما په دې حقوقي قواعدو کې یو سلسله استثنات هم شته چې هغه عبارت د اطفالو، لیونیانو او مکره اشخاصو په رابطه دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مطلب: د اجرا د تضمين ځانګړتيا

هر هغه قواعد چې اجرا يې د دولت له خوا تضمين نشي، نو حقوقي قواعد نه شمېرل کېږي، دا ځکه که چېرې يو شخص د خپل عمل د اجرا او امتناع په صورت کې يا د حقوقي قواعدو د اجرا په هکله اختيار ولري او د متجاوز په صورت کې هېڅ قسم مؤيدات و نه ګوري، نو دغه حقوقي قاعده په ټولنه کې نظم، ثبات او د عدالت د تطبيق استقرار نه پيدا کوي، نو ددې لپاره چې حقوقي قواعد تطبيق شي پکار دي چې که د يو شخص له حق څخه انکار وشي نو دولت بايد هغه اجرا کړي او که چېرې يو شخص خپل مسوولیت تر سره نه کړي، نو په دې صورت کې هم بايد دولت مداخله وکړي او چا چې دغه قواعد نه وي رعايت کړي، هغه بايد مجازات شي، همدا علت دی چې حقوقي قواعد د نورو قواعدو لکه اخلاقي قواعدو څخه جلا کوي، دا ځکه چې اخلاقي قواعدو لپاره د اجرا تضمين نه ليدل کېږي.

پوره توضيحات په لاندې مثالونو کې ښه روښانه کېږي

۱ـ که چېرې څوک مريض ډاکتر ته يوسي او ډاکتر په دې ځای کې خپل مسووليت تر سره نه کړي، چې هغه عبارت د مريض له علاج څخه دی او مريض خپل ژوند د لاسه ورکړي، په دې صورت کې حقوقي قواعدو د هغې لپاره جزا ټاکلې ده، چې دغه جزا د اجرا له تضمين څخه عبارت ده.

۲ـ که يو سړی دروغ ووايي، يا دا چې وعده خلافي وکړي نو په دې صورت کې ليدل کېږي چې دا اخلاقي قاعده ده او شخص نه مجازات کېږي، ځکه چې اخلاقي قواعد د اجرا تضمين نه لري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مطلب: د کُلي والي ځانګړتیا:

د آفاقي حقوقو د قواعدو له ځانګړتیاو څخه یوه ډېره مهمه ځانګړتیا دا هم ده چې حقوقي قاعده همېشه په عام ډول وضعه کېږي، چې د یو شخص، قوم او قبیلې په نوم نه وضع کېږي او هره حقوقي قاعده په طبعي ډول کُلي وي، چې مقنن نه شي کولای چې د هر شخص د حقوقو او وجایبو په اړه جلا جلا قاعده وضع کړي(۵۳۳ مخ، *فلسفه حقوق، اول جلد* )، بلکې د ټولو لپاره به یو شان وضع کېږي، چې دا حقوقي قاعده د رسم او رواج سره فرق لري

ځکه چې رسم او رواج په یوه سیمه مثلاً په یوې ولسوالۍ کې موجود وي او په بله کې نه وي

په دې ځای کې لاندې پوښتنې مطرح کېږي

یوه پوښتنه دا سې مطرح کېږي چې د رئیس جمهور، قاضیانو و کیلانو، یا وزیرانو لپاره خاص اصول وضع شوي دي، ایا دا د حقوقي قاعدې کُلي والي سره په ټکر کې نه دي؟

ددې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې: حقوقي قواعد چې کله هم وضع کېږي د هغه په اساس کېدای شي اشخاص په مختلفو طبقو طبقه بندي شي، او د هرې طبقې لپاره ځانګړي حقوقي قاعده وضع کېږي، نه د یو فرد لپاره، لکه: د قاضیانو مصئونیت، نو دلته لیدل کېږي چې هر قاضي چې په دغه ګروپ کې شامل شي د هغې لپاره دا حکم صدق کوي، یا دا چې ټول وزیران، لکه د لوړو زده کړو وزیر، یا دا چې اطفال، نو ټول انسانان چې د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړې هغې ته شامل دي، نه د یو خاص ماشوم په نوم، چې دا خپله کُلي والی دی.

دویمه پوښتنه دا مطرح کېږي چې: په انګلیسي یا امریکایي حقوقي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستمونو کې حقوقي قواعد له مخکې څخه نه تاکل کېږي او کله چې محاکم د یو شخص په اړه حکم وکړي، له هغې څخه وروسته یو حقوقي قاعده منځ ته راځي ایا دلته د کلي والي ځانګړتیا لیدل کېږي؟

ددې په ځواب کې باید ووایو چې په دغه حقوقي سیستم کې چې کوم حکم کېږي دا حکم هم قضات په خپل سر نه کوي، بلکې ددې لپاره یو لړ اصول او قواعد له مخکې څخه معلوم وي او د هغې په نظر کې نیولو سره حکم کوي، البته دغه قواعد لیکلي او تدوین شوې بڼه نلري، چې هغه قواعد هم کلي والی رعایتوي.

## څلورم مطلب: د ټولنیز والي ځانګړتیا

د حقوقي قواعدو اصلي هدف د ټولنیزو روابطو ترتیب او تنظیم دی، که ولیدل شي د یو شخص ژوند دوه مختلفې خواوې لري، یو یې ټولنیز ژوند دی او بل یې انفرادي ژوند دی.

د انفرادي ژوند له مخې یو شخص خپل خاص ضرورتونه او تکلیفونه لري، چې هغه د آفاقي حقوقو په قلمرو کې شامل نه دي، لکه د جسم او روح سلامتي، یا د بشري نواقصو پوره والی د اخلاقو سره، ولې د فرد د ټولنیز ژوند اداره کول حقوقي قواعد پر غاړه لري، چې همدغه مطلب د حقوقو په ځینو تعریفاتو کې ذکر شوی دی.

حقوق هغه قواعد دي چې په اشخاصو ددې له مخې حکومت کوي چې دغه شخص د ټولنې جز دی (۵۴۰، *فلسفه حقوق*).

## پینځم مطلب: د استناد وړ والي ځانګړتیا:

ټول آفاقي حقوق د استناد وړ والي خاصیت لري، یانې ټول عدلي او قضایي ارګانونه یا نور رسمي ارګانونه او مراجع د تصمیم نیولو په وخت کې یا د پرېکړو په وخت کې حقوقي قاعده د سند په توګه راوړي او په هغه باندې استناد کوي، لکه یو سړی د زهرو په اساس بل سړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووژني، نو محاکم چې کله پرېکړه کوي هغوی به خامخا ذکر کوي چې د جزا قانون د ۵۹۵ مادې د حکم په اساس په اعدام محکومېږي، چې دلته یې په ۵۹۵ مادې باندې استناد وکړ.

اما ددې خبرې یادونه باید وکړو چې په اسلامي شرعي محاکمو کې اکثره او قاتو کې په شرعي نص باندې استدلال کوي لکه دا چې: یو سړی غلا وکړي، نو باید چې لاس یې قطع شي او دلیل یې یا استناد یې په لاندې ایات کریمه باندې کوي.

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا.

ژباړه: د غله سړي او غلې ښځې لاسونه قطع کړئ.

*تبصره؛ د امري والي ځانګړتیا:*

یو شمېر علماء وایي چې له پورته ځانګړتیاوو څخه سربېره یوه بله ځانګړتیا هم شته او هغه د امري والي ځانګړتیا ده، آفاقي حقوق همېشه امر کوي هغه که د کولو لپاره وي او که د نه کولو لپاره، یاني آفاقي حقوق همېشه وایي چې دا کار وکړئ او دا کار مه کوئ.

د امري والي ځانګړتیا د اجباري والي سره فرق لري، اجباري والی په دې مانا چې که د کولو حکم وي او هغه و نه کړي نو جزا پرې تطبیق کېږي او که د نه کولو حکم وي او هغه و کړي نو په هغې هم جزا تطبیقېږي، چې دا کار د امر والي سره فرق لري (*حفیظ الله دانش*).

## دویم مبحث - له نورو علومو سره د حقوقي قواعدو اړیکې

انسانانو د پیدا ښت له ورځې څخه تر نن ورځې پورې د ژوند په ټولو برخو کې پرمختګ او انکشاف کړی دی او د انساني ټولنې د پرمختګ، انکشاف، دسپلین او ترقۍ اصلي منبع دي، په دې مانا که علم موجود نه وي، نو انسانان پرمختګ او انکشاف نه شي کولای.

هغه ټولنې چې له علم سره یې علاقه زیاته وي او ښه شرایط د علم د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصلولو لپاره ورته برابر شوي دي، هغوی په ټولنه کې خود کفا ژوند کوي، بلکې د يادار په څېر ژوند کوي او خپل ضروريات، احتياجات او حتي تحسينات يې په خپل کور کې پوره دي او بل چا ته محتاج نه دي او هر هغه ټولنه چې هغوی له علم سره علاقه نه لري او يا دا چې د علم د حصول لپاره ورته شرايط نه دي برابر شوي، نو هغوی د بې علمی په تورو تيارو کې سوځي په خپل ژوند کې هيڅ استقلاليت نه لري، ټول ژوند په احتياج کې تېروي او د نورو لاس ته ناست وي

د علم د اهميت په اړه نور ډېر بحث نه کوو راځو خپل اصلي بحث ته چې د حقوقو د علم اړيکي دي د نورو علومو سره، چې د دغه موضوع د ښه پوهېدو لپاره لاندې څلور سرليکي تر مطالعې لاندې نيسو.

## درېيم مبحث - د علم ځانګړتياوې

ټول علوم لاندې ځانګړتياوې لري

### ۱- وده او انکشاف:

لکه مخکې چې هم ورته اشاره و شوه چې علم د يوې ورځې نه بلې ورځې ته د پرمختګ او انکشاف په حالت کې دی، که موږ او تاسې و ګورو له نن څخه څو لسيزې پخوا علم او تکنالوژۍ دومره پرمختګ نه و کړی لکه نن ورځ يې چې کړی دی.

### ۲- د علومو په خپل منځ کې اړيکې:

د ټولو علومو له خصوصياتو (ځانګړتياو) څخه يوه ډېره قوي ځانګړتيا دا ده چې ټول علوم په خپل منځ کې په مستقيم يا غير مستقيم ډول رابطه لري، يو اخې دا نه چې يو د بل سره رابطه لري بلکې په اکثره مواردو کې د يو علم د نه موجوديت په صورت کې بل علم خپل موجوديت هم د لاسه ورکوي په دې مانا چې مفيديت نه لري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳- د علم د ویشنې له حیثه:

یو مهمه ځانګړتیا چې په علومو کې شتون لري هغه دا ده چې ټول علوم په لومړي قدم کې په دوه لويو برخو باندې ويشل شوي دي، چې هغه عبارت له طبعي او ټولنيزو علومو څخه دي.

چې دغه دواړه څانګې په خپل وار سره په نورو برخو باندې وېشل شوي دي او د علم هره يوه برخه به له دغه پورته دوه رشتو څخه د يوې پورې تړلې وي، چې د حقوقو علم هم د نورو علومو په څېر له دغه ويش څخه نه شي بېلېداى، چې خپله په ټولنيزو علومو کې شامل دى او له ټولنيزو علومو څخه علاوه د طبعي علومو سره هم ډېره نږدې رابطه لري.

ددې لپاره چې په دغه موضوع باندې ښه پوه شو، نو لومړى د حقوقو د علم اړيکې د دين، اخلاقو او عدالت سره، په دويم قدم کې د نورو ټولو ټولنيزو علومو سره او په درېيم قدم کې د حقوقو د علم اړيکې (روابط) د طبعي علومو سره تر مطالعې لاندې نيسو.

## څلورم مبحث- د حقوقو د علم اړيکې د دين، اخلاقو او عدالت سره

چې د ښه پوهېدو لپاره يې په درې جلا جلا عنوانو کې تر مطالعې لاندې نيسو.

### ✓ لومړى مطلب-د حقوقو د علم اړيکې د دين سره:

دين له هغه اوامرو او نواهيو څخه عبارت دى چې د الله ج له خوا وضع شوى او پيروان يې په تطبيق باندې ځانونه مکلف بولي، ددې لپاره چې په دې موضوع باندې ښه پوه شو، لومړى د دين د احکامو په ډولونو باندې بحث کوو.

د دين احکام په لاندې برخو ويشل شوې دي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱ جز: اعتقادیات

دا عبارت له هغه احکامو څخه دي چې د عقیدې پورې تړلي وي، لکه (او ه مؤمن به شیان) امنت بالله و ملائکته و کتبه و رسوله ...

او دا په داسې شکل چې اقرار په ژبه او تصدیق په زړه سره وي چې دا موضوعات په دې ځای کې په جزئاتو سره نه مطالعه کوو.

## ۲ جز: اخلاقي احکام

د دین پیروان مجبور دي چې، اخلاقي قواعد قبول کړي او فضایل کسب کړي لکه: صداقت، وفا په عهد، امانتداري او له رزایلو څخه ځان وژغوري. لکه: خیانت کول، وعده خلافي کول، دروغ ویل او داسې نور.

## ۳ جز: عملي احکام

له هغه احکامو څخه عبارت دي چې د بنده ګانو د حسي افعالو پورې تړاو لري چې دا په خپل وار سره په دوو برخو باندې وېشل شوي دي، یو هغه دی چې د الله ج او بنده ګانو تر منځ رابطه ده، لکه: عبادات، چې دغه عبادات په لاندې برخو باندې وېشل شوي دي

بدني عبادات، لکه: لمونځ روژه او نور. مالي عبادات، لکه: زکات، صدقات او نور. بدني، مالي او ټولنیز عبادات لکه حج.

دویم هغه احکام دي چې د بنده ګانو تر منځ روابط ترتیب او تنظیموي، چې په لاندې ډول دي

هغه احکام چې د دعوت د حفظ او تامین لپاره اجرا کېږي لکه: جهاد.

هغه احکام چې د کورنۍ د نظم او دسپلین لپاره دي لکه نکاح او طلاق.

هغه احکام چې د خلکو تر منځ معاملات ترتیب او تنظیموي لکه: بیع اجاره، ګروي او نور.

هغه احکام چې د عقوباتو پورې تړاو لري، لکه: حدود، قصاص،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیت، تعزیرات او کفارات.

هغه احکام چې د دولتونو تر منځ روابط ترتیب او تنظیموي، لکه: د دولتونو تر منځ معاهدات او قرار دادونه.

هغه احکام چې اقتصادي نظام ترتیب او تنظیموي هغه احکام چې سیاسي نظام ترتیب او تنظیموي، په دې ځای کې لیدل کېږي چې یواځې دا نه چې د دین او حقوقو تر منځ روابط شتون لري، بلکې حقیقت دا دی چې حقوق د دین یوه ډېره وړه برخه ده او د حقوقو اکثره برخې له دین څخه اخیستل شوي دي.

دویمه خبره دا ده چې د دین د احکامو ساحه د حقوقو د احکامو له ساحې څخه ډېره پراخه ده، لکه: د حقوقو احکام یواځې د دنیا پورې تړلي دي او د دین احکام د دنیا او اخرت د واړو پورې تړلي دي لکه مجازات.

درېیمه مهمه خبره دا ده چې د دین احکام د الله ج له خوا وضع شوي دي د ژوند ټولې برخې پکې په شامل او کامل ډول داخل دي او سرحدات نه لري، په داسې حال کې چې حقوقي قواعد د انسانانو په لاس وضع شوي او د انسانانو د ژوند ټولې خواوې پکې کیدای شي شامل نه شي او که احیاناً چېرې دا خل وي، د یو دولت او بل دولت تر منځ فرق شتون لري.

### دویم مطلب- د حقوقو د علم اړیکې د اخلاقو سره:

په پخوا وختو کې د اخلاقو او حقوقو تر منځ هېڅ جلا والی موجود نه ؤ، بلکې دواړو به د انسانانو اړیکې تنظیمولې، سربېره پردې په هغه زمانه کې به اخلاز زمانه کې به اخلاقي او دیني مقرراتو ټولنیزو او شخصي اړیکو ته ځواب ورکاوه او د یو فرانسوي عالم(ژان ژاک روسو) په وینا دې ته اړتیا نه وه چې حقوقي قواعد وضع شي، ځکه چې دیني.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقاید او اخلاقي پرنسیپونه د خلکو له خوا په ټینګه مراعات کېدل.

چې دغه حالت تر دریمې میلادي پېړۍ پورې دوام وه خو وروسته بیا کرار، کرار حقوقي او اخلاقي قواعد او پرنسیپونه سره بېل شول ددې لپاره چې په دې موضوع باندې ښه پوه شو، ښه به داوي چې لومړی د اخلاقو تعریف او وروسته د اخلاقو اهداف او د حقوقو سره یې توپیرونه تر مطالعې لاندې ونیسو.

څرنګه چې اخلاق هم د ټولنیزو علومو یا فنونو له جملې څخه یو علم یا فن دی، یو تعریف یې ډېر مشکل کار دی، نو ځکه هر عالم ورته جلا جلا تعریفات کړي، چې موږ یې دلته د نمونې په ډول څو تعریفات ذکر کوو.

۱- د ښو او بدو د توپیر معیار ته اخلاق وایي.

۲- د انسانانو هغه اعمال چې د ښو او بدو تفکیک او جلا والی کوي عبارت له اخلاقو څخه دي.

۳- یا د انسانانو له هغه اعمالو څخه عبارت دي، چې په ټولنه کې یې تر سره کوي او د هغوی په مقابل کې ټولنیز عکس العمل څرګند یږي، چې دغه عکس العمل به یا داسې وي چې د خلکو په مینځ کې به مینه او محبت پیدا کېږي او یا به داسې وي چې د خلکو په مینځ کې به ورسره نفرت پیدا کېږي، د مثال په ډول که چېرې په ټولنه کې د خلکو له خوا ورسره مینه او محبت را مینځته شو ددې مانا داده چې د دغه شخص اخلاقي معیارونه ښه شوي دي او که چیرې برعکس خلکو ورڅخه نفرت او کرکه کوله، نو په دې پوه شئ چې اخلاقي معیارونه یې کمزوري شوي دي، یانې د ښو او بد.و خلکو د مینې، محبت او کرکې او نفرت سبب ګرځي.

۴- اخلاق له هغه قواعدو څخه عبارت دي چې په یو ځانګړي ځای او ځانګړي وخت کې د ټولنې د اکثره خلکو له خوا یې رعایت کول لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خو د اجرا لپاره يې کوم تضمين موجود نه وي، يانې په دې مانا چې اجرا کول يې نېکي ګڼل شوې وي او د وخت په تېرېدو سره په حقوقي مقرراتو باندې بدل شوي وي

په دې ځای کې دوه مهم نقاط ذکر شول، يو دا چې د اجرا لپاره تضمين نه لري، د مثال په ډول: رښتيا ويل اخلاق دي که څوک عادي دروغ ووايي په دنيا کې نه مجازات کېږي، يا دا چې په وعده وفا کول عبارت له اخلاقي معيار څخه دی، خو که چېرې څوک په خپله وعده باندې وفا و نه کړي، البته په عادي حالاتو کې نو دغه شخص نه مجازات کېږي

دويمه خبره دا ده چې اکثره مهم اخلاقي معيارونه د وخت په تېرېدو سره په حقوقي قواعدو باندې بدلېږي، لکه: قاتل د مقتول له ميراث څخه محروميدل

د پورته توضيحاتو او تعريفاتو په نظر کې نيولو سره اخلاقو ته لاندې دوه تعريفات ذکر کوو، چې يو لغوي او بل اصطلاحي تعريف دی.

لومړی: د اخلاقو لغوي مانا: اخلاق د خلق جمع ده چې د خوی، عادت او طبعيت په مانا دی.

دويم: د اخلاقو اصطلاحي مانا: اخلاق د هغه غير کتبي ټولنيزو قواعدو، پرنسيپونو او معيارونو له مجموعې څخه عبارت دي چې د اجرا لپاره کوم خاص تضمين نه لري، خو په ټولنيز ژوند کې د نېکۍ او بدۍ تفکيک او جدا والی پرې کېږي او هم يې په مقابل کې ټولنيز عکس العمل چې عبارت د مينې او محبت، کرکې او نفرت څخه دي شتون لري

څرنګه چې په لومړي سر کې دې خبرې ته اشاره وشوه چې په لمړيو ختونو کې د حقوقي او اخلاقي قواعدو تر مينځ هيڅ جلا والی موجود نه و، لکه، کله چې په نړۍ کې سياسي او اقتصادي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعې انکشاف وکړ، د يوې ټولنې اخلاقو د بلې ټولنې له اخلاقو څخه فرق کاوه او ټولنو يو د بل سره ډېر نږدې روابط درلودل، چې يواځې اخلاقو نه شو کولای چې دغه روابط ترتيب او تنظيم کړي، نو ځکه د اخلاقو تر څنګ حقوقي قواعد ايجاد شول او يو له بل څخه جلا شول، نو موږ په دې ځای کې د اخلاقو او حقوقو د قواعدو په توپيرونو باندې رڼا اچوو.

*لومړی توپير:* (د هدف له حيثه)

د حقوقي قواعدو هدف په ټولنه کې نظم او دسپلين دی او د اخلاقي قواعدو هدف د وجدان او باطنې افکارو پاکي ده.

*دويم توپير:* (د اجرا د تضمين له حيثه)

د حقوقي قواعدو لپاره د اجرا تضمين تاکل شوی دی، پداسې حال کې چې د اخلاقي قواعدو لپاره د اجرا تضمين شتون نه لري

*درېيم توپير:* (د وضع کېدو له حيثه)

حقوقي قواعد د قدرت لرونکي مقام له خوا وضع کېږي او اخلاقي قواعد د قدرت لرونکي مقام له خوا نه وضع کېږي

*څلورم توپير:* (د شکل او بڼې له حيثه)

حقوقي قواعد تحريري وي يانې په ليکلې ډول وي، په داسې حال کې چې اخلاقي قواعد ليکلي نه وي.

*پينځم توپير:* (د پلي کېدو د ساحې له حيثه)

د حقوقي قواعدو ساحه محدوده وي په داسې حال کې چې د اخلاقو ساحه ډېره پراخه وي، د مثال په ډول حقوقي قواعد يو شخص په دې مکلف کوي چې خپل نږدې خپلوانو ته به نفقه ورکوي، پداسې حال کې چې اخلاقي قواعد ځينې اشخاصو ته وايي چې خپل او پردي ټولو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غريبانو ته به نفقه ورکوي

*شپږم توپير:* (د ظاهر والي او باطنوالي له مخې)

حقوقي قواعدو کې ظاهر ته اعتبار ورکول کېږي لکه چې څوک تخلف کوي، خو اخلاق ظاهري بڼه نه لري او يواځې په باطني ډول د خلکو د کرکې او نفرت سبب کېږي

*اووم توپير:* (د مجازاتو له حيه)

په حقوقي قواعدو کې مجازات يواځې دنيا پورې تړلي وي، په اخلاقي قواعدو کې اخروي مجازات ورکول کېږي

*دريم مطلب- د حقوقو د علم اړيکې د عدالت سره:*

په دې مطلب کې هم درې نقاط په ډېر لنډ ډول بيان شوي، د عدالت تعريف، د عدالت او حقوقو رابطه او په دريم قدم کې د عدالت او حقوقو توپيرونه، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي

ا- *د عدالت پېژندنه:* عدالت لغوي او اصطلاحي تعريفات لري چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

*د عدالت لغوي مانا:* عدالت په لغت کې انصاف، عدل او عادل کېدلو ته وائي.

*د عدالت اصطلاحي مانا:* د عدالت لپاره چې څومره تعريفات شوي د ارسطو د تعريف سره ډېر کم تفاوت لري چې همدغه تعريف له ارسطو څخه وروسته رومي حقوق دانانو لکه (اولپين، Ulpien) او سيسرون تکرار کړی دی.

د ارسطو په نظر: په کارونو کې اعتدال چې فضايل په ټولو کارونو کې شامل دي، ځکه هر څوک چې په ناخوښه کار باندې اقدام وکړي هغه ظلم کړی او په خاص ډول هر چا ته خپل حق ورکول عبارت د عدالت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه دي.

سیسرون ورسره یو بل څه هم ورزیاتوي

هر چاته خپل حق ورکول په دې شرط چې د عمومي منافعو په زیان ته نه وي، له عدالت ښخه عبارت دی.

## ۲- د حقوقو او عدالت تر مینځ رابطه

دولت هلته پایدار وي چې هلته عدل حاکم وي او د خلکو سره په انصاف چلند وکړي، خلک تر هغې چې د دولت د عدالت نه ډاډمن نه وي، اطاعت یې نه کوي او په داسې اعمالو لاس پورې کوي چې د ټولنې نظم مختل شي او که چیرې حقوقي قواعد په عدالت باندې استوار وي خلک هغه مقررات په ډېر ورین تندي قبلوي او مخالفت یې نه کوي.

د حقوقي قواعدو د ایجاد هدف دا دی چې، ټولنیز روابط ترتیب او تنظیم شي، چې د عدالت د نه شتون په صورت کې دغه امن او اطمنان د منځه ځي نو دواړه یو د بل سره رابطه لري.

## ۳- د حقوقي قواعدو او عدالت تر مینځ فرق:

۱_ حقوقي قواعد همېشه نه شي کولای چې د هر مورد ټول جزیات او خصوصیات پیش بیني کړي، نو حقوقي قواعد مکلف دي چې د مصالحو د جلب او د مفاسدو د دفع لپاره قواعد وټاکي.

پداسې حال کې چې دغه ډول موارد ځینې وختونو کې د عدالت سره په ټکر کې وي د مثال به ډول: د دوه ورونو په میراث کې عدالت مساوي ویشنه ده، چې کله نا کله دغه معیارونه ډېر عادلانه په نظر نه راځي: د مثال په ډول: یو فاسق، فاجر او خاین، مال داره ورور او بل مسکین، فقیر، نادار، صالح، عابد ورور تر منځ مساوي ویشنه عادلانه نه ښکاري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲_کله، کله د نظم د تامین لپاره حقوقي قواعد دې ایجاب کوي چې د عدالت سره برابر نه وي، لکه د وخت د پوره کېدو په صورت کې اعتراض نه قبلول، پداسې حال کې چې واقعاً د هغه حق تلف شوی، خو اوس یې اعتراض قابل د قبول نه دی.

## څلورم مطلب- د حقوقو د علم اړیکې د اقتصاد سره:

لکه څرنګه چې معلومېږي د اقتصاد علم د بشر د اړتیاو او د هغوی د مسایلو د حل په هکله بحث کوي، یاني عایدات، مصارف، اموال، شتمني، بودیجه، د بودیجې د ویش لارې او طریقې او داسې نور مسایل تر بحث لاندې نیسي.

چې پخوا داسې فکر کېده چې اقتصاد له ټولنیزو علومو څخه بېل دی او د حقوقو سره هېڅ ډول اړیکې نه لري، دا ځکه چې اقتصاد خپل خاص اصول لري او پرته له حقوقي قواعدو څخه رامینځ ته شوی، ولې د ۱۹ او ۲۰ پېړیو اقتصادي مشکلاتو او ستونزو دا ثابته کړه چې پخوانی تصور د اقتصاد په رابطه صحیح نه ؤ، ولې د ۱۹ او ۲۰ پېړۍ او پخواني نظریات یې رد کړه او دا یې ثابته کړه چې، د دولت د مداخلې پرته د اقتصادي مسایلو تنظیم او ترتیب امکان نه لري، همدارنګه د اقتصادي تړونونو امضا کول پرته له حقوقي قواعدو څخه امکان نه لري

د بلې خوا که چېرې اقتصادي منابع موجود نه وي دولت او نظام همدارنګه د حقوقي قواعدو ایجاد ممکن نه وي.

له پورته توضیحاتو څخه په ډاګه دا خبره ثابتېږي چې حقوق او اقتصاد یو له بل سره ډېره نژدې رابطه لري تر دې چې یو د بل سره لازم او ملزوم دي

د مثال په ډول که چېرې، د اقتصاد علماء و غواړي چې بهترینه لاره د زیاتو تولیداتو او د ثروت د عادلانه وېش لپاره غوره کړي، مجبور دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په هغه حقوقي قواعدو باندې پوه شي، چې په دې مسايلو باندې حاکم وي او د بیعې وپشل، اجاره، ګروي، مضاربت، ربحه چې د اموالو د انتقال او د ګټې لاسته راوړنې وسیله ده پوه شي.

همدارنګه هغه حقوقي قواعد چې د ټولنې د نظم لپاره وضع کېږي، لازمي ده چې اقتصادي ضرورتونو ته متوجه شي او که چېرې دغه قواعد د اقتصادي علومو سره په ټکر کې وي نه شي کولای چې په ټولنه کې نظم راولي او کله چې هم پدغه قواعدو کې بې نظمي او بې تناسبي رامینځته شي د ټولنې نظم مختل او تر دې چې په ټولنه کې د انقلابونو سبب کېږي

## پینځم مطلب-د حقوقو رابطه د سیاسي علومو سره:

حقوق او سیاسي علوم یو د بل سره دومره نژدې رابطه لري چې یو له بل څخه یې جلا کېدل ممکن نه دي یا دا چې د یو علم د نه شتون په صورت کې دویم علم خپله دمنځه ځي او استفاده ترینه نه کېږي او داسې دی لکه روح او بدن، په دې مانا چې حقوقي قواعد، سیاست ته په عملي میدان کې مشروعیت ورکوي

د مثال په ډول: د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون کې دا روښانه شوې چې په افغانستان کې به ریاستي رژیم وي، نو که چېرې رئیس جمهور د درې واړو قواو په راس کې شتون لري، نو دغه مشروعیت ورته د حقوقي مقرراتو له خوا ورکول شوی، بالمقابل که مونږ وایو چې د افغانستان قانون، یا دا چې حقوقي قواعد بیانوو، نو د دغه قواعدو ایجاد پرته د نظام، حکومت او ملي حاکمیت څخه نا ممکن دی، ځکه چې سیاسي علوم په ټولنه کې د حکومت روش مطالعه کوي او همدغه حکومت بیا د حقوقي مقرراتو ایجاد ته زمینه برابروي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم مطلب - د حقوقو اړیکې د تاریخ د علم سره

تاریخ او حقوق یو د بل سره ډېره نژدې رابطه لري او هغه په دې مانا چې تاریخ هغه علم دی چې د تېرې زمانې واقعات مورږ ته بیانوي، یواځې دا نه چې مورږ ته تېر واقعات او پېښې بیان کړي، بلکې د تېرو واقعاتو په نظر کې نیولو سره هغه واقعات چې د ټولنې د پرمختګ، انکشاف، نظم او دسپلین... سبب شوي وي، یا دا چې د تېرو واقعاتو په اساس چې په ټولنه کې ګډوډي، بې نظمي، ظلم، فساد... رامینځ ته شوي هغه هم مورږ ته بیانوي، چې حقوق د دغه مثبت او منفي نقاطو په نظر کې نیولو سره حقوقي قواعد او مقررات وضع کوي، هغه مقررات چې د پرمختګ، انکشافاتو، نظم او سوکالۍ سبب شوي، مراعات کوي او هغه مقررات چې ددې برعکس وي له هغې څخه خود داري کوي.

بله مهمه خبره چې دلته ترېنه یادونه کوو هغه دا ده چې د تاریخ د علم د مطالعې په اساس د حقوق پوهانو ذهنیت انکشاف کوي او معلومات یې پراخه کېږي، سره ددې چې د تاریخ مطالعه د هرې ټولنې لپاره ګټوره ده، ولې د نړیوالو عمومي حقوقو لپاره ترټولو زیاته ضروري او لازمي ده، همدارنګه حقوق د ټولنپېژندنې، اروا پوهنې، جغرافیې او نورو علومو سره ډېره نژدې رابطه لري، چې په دې ځای کې یې له مطالعه کولو څخه تېرېږو.

### کورنۍ دنده:

د حقوقو د علم رابطه د جغرافیې، ټولنپېژندنې، اروا پوهنې او خپله د قانون سره پیدا کړئ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مبحث- د طبعي علومو او حقوقو تر منځ اړیکې

له ټولنیزو علومو څخه علاوه حقوق له طبعي علومو سره هم نژدې اړیکې لري چې دغه روابط دلته یواځې د طب، کیمیا، فزیک، ریاضي او نورو سره جلا جلا مطالعه کوو.

### ۱- د حقوقو د علم اړیکه له طب سره:

د طب علم عمدتا په درې برخو باندې وېشل شوی دی، چې هغه عبارت دي، وقایوي طب، معالجوي طب او عدلي طب، چې په دې ځای کې یواځې د عدلي طب رابطه د حقوقو سره مطالعه شوې ده.

عدلي طب هغه علم دی چې د جنایي پېښو د روښانتیا او د جنایي پېښو د واقع کېدو له حقیقت څخه بحث کوي

د حقوقو علم یو ډېر مهم هدف دا دی چې عدالت تطبیق شي، مجرم محاکمه او مجازات شي او بې ګناه شخص له محاکمې او مجازاتو څخه خلاص شي، چې دا کار د عدلي طب له همکارۍ پرته نشي کولای او په دې برخه کې عدلي طب د حقوقو د علم سره همکاري کوي د مثال په ډول: د ضرب او جرح جرایم او اخلاقي جرایمو د کشف لپاره ډېر ګټور او مفید دي، د بلې خوا حقوق نه یواځې دا چې عدالت تطبیق او ټولنیزې چارې تنظیم کوي، بلکې د طب او طبابت ساحه هم ترتیب او تنظیموي، د مثال په ډول، د مریضانو د تداوۍ په هکله د ډاکترانو مسوولیت او عدم مسوولیت د حقوقي قواعدو په چوکاټ کې تنظیمېږي

### ۲- د کیمیا او حقوقو د علم تر منځ اړیکه:

د کیمیا علم هم حقوق جزا ته ډېر دقیق او قوي معلومات په لاس کې ورکوي، په دې مانا چې د یوې جزائي قضیې په اړه عدلي او قضائي ارګانونو ته دقیق معلومات ورکوي او حقوق جزا له دغه معلوماتو څخه په استفادې سره عدالت په ښه شان تطبیق کوي، د مثال په ډول

په طول د تاریخ کې لیدل شوي چې له زهرو څخه د ژوند پر ضد جرایمو کې د یوې سلاح په حیث استفاده شوې ده. چې حقوق پوهان زهرو ته داسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف هم کوي چې زهر عبارت له هغه موادو څخه دي چې په لنډ یا اوږد وخت کې د انسان ژوند ته خاتمه ورکوي، چې د دې تعریف په اساس زهر یو جرم دی چې د نتیجې پورې تړلی نه دی.

نو اوس حقوق پوهان، یا د عدلي او قضايي ارګانونو لپاره د دې ضرورت دی چې زهر وپېژني چې دا کار یوازې د کیمیا د علم په اساس کېدای شي، لکه د زهرو پېژندل، د زهرو مقدار، مضره مواد، نیشه یي موادو پېژندنه او نور.

چې په مقابل کې حقوق بیا د کیمیا د علم د چارو د ترتیب او تنظیم لپاره او همدارنګه د کیمیا له علم څخه د اعظمي استفادې لپاره یو سلسله قواعد او مقررات وضع کوي، چې د دغه قواعدو د نه شتون په صورت کې د کیمیا علم پرمختګ او انکشاف نه شي کولای او کوم اهداف چې لري هغه هم نه شي تر لاسه کولای.

## ۳- د فزیک د علم او حقوقو ترمنځ اړیکه

فزیک هغه علم دی چې د برق د حمل او نقل وسایل چې زمیني، هوایي او بحري څخه عبارت دي، همدارنګه د وسلو جوړول او له نورو څخه بحث کوي چې له دغه حمل و نقل وسایلو څخه زیاته استفاده په تجارتي حقوقو کې کېږي او په مقابل کې له نومړو وسایلو څخه د استفادې لپاره د مقرراتو ترتیب د حقوقو له خوا صورت نیسي.

## ۴- د ریاضي د علم اړیکه له حقوقو سره:

ریاضي هغه علم دی چې حسابات، امار او ارقام مطالعه کوي، چې له دغه حساباتو او ارقامو څخه په استفادې سره د ریاضي د میراث حقوقو او په نورو کې فوق العاده تاثیر لري او که د ریاضي علم موجود نه وي، د میراث حقوق تحقق نه پیدا کوي، بالمقابل د حقوقو علم د ریاضیاتو ته د اختراعاتو او کشف حق ثابتوي.

همدارنګه د تکنالوژۍ او نورو سره هم اړیکه لري چې د دې اړیکې پیدا کول د کورنۍ دندې پېټو ګه ستاسې پر غاړه ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

# د افاقي حقوقو وېشنه

لکه چې مو ړ د آفاقي حقوقو په تعریف کې ولوستل چې:

آفاقي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې په ټولنه کې موجود دي او د ټولنې ټولې برخې ترتیب او تنظیموي، یا دا چې په ټولنه کې د نظم او د سپلین اړوند ټول موضوعات تر بحث لاندې نیسي، پداسې شکل د غه موضوعات تر بحث لاندې نیسي چې یا به د دولت له قلمرو او سرحد څخه تېرېږي او یا به د دولت د قلمرو یا سرحداتو په داخل کې وي، یا به یوازې د خصوصي افرادو تر منځ اړیکې وي او یا به دولت په کې دخیل وي.

د پورته تعریف په نظر کې نیولو سره چې یا د دولت د سرحداتو په داخل کې وي، یا به له سرحداتو څخه د باندې چې د همدې نقطې له مخې موږ مجبور یو چې حقوق په دوه برخو باندې ووېشو، یو به هغه قواعد وي چې د یو دولت پورې تړلي اړیکې ترتیب او تنظیموي، چې دا به د ملي حقوقي قواعدو په نوم یاد کړو.

بل هغه قواعد دي چې د یو دولت له قلمرو یا سرحداتو څخه د باندې په نورو دولتونو کې مداخله کوي، یا دا د چې د خارجي عنصر لرونکي اړیکې ترتیب او تنظیموي، چې دا قواعد او مقررات به د بین المللي حقوقي قواعدو په نوم یاد کړو.

د پورته توضیحاتو په نظر کې نیولو سره موږ کولای شو چې د ملي والي او بین المللي والي له حیثه حقوق طبقه بندي کړو چې هغه له ملي حقوقو او بین المللي حقوقو څخه عبارت دي.

دویم شکل چې د دغه حقوقي روابطو د ترتیب او تنظیم لپاره لازم دی، هغه عبارت له دې څخه دي چې یا به پدغه حقوقي روابطو کې د دولت


Scanned by CamScanner

مداخله وي او یا به یې نه وي، که چېرې د حقوقي روابطو په ترتیب او تنظیم کې د دولت مداخله موجوده وه، هغه به عبارت له عامه حقوقو څخه وي، البته ددې خبرې یادونه باید وشي چې په ملي سطحه وي او که په بین المللي سطحه، تفاوت نه لري

یا به داسې وي چې په دغه حقوقي روابطو کې به دواړه خواوې خصوصي افراد وي، یانې د دولت مداخله به پکې نه وي، که چیرې د حقوقي روابطو په ترتیب او تنظیم کې د واړه خواوې خصوصي افراد وي، نو دا به عبارت له خصوصي حقوقو څخه وي

له همدې و جې مونږ په لومړي قدم کې آفاقي حقوق په دوه برخو وېشو، چې هغه له ملي حقوقو او بین المللي څخه حقوقو عبارت دي او بیا همدغه ملي او بین ا لمللي حقوق د دولت د مداخلې ا و نه مداخلې له مخې په دوه برخو وېشو، چې له خصوصي حقوقو او عمومي حقوقو څخه هغه عبارت دي، چې دا هر یو بیا په خپل وار سره په نورو برخو باندې وېشل شوي دي، چې لومړی د حقوقو ټولې رشتې ا و برخې د یو جدول او چارت په شکل لیکو او له هغې څخه وروسته په هر یو باندې جلا جلا بحث کوو.

## د آفاقي حقوقو وېشنه



(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی مبحث - ملي حقوق

ملي حقوق عبارت له هغه قواعدو او مقرراتو څخه دي چې په ملي سطحه د انسانانو ټولې اړیکې ترتیب او تنظیموي، یا په بل عبارت ملي حقوق عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې ټولې هغه اړیکې ترتیب او تنظیموي چې هیڅ خارجي جنبه و نه لري، یا بین المللي جنبه نه لري او یوازې داخلي جنبه لري، یانې هر هغه موضوع چې هیڅ خارجي عنصر و نه لري هغه عبارت له ملي موضوع څخه ده.

یا په بل عبارت آفاقي حقوق د هغې قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د یو خصوصي فرد رابطه د بل خصوصي فرد سره، یا د یو خصوصي فرد رابطه د خپل متبوع دولت سره، او یا د دولت د اداراتو روابط په خپل منځ کې ترتیب او تنظیموي(دانش درسي مواد).

یا په بل عبارت ملي حقوق هغه قواعد دي چې د تطبیق ساحه یې د یوه هېواد په جغرافیه کې محدوده وي *(حقوقو ویشنه، ۹ مخ)*

***بین المللي حقوق:***

دا د هغې قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د دولتونو او نورو حقوقي شخصیت لرونکو ارګانونو روابط په هر ډول حالاتو کې ترتیب او تنظیموي، سره له دې چې د ولتونو د بین المللي حقوقو د اصلي تابعینو په توګه خپل موقعیت او دریځ ساتلیخو په عمل کې داسې دولتونه هم شته چې د پخوا په شان ورته کلک تابع نه دي*(کاولاس ۳۴ مخ)*. دولتونو و کولای شو، د نړیوالو حقوقو څخه په استفادې سره ټولنیز مشکلات حل کړي، همدغه د بین المللي حقوقو ا غېزه وه، چې د هر دولت د انفرادي تلاش پر ځای یې د ډلیز اقدام پایله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وه. (سجاني، ۱۰۲)

يا په بل عبارت بين المللي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي، چې په بين المللي سطحه د افرادو ټول روابط ترتيب او تنظيموي، يا بين المللي حقوق عبارت د هغې مقرراتو او قواعدو له مجموعې څخه دي چې له ټولو هغه موضوعاتو څخه بحث کوي چې ملي جنبه ولري او په رابطه کې خارجي عنصر بايد موجود وي.

يا په بل عبارت بين المللي حقوق عبارت د هغې قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې يواځې د يو هېواد په قلمرو کې محدود نه وي بلکې د هېوادونو له قلمرو يا پولو څخه دباندې هم د تطبيق وړ دي او شخصيتونه يې له ملي حقوقو څخه توپير لري.

يا بين المللي حقوق عبارت د هغې قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې د يو خصوصي فرد اړيکه د خارجي دولت له خصوصي فرد سره، يا د يو خصوصي فرد رابطه له خارجي دولت سره يا د دولتونو اړيکې په خپل مينځ کې، يا د دولتونو اړيکې د بين ا لمللي سازمانونو سره يا د بين المللي سازمانونو اړيکې په خپل منځ کې ترتيب او تنظيموي.

په دې ځای کې اوس لاندې درې پوښتنې مطرح کېږي

لومړۍ پوښتنه: ملي حقوق او بين المللي حقوق يو له بل سره څه توپيرونه او مشابهتونه لري؟

دويمه پوښتنه: د ملي او بين المللي حقوقو موضوعات کوم دي؟

درېيمه پوښتنه: ملي موضوعات او داخلي موضوعات يو د بل سره څه توپير لري؟

د ښه پوهېدو لپاره د هرې پوښتنې ځواب جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لومړۍ پوښتنې ځواب:** څرنګه چې لیدل کیږي چې په دې پوښتنه کې دوه خواوې شتون لري چې یو یې توپیرونه او بل یې مشابهتونه دي چې موږ هم په لومړي قدم کې توپیرونه او په دویم قدم کې مشابهتونه تر مطالعې لاندې نیولي دي.

## د ملي او بین المللي حقوقو توپیرونه:

۱- ملي حقوق داخلي جنبه لري او بین المللي حقوق خارجي جنبه لري.

۲- ملي حقوق د یو دولت د قلمرو په داخل کې داخلي موضوعات ترتیب او تنظیموي، په داسې حال کې چې بین المللي حقوق د یو دولت له قلمرو څخه د باندې روابط ترتیب او تنظیموي او کله چې ولیدل شي، چې د یو دولت په داخل کې موضوع واقع شوې، نو کیدای شي یو خارجي عنصر په کې موجود وي.

## د ملي او بین المللي حقوقو مشابهتونه:

۱- ملي حقوق هم د افرادو تر مینځ روابط ترتیب او تنظیموي او بین المللي حقوق هم د افرادو تر مینځ روابط ترتیب او تنظیموي.

۲- ملي حقوق هم قواعد او مقررات دي او بین المللي حقوق هم قواعد او مقررات دي.

۳- د ملي حقوقو اصلي وظیفه هم د روابطو ترتیب او تنظیم دی او د بین المللي حقوقو اصلي وظیفه هم د روابطو ترتیب او تنظیم دی.

**د دویمې پوښتنې ځواب:** په دویمه پوښتنه کې ویل شوي وو چې ملي او بین المللي موضوعات کوم دي؟ چې په لاندې ډول لیکل شوي دي.

## د ملي حقوقو موضوعات:

په ملي حقوقو کې ټول هغه مسایل، موضوعات او پېښې تر غور او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث لاندې نیول کېږي چې یو اځې او یو اخې د یو دولت پورې ارتباط ولري، خارجي عنصر پکې موجود نه وي، د یو دولت د قلمرو په داخل کې واقع شوی وي.

## بین المللي موضوعات:

په بین المللي حقوقو کې ټولې هغه قضایاوې، روابط او اړیکې، مسایل او موضوعات ترتیب او تنظیمېږي چې:

د یو دولت پورې تړاو و نه لري او خارجي جنبه ولري، خارجي عنصر پکې موجود وي، د سرحد تفکیک او جلاوالی پکې شتون لري.

## درېیمه پوښتنه:

درېیمه پوښتنه د ملي او داخلي موضوعاتو د فرق پورې مربوط وه، چې په دې رابطه یې لاندې ځواب ویل شوی دی.

ملي مسایل او داخلي مسایل یو د بل سره فرق لري او هغه داسې چې هره ملي مسئله یوه داخلي مسئله کیدای شي، ولې هره داخلي مسئله بیا یوه ملي مسئله نه شي کیدای، ځکه چې:

ملي مسایل عبارت له هغه مسایلو او موضوعاتو څخه دي چې د ټول ملت یا ټول قلمرو تر منځ شریک او موجود وي لکه: ټول ملي افتخارات.

داخلي مسایل او موضوعات عبارت له هغې موضوعاتو څخه دي چې د یو قلمرو په داخل کې واقع شوې وي، یانې ټول هغه مسایل چې د یو قلمرو یا د دولت د سرحداتو په داخل کې واقع شوي وي اما د ټول ملت تر منځ شریک نه وي، بلکې د یوې سیمې او منطقې پورې تړاو لري، لکه: د یوې خاصې سیمې رسم او رواج، چې په نورو سیمو کې بیا دغه رسم او رواج شتون نه لري داخلي ورته ځکه وایو چې داخل کې واقع شوي، خو ملي ورته ځکه نه وایو چې د یوې خاصې سیمې او منطقې پورې تړاو لري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثال په ډول: مېلمه پالنه، د ټولو افغانانو ملي افتخار دی، چې دا یوه ملي موضوع ده، د بلې خوا په درېیمه ورځ هدیرې ته د ښځو تلل دا کېدای شي د یوې خاصې سیمې رواج وي، چې اوس موږ ګورو چې مېلمه پالنه هم داخلي موضوع ده ځکه چې داخل د سرحداتو کې ده او هم ملي موضوع ده ځکه چې ټول افغانان په دې کې سره شریک دي، برعکس هدیرې ته د ښځو تلل دا داخلي موضوع ده او هغه ځکه چې د قلمرو په داخل کې واقع کېږي، خو ملي موضوع نه ده او دا ځکه چې ټول قلمرو کې نه تطبیق کېږي.

دا چې د ملي او بین المللي حقوقو په روابطو او ډولونو باندې پوه شو، لازمي ده چې د ملي حقوقو اقسام جلا او د بین المللي حقوقو ډولونه جلا تر مطالعې لاندې ونیسو.

## د ملي حقوقو وېشنه:

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه ملي حقوق عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې یواځې او یواځې داخلي یا د یو دولت د قلمرو پورې مربوط مسایل، یا دا چې په ملي سطحه ټول روابط ترتیب او تننظیموي

ملي حقوق په خپل وار سره په دوه برخو باندې وېشل شوي دي چې هغه عبارت دي، له ملي خصوصي حقوقو او ملي عمومي حقوقو څخه، چې دغه د خصوصي حقوقو او عامه حقوقو وېشنه ډېره پخوانۍ سابقه لري، چې په لاندې ډول روښانه شوې ده.

دا چې ملي حقوق په عامه او خصوصي حقوقو باندې وېشل شوي او دا وېشنه ډېره پخوانۍ او تاریخي قدامت لري، د ښه پوهېدو لپاره یې په درې سرلیکونو کې تاریخي سیر مطالعه کوو. په پخواني وخت کې، له اتلسمې پېړۍ څخه وروسته او په شلمې پېړۍ کې، چې هر یو جلا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلا مطالعه شوي دي

### الف: د عامه او خصوصي حقوقو ویشنه په پخواني وخت کې:

د پخواني روم په حقوقو کې هر هغه شی چې هغه به د دولت د عمومي سازمان پورې مربوط و، هغه به د عمومي حقوقو په نوم یادېده او هر هغه څه به چې د افرادو د خصوصي ګټو پورې مربوط ؤ هغه به د خصوصي حقوقو په نوم یادېده.

ولې دغه تفکیک او جلا والی مطلق او ګلي نه ؤ، بلکې یو له بل سره یې نژدې تړاو هم درلود او هغه داسې چې:

هر وخت چې مقننه قوې د دولت عمومي حقوق وضع کول، نو په دې صورت کې د خصوصي افرادو ګټې هم په نظر کې نیول کېدې، چې له همدغې وجې دواړو رشتو یو د بل سره تړاو درلود، یا دواړو رشتو یو له بل سره اړیکې درلودلې.

### ب: له اتلسمې پېړۍ څخه وروسته د خصوصي او عمومي حقوقو وېشنه:

ددې لپاره چې له اتلسمې پېړۍ څخه وروسته د حقوقو په وېشلاتو باندې پوه شو د یو مشهور فرانسوي عالم (منتسکو) نظریات په ډېر لنډ ډول دلته بیانوو.

عمومي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د افرادو او دولت تر مینځ روابط ترتیب او تنظیموي.

خصوصي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د خصوصي افرادو تر منځ روابط ترتیب او تنظیموي.

د دغه نظریاتو په نظر کې نیولو سره نوموړی عالم عمومي حقوقو ته سیاسي حقوق او خصوصي حقوقو ته مدني حقوق وایي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: په شلمه پېړۍ کې د عمومي او خصوصي حقوقو وېشنه:

په شلمه پېړۍ کې عمومي حقوق داسې تعریف شوي دي
عمومي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د خصوصي افرادو او دولت تر مینځ روابط او همدارنګه د دولت د اداراتو روابط په خپل منځ کې ترتیب او تنظیموي، چې اوس هم دغه تعریف اعتبار لري.

خصوصي حقوق یې داسې تعریف کړي دي
خصوصي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د یو خصوصي فرد رابطه له بل خصوصي فرد سره ترتیب او تنظیموي.

له پورته تعریفاتو څخه داسې معلومېږي چې د عامه حقوقو په روابطو کې خامخا باید یو طرف ته دولت وي او په خصوصي حقوقو کې دواړو خواوو ته خصوصي افراد موجود وي او د دولت مداخله نه وي.

له پورته توضیحاتو څخه معلومېږي چې حقوق له ډېر پخوا وختو څخه په دوه برخو باندې وېشل شوي دي چې هغه عبارت له عمومي او خصوصي حقوقو څخه دي.

پورتنۍ هره څانګه بیا په خپل وار سره په نورو برخو باندې وېشل شوې ده، چې د بنه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا مطالعه کېږي.

### لومړی مطلب-عامه حقوق:

مخکې هم تعریف وشو، چې عامه حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د یو خصوصي فرد رابطه له خپل متبوع دولت سره یا د دولت د اداراتو روابط په خپل مینځ کې ترتیب او تنظیموي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامه حقوق په خپل وار سره په لاندې برخو وېشل شوي دي.

اساسي حقوق، اداري حقوق، مالي حقوق، د جزا حقوق او په ځنې دولتونو کې د کار حقوق، چې هر یو د بنه پوهېدو لپاره جلا جلا مطالعه شوي دي.

## لومړۍ جز- اساسي حقوق:

اساسي حقوق چې د عمومي حقوقو له څانګو څخه یوه ډېره مهمه او اساسي څانګه ده، یوا ځې دا نه چې په اساسي حقوقو کې د دولت او افرادو پورې مربوط ډېر اهم موضوعات بیانېږي، بلکې په عین حال کې د نورو حقوقو لپاره هم اساس او بنیاد ګڼل کېږي او نور ټول حقوقي قواعد د اساسي حقوقو په رڼا کې جوړېږي او ټول هغه حقوقي قواعد چې د اساسي حقوقو سره په ټکر کې وي، هېڅ اعتبار نه لري، دا چې اساسي حقوق ډېر مهم دي نو په همدې اساس د عمومي حقوقو له څانګو او رشتو څخه لومړنۍ څانګه او رشته ده، د اساسي حقوقو په رابطه علماء وایي چې د اساسي حقوقو موضوعات د هر دولت په اساسي قانون کې انعکاس پیدا کوي، د بلې خوا نه په اساسي قانون کې د دولت مهم او اساسي موضوعات تر بحث لاندې نیول کېږي، چې په هغې کې خپله د دولت سیاسي رژیم، د دولت درې ګونې قواوې په تفصیل سره بیانېږي چې دا خپله ددې مانا ورکوي چې په اساسي حقوقو کې د یو دولت ټول حقوقي نظام او سیستم تشریح کېږي او په ټولنه کې نظم، دسپلین، امنیت، پرمختګ، انکشاف، ښه حکومت داري، د خلکو د حقوقو او وجایبو رعایتول، د ګډوډیو مخنیوی کول، د بې نظمۍ له منځه وړل، د خلکو د ضروریاتو او احتیاجاتو پوره کول، د اتباعو د حقوقو رعایتول او نور اهم فکتورونه هغه وخت منځ ته راځي چې هلته نظام وي، قوي دولت موجود وي او ټول دولتي سیستمونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعال وي، دغه پورته ټول اهداف د اساسي حقوقو په اساس منځ ته راځي، چې په اساسي قانون کې په ماده واراو جز وار شکل بيا نېږي

اساسي حقوق د نورو عمومي حقوقو لپاره اساس او بنسټ جوړوي، نو ځکه د قوت په لحاظ اول دي او موږ په دې کتاب کې د عمومي حقوقو په سر کې ليکلي دي

د اساسي حقوقو د تعريف په هکله زيات نظريات او تعريفونه ورکړل شوي دي، چې دا خبره کله دومره پراخه او وړاندې ځي چې د علماو نظريات يو د بل سره متضاد وي، د نظرياتو توپيرونه يو اځې د يو دولت د حقوق پوهانو تر مينځ نه، بلکې د ټولو حقوق پوهانو تر مينځ شتون لري، خو موږ د دې لپاره چې د اساسي حقوقو په اړه بنه پوه شو يو څو تعريفات په دې ځای کې ستاسې لپاره راوړو.

۱- اساسي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې انساني ټولنو ته نظم او دسپلين ورکوي

۲- اساسي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د دولت پورې مربوط ټول مسايل حل او فصل کوي *(نهاد های سیاسی، ۲۳ مخ)*

۳_ مارسل پريلوټ (Marcel Prelot) وايي ټول هغه قواعد چې هدف يې د دولت ته د يو جوهر او جوړښت ورکول وي، د اساسي قانون کړنې بلل کېږي *(سبحاني_۹۵ مخ)*

په پورته تعريفاتو کې ليدل کېږي چې اساسي حقوق څوک د ټولنې د ټولو چارو تنظيمونکي ګڼي، او ځينې نور علماء يې په سياست پورې تړي او سياسي مسايل او سياسي قدرت يې ګڼي او د پورته تعريفاتو په نظر کې نيولو سره موږ نشو کولای چې اساسي حقوقو باندې ښه پوه شو نو مجبور يو چې نور تعريفات هم د اساسي حقوقو لپاره په دې ځای کې بيان کړو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد جعفر جعفر په خپل کتاب (مقدمه عمومي علم حقوق) کې اساسي حقوق داسې تعریف کړي دي: اساسي حقوق هغه مقررات دي چې د حکومت او دولتي سازمانونو شکل او د دولت حدود او وظایف ټاکي. (جعفري ۸۷)

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد پوهاند دوکتور حفیظ الله دانش وايي چې:

اساسي حقوق د هغو قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د دولت مهم او عمده مسایل ترتیب او تنظیموي

زما په نظر دا تعریف غوره دی، چې الفاظ یې لنډ او د اساسي حقوقو ټول مسایل پکې ځای په ځای شوي دي، دلته یو سوال مطرح کېږي او هغه دا چې، د دولت عمده مسایل کوم دي؟

په تعریف کې وویل شو چې: د دولت مهم موضوعات او مسایل یې عبارت دي له:

## ۱- دولت او د دولت د سیاسي رژیم پېژندنه:

په اساسي حقوقو کې دولت معرفي کېږي دولت کوم سیاسي رژیم لري، یانې د دولت شکل او بڼه مورږ ته راپېژني لکه: شاهي، جمهوري، دیموکراتیک، غیر دیموکراتیک، مذهبي، غیر مذهبي، پارلماني، ریاستي، نظامي او نور.

د افغانستان د دولت په اړه راځي چې افغانستان اسلامي جمهوریت دی چې د دیموکراتیک جمهوریت خصوصیت په لرلو سره واحد او مستقل هېواد دی، چې رئیس جمهور یې د درېو واړو قواوو په رأس کې قرار لري چې د ریاستي رژیم یو حصوصیت یې ځانته غوره کړی دی.

## ۲- د دولت درې ګونې قواوې:

په اساسي حقوقو کې د دولت د درې ګوونو قواوو مقننه، اجرائیه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضايا په اړه لاندې موضوعات تشريح کيږي

د درې ګونو قواوو تشکيل، صلاحيتونه، واکونه او مسووليتونه، د هغوی ترمنځ د وظايفو ويش، د دغه قواوو ترمينځ اړيکې او استقلاليت.

همدارنګه رئيس جمهور، لويې څارنوالۍ، مرکزي بانک او سرې مياشتې په رابطه بحث کوي

## ۳- د اتباعو حقوق، آزادي او وجايب:

په اساسي حقوقو کې د اتباعو اساسي حقوق، د هغوی ازادي او کوم وجايب چې په ګوته شوي ترتيب او تنظيموي

## ۴- ځينې نور متفرقه موضوعات:

لکه ملي ژبه، ملي سرود، ملي بيرغ، پولي واحدونه، اضطراري حالات او نور موضوعات او مسايل ترتيب او تنظيموي

لکه مخکې هم دې خبرې ته اشاره وشوه چې د اساسي حقوقو موضوعات په اساسي قانون کې منعکس کيږي، چې د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال د جدي د ۱۴ نېټې په اساسي قانون کې چې ۱۲ فصلونه او ۱۶۲ مادې لري، دا مسايل تشريح شوي دي

## دويم جز- اداري حقوق:

د اداري حقوقو په اړه هم مختلف تعريفات شتون لري چې مورږ ترېنه د نمونې په ډول دلته ځينې يادوو.

۱- اداري حقوق عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې اداري حقوقي شخصيتونه، د وزارتونو تشکيلات او وظايف، ښاروالي، د دولت د ولاياتو او ولسواليو تشکيل او له اتباعو سره د دغه سازمانونو روابط ترتيب او تنظيموي *(داد محمد، نذير، مبادي حقوق، ۵۵ مخ)*

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې لیدل کېږي اساسي حقوق او اداري حقوق یو له بل سره د موضوعاتو په اساس ډېرې نږدې اړیکې لري، نو د همدې وجې اداري حقوق د اساسي حقوقو پسې متصل ذکر شویدي

د اداري حقوقو په اړه هم دوکتور حفیظ الله د انش ډېر لنډ او ساده تعریف کړی دی.

اداري حقوق عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې د ادارې پورې مربوط مسایل یا اداري مهم مسایل ترتیب او تنظیموي *(حفیظ الله، دانش، مبادي حقوق)*

د ادارې پورې مربوط مسایل او نور موضوعات عبارت دي له:

- د افرادو رابطه د ادارې سره: لکه د محصلینو رابطه د پوهنځي د ادارې سره، یا د استادانو رابطه د ادارې سره او داسې نور.
- د یوې اداري رابطه د بلې ادارې سره:

لکه: د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي، د خصوصي حقوقو دیپارتمنت رابطه د پوهنځي د ریاست سره، د پوهنځي د ریاست رابطه د پوهنتون له ریاست سره، د پوهنتون د ریاست رابطه له وزارت سره، په همدې شکل د دغه ډول اداراتو تر منځ د سلسله مراتبو په نظر کې نیولو سره روابط ترتیب او تنظیموي

- د یو دولت د داخلي اداراتو تشکیلات په عمومي شکل د یوې ادارې داخلي تشکیلات، د مثال په ډول

په عمومي شکل د افغانستان په اداري سیستم کې دوه ډوله ادارې موجودې دي، مرکزي ادارې او محلي ادارې، د مرکزي ادارې تشکیلات او د محلي ادارې تشکیلات جلا جلا ترتیب او تنظیمېږي

که چېرې موږ یوه وړه اداره په نظر کې و نیسو لکه د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، نو لیدل کېږي چې یو رئیس، معاون، دیپارتمنتونو امرین، ، تدریسي مدیر، اجرائیوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدير، تحويلدار، مستخدم او استادانو څخه تشکيل شوې ده، چې پورته ذکر شوي ټول موضوعات د اداري حقوقو پورې تړلي دي.

د حقوقو پوهنځي په کريکولم کې اداري حقوق په څلورم صنف کې تدريس کېږي او ځينې مسايل يې ډېر مهم دي، په دې ځای کې ځينې پوښتنې مطرح کېږي او د هغوی لپاره ځواب ويل شوی دی.

اداره څه ته وايې؟ د ادارې منابع کومې دي؟ د يوې سالمې ادارې اصول څه شی دي؟ د يوې سالمې ادارې ځانګړتياوې کومې دي؟

چې دا پورته پوښتنې په ډېر لنډ ډول ځوابوو.

۱- اداره هغه علم او هنر دی چې يو زيات شمېر خلک خپلې لار ښوونې تر کنترول لاندې راولي او په ډلئيزه توګه هغوی د يو ټاکلي هدف په لور سوق کوي.

۲- اداره له هغه فعاليتونو څخه عبارت ده چې دولت يې په مستقيمه او په غير مستقيمه توګه د عمومي نظم د ساتنې او يا د عامه اړتياوو لپاره تر سره کوي، تر ټولو لوی اداري شخصيت په خپله دولت دی چې د هغې وروسته کابينه، د ښاروالیو، ولسواليو او ناحيو شوراګانې شامليدای شي.

## د ادارې منابع:

په عمومي شکل د ادارې منابع په درې برخو وېشل شوي دي

_بشري منابع: متخصصين او خدماتي کارکوونکي.

_فزيکي منابع: تعميرات، ماشينونه، د دفترنو اثاثيه او نور.

_مالي منابع: بوديجه، نقدې پيسې او نور.

د يوې سالمې ادارې مشخصات

د يوې سالمې ادارې مشخصات په لاندې ډول دي

۱- د مقرراتو، لوايحو او اصولو په نظر کې نيول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-اداري تشکیل د لازمو اړتیاوو سره برابروي

۳-د کارکوونکو په انتصاب، انتخاب، تبدیلی، معاشونو کې تعادل، تخصص او ګټورتوب په نظر کې و نیول شي او سلسله مراتب مراعات شي

۴-اداره باید د تقلب او بیروکراسی څخه پاکه وي

۵-کار اهل کار ته وسپارل شي

۶-په اداري کې همغږي، د کنترول ښه سیستم، د آمرینو ښه اطاعت باید موجود وي

## د اداري اساسي اصول:

۱-د هدف یووالی

۲-د سلسله مراتبو رعایت

۳-تخصص

۴-د امر د صادرولو وحدت

۵-د نظارت بشپړوالی

۶-صلاحیت او مسوولیت

۷-د تعادل موجودیت

۸- د انصاف او نرمښت منلو اصل او د کار تداوم

۹-اغېزمن کار.

## د اداري جوړښت

د اساسي قانون (۱۳۶_۱۴۲) مادو له مخې اداري په دري برخو وېشل شوې دي

۱-مرکزي اداري

۲-محلي اداري

۳-د ښاروالیو او ولسوالیو واحدونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم جز-مالي حقوق:

مالي په مانا د مادي یا پولي، چې هدف یې عایداتي منابع او د هغوی مصارف دي چې په اساس یې د دولت مالي امورات ترتیب او تنظیمېږي

مالي حقوق هم د دولت له ډېرو مهمو او عمده موضوعاتو څخه بحث کوي، چې په اړه یې علماو مختلف تعریفات کړي دي

۱-مالي حقوق د هغې قواعدو او مقرراتو مجموعې ته وایي چې له مخې یې د دولت کارکوونکي او مامورین د یو هېواد د خلکو او اتباعو څخه مالیه اخلي، همدارنګه د عمومي بودجې د تصویب، لګښتونو او عوایدو په اړه بحث کوي *(ستانکزی، مبادي حقوق، ۱۸ مخ)*

۲-مالي حقوق له هغه قواعدو څخه عبارت دي چې د دولت له عایداتي منابعو څخه بحث کوي *(دانش، عمومي حقوق، اول جلد)*

په خلص ډول ویلی شو چې مالي حقوق د عمومي حقوقو پورې مربوط یوه څانګه ده، د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د دولت مالي چارې او امورات ترتیب او تنظیموي

یانې د دولت عواید او د عایداتو د لاسته راوړلو لارې چارې، مصارف او د مصارفو د کولو لارې چارې، بودیجه او د بودیجې ډولونه، مالیه، د مالیاتو جمع کول، د مالیاتو ډولونه، د مالیاتو د لارې د دولت د عوایدو سرچیني، د عامه شتمنیو ساتنه، د دولت په مالي چارو باندې د کمیت او کیفیت له مخې جدي نظارت کول او داسې نور د مالي حقوقو له موضوعاتو څخه شمېرل کېږي

فلهذا مالي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د دولت عواید او د عوایدو د لارو چارو ترتیب او تنظیم، همدارنګه د دولت مصارف او د مصارفو د لارو چارو تنظیم، بودیجه او د بودیجې له ډولونو څخه بحث کوي

په دې مانا چې د دولت مکمل مالي نظام ترتیب او تنظیموي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې د مالي حقوقو د بحث موضوع د دولت عوايد او مصارف دي چې د عمومي بوديجې په چوکاټ کې انعکاس مومي او د دولت مالي منابعو لپاره لازم قواعد وضع کوي، چې دغه دواړه موضوعات په ډېر لنډ ډول ستاسې خدمت ته وړاندې کوو، يو د دولت عوايد، دويم د دولت عمومي بوديجه

-د دولت د عوايدو سرچينې:

د ولت په عمومي ډول پنځه ډوله عايداتي منابع لري چې عبارت دي له: مالیات، پوروونه، پولي وسايل او د خدماتو بيعې او غير مالياتي عوايد چې له تشريح او توضيح څخه يې صرف نظر شوی دی.

-د دولت عمومي بوديجه:

عمومي بوديجه چې په هغه کې د دولت عوايد او مصارف د دولت د مالي سياست د هدفونو پر اساس تنظيمېږي او د يو مالي کال ټول عوايد او مصارف پکې انعکاس مومي.

بودجه په دوه برخو باندې وېشل شوې ده.

عادي بوديجه او انکشافي بوديجه، چې له تشريح او توضيح څخه يې صرف نظر شوی دی.

*څلورم جز-د جزا حقوق:*

د جزا حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د جرم، مجرم او جزا ګانو څخه بحث کوي*(دانش، عمومي حقوق جزا، اول جلد)*

يا د جزا حقوق د هغه مقرراتو مجموعه ده چې دولت يې د ټولنې د تنظيم لپاره له هغوی څخه په ګټه پورته کولو د جزا ګانو د تطبيق صلاحيت او واک پيدا کوي، دا ځکه چې د هغه اعمالو تعقيبول کوم چې د ټولنې نظم او امنيت ته صدمه او زيان رسوي يوازې او يوازې د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت وظیفه ده، چې د نظم د ساتلو لپاره داسې اصول وضع کړي، چې د هغه په رڼا کې هیڅ ورانکاري و نه شي کړای، د قانون په چوکاټ کې له مجازاتو څخه ځان خلاص کړي.

په پورته توضیح کې لیدل کېږي چې په لومړۍ برخه کې له جزا څخه په دویمه برخه کې له مجرم څخه او په درېیمه برخه کې جرم ته اشاره شوې ده.

له دې څخه معلومېږي چې د جزا حقوق د هغه قواعدو مجموعه ده چې د جزا ګانو پورې مربوط ټول مسایل هم حل او فصل کوي.

یا په بل عبارت د جزا حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې ټول جرمي حرکات او اعمال ټاکي او د هغوی په مقابل کې لازم ټولنیز عکس العملونه پېش بیني کوي او دغه لازم ټولنیز عکس العملونه په مرتکبو اشخاصو تطبیقوي، د جزا حقوق په خپل وار سره په دوه برخو باندې وېشل شوي دي، چې هغه د عمومي حقوق جزا او اختصاصي حقوق جزا څخه عبارت دي.

د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د حقوق جزا موضوعات چې عبارت له جرم، مجرم او جزا ګانو څخه دي په اته مضامینو کې لوستل کېږي، چې له دغه اته مضامینو څخه یو شمېر داسې دي چې، د حقوق جزا د اصلي علومو او یو تعداد د حقوق جزا د معاونه علومو په نامه یادېږي.

موږ هم په ډېر لنډ ډول په لومړي قدم کې د حقوق جزا اصلي علوم او په دویم قدم کې د حقوق جزا معاونه علوم په ډېر لنډ ډول در پېژنو.

- *د حقوق جزا اصلي علوم یا حقوقي جنائي علوم:*

عبارت له هغې علومو څخه دي چې د جرایمو له متن او محتوی څخه بحث کوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجتوا

## د حقوق جزا اصلي علوم په لاندې ډول دي

عمومي د جزا حقوق

اختصاصي د جزا حقوق

د اسلام د جزا حقوق

د جزا د حقوقو تاريخ

بين المللي حقوق جزا

جزا پېژندنه

(د جزائي محاكماتو اصول)

له دغه پورته اووه مضامينو څخه يو اځې تعريفات او موضوعات په ډېر لنډ ډول در پېژنو.

### ۱ - د جزا عمومي حقوق:

د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې ټول هغه مسايل او موضوعات ترتيب او تنظيموي، کوم چې په ټولو جرايمو کې شريک وي او س پوښتنه دا ده چې د عمومي جزا حقوقو موضوع او مسايل څه شی دي؟

عمومي د جزا حقوقو مسايل او موضوعات عبارت دي له:

*د جرم او مجرم پېژندنه:*

د جرايمو عمومي متشکله عناصر چې عبارت له قانوني، مادي او معنوي عنصر څخه دي

د جرايمو ډولونه د متشکله عناصرو له حيثه

مشروطه ازادي، تعليق د مجازاتو، عفوه او تخفيف د مجازاتو او نور. *(دانش، عمومي حقوق جزا)*

### ۲ - د جزا اختصاصي حقوق:

دا عبارت له هغې جرايمو څخه دي چې د هر جرم لپاره ځانګړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف، اوصاف، متشکله عناصر او مجازات پیش بیني کوي، په دې مانا چې د هر یو جرم لپاره ځانګړې تعریف کوي، د هر جرم ځانګړې خصوصیات بیانوي، د هر جرم ځانګړي متشکله عناصر بیانوي او د هر جرم لپاره ځانګړي مجازات پیش بیني کوي

## ۳- جزا پېژندنه:

عبارت له هغې حکم څخه دی چې په اساس یې هغه مسایل او موضوعات چې د مجازاتو د اجرا، تطبیق او اړوند اصول څیړي، چې د هغه په مرسته د مجرمینو د وضعې ښه والی او د هغې د دوباره اصلاح او تربیت موضوعات په محابسو کې، د مجرمینو ساتنه په محابسو کې، د مجرمینو د حقوقو ساتنه او داسې نور، مسایل او موضوعات ترتیب او تنظیموي

یا په خلص ډول باید ووایو چې: جزا پېژندنه د هغې قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د جزا ګانو پورې مربوط ټول مسایل ترتیب او تنظیموي یا حل او فصل کوي

یا دا چې جزا پېژندنه له هغه علم څخه عبارت دی، چې: د جزا ګانو پېژندنه، د تطبیق د حالاتو او موثریت څخه بحث کوي *(دانش، جزا شناسي)*

موږ په دې ځای کې په ډېر لنډ ډول د جزا ګانو د ډولونو څخه یادونه کوو.

جزا ګانې د مختلفو و جوهاتو له حیثه په مختلفو ګروپونو باندې وېشل شوي دي لکه د خپل مینځي اړیکې له حیثه، د محل له حیثه، د وجوب له حیثه او د جرایمو له حیثه چې، هر یو یې جلا جلا مطالعه کوو.

- د خپل منځي رابطې له حیثه: ټولې جزا ګانې په څلورو برخو وېشل شوي دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱- اصلي جزاګانې:

له هغې جزا ګانو څخه عبارت دي چې خپله د همدغه جرم لپاره تاکل شوي وي، لکه: غلا لپاره د لاس پرېکول، شرابو لپاره ۸۰ دري وهل، زنا لپاره سنګسارول او داسې نور. *(د جزا قانون)*

### ۲- بدلي جزاګانې:

عبارت له هغو جزا ګانو څخه دي چې د اصلي جزا د نه ورکولو په صورت کې ورکول کېږي، لکه: د قتل جزا قصاص ده، کله چې قصاص نه تطبيق کېږي، نو په مقابل کې بيا ديت ورکول کېږي، چې ديو نفس په مقابل کې ۱۰۰ اوښان ديت لازمي دي *(حقوق جزا اسلام)*

### ۳- تبعي جزا:

تبعي جزا يا پيوسته او تړلې جزا عبارت له هغې جزا څخه ده، چې د اصلي جزا د تطبيق په صورت کې بې د قاضي له حکم څخه پرته په اتوماتيک ډول خپله تطبيق کېږي لکه: د قذف د جزا د تطبيق په صورت کې تبعي جزا د شهادت نه قبليدل دي، چې په دې صورت کې د قاضي حکم ته ضرورت نه ليدل کېږي.

### ۴- تکميلي جزا:

له هغې جزا څخه عبارت ده چې د اصلي جزا تر څنګ که چېرې قاضي مناسب و ګڼي د تکميلي جزا حکم هم کوي، لکه: د غلا د حد د تطبيق په صورت کې، عوض شوی لاس مرتکب ته په غاړه کې اچول او په بازار کې ګرځول.

### - د وجوب له حيثه:

د وجوب له حيثه جزا ګانې په دوه برخو وېشل شوي دي، له يو حده او څو حده څخه عبارت دي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### يوه حده جزاګانې:

دا عبارت له هغې جزاګانو څخه دي چې په اسلامي شريعت کې يې اندازه ټاکل شوې وي او قاضي پکې کمی او زياتی نه شي کولای.

څو حده جزاګانې: دا عبارت له هغې جزاګانو څخه دي چې په اسلامي شريعت کې يې اندازه نه وي ټاکل شوي

ـ د محل له حيثه ټولې جزاګانې په درې برخو باندې وېشل شوي دي

### بدني جزاګانې:

عبارت له هغې جزاګانو څخه دي چې صدمه يې مستقيماً بدن ته رسېږي، لکه د لاس پرېکول، په درو وهل، او نور.

### مالي جزاګانې:

عبارت له هغې جزاګانو څخه دي چې صدمه يې مستقيماً مال ته رسېږي، لکه ضبط، مصادره، جريمه او نور.

روحي او نفسي جزاګانې: دا عبارت له هغې جزاګانو څخه دي چې صدمه يې د شخص روح او نفس ته رسېږي، لکه نصيحت، تهديد، حبس او نور.

ـ د جرايمو په اعتبار سره ټولې جزاګانې په څلورو برخو باندې وېشل شوي دي، حدود، قصاص او ديت، تعزيرات او کفارات *(حقوق جزا اسلام)*

### ۴ـ د جزا د حقوقو تاريخ:

په دې علم کې د حقوق جزا وضع او حالات په مختلفو دورو کې تر مطالعې لاندې نيسي، لکه پخوانی پېړۍ، منځنۍ پېړۍ، نوې پېړۍ او حاضره پېړۍ، چې په هره دوره کې د حقوق جزا وضعه او حالات په جلا جلا ډول تشريح شوي دي *(دانش، حقوق جزا تاريخ)*

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- بین المللي حقوق جزا:

دا عبارت له هغه قواعدو او مقرراتو څخه دي چې ټول هغه جرایم او مجرمین تر څېړنې لاندې نیسي، چې یا یې د جرم صدمه یو دولت ته رسیدلې وي او خارجي عنصر پکې موجود وي او یا دا چې له دوو دولتونو څخه د زیاتو دولتونو نظم ته یې صدمه رسولې وي، چې د همدې وجې بین المللي د جزا حقوق په دوه برخو باندې وېشل شوي دي، چې یو یې خصوصي بین المللي د جزا حقوق، چې پکې ټول هغه جرایم مطالعه کېږي، چې په یوه دولت کې واقع شوي، اما خارجي عنصر پکې موجود وي لکه: یو افغان په پاکستان کې یو ایراني وژني او له هغې څخه وروسته دغه افغان هند ته فرار کوي، لیدل کېږي، چې نظم د یوه دولت د منځه تللی، خو خارجي عنصر پکې شتون لري

## - د جزا عمومي بین المللي حقوق:

عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې د جرم د ارتکاب په صورت کې دوه، یا له دوو څخه زیاتو دولتونو ته پکې صدمه رسیدلې وي، چې د بین المللي حقوق جزا موضوعات عبارت دي، د جرایمو رسیده ګي لپاره د ذیصلاح دولت تعین، د مجرمینو استرداد او نړیوال پولیس یا انټرپول *(دانش، حقوق جزایي بین المللي)*

## ۶- د جزایي محاکماتو اصول:

عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي، چې جرایمو ته د رسیده ګۍ د پروسیجر له اصولو څخه بحث کوي، په دې مانا چې د جرم له وقوع څخه د جزا تر تطبیق پورې ټول مراحل ترتیب او تنظیموي، لکه د پولیسو اجراات، د څارنوالۍ اجرات، ابتدایه محکمه، استیناف محکمه او ستري محکمې اجراات او د جزا تطبیق

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د محبس د اداري پوري تړلي دي ټول اجراات ترتيب او تنظيموي (دانش، اصول محاکمات جزايي).

## ۷- د اسلام د جزا حقوق:

دا هغه قواعد او مقررات دي چې د اسلامي شريعت د احکامو په نظر کې نيولو سره د هر جرم لپاره ځانګړي مجازات، ځانګړي د حرمت دلايل، د ثبوت وسايل، د جزا د تطبيق شرايط او نور تر مطالعې لاندې نيسي (حقوق جزای اسلام).

چې مهم موضوعات يې د حدود، قصاص، ديت او تعزيراتو د مجازاتو څېړنه ده.

**د حقوق جزا معاونه علوم:** غير حقوقي جنائي علوم: دا عبارت له هغه علومو څخه دي چې خپله له جرم، مجرم او جزا ګانو څخه بحث نه کوي، بلکې د جرم، مجرم او جزاګانو په پېژندنې او ثبوت کې مرسته او همکاري کوي.

دا هغه علوم دي چې، د حقوق جزا سره مرستندوی دي او د حقوق جزا د اهدافو په لاسته راوړلو کې کومک او همکاري کوي.

### کريمنولوژي، کريمنالستيک او عدلي طب:

**کريمنولوژي:** هغه علم دی چې د جرايمو د وقوع علل او عواملو او د هغوی د مخنيوي له لارو چارو څخه بحث کوي (۱)

**کريمنالستيک:** د جرايمو له کشف او اثباتيه وسايلو څخه بحث کوي

**عدلي طب:** دا هم هغه علم دی چې د جرايمو د اثباتيه وسايلو له کشف څخه بحث کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تبصره: (د کار حقوق)

عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي چې د کارګر او کارفرما تر منځ اړیکې ترتیب او تنظیموي، یا د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د کار پورې مربوط ټول مسایل حل او فصل کوي، چې د کار پورې اړوند مهم موضوعات په اساسي قانون کې ذکر شوي دي.

د افغانستان د اساسي قانون (۴۸) ماده حکم کوي چې:

کار د هر افغان حق دی، د کار د ساعتونو ټاکل بامعاشه رخصتي، د کارګر او کار فرما حقوق او د هغې سره نورې چارې د قانون په اساس تنظیمېږي، د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دی. په همدې ترتیب (۴۹) دا ډول حکم کوي چې: جبري کار منع دی، په اطفالو د کار تحمیل جواز نه لري *(اساسي قانون AF)*

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د کار حقوق عامه حقوق دي او که خصوصي حقوق دي؟

په نړۍ کې د اقتصادي نظامو په نظر کې نیولو سره هغه هېوادونه چې اشتراکیت باندې معتقد وي، په دې مانا چې فردي ملکیت نه قبلوي او هر څه د دولت ملکیت ګڼي او دولت په دې مکلف ګڼي چې خپلو اتباعو ته د کار زمینه برابره کړي، د اتباعو د کور، کالي او ډوډۍ مسوولیت دولت په خپله غاړه اخیستی او هر څومره انسانان چې کار کوي نو دا کار د دولت لپاره کوي دلته لیدل کېږي چې په ټولو کارونو کې یو طرف خامخا دولت قرار لري، نو پداسې نظام کې د کار حقوق د عمومي حقوقو له څانګو څخه یوه څانګه ده.

او که اقتصادي نظام سرمایه داري وي نو په دې صورت کې هر سړی فردي ملکیت لري، آزاد بازار شتون لري او هر شخص چې په هره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



طریقه هر څومره کته لاسته راوړې شي، اجازه لري او په دې سیستم کې اکثره کارونه د خصوصي افرادو لپاره کېږي، و ګوری ترانسپورت خصوصي، ساختماني شرکت شخصي، مکتب او پوهنتون شخصي، فابریکه او زراعت شخصي کله چې دا ټول شخصي شي نو لیدل کېږي چې انسانان د نورو انسانانو سره کار کوي او دواړو خواو ته خصوصي افراد قرار لري، چې دغه حقوق د خصوصي حقوقو په نوم یادېږي، خو په هر صورت داسې وایو چې د کار حقوق په مطلق ډول موږ نه شو کولای چې یا یې یواځې د عمومي حقوقو او یا یې یواځې د خصوصي حقوقو پورې وتړو بلکې دا مشترک حقوق دي

## دویم مطلب -خصوصي حقوق:

د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د یو خصوصي فرد رابطه د بل داخلي خصوصي فرد سره د متبوع دولت د قلمرو په داخل کې، ترتیب او تنظیموي

لکه یو افغان د جلال اباد په ښار کې د یو بل افغان تجار سره یوه تجارتي معامله تر سره کوي

خصوصي حقوق په خپل وار سره په دوه برخو باندې وېشل شوي دي، چې د حرفوي (مسلکي) حقوقو او غیر حرفوي حقوقو څخه عبارت دي چې دواړه جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### لومړی جز-حرفوي حقوق

د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې د خصوصي افرادو روابط د هغوی د مسلک پېشې او شغل په نظر کې نیولو سره ترتیب او تنظیموي، په حرفوي حقوقو کې ټولې هغه حرفوي او مسلکې اړیکې ترتیب او تنظیمېږي چې له دغه مسلک او پېشې څخه راپیدا شوي وي *(دانش، مبادي حقوق)*

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه تجارت، ترکاني، د ټوکرانو اوبدل او نور چې د هر مسلک پورې تړلې خاصې اړیکې ایجادېږي او خاص حقوق او وجایب لري، چې د حرفوي حقوقو په اساس ترتیب او تنظیمېږي، چې په خپل وار سره په درې برخو باندې وېشل شوې دي، د تجارت حقوق، د صنعت حقوق او د کار حقوق.

لکه څرنګه چې مخکې د عمومي حقوقو په بحث کې د کار حقوق د یوې تبصرې په ضمن کې مطالعه شول نو په دې ځای کې د کار د حقوقو په اړه بحث نه دی شوی او یواځې د تجارت حقوق او د صنعت حقوق جلا جلا تر بحث لاندې نیول شوي دي.

## الف: د تجارت حقوق

د تجارت حقوقو له ډېر پخوا څخه د انسانانو تر منځ رواج درلود، په ابتدایي ټولنو کې انسانانو خپلې اړتیاوې په مستقیم ډول نه شوې پوره کولای، ولې په غیر مستقیم ډول هغوی خپلې اړتیاوې او ضروریات د اخیستلو او خرڅولو له لارې پوره کول.

په هغه وخت کې چې صنعت، زراعت او پولي واحدونه موجود نه ؤ، په هغه وخت کې د تجارت حقوق هم موجود نه ؤ، مګر کله چې زراعتي محصولات منځته راغلل نو د زراعتي محصولاتو جنس په جنس تبادله شروع شوه، کله چې پرمختګ رامنځته شو او صنعتي مصنوعات هم منځ ته راغلل نو په دې صورت کې هم جنس په جنس تبادلې جریان درلود، چې د تجارت د حقوقو بنیاد له همدې ځای څخه شروع کېږي، کله چې پولي واحدونه ایجاد شول، په پولي واحدونو باندې تبادله چې عبارت، له اخیستلو او خرڅولو څخه دي شروع شول، د تجارت حقوقو لپاره اصول او مقررات وضع شول، البته ددې خبرې یادونه باید وکړو چې د تجارت حقوقو لومړني قواعد او مقررات په ډېر ابتدایي شکل وو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دومره غښتلي نه وو، د وخت په تېرېدو سره په تجارت کې چې څومره پرمختګ او انکشاف رامنځ ته کېده په همغه اندازه د تجارت د حقوقو قواعدو او مقرراتو هم پرمختګ او انکشاف کاوه، چې په دې ځای کې د دغه انکشاف تاریخي سیر ته اشاره شوې ده.

تجارت ډېر پخواني تاریخ لري او هغه دا چې بابلیان په ۲۰ قبل میلاد پېړۍ کې د (دجلې) او (فرات) په غاړو کې ژوند کاوه، اکثره یې تجاران وو، د حمورابي قانون کوم چې خپله د حمو رابي له خوا چې په ۲۱۲۳ ق م کې په بابل کې باچا ؤ، وضع شوی، په هغه کې د تجارت په اړه ډېرو احکامو شتون درلود، لکه: د کشتیو په کرایه ورکول او نور.

له دې څخه وروسته په انګلستان او فرانسه کې تجارت رواج پیدا کړ، له دې څخه وروسته د نړۍ په نورو هېوادونو کې تجارت رواج پیدا کړ او په اکثرو هېوادونو کې عام شو، د وخت په تېرېدو سره یې انکشافات رامنځته شول، کله چې په تجارت کې انکشافات رامنځته شول نو همغه ؤ چې په هر دولت کې یو سلسله قواعد او مقررات وضع شول چې په لاندې ډول ترېنه یادونه کوو.

په المان کې په ۱۷۱۲ م کال کې د تجارت لپاره یو سلسله مقررات وضع شول، په ۱۸۹۲ م کال د تجارت لپاره په فرانسه کې یو لړ قواعد او مقررات وضع شول، په ۱۳۲۴ ه ش کال کې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د تجارت اصولنامه وضع شوه، چې له یوې ورځې څخه بلې ورځې ته د تجارت حقوقو په اړه مختلف انکشافات رامنځته شول، همغه ؤ چې د تجارت حقوقو لپاره پرمختللي مقررات وضع شول چې بلاخره یې نني شکل غوره کړ.

***د تجارت حقوقو پېژندنه:***

لومړی باید تجارت و پېژنو!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجارت د منقولو اموالو اخیستلو او خرڅولو څخه عبارت دی چې د ګټې په مقصد په دوامداره ډول د شغل او پېشې په شکل یې صورت نیولی وي
له پورته تعریف څخه لاندې نقاط استنباط کېږي
۱-مال یا جنس باید منقول وي
(۱)ځینې دولتونه د غیر منقولو اموالو اخیستلو او خرڅولو ته هم تجارت وایي.
۲-منقول اموال باید اخیستل شوي وي او که داسې نه وي، یوازې خرڅول یې تجارت نه ګڼل کېږي، لکه یو سړی د خپلې ځمکې محصولات په بازار کې خرڅ کړي دا تجارت نه دی *(منقول مال: هغې مال ته وایي چې د انتقال وړ وي)*
۳- ټول اخېستل شوي شیان باید بېرته خرڅ کړي، که چېرې یوازې اموال یې اخیستې وي هغه هم تر هغه وخت پورې چې بېرته یې خرڅ نه کړي، تجارت نه ګڼل کېږي، لکه یو سړی د خپل ضرورت لپاره ځینې اجناس اخیستي وي
۴-معامله باید د ګټې په منظور تر سره شوي وي، که چېرې داسې نه وي هغه هم تجارت نه ګڼل کېږي، د مثال په ډول یو سړی درې بوجۍ غنم اخیستي دي اوس تر هغه یوه بوجې اضافه کېږي او بیرته یې په څو چې اخیستي وي، په همغه قیمت پلوري، دا تجارت نه دی.
۵-اخیستل او خرڅول باید په دوامدار ډول وي، که چېرې د یو ځل لپاره څوک یو شی واخلي او بیرته یې د ګټې په مقصد هم خرڅ کړي دا تجارت نه دی، تر څو یې چې په دوامداره ډول یې نه وي تر سره کړی.
۶-اخیستل او خرڅول به یې خانته د شغل او پېشې په شکل ګرځولي وي
کله چې د غه پورته شپږ نقاط موجود شي تجارت بلل کېږي
راځو دې ته چې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تجارت حقوق څه ته وايي؟

د تجارت حقوق د حرفوي حقوقو څانګه ده، نو په دې اساس يو واحد تعريف نه لري او هر عالم ورته جلا جلا تعريفات کړي دي؛ چې د نمونې په ډول يې دلته څو مثالونه ذکر کوو.

۱- د تجارت حقوق: د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د تجارت پورې مربوط ټول مسايل حل او فصل کوي

۲- د تجارت حقوق: د تجارت د پراختيا، د خلکوو د احتياجاتو د پوره کولو، همدارنګه په تجارت کې د تقلب او جعل کاري، د منځه وړلو په خاطر، د تجارتي او شرکتي مسايلو د ترتيب او تنظيم په خاطر، د مقرراتو وضع کول عبارت د تجارت له حقوقو څخه دي

۳- د تجارت حقوق د خصوصي حقوقو له رشتو څخه يوه رشته ده او د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د تجارتي او اقتصادي اړيکو، تجارتي مؤسسات او د هغوی فعاليتونه ترتيب او تنظيموي

بيا هم يو شمېر علما په دې تعريفاتو باندې قانع نه دي او د تجارت حقوقو په اړه دوه نظريې موجوې د دي، چې يو ته يې نفسي يا شخصي نظريه او بل ته يې آفاقي نظريه وايي.

د شخصي يا نفسي نظريې په اساس لومړی تاجر او وروسته تجارتي معامله تعريف کېږي، که دا نظريه قبوله شي نو د تجارت حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې تاجر مطالعه کوي، د المان علماء همدغه نظريه قبلوي

آفاقي نظريه چې د نفسي يا شخصي معکوسه نظريه ده، د دې نظريې په اساس د تجارت حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې لومړی تجارتي معامله او وروسته تاجر مطالعه کوي، چې فرانسې او افغانستان همدغه نظريه قبوله کړې ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او س دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې؛

## تجارتي معامله څه ته وايي؟

د افغانستان اسلامي جمهوریت د تجارت اصولنامي په (۴۱) ماده کې تجارتي معامله داسې تعریف شوې ده.

تاجر یا غیرتاجر کسان چې منقول مالونه پلوري یا بل چا ته یې په اجاره ورکوي تجارتي معامله ګڼل کېږي

## د تجارت حقوقو منابع

د تجارت حقوقو منابع عبارت دي له:

_اسلامي شریعت

_قانون

_عرف او عادات

_قضایي رویه او دکتورین.

## ب: د صنعت حقوق

هغه مقررات دي چې صنعت پورې مربوط ټول مسایل حل او فصل کوي، د کار حقوق چې مخکې پرې بحث شوی دی، په دې ځای کې ترې صرف نظر شوی دی.

## دویم جز-غیر حرفوي حقوق:

له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی، چې پرته له شغل او پېشې څخه د افرادو روابط ترتیب او تنظیموي، چې په لاندې برخو وېشل شوي دي

الف_د کورنۍ حقوق

ب_د میراث حقوق

ج_د وجایبو حقوق

د_عیني حقوق

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ښه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

## الف_ د فاميل حقوق يا کورني حقوق

دا عبارت له هغه قواعدو څخه دي چې د کورنۍ پورې مربوط ټول اهم مسايل او موضوعات حل او فصل کوي، يا دا چې د کورنۍ پورې مربوط مسايل ترتيب او تنظيموي، مخکې له دې چې د کورنۍ د حقوقو په اړه بحث وکړو، ښه به دا وي چې لومړى کورنۍ وپېژنو.

د افغانستان د اسلامي دولت د مدني قانون له مخې کورنۍ په دقيق ډول نه ده معرفي شوې، ولې په (۵۲) ماده کې دا سې صراحت وجود لري د انسان کورنۍ د هغه له خپلوانو څخه مشکله ده چې د يو شريک اصل په وسيله سره جمع شوي وي خو د هغه سربېره د حقوقو په علم کې کورنۍ له هغه افرادو څخه عبارت ده چې نسبي خپلوان، خپله شخص او د هغه د ژوند شريک يو ځاى وي.

د کورنۍ اصطلاح د هغه افرادو په مجموعي باندې اطلاق کېږي، چې د واده او خپلوۍ له لارې يو له بل سره متحد شوي وي، د شخص او مالي حقوقو تر مينځ اړيکې يوازې د کورنۍ د ځينو غړيو تر منځ شتون لري، کورنۍ په کلي توګه نه د حقوقي شخصيت درلودونکي او نه په خپل ځان پورې د منحصر مال څښتنه ده.

د کورني حقوقو (فاميل حقوقو) موضوعات عبارت دي له:

۱- نامزدي (کوژدن)

۲- ازدواج او د ازدواج اثار

۳- د ازدواج د عقد اعلان او اثار يې

۵- نفقه

۵- نسب

۲- حضانت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷-ولایت

۸-وصایت

پورته یاد او داسې نور واړه فرعي موضوعات به ان شاء الله تاسې په درېیم ټولګي کې د کورني حقوقو په مضمون کې په تفصیل سره ولولئ او موږ یې په دې ځای کې له مطالعې څخه صرف نظر کوو.

## ب- د میراث حقوق

د میراث کلمه په لغت کې یا د مفعول د اسم په توګه راځي چې په دې صورت کې مؤرث یا متروکه مانا ورکوي او یا هم د میراث کلمه د مصدر په توګه راځي چې د انتقال یا لېږدولو مانا ورکوي.

په اصطلاح کې د میراث حقوق عبارت د یو لړ قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه دي، چې د متوفی د مالونو، پورونو او وصیتونو بر خلیک ټاکي. په دې اساس که حق مالي وي او که غیر مالي وي دا ټول په میراث کې شاملېږي، لکه د قصاص حق، د عیب په خیار کېد مبیعي د مستردولو حق او داسې نور.

د اسلامي فقهاو له نظره د میراث علم عبارت له یو لړ حسابي فقهي قواعدو څخه دی چې د هغوی له لارې له متروکې څخه د هر وارث برخه معلومېږي.

همدا شان د میراث د علم حکم کفائي فرض دی او منابع یې له قرآن کریم، احادیثو او اجماع څخه عبارت دي، د میراث احکام هغه وخت جاري کېږي چې د میراث شرایط، اسباب او ارکان وجود ولري، چې په لاندې ډول یې د پر مختصراً ذکر کوو.

## د میراث ارکان

میراث درې ارکان لري چې له مؤرث، وارث او له موروث څخه عبارت دي.

مؤرث: هغه څوک دی چې وروسته له مرګ څخه یې مال ترکه کېږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وارث:** هغه څوک دی چې د مړي مال ورته وېشل کېږي.

**موروث:** هغه مال دی چې د مړي نه پاتې شوی دی.

### د میراث اسباب:

هغه اړیکې چې د تولد او تناسل له لارې د وګړیو تر منځ پیدا کېږي، هغې ته قرابت وایي چې خپلوي او قرابت د میراث لومړنی شرط دی.

خپلوي د اړیکو په پام کې نیولو سره په اصولو او فروغو وېشل کېږي، چې وروسته بیا په ذوالفروضو، عصبه او ذوی الارحامو وېشل کېږي.

### ج: د وجايبو حقوق

وجیبه یو ډول مکلفیت دی، یانې هغه قواعد او مقررات چې د شغل او پېښې پرته د افرادو له حقوقو او وجايبو څخه بحث کوي.

یا په بل عبارت د وجايبو حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د افرادو حقوق او وجايب یو د بل په مقابل کې ترتیب او تنظیموي، اوس دلته یو پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې؛

### وجیبه څه مانا؟

وجیبه په دوه ډوله ده، یوې ته یې عامه وجیبه وایي او بلې ته یې خاصه وجیبه وایي، چې موږ هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### ۱- عامه وجیبه:

د نورو د حقوقو د احترام کولو له مکلفیت څخه عبارت ده، یا له هغې حالت او مجبوریت څخه عبارت ده، چې د نورو د حقوقو د احترام لپاره یې لري.

لکه زموږ او ستاسې د کور تر څنګ یو بل څوک کور په کرایه نیسي، نو په دې ځای کې زموږ مکلفیت دا دی، یا زموږ وجیبه دا ده چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې حقوقو ته احترام وکړو او هیڅ ډول ضرر ورته و نه رسوو، یانې نور ګاونډیان به ورته ضرر نه رسوي، چې د غه ضرر نه رسول او د هغه د حقوقو احترام د ګاونډیانو وجیبه ګڼل کېږي.

## ۲- خاصه وجیبه:

عبارت له هغې رابطې څخه ده، چې د هغې رابطې په اثر یو شخص د بل شخص په مقابل کې د یو شي په سپارلو یا د یو کار په کولو او یا د یو خدمت په سر ته رسولو او یا په نه کولو مجبورېږي د مثال په ډول احمد محمود ته وصیت وکړ. نو د لته محمود باید د غه وصیت سر ته ورسوي ځکه چې دا یې وجیبه ده، یا دا چې احمد غواړي یو کور جوړ کړي او محمود ساختماني شرکت لري او د هغه سره قرار داد کوي چې په یو کال کې به ورته کور جوړوي، او س په دې ځای کې باید محمود په یو کال کې د غه کار سرته ورسوي، ځکه چې دا یې وجیبه ده.

## د: عیني حقوق:

عیني حقوق د خصوصي حقوقو له رشتو څخه یوه ډېره مهمه رشته ده، چې عبارت له هغه قواعدو او مقرراتو څخه دي چې د فرد رابطه او اړیکې د یو شي یا اموالو سره او یا دا چې د فرد رابطه د جنس یا شي په مقابل کې تاکي یانې تثبیتوي.

د عیني حقوقو اصلي موضوع ملکیت او د هغې پورې مربوط نور ټول حقوق دي چې موږ باید ملکیت هم و پېژنو.

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال د مدني قانون په (۵۵) ماده کې ملکیت داسې تعریف شوی دی:

((ملکیت داسې حق دی چې د هغه په مقتضا شی د شخص د ارادې او تسلط لاندې واقع کېږي، یوازې مالک کولای شي د قانون د حکمونو په حدودو کې د هغې استعمال، ګټه اخیستل او هر ډول مالکانه تصرف ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقدام وکړي)) د افغانستان د مدني قانون له مخې په عام ډول ملکیت په دوه ډوله وېشل کېږي، چې عبارت له منقول او غیر منقول ملکیت څخه دی، خو د حقوقو عالمانو بیا غیر منقول اموال په څلورو برخو باندې وېشلې دي

الف_ هغه اموال چې ذاتاً غیر منقول وي، لکه ځمکه

ب_ هغه اموال چې د انسانانو د اعمالو په نتیجه کې غیر منقول ګرځي لکه، د تعمیراتو اموال

ج_ هغه اموال چې د غیر منقول اموالو په حکم کې راځي، لکه (ونې )بوټي

د_ هغه چې د حکم په اساس غیر منقول وي لکه، زراعتي ماشین الات

چې د افغانستان د مدني قانون له مخې غیر منقول ملکیتونه د عیني حقوقو د بحث اصلي موضوع تشکیلوي

چې په دې اړه د لاندې موضوعاتو نومونه قابل د یادولو دي

تر تسلط لاندې راوړل، هر مباخ مال چې مخکې چا تر لاسه کړه، هغه یې مالک دی (۱۹۸۵) ماده

*د مړینې په سبب د ملکیت انتقال:* هغه اموال چې له مورث څخه په میراث پاتې کېږي

*وصیت*

چې یو شخص بل ته وصیت کوي چې دا درې ډوله د ملکیت لاسته راوړل وو.

شفع، حقابه(اوبو کولو حق) د مرور حق، د تلو راتلو حق او داسې نور.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مبحث-بين المللي حقوق:

بين المللي حقوق له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي، چې د يو دولت په قلمرو کې محدود نه وي، بلکې دباندې ووځي او د خارجي جنبې لرونکي وي، يا هغه قواعد دي چې خارجي جنبه ولري، يا په بل عبارت بين المللي حقوق له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې د يو خصوصي فرد رابطه د خارجي فرد سره يا د يو فرد رابطه د خارجي دولت سره يا د دوو يا څو دولتونو تر منځ روابط، د بين المللي سازمانونو روابط په خپل منځ کې يا د بين المللي سازمانونو روابط د دولتونو سره ترتيب او تنظيموي، چې په لاندې برخو وېشل شوي دي

### د بين المللي حقوقو ډولونه

۱-عمومي بين المللي حقوق.

۲-خصوصي بين المللي حقوق.

۳-د جزا بين المللي حقوق.

چې د ټولو په هکله به پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### لومړی مطلب-عمومي بين المللي حقوق:

له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي کوم چې په هغه بين المللي موضوعاتو باندې تطبيق کېږي، چې جد اقل يو خوا يې دولت يا سازمان وي، يا په بل عبارت عمومي بين المللي حقوق له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې د يو خصوصي فرد رابطه د خارجي دولت سره يا د دولتونو روابط په خپل منځ کې يا د دولتونو او بين المللي سا زمانونو روابط له افرادو سره ترتيب او تنظيموي.

ولې ددې لپاره چې په دغه موضوع باندې ښه پوه شو، بهتره به وي چې لومړی د عمومي بين المللي حقوقو منابع او له هغه څخه وروسته د عمومي بين المللي حقوقو موضوعات مطالعه کړو.

Scanned by CamScanner

## د عمومي بين المللي حقوقو منابع:

عمومي بين المللي حقوق دوه ډوله منابع لري چې هغه عبارت دي له اصلي منابع او فرعي منابع، چې د ښه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

## ۱-اصلي منابع:

ددی منابع څخه مشخص دول یا الزامی تعهد تشکیل اصلی کیږي

اصلي منابع په دوه برخو وېشل شوي ،چې هر يو يې جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### الف: بين المللي قرار داد:

د عمومي بين المللي حقوقو عمده منبع له قراردادونو څخه عبارت دی چې د ملګرو ملتونو سازمان د بين المللي حقوقو کمېسون چې په ۱۹۶۳ کې قرار داد شوی دی قرار داد يې داسې تعريف کړی دی

هر هغه نړيوال مدون توافق چې په دوو سندونو کې په الحاقي سند کې راوړل شي او د دوو يا څو هېوادونو او يا يو څو نړيوالو حقوقي موضوعاتو په اړه وتړل شي او بين المللي حقوق په هغې کې واکمن وي، بې له دې څخه چې هغه په کوم خاص نوم لکه (تړون، معاهده، ژمن ليک، پروتوکول، ميثاق، منشور اساسنامه، اعلاميه، مذهبي موافقتنامه او نور و نومول شي عبارت له قرار داد څخه دی او دغه کمېسون لپاره د منلو وړ وي

يا په لنډ ډول بين المللي قرار داد د دوو يا له دوو څخه د زياتو هېوادونو يا بين المللي سازمانونو تر منځ يو توافق څخه عبارت دی، چې د حقوقو او وجايبو په هکله په بين المللي سطحه د بين المللي پرنسيبونو په رڼا کې تر سره کېږي

ولې ددې خبرې يادونه بايد وکړو چې ټول بين المللي قرار دادونه د بين المللي عمومي حقوقو منابع نه ګڼل کېږي بلکې يوازې هغه قرار

Scanned by CamScanner
(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادونه منابع ګڼل کېږي چې، د نړۍ موجوده مستقلو هېوادونو امضا کړې وي او یا د هغه مندرج مواد د ټولې نړۍ د بشریت د سرنوشت پورې تړلي وي

بین المللي قرار دادونه د شکل، متعاهدو لوریو د شمېر، د نورو هېوادونو الحاق، ماهیت یا معیار له حیثه په مختلفو ډولونو وېشل شوي دي

### ب: بین المللي تعاملات:

هغه حقوقي قواعد دي چې له ډېرې زیاتې مودې راهیسې د دولتونو او نورو شخصیتونو د نړیوالو عمومي حقوقو روش اداره کوي او د همدغه دولتونو له لارې لازمي او حتمي منل شوي دي، نو د یو تعامل د راتګ لپاره دوه حتمي او مهم شرطونه باید موجود وي.

۱- د یوې حقوقي قاعدې اوږدوالی او ډېر تکرار (USUS Langaeveus).

۲- د دولتونو عقیده د همدې تعاملاتو په حتمي توب او لازمتوب (Opinion necessitats) باندې

تعامل د ساده عرف سره توپیر لري، عرف هغه قاعده ده چې له ډېره وخته بیا، بیا تکرارېږي، خو منل یې حتمي خبره نه ده، نو ځکه د نړیوالو حقوقو له منابعو څخه هم نه بلل کېږي او یوازې د یو تعارف او یا بین المللي نزاکت په توګه کارول کېږي

### ۲ - (فرعي منابع)

هر وخت چې اصلي منابع وجود و نه لري له هغه څخه وروسته بیا له فرعي منابعو څخه استفاده کېږي، چې په لاندې برخو وېشل شوي دي

### الف: د حقوقو عمومي اصول:

له عمومي اصولو څخه مطلب هغه حقوقي قواعد دي چې د نړۍ د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



متمدنو دولتونو له خوا په رسمیت پېژندل شوي وي لکه

۱- هېڅوک د خپل ځان په اړه قضاوت نه شي کولای

۲- تاوان د جبران اصل دی

۳- په ژمنه باندې وفا کول او داسې نور.

## ب- دوکتورین

د علماوو له نظریاتو څخه عبارت دي، خو په بین المللي حقوقو کې تر ټولو دوهم درجه اصلي منبع په توګه استفاده نه ده شوې

## ج- بین المللي قضائي رویه

قضایي رویه هم د یوې اصلي منبع په حیث نه ده منل شوې، یواځې په هغه وخت کې له قضائي رویې څخه استفاده کېږي چې اصلي منابع په دې هکله کومه تعاملي قاعده و نه لري

دلته اوس یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د عمومي بین المللي حقوقو موضوعات څه شی دی؟

په بین المللي عمومي حقوقو کې معمولاً د بین المللي حقوقو شخصیتونه، بین المللي قرار دادونه، د نړیوالو حقوقو اصول، سرنوشت ټاکل، د بین المللي عمومي حقوقو عمومي اصول، بشر حقونه او عمومي بین المللي حقونه، د نړیوالو جګړو په هکله موضوعات د هغې حل او فصل د قلمرو تعین، بې طرفي او داسې نور، چې تاسې به یې انشاالله دریېم ټولګي کې ولولئ

## دویم مطلب خصوصي بین المللي حقوق

عبارت له هغه قواعدو څخه دي چې د یو فرد (وګړي) رابطه د بل خارجي فرد سره ترتیب او تنظیموي، یا په بل عبارت خصوصي بین المللي حقوق د خصوصي حقوقو یوه مهمه څانګه ده چې د یو ملت د افرادو روابط د پردیو سره ترتیب او تنظیموي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثال په ډول يو افغان غواړي چې له يوې پاکستانۍ سره واده وکړي

يا په بل عبارت خصوصي حقوق عبارت د هغه قواعدو او مقرراتو څخه دي چې د افرادو روابط په خصوصي ژوندانه کې د مرز يا سرحد د تفکيک په موجب ترتيب او تنظيموي

ددې لپاره چې د حقوقو د نومورې رشتې سره بلديت پيدا کړو، بهتره به وي چې په ډېر مختصر ډول لاندې سرليکونه ولولو.

ـ د خصوصي بين المللي حقوقو مشخصات

ـ د خصوصي او عمومي بين المللي حقوقو مشترک وجوهات

ـ د خصوصي بين المللي حقوقو توپيرونه

ـ د خصوصي بين المللي حقوقو منابع

ـ د خصوصي بين المللي حقوقو موضوعات، چې د ښه پوهېدلو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي.

### ۱ ـ د خصوصي بين المللي حقوقو مشخصات

ددې رشتې مشخصات په لاندې ډول دي

الف ـ کله چې يوه حقوقي رابطه منځ ته راځي، بايد د خارجي عنصر لرونکې وي

ب ـ هغه چې په هغې باندې حقوقي رابطه برقرارېږي، بايد په خارج کې موقعيت ولري

ج حقوقي اعمال او حوادث چې د يوې حقوقي رابطې د تفسير، تاسيس او د له منځه وړلو سبب کېږي، بايد په خارج کې موقعيت ولري

### ۲ ـ د عمومي بين المللي ـ وجوهات په لاندې ډول دي:

الف ـ په دواړو رشتو کې د خارجي عنصر موجوديت شرط دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب- په خصوصي بین المللي حقوقو کې علاوه له دې چې له داخلي منابعو څخه استفاده کېږي، د عمومي بین المللي حقوقو له منابعو څخه هم استفاده کوي، خاصتاً په بین المللي معاهداتو کې.

په هغه صورت کې چې د خصوصي بین المللي حقوقو د تنظیم په برخه کې د دولتونو تر منځ کوم اختلافات رامنځته شي، نو موړي اختلافاتو ته بین المللي قضايي مراجع رسیده ګي کوي او له عمومي بین المللي حقوقو د قواعدو او مقرراتو څخه استفاده کوي يانې مسايل پرې حل او فصل کوي.

## ۳- د عمومي بین المللي حقوقو او خصوصي بین المللي حقوقو توپیرونه:

دغه دواړه څانګې د لاندې نقاطو له مخې يو له بل سره توپیر لري، د فاعلینو له حیثه، د عمومي بین المللي حقوقو د منابعو له حیثه او د موضوعاتو او صالحو مراجعو له حیثه، چې هر يو جلا جلا روښانه کوو.

### الف؛ د فاعلینو له حیثه:

د عمومي بین المللي حقوقو فاعلین دولتونه او بین المللي سازمانونه دي، په داسې حال کې چې د خصوصي بین المللي حقوقو فاعلین خصوصي افراد دي.

### ب؛ د عمومي بین المللي حقوقو د منابعو له حیثه:

عمومي بین المللي حقوقو منابع عبارت دي له بین المللي قرار دادونه او کلي اصولو څخه او د خصوصي بین المللي حقوقو منابع له داخلي منابعو څخه عبارت دي.

Scanned by CamScanner

## ج: د موضوعاتو او صالحو مراجعو د توپیر له حیثه

د عمومي بین المللي حقوقو د موضوعاتو د اختلافاتو د حل په صورت کې د عمومي بین المللي حقوقو منابع رسیده ګي کوي، په داسې حال کې چې د خصوصي بین المللي حقوقو په موضوعاتو کې د اختلافاتو د حل په صورت کې د داخلي منابعو او په بعضې خاصو حالاتو کې د عمومي بین المللي حقوقو له منابعو څخه ګټه اخیستل کېږي لکه: د بین المللي محکمې د یوان و غیره.

## د مبناء له حیثه

خصوصي بین المللي حقوق عموماً د یو هېواد اداره تشکیلوي او عمومي بین المللي حقوق حد اقل دوه هېوادونه تشکیلوي.

## ۴ - د خصوصي بین المللي حقوقو منابع:

د خصوصي بین المللي حقوقو منابع عبارت دي له داخلي منابعو څخه او ځینې خاص موارد شته چې د بین المللي عمومي حقوقو له منابعو څخه پکې استفاده کېږي.

## ۵- د خصوصي بین المللي حقوقو موضوعات

د خصوصي بین المللي حقوقو موضوعات عبارت دي له تابعیت، د خارجیانو حقوق، د قوانینو تعارض، استوګنځی او... چې هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### (ا) تابعیت:

تابعیت او د هغه پورې مربوط قواعد د خصوصي بین المللي حقوقو د مهمو موضوعاتو له جملې څخه حسابېږي، ځکه چې د خصوصي بین المللي حقوقو قواعد او مقررات د هغه افرادو له مناسباتو او اړیکو څخه بحث کوي، چې د مختلفو تابعیتونو لرونکي وي، څرنګه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصي بين المللي حقوقو کې تابعيت يوه مهمه موضوع ده، نو تعريف او پېژندنه يې په لاندې ډول کوو.

### د تابعيت پېژندنه:

د تابعيت د تعريف په هکله علماوو مختلف نظريات او تعريفات وړاندې کړي دي، چې په لاندې ډول يې مطالعه کوو.

تابعيت يوه سياسي رابطه ده چې د دولتونو له حاکميت څخه منشاء اخلي، يا دا چې تابعيت يوه سياسي رابطه ده چې په حقيقت کې د فرد سياسي وضعيت ټاکي، ياني دولت ټاکي چې افراد د هغې تابع دي يا دا چې د تابعيت لپاره کوم شرايط لازم دي

په عمومي صورت تابعيت له سياسي او حقوقي رابطې څخه عبارت دی، چې ددغه رابطې په ذريعه يو شخص د دولت تابع ګرځي.

### د تابعيت اصول:

د لاهي قرار داد د تابعيت لپاره لاندې اصول وضع کړي دي

۱- د تابعيت لزوم

۲- د تابعيت وحدت

۳- د تابعيت د تغيير ورکولو اصل

### د تابعيت ډولونه

تابعيت په دوه ډوله دی:

۱- اجباري تابعيت

۲- اختياري تابعيت

۱- اجباري تابعيت د لاندې دوه روشونو په اساس منځ ته راغلی دی، چې يو يې د وينې روش او بل يې د خاورې روش دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وینې روښ:

په دې مانا چې له کوم مور او پلار څخه چې یو ماشوم په هره خاوره (هېواد) کې پیدا شي، نو د خپل مور او پلار متبوع هېواد تابعیت تر لاسه کوي، د مثال په ډول، د افغانستان قوانین یا د ایران قوانین او داسې نور هېوادونه چې د وینې رویش یې قبول کړی، ددې مانا دا ده، که له یو افغاني مور او پلار څخه چې په هره خاوره کې ماشوم تولد شي، هغه افغانی، یا دا چې له یو ایراني مور او پلار څخه چې په هر هېواد کې ماشوم تولد شي، هغه ایرانی دی او داسې نور.

## د خاورې روښ:

ددې مانا دا ده چې په کوم هېواد کې یو ماشوم تولد شي د هغه مور او پلار چې د هرې خاورې تابعیت لري نو موړی ماشوم د همدغه هېواد تبع دی، د مثال په ډولو ارجنټاین د خاورې روش قبول کړی، نو له هر مور او پلار څخه چې په ارجنټاین کې ماشوم تولد شي هغه د ارجنټاین دی.

## ۲-/ اختیاري تابعیت

ځینې وخت یو شخص غواړي چې د خپل متبوع هېواد تابعیت ترک کړي، که چېرې د خپل متبوع هېواد د قوانینو مطابق یې تابعیت ترک کړ او د بل هېواد د تابعیت غوښتنه یې وکړه او تابعیت یې ورکړ، دغه د تابعیت اخیستل له اختیاري تابعیت څخه عبارت دي

د مثال په ډول: د ایران د مدني قانون (۹۸۸) ماده صراحت لري چې که چېرې یو ایرانی غواړي چې د ایران تابعیت ترک کړي، باید لاندې شرایط پوره کړي

۱-د ۲۵ کلنۍ عمر.

۲-د وزیرانو هیئت د شورا اجازه نامه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-د یو کال په جریان کې د غیر منقولو اموالو انتقال.
۴-د عسکرۍ دوره.

### د بې تابعیتۍ علتونه:

د بې تابعیتۍ علتونه په لاندې ډول دي

### الف؛ د مجازاتو په اساس بې تابعیتي:

د مثال په ډول که یو ایټالوي تبع د بل غیر متبوع وي یا که یو امریکایي په جنګ کې خیانت وکړي، یا د بل هېواد په انتخاباتو کې ګډون وکړي د امریکا تابعیت تر ېنه سلب کېږي

### ب؛ د هېوادونو د قوانینو اختلاف:

د هېوادونو د قوانینو د اختلاف له مخې هم ځینې وختونه یو شخص خپل تابعیت له لاسه ورکولی شي، لکه د ایران قانون چې د وینې روش قبلوي او د ارجنټاین قانون چې د خاورې په اساس تابعیت قبلوي، که چېرې له ارجنټاینې مور او پلار ځخه په ایران کې ماشوم تولد شي نو موړی ماشوم د هېڅ هېواد تابعیت نه لري

### ج؛ د یو تابعیت ترک کول او د بل نه اخیستل:

**(۲) د خارجیانو حقوق:** په دې موضوع کې د خارجیانو حقوق او وجایب چې په پردي هېواد کې ژوند کوي، د سیاسي او حقوقي اړخونو له پلوه تر څېړنې لاندې نیسو.

### (۳) د قوانینو تعارض:

په دې موضوع کې د وګړو اړیکې او ارتباطات تر مطالعې لاندې نیسي، چې په بین المللي سطحه په هغوی باندې کوم قوانین تطبیق کېږي، کومه محکمه د رسیده ګۍ صلاحیت لري او د قوانینو د اختلافاتو په صورت کې څه باید وشي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مطلب-د جزا بین المللي حقوق:

دا یو واقعیت دی چې جرم داسې یوه پدیده ده، چې متاسفانه د تاریخ په مختلفو دورو کې په ټولو ټولنو کې موجود ؤ، اوس هم موجود دی او په اغلب گمان په اینده کې به هم وجود لري، ولې د دغه جرایمو د ارتکاب په نتیجه کې کله د یو دولت اجتماعي نظم ته چې د داخلي او ملي عنصر لرونکی وي صدمه رسي، د مثال په ډول یو جرم په افغانستان کې واقع شوی، چې هم یې مجرم او هم مجني علیه افغانان دي، دلته موږ گورو چې خارجي عنصر وجود نه لري او یواځې د افغانستان ټولنیز نظم ته صدمه رسېدلې ده، چې دا له ملي حقوق جزا څخه عبارت شو، چې مخکې پرې په تفصیل سره بحث شوی دی، ولې کله داسې جرایم واقع کېږي، چې له یو څخه د زیاتو هېوادونو پښه پکې دخیله وي، په دې مانا چې په جرم کې خارجي عنصر شامل دی او د بین المللي جنبو لرونکی وي، دغه قسم جرایمو ته د رسیده گۍ لپاره یو علم ته ضرورت دی چې هغه علم د جزا بین المللي حقوقو د علم په نامه یادېږي چې په لاندې ډول یې تعریفوو.

### جزایي بین المللي حقوق:

له هغه علم څخه عبارت دی چې په هغو جرایمو باندې تطبیق کېږي، چې بین المللي جنبې ولري، یانې بین المللي عناصر ولري، دلته اوس یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې؛

### په کومو حالاتو کې یو جرم د بین المللي جنبو لرونکی وي؟

لومړی حالت: د جرم د ارتکاب په نتیجه کې د یو هېواد نظم مختل شوی وي، ولې جرم د بین المللي عنصر لرونکی وي، د مثال په ډول جرم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزا حقوق



د افغانستان په هېواد کې واقع شوی، ولې مجرم يو خارجي تبعه ده، چې په دې برخه کې د خاصې بين المللي حقوق جزا رشته رسيدګي کوي، چې په لاندې ډول يې تعريفوو.

خاصه بين المللي حقوق جزا د بين المللي حقوق جزا له هغې رشتې څخه عبارت ده، چې په هغه جرايمو باندې تطبيق کيږي، چې د خارجي عنصر لرونکي وي، يا دا چې جرم د خارجي جنبې لرونکی وي، خو د جرم د ارتکاب په نتيجه کې د يو واحد هېواد اجتماعي نظم ته صدمه رسيدلې وي، د ملي حقوق جزا او خاصې بين المللي حقوق جزا تر منځ فرق په دې کې دی چې په خاصه بين المللي حقوق جزا کې خارجي عنصر موجود وي، د بلې خوا د غه دواړه رشتې يو له بل سره ډېر شباهت لري، چې د خاصې بين المللي حقوق جزا قواعد په ملي حقوق جزا کې پيش بيني کيږي.

دويم حالت يې داسې دی چې د يو هېواد ټولنيز نظم ته صدمه نه وي رسيدلې، يا دا چې نظم يې نه وي مختل شوی، بلکې د دوو هېوادونو يا د ترې د يو تعداد هېوادنو اجتماعي نظم ته زيان رسيدلی وي، لکه د مخدره موادو قاچاق، قتل عام، د انسانانو اختطاف، د انسانانو خريد او فروش، تروريزم او داسې نور، چې په دې باندې د بين المللي حقوق جزا علم تطبيق کيږي، خو د جزا عمومي بين المللي حقوق په لاندې ډول تعريفوو.

## د عامه جزايي بين المللي حقوقو تعريف

عامه جزايي بين المللي حقوق له هغې رشتې څخه عبارت دی چې په هغو جرايمو تطبيق کيږي، چې د دوو نه زياتو هېوادونو، د يوې منطقې د هېوادونو او يا د ټولنې د ټولو هېوادونو نظم ته يې صدمه رسولې وي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## د افاقي حقوقو منابع

د آفاقي حقوق سرچيني يا منابع هغه دي چې آفاقي حقوق ترې په خپل جوړښت کي الهام اخلي، ياني هر شی چې موږ ګورو هغه به له يوې مرجع څخه اخيستل شوی وي، يا دا چې په لاس به راغلی وي، چې دغه اساس د منبع يا سرچيني په نامه يادېږي، چې د آفاقي حقوقو منابع په دوه برخو باندې وېشل شوي دي، يوډول ته يې اصلي منابع او بل ډول ته يې فرعي منابع وايي.

پورته دواړه منابع د خپلو خاصو ځانګړتياو په درلودلو سره يو له بل څخه جلا کېږي، چې د ښه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### اصلي منابع

اصلي منابع د آفاقي حقوقو له هغې منابعو څخه عبارت دي چې مستقيماً له هغه څخه استفاده کېږي، اجباري جنبه لري او استناد پرې کېږي

### د اصلي منابعو ځانګړتياوې

۱- مستقيماً ترې استفاده کېږي

۲- اختياري نه دي او جبراً تطبيق کېږي، ياني اجباري او الزامي جنبه لري

۳- د حکم يا د تصميم نيولو په وخت کې په دغه منابعو باندې استناد کېږي او د سند په حيث راوړل کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### فرعي منابع:

عبارت له هغه منابعو څخه دي، چې مستقيماً ترې استفاده نه کېږي، الزامي او اجباري جنبې نه لري او هم پرې مستقيماً استناد نه کېږي

### د فرعي منابعو ځانګړتياوې

د فرعي منابعو خصوصيات د اصلي منابعو برعکس دي چې په لاندې کرښو کې يې ليدلی شئ.

۱- مستقيماً تر بنه استفاده نه کېږي

۲- اجباري جنبه نه لري

۳- استناد پرې نه کېږي

ددې لپاره چې په دغه منابعو باندې ښه پوه شو، نو اصلي منابع او فرعي منابع جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

## لومړی مبحث - اصلي منابع

د آفاقي حقوقو اصلي منابع په افغانستان کې له اسلامي شريعت، قانون، عرف او عاداتو څخه عبارت دي، چې موږ هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### لومړی مطلب- اسلامي شريعت:

شريعت په لغت کې د اوبو څکلو ځای (ګودر) ته وايي او د سمې او سيده لارې په مانا هم راغلی دی، په دې مانا چې اوبه د ژوند حياتي ماده ده او پرته له اوبو څخه ژوند امکان نه لري، نو څرنګه چې ژوندون بې له اوبو ناممکن دی، په همدې اساس اصلي هدف ته د رسېدو لپاره هم شريعت شرط دی او د شريعت احکام چې نه وي، هلته اصلي هدف ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه رسیږي، یا دا چې په اوبو کې ژوند او د بدن سلامتیا ده او سمه لار هم انسان د خیر په لور بیايي، چې په دې کې د نفسونو حیات او د عقلونو تحفظ شته الله جل جلاله فرمايي:

ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا. (سورة الجاثية، ۱۸)

ژباړه: ای پیغمبره چې ددې وروسته اوس موږ تاسو د دین په لور روښانه لاره (شریعت) باندې برابر کړې ددې لپاره چې په هماغه نښه لاره باندې لاړ شه

اسلامي شریعت هغه ټولو اوامرو او اعتقادي احکامو ته ویل کیږي، چې اسلامي نظام یې تطبیق د خپل اصلي اهدافو د پلي کولو لپاره په ټولنه کې واجب او حتمي ګرځوي

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کیږي او هغه دا چې؛

**په اسلامي ممالکو کې څرنګه له اسلامي شریعت څخه په قوانینو کې استفاده کیږي؟**

*ځواب:* څرنګه چې اسلامي شریعت په عربي ژبه دی، دغه احکام په ځینو قوانینو کې منعکس کیږي، د سهولت او اسانتیا لپاره همدغه احکام په ملي ژبه ژباړل کیږي، دلته موږ ګورو چې د دغه قوانینو تطبیق په حقیقت کې د اسلامي شریعت تطبیق دی او دا ځکه چې د قرآن کریم احکام ژباړل شوي او د قوانینو په بڼه راغلي لکه نکاح، طلاق، میراث او داسې نور.

او ځیني وخت کې داسې وي چې د اسلامي شریعت احکام نه ژباړل کیږي او په قوانینو کې ترینه د قانون په څېر استفاده نه کیږي، بلکې د ضرورت په وخت کې خپله همدغه د شریعت د احکامو عربي لفظ تطبیق کیږي او په قوانینو کې ترینه یادونه هم شوې ده. لکه حدود، قصاص، دیت او کفارات او ځیني نور موضوعات لکه منزل فرار او نور، چې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هکله قوانین داسې صراحت لري چې باید خپله د شریعت احکام تطبیق شي، لکه: موږ او تاسې ګورو چې د افغانستان د اساسي قانون په (۱۳۰) ماده او همدارنګه د جزا د قانون په لمړیو مادو کې همدغه مطلب ارایه شوی دی.

موږ وایو چې په ټولو اسلامي هېوادونو کې اسلامي شریعت له ټولو څخه مهمه منبع ده، نو که دلته اوس یوه پوښتنه مطرح شي او هغه هم داسې چې: *ولې تر ټولو مهمترینه منبع اسلامي شریعت دی؟*

*ځواب:* اسلامي شریعت د وضعي قانون په وړاندې لاندې امتیازات لري او د بلې خوا خپله زموږ وضعي قوانینو هم دغه امتیازات قبول کړي دي.

*د اسلامي شریعت د احکامو امتیازات:*

۱- اسلامي شریعت د الله جل جلاله له خوا وضع شوي، نو ځکه په نورو ټولو هغه قوانینو کې چې د انسانانو په لاس باندې وضع کېږي، غوره او بهتره دي.

۲- اسلامي شریعت له هر ډول اشتباهاتو څخه پاک او منزه دی او دا ځکه چې الله ج ازلي او ابدي علم لري او دغه شریعت یې رالېږلی دی، خو هر هغه قانون چې د انسانانو په لاس باندې جوړېږي، په هغې قانون کې بیا خلاوې او اشتباهات لیدل کېږي او دا ځکه چې د هغې جوړونکي انسانان دي او د انسانانو علم ناقص دی او ښایي تر ډېره اشتباهات واقع شي.

۳- اسلامي شریعت په هر ځای او هر وخت کې قابل د تطبیق دی، خو که موږ وګورو د انسانانو په لاس جوړ شوي قوانین بیا دغه صفت نه لري، د هر ځای لپاره خپل خاص قوانین چې د ځای په تغییر سره هغه یو د بل سره فرق کوي لکه د افغانستان قوانین او د ایران قوانین

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د روس قوانين او د پاکستان قوانين او داسې نور...

د ځای په تغيير سره تغيير کوي، همدارنګه د وخت او زمان په تغيير سره هم قوانين يو د بل سره تغيير کوي، لکه د ۱۳۵۵ هـ ش کال قوانين او د ۱۳۸۸ هـ ش کال قوانين يا دا چې د ظاهر شاه د دورې قوانين د سردار محمد داود خان د دورې سره او همدارنګه د ترکۍ د دورې قوانين د برهان الدين رباني او همدارنګه تر نن ورځې پورې مور او تاسې ګورو چې يو له بل سره تغيير کوي، ولې د الله جل جلاله له خوا چې (۱۴۳۴) کاله پخوا کوم قانون راغلی، نن هم قابل د تطبيق دی او په راتلونکې کې به هم قابل د تطبيق وي.

۴- د اسلامي شريعت بل امتياز دا دی چې: د اسلامي شريعت له مخې چې کوم موئيدات تاکل شوي، هغه د دنيا او اخرت دواړو لپاره دي، ولې کوم قوانين چې د انسانانو په لاس جوړ شوي دي، هغه يوازې او يوازې دنيوي موئيدات پيش بيني کوي او بس، د اسلامي شريعت د فضليت بله موضوع دا ده چې د اساسي قانون له خوا د مهمې او باارزښته حقوقي منبع په حيث قبول شوی دی.

د افغانستان اسلامي دولت د (۱۳۸۲) هـ ش کال اساسي قانون چې د لېندۍ له (۲۲) څخه د مرغومي تر (۱۴) نېټې پورې په کابل کې د جوړې شوې لويې جرګې له خوا په (۱۲) فصلونو او (۱۶۲) مادو کې د رايو په اتفاق تصويب شوی او د سلواغې په (۶) نېټه د محترم رئيس جمهور حامد کرزي له خوا د کابل په ښار کې توشيح شوی دی، د اسلامي شريعت په هکله داسې صراحت لري:

**لومړۍ ماده:**

افغانستان خپلواک، واحد او نه بېلېدونکي اسلامي جمهوري دولت دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### دویمه ماده:

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین د اسلام سپیڅلی دین دی.

### دریمه ماده:

په افغانستان کې هیڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

همدارنګه د جزا په قانون کې دغه امتیاز قبول شوی دی، د ۱۳۵۵ ه ش کال جزا قانون په لومړۍ ماده کې داسې صراحت موجود دی چې((دا قانون یوازې تعزیري جزاګانې تنظیموي، حدود، قصاص او دیت د اسلامي شریعت د حنفي فقهې په اساس تطبیق کېږي)).

قرآن کریم، نبوی صلي الله علیه وسلم احادیث، اجماع او قیاس، چې جمهور فقها په دې متفق دي چې د اسلامي شریعت مصادر(منابع) څلور دي

د تشریع مصادرو ته فقها د شرعي احکامو د استنباط دلایل وایي او په دې باندې جمهور علماء متفق دي، چې له دې څلورو دلیلونو څخه هر یو چې په کوم حکم دلالت کوي د هغه منل او عملي کول واجب دي، ولې د لومړیتوب له مخې یې ترتیب داسې دی، چې اول دې د هرې مسئلې حل په قرآن کریم کې ولټوي، که ددې د علم له مخې په قرآن کریم کې پیدا نه کړه، بیا دې په نبوی صلی الله علیه وسلم سنتو کې ولټوي، که هلته یې هم پیدا نه کړه، اجماع که په اجماع کې بیا حکم پیدا نه کړه، بیا به مسایل د قیاس په اساس حل او فصل کوي، چې د همدې ترتیب له مخې یې موږ په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو.

۱ - *قرآن کریم:* قرآن کریم د الله جل جلاالله هغه معجز کتاب دی چې د حضرت جبرائیل امین علیه السلام په ذریعه په محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی، په پاڼو کې لیکل شوی، په سینو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ساتل شوی او موږ ته په تواتر باندې رارسیدلی، هېڅ قسم شک او شبهه پکې نشته، لوستل یې عبادت دی، ۱۱۴ سورتونه لري، د هرش پارې او (۶۶۶۶) ایاتونه لري، له سورهٔ فاتحې څخه شروع او په والناس باندې ختم شوی، ټول قرآن کریم په ۲۳ کلونو کې یو څه په مکه او یو څه په مدینه منوره کې د ضرورت په اندازه نازل شوی دی، قرآن کریم یوازې دا نه چې د اسلامي شریعت لومړنی مصدر دی، بلکې د ټول انسانیت لپاره د هدایت او لارښوونې کتاب دی او هم په ټول انسانیت باندې حجت او دلیل دی.

څرنګه چې قرآن کریم د الله جل جلاله کتاب دی او ددې خبرې ثبوت او دلیل چې قرآن کریم د الله جل جلاله کتاب دی دا دی چې دداسې کتاب جوړول د ټول انسانیت په توان او قدرت کې نشته، چې داسې یو کتاب خو څه چې یو ایات جوړ کړي، چې الله ج فرمایي:

وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ۲۳.

ژباړه: که چیرې یې تاسې په شک د هغه څه نه چې موږ نازل کړي دي په بنده خپل باندې، نو پس راتګ وکړئ په یو سورت په مثل د قرآن کریم، راوبلئ مشران ستاسو بغیر د الله جل جلاله نه که چیرې تاسې رینښتیني یاست.

په دې اړه په قرآن کریم کې ډېر زیات دلایل موجود دي او هم ډېر زیات اعجازونه وجود لري، چې قرآن کریم د الله جل جلاله له لورې دی، نو په همدې اساس د قرآن کریم تابعداري په ټولو خلکو باندې واجب ده.

قرآن کریم موږ ته خوله په خوله او د لیک په تواتر سره رارسېدلی دی او هر شی چې په تواتر نقل شي، هغه یقیني او قطعي وي، نو موږ ته هم د قرآن کریم رارسیدل یقیني او قطعي دي، هېڅ شک او شبهه پکې نشته، قرآن کریم د الله ج لخوا په حضرت محمد مصطفی صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه واله وسلم باندې له نزول څخه وروسته بیا مخصوصو او معتمد کسانو ولیکلو، چې په دروغو باندې اتفاق او اجماع عقلاً ناممکن او عادتاً محال دي نقل کړي دي، د دوی نه وروسته نورو بیا همدغه شان نقل کړی دی او د دنیا هر ګوټ ته پرته له دې چې یو حرف یا کوم ټکی یې تغییر، تبدیل، کم یا زیات شي. په ډېره امانتدارۍ او کامله ایماندارۍ رارسېدلی او خپور شوی دی.

قرآن کریم د اسلامي شریعت اصلي منبع ده. د اسلامي شریعت اساسات پکې بیان شوي دي، همدارنګه اعتقادیات، اخلاقیات، عبادات او معاملات، بلکې د ژوند شامل او کامل نظام پکې په ډېر روښانه او تفصیل سره بیان شوی.

قرآن کریم په اسلامي شریعت کې دستور دی او دستور ته په وضعي قوانینو کې أم القوانین (د قوانینو مور) وایي، چې د ملتونو تر منځ دستور د پام وړ درناوی لري. قرآن کریم د اسلامي امت په زړونو کې د تقدس ډېر اوچت مقام لري، د نبي صلی الله علیه وسلم لارښود وه او له هغه مبارک نه وروسته د هرې اسلامي ټولنې او هر مسلمان لارښود دی او د همدې کبله ده چې د تشریع اصلي مصدر دی.

د پورته توضیحاتو په نظر کې نیولو سره باید یادونه وشي، چې قرآن کریم د آفاقي حقوقو د یوې ډېرې مهمې منبع په حیث د قضایاوو په حل او فصل کې ډېر مهم رول لري.

ددې لپاره چې پوه شو؛

## د قضایاوو په حل او فصل کې د قران کریم څه رول دی؟

نو پکار ده چې لاندې موضوعات تر بحث لاندې ونیسو:

۱: له قرآن کریم څخه په بل شي فیصله نه کول.

د هر څه نه مخکې د قضایاوو په حل او فصل کې لومړی باید قرآن

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم ته مراجعه وشي، لکه چې الله جل جلا الله فرمايي:

﴿وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ٤٤﴾

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ٤٥

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ٤٧

ژباړه: او هر هغه چا چې حکم و نه کړه په هغې شي چې الله جل جلا الله نازل کړی دی په حقیقت کې دغه کسان همدوی کافران دي

یا همدوی فاسقان دي یا دا چې همدوی ظالمان دي

۲- خپل مالونه په ناحقه سره قضاتو او حاکمانو ته مه ورکوئ. چې الله جل جلا الله له فرمايي.

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ١٨٨

ژباړه: او مه خورئ مالونه خپل په منځونو کې په ناحقه سره او مه ورئ دا مالونه حاکمانو ته ددې لپاره چې وخوري یو څه د مالونو له خلکو څخه په ظلم او تيري سره او تاسي پوهيږئ

یانې د حرام مال نه خوړل او ځان ترې ساتل د ژوند په ټولو امورو کې يو ضروري امر دی او د هغې لپاره کومه ټاکلې زمانه او وخت نشته. لکه غلا، خیانت، رشوت، غصب، سود، ناروا بيعه، قمار او نور چې په دې ډول د مال ګټل حرام او ناجایز دي

همدارنګه په نوموړي ايات کې څرګند يږي، چې د يو چا د مال خبر ظالمانو حاکمانو ته مه رسوئ، يا خپل مال د رشوت په ډول حاکمانو ته مه ورکوئ، همداراز د دروغو شاهدي د دروغو په دعوه د بل چا مال مه اخلئ، سره له دې چې تاسي په خپله په ناحقي هم پوهيږئ

۳- د جګړې او منازعې په حالت کې د الله جل جلا الله او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه و اله وسلم حکم منلو ته تسلیمېدل

یانې کله چې د مسلمانانو تر منځ کومه منازعه او شخړه منځته راشي، هغوی بايد د الله جل جلا الله کتاب او د دهغه رسول ص

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



احاديثو ته مراجعه وکړئ، لکه چې الله جل جلا له فرمايي:

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُوْلِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْأٰخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّأَحْسَنُ تَأْوِيْلًا ۵۹ـــ (سورة النسآء، ۵۹ ايت)

ژباړه: نو که جګړه وکړه تاسې په يوه شي کې، نو وګرځوئ تاسې دا کار د الله جل جلا الله طرف ته او د رسول صلى الله عليه واله وسلم طرف ته (د رسول حديث ته) که تاسې ايمان لرئ په الله جل جلا له او په ورځ د اخرت باندې

دا چې مورډ د موضوع ذ ښه وضاحت لپاره مخکې د ځينو مسايلو يادونه وکړه، حقيقت دادی چې قرآن کريم يو کامل او شامل کتاب دی او د انسانانو د مشکلاتو او همدارنګه د ژوند په ټولو برخو کې د وړپېښو قضاياوو په حل او فصل کې پوره احکام لري

## ۲- د نبوي صلى الله عليه وآله وسلم سنت.

د اسلامي شريعت دويمه منبع سنت دي

سنت په لغت کې عادي لارې ته (چې خلک پرې ځي او راځي) وايي او په اصطلاح کې سنت د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم له قول، فعل او تقرير څخه عبارت دی

امام شافعي رحمة الله عليه به چې کله شرعي احکام بيانول نو سنت به يې د قرآن کريم سره يو ځای ذکر او په استدلال کې به يې يو اصل ګڼل، نو ځکه دواړو ته نص وايي، امام شافعي رحمة الله عليه وايي بې له سنتو يوازې له قرآن کريم څخه احکام اخيستل شرعآ مناسب او جايز نه دي

لکه په تعريف کې چې ... ته اشاره وکړه، چې سنت په درې برخو وېشل شوي، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- قولي سنت:

د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغه احادیث یا تعلیمات دي چې په مختلفو مناسباتو کې یې ویلي دي:
لکه: دا حدیث شریف:

وَعَنْ اِبْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ مَنْ نَصَرَ. قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رُدِّىَ فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ. (رواه ابو داود، مشکات)

ژباړه: حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وايي چې نبي کریم صلی الله علیه و اله وسلم و فرمایل: څوک چې د خپل قوم ناحقه حمایت او مدد وکړي، هغه د هغه اوښ په شان دی چې کوهي ته پریوځي او هغه خلک را ښکلي شي د لکۍ په را ښکلو سره.

همدارنګه په بل حدیث شریف کې فرمايي: له حضرت واثلة بن الاسقع رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې ما له رسول اکرم صلی الله علیه و اله وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې عصبیت یانې جاهلیت څه شی دی؟

نبي کریم صلی الله علیه و اله وسلم و فرمایل: عصبیت دا دی چې تاسې په ظلم باندې د خپل قوم حمایت وکړئ.(ابو داود ).

## ۲- فعلي سنت:

دا عبارت د رسول اکرم صلی الله علیه و اله وسلم له افعالو څخه دی چې په مختلفو وختونو کې او مختلفو حالاتو کې یې خپله تر سره کړي وي، لکه: روژه نیول چې څه وخت شروع او څه وخت ختم شي دا صحیح ده چې روژه نیول فرض دي، خو طریقه یې چې رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم اجرا کړې، هغه یې فعلي سنت دي یا د لمانځه اوداسه، جومات کې جمع کول او داسې نور اعمال چې رسول اکرم صلی الله علیه و اله وسلم تر سره کړي وي، له فعلي سنتو څخه عبارت دی، یا دا چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدود يې اجرا کړي، نور کوم اعمال چې په غزواتو کې يې ترسره کړي دي

### ۳-تقرير:

تقرير په مانا د اثبات او ثبوت دی او دا د هغو اصحابو کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين افعال دي، چې د رسول الله صلی الله عليه و اله وسلم په موجوديت کې يې تره سره کړي وي او د رسول الله صلی الله عليه و اله وسلم هغه په خپل حال پرېښي وي، ياني د هغوی د ترديد او تائيد په هکله يې هيڅ قول يا فعل نه وي تر سره کړی او کوم عکس العمل يې نه وي ښودلی، يا دا چې د هغوی سره يې خپله موافقه ښودلې وي او تائيد کړي يې وي

د اصحابو کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين دا رنګه افعال داسې حيثيت لري چې په حقيقت کې له رسول الله صلی الله عليه و اله وسلم څخه صادر شوي وي يا په خلص ډول وواېو چې د رسول الله صلی الله عليه و اله وسلم په مخ کې اصحابو کرامو يو عمل تر سره کړی وي، رسول اکرم صلی الله عليه و اله وسلم هغه نه وي منع کړی او يا دا چې هغه يې تائيد کړی وي، د مثال په ډول

هغه وخت چې رسول الله صلی الله عليه و اله وسلم و غوښتل چې حضرت معاذ رض الله تعال عنه يمن ته قضاوت لپاره واستوي، نو پوښتنه يې ترېنه وکړه چې په څه شي به حکم کوې؟ حضرت معاذ رض په ځواب کې وليکل چې په کتاب الله (قرآن کريم) او که په هغې کې مې پيدا نه کړه، نو په سنت د رسو الله صلی الله عليه وسلم په حکم کوم او که چېرې په دې کې مې هم پيدا نه کړه، نو بيا به په خپله رايه خپل اجتهاد کوم.

د حضرت معاذ رض دا عمل چې د رسول اکـ صلی الله عليه وسلم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ شو ، نو هغه يې په همغه حال پرېښود او ويې ويل: الحمد الله چې د رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم استازی الله جل جلا له و تعالی په هغه څه موفق کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې راضي کېږي

له دغه ټولو توضېحاتو څخه وروسته مورږ دا ويلی شو چې سنت له کتاب الله څخه وروسته د تشريع مصدر دی او هغه څه چې په قرآن کريم کې نه وي تصريح شوي، هغه به سنت بيانوي او وضاحت به ورکوي.

## د اسلامي امت اجماع

اجماع په لغت کې په مانا د اتفاق ده او د اسلام په حقوقو کې په يوه موضوع کې د اسلامي علماوو د نظر اتفاق ته اجماع وايي، يا دا چې اجماع په لغت کې په يو شي باندې تصميم نيولو او قصد ته وايي، چې له دې څخه د نبي کريم صلی الله علیه و اله وسلم دا وينا هم ده چې:

(لَا صِيَامَ لِمَنْ لَمْ يُجْمِعْ الصِّيَامَ مِنْ اللَّيْلِ)

ژباړه: ياني د هغه چا لپاره روژه نشته چې د شپې له خوا د روژې نيولو قصد او عزم و نه کړي او همدا رنګه ويل کېږي چې:

(اجمع فلان علی الامر).

ژباړه: ياني فلاني په کار باندې تصميم ونيولو او قصد يې ورته وکړو.

د اتفاق په مانا هم راځي لکه: چې الله تبارک وتعالی فرمايي:

فَأَجْمِعُوٓا۟ أَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ

ژباړه: ياني خپل امرين او شريکان مو راغونډ کړئ.

او داسې هم ويل کېږي چې:

(اجمع القوم علی کذا).

ژباړه: ياني پرګنو (قومونو ) په دې سره اتفاق وکړه.

او په اصطلاح کې د نبي کريم صلی الله علیه و اله وسلم له وفات څخه وروسته په يو شرعي حکم باندې په هره زمانه کې د اسلامي امت د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجتهدینو له اتفاق څخه عبارت دی، یا د رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم له وفات څخه وروسته د مجتهدینو امامانو اتفاق په یو شرعي حکم چې په عملي امورو کې یې کړي وي، هغې ته اجماع ویل کېږي.

کله چې د اسلامي امت مجتهدین په جلا یا په شریک ډول د کومې واقعې په حکم باندې اتفاق وکړي، نو د هغې منل واجب دي او د امت لپاره د قطعیت دلیل ګڼل کېږي.

دلته د موضوع د ښه پوهېدو لپاره غواړو چې لاندې سوالونه مطرح کړو:

۱- مجتهدین چا ته ویل کېږي؟

۲- د اجماع مثالونه

۳- د اجماع امکانات په موجوده دور کې؟

۴- د اجماع څرنګوالی؟

چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو:

### اجتهاد:

له جهد، تکلیف او مشقت څخه اخیستل شوي او په اصطلاح کې د مجتهد کوښښ د شرعي احکامو د پوهېدو لپاره دی، چې مطلب ترېنه د ځینو مسایلو راوېستل دي یا دا چې مجتهد هغه چا ته ویل کېږي، چې په هغه کې د اجتهاد ملکه موجود وي او دده ې قدرت لري چې له شرعي احکامو څخه ځینې مسایل راوکاږي او د اصولو د علم پوهان ورته فقیه وایي.

اوس پوښتنه دا ده چې دا ملکه څنګه ثابتېږي؟

ځواب: د لاندې شرطونو د موجودیت په صورت کې دا ملکه ثابتېدلی شي.

۱- د قرآن کریم د احکامو په ایاتونو باندې علم لرل چې تقریباً پنځه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه ایتونه دي

۲: د احکامو پورې مربوط احادیثو باندې علم لري چې تقریباً شمېر یې (۳۰۰۰) کېږي

۳: له اجتهاد څخه وړاندې یې په ټولو شرعي احکامو علم لرل او دا ځکه چې حکم موجود وي اجتهاد ته ضرورت نشته

د دویمې پوښتنې ځواب په پخوا وخت کې اجماع شوې وه، چې مثالونه یې عبارت دي له: نکاح بدون له مهر مسمی (هغه مهر چې د ایجاب او قبول په وخت کې ټاکل کېږي) څخه صحیح کېږي، یا نیا ته میراث کې شپږمه برخه. یا مسلمانه ښځه د غیر مسلم سره نکاح نه شي کولای

د درېیمې پوښتنې ځواب اوس د اجماع په هکله علماء دوه نظره لري، یوه ډله علماء وايي چې اوس اجماع کېدای نه شي او دا ځکه چې:

۱- مجتهد نه پېژندل کېږي، یا دا چې مجتهد نه شو پېژندلی.

۲- د مجتهدینو نه راجمع کېدل

۳- په یوه مسئله اتفاق نه شي کولای.

۴- اوس ددې امکان نشته چې فیصله وکړي او بیا په خپل نظر قایم پاتې شي. بله ډله علماء وايي چې اجماع کېدای شي او دا ځکه چې اصحابو کرامو په وخت کې شوې، له هغوی څخه وروسته د ضرورت په وخت کې شوې، اوس هم د ضرورت په وخت کې کېدای شي.

د څلورمې پوښتنې ځواب چې ایا اجماع د ټول ملت په سطحه صورت نیسي او که جلا جلا کېدای شي باید څرګنده شي؟

په دې هکله علماء په درې ډوله دي

۱- جمهور علماء وايي: چې اجماع به د ټول امت د مجتهدینو له خوا صورت نیسي، نه یوازې د مکې یا مدینې د علماوو له خوا.

۲- که چېرې یوه دوه درې کسه مخالف وي پروا نه لري

۳- اکثریت د اجماع حکم لري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قیاس:

قیاس په لغت کې په یو شي باندې د بل شي اندازه کولو ته وایي لکه چې وایي: (قست الارض بالمتر) ځمکه مې په متر باندې قیاس کړه. یانې په متر مې اندازه کړه او هم قیاس په لغت کې د انډول او برابر شي سره اندازې ته وایي، مثلاً وایو چې رخت یې په متر اندازه کړه، همدارنګه قیاس برابر والي ته هم وایي او یا هم د یو دلیل نه چې هغه په یوه مسئله کې استعمال شوی وي، په مشابه بله مسئله کې استفاده کول د قیاس په نامه یادېږي لکه په یوه موضوع کې حکم ثابت وي او د یو شریک علت په اساس د غه حکم په بله موضوع کې هم استعمال شي یا اجرا شي، نو ویل کېږي چې دویمه موضوع له اولې موضوع سره قیاس کړی شوې ده، یا دا چې د یو شریک علت له مخې فرعې ته د اصل حکم ورکول قیاس دی یا په بل عبارت د یو مشترک علت له مخې د یوې پېښې منصوص حکم غیر منصوص واقعې ته ورکول دې ته قیاس وایي.

قیاس څلور ارکانه لري چې هغه عبارت دي له:

۱- مقیس علیه: دا هغه واقعه ده چې حکم یې په نص بیان شوی وي، دې ته اصل ویل کېږي.

۲: مقیس: دا هغه واقعه ده چې د هغې د حکم د معلومولو اراده شوې وي او نص پرې نه وي موجود، چې دې ته فرعه ویل کېږي

۳: مشترک علت: دا د هغه وصف نه عبارت دی چې په اصل کې د حکم علت وي او په فرعه کې هم همدغه علت موجود وي

۴: قیاس په هغه اساس رامنځته کېږي، چې فرعې لپاره حکم نه وي او د اصل حکم په قرآن کریم او نبوي صلی الله علیه و اله وسلم احادیثو کې موجود وي، قیاس کولای شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم مطلب- قانون:

حقیقت دا دی چې قانون د یوې ټولنې د ستون فقرات یا د ملا د تیر حیثیت لري، کومه ټولنه چې قانون نه لري، هغه ټولنه د مشکلاتو سره مخامخ کېږي، کامیابه ټولنه هغه ده چې د یو قانون لرونکي واوسي او خپل ټول ورپېښ شوي مسایل د قانون د لارې حل او فصل کوي، نو د یوې ټولنې لپاره د قانون موجودیت لازمي او ضروري دی، څکه موږ او تاسې ګورو چې قانون له ډېر پخوا وختونو څخه یانې په زرګونو کلونو مخکې منځ ته راغلی، ولې د وخت په تېرېدو سره تغییرات او پرمختګ پکې راغلی، چې ننی بڼه یې ځان ته غوره کړې ده، چې په لاندې ډول یې تر مطالعې لاندې نیسو:

د روم د حقوقو په اساس قانون هغه دستور دی چې د سلطاني قدرت له جانبه په عوامو تطبیق کېږي او داسې تعریف یې ورته کاوه:

قانون: د عرف خلاف یو لیکلی طرز العمل (تحریري اکت) دی چې شکلیات لري او د قدرت لرونکي مقام د حکم په اساس منځ ته راځي او عملي کېږي.

په پخواني روم کې د قانون وضع کېدو صلاحیت د شاه پورې مربوط وو، نو څکه یې قوانین د شاهي قوانینو په نوم یادېدل.

د جمهوریت په حالاتو کې قانون د حکم د تصمیم او د محاکمو یا د قضاتو د پېشنهاد په اساس منځ ته راتلل.

د امپراطورۍ په زمانه کې قانون د امپراطورۍ د طرز العمل په نامه یادېده، په دې مانا چې د امپراطور له خوا جوړېده، ولې موږ ګورو چې د یو وخت او بل وخت قوانین یو ډول نه وو او تغییر به پکې راتله، اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي، چې قوانین کله یانې څه وخت رامنځته شوي دي او په کوم شکل پر مخ تللي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوابه لمړنی قانون چې مینځ ته راغلی هغه د حمو رابي قانون دی او وروسته نور زيات قوانين مينځ ته راغلي چې په لاندې ډول ترېنه يادونه کوو:

۱- د حمو رابي قانون: د ۳۰۰۰ په شا او خوا کې څنې رومي او سامي قومونه سره يو ځای شول، يو لوی دولت يې په کلده کې تشکيل کړه او نور واړه ښاري حکومتونه يې د منځه يوړل او د خپل لوی او قوي حکومت له ايجاد څخه وروسته يې بابل د خپل دولت پايتخت وټاکه، چې د دغه دولت د پاچاهانو په سلسله کې ۱۵ کسانو پاچاهي وکړه، چې شپږم پاچا يې حمو رابي نومېده، چې د (۲۱۲۳) ق م څخه تر (۲۰۸۰) ق م پورې پاچاهي کړې ده، نوموړي پاچا د خپل قدرت په جريان کې يو قانون جوړ کړ چې د همدې پاچا يانې حمورابي د قانون په نامه مشهور شو. دغه قانون په يوه تېګه ليکل شوی، چې دغه تيګه (۲۵، ۳) سانتي متره طول لري، چې په دغه باندې (۲۸۲) مادې په (۳۶۰) کرښو کې ليکل شوي، چې د دغه له ۲۸۲ مادو څخه اوس يوازې ۳۳ مادې لوستل شوي او نورې مادې لا تر اوسه پورې نه دي لوستل شوي، چې دغه تيګه په (۱۹۱۰) م کال کې د شوش له کنډو څخه لاسته راغلې، په دغه قانون کې د ژوند د مختلفو برخو لکه: تجارت، کشتيو کرايه، جزايي او نور موضوعات شامل دي، چې اولين قانون دی، له دې څخه وروسته نور قوانين منځته راغلي چې يوازې نومونه او وختونه يې ستاسې مخ کې ږدو.

۲- د سومريانو قانون: د سومريانو د قانون د قدامت تاريخ (۲۱ پېړۍ) ق م ته رسېږي، چې په (۱۹۵۲) م کال کې لوستل شوی، په دې قانون کې د مجازاتو لپاره قوم په دوه برخو وېشل شوی ؤ يوه ډله يې غلامان او بله ډله يې آزاد اشخاص وو چې غلامانو ته د غلا يا قتل په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې د قتل جزا او ازاد شخص لپاره د نقدي جريمې جزا ورکول کېده.

۳- د هستيانو قانون: د نوموړي قانون قدامت (۱۳_۱۵) ق م قرن پورې رسېږي او په ۱۹۰۲ م کال کې لوستل شوی دی.

۴- په پخواني يونان کې (Solon and Daracan) قوانين د اتن په ښار کې.

۵- په پخواني هند کې د مانو قانون.

۶- د سم ويرها د دولسو لوايحو (الواح دوازده گانه) قانون کوم چې په يونان کې رامنځ ته شوی و.

۷- په (۱۱_۱۲) م پېړيو کې په روم کې د (Agost) او (Justinien) د حقوقو په هکله نظريات چې په حقيقت د رومن ژر منيک حقوقي سيستم د ايجاد سبب گرځېدلی دی.

بلاخره هغه پخواني او سابقه آثار او منابع چې نوي په لاس راغلي د کتاب په شکل راټول شوي او دغه کتاب چې ترېنه جوړ شوی د ( Carps Juvis Sivilis ) په نامه يادېږي.

له پخواني روم څخه چې کوم آثار د لومړي ځل لپاره په لاس راغلي له هغې ثابتېږي، چې روميانو په ۴۵۰ ق م کې قانون جوړ کړی دی، يا دا چې په ۴۵۰ ق م کال کې د (Lox) يا قانون اصطلاح د روم په حقوقو کې شامل شوي او په يونان کې د قانون اصطلاح د (Canon) له کلمې څخه اخيستل شوې، چې د قاعدې مانا او مفهوم لري.

ولې د روم په حقوقو کې چې د (Lox) کلمه ورته استعمال شوې وه، دغې کلمې کوم حقيقي مفهوم پيدا نه کړه او قوانين (البته د روم قوانين) يې په دوه برخو ووېشل، چې يو يې (leges) او بل يې (plebeset) په نامه يادېدل چې هر يو جلا جلا مانا او مفهوم ورکوي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په لاندې ډول یې روښانه کوو.

**:Leges**

له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت و چې د داعیانو یا اشرافو له خوا تصویبېده او د روم په ټولو خلکو باندې تطبیقېده.

**:Plebeset**

له هغې قواعدو او مقرراتو څخه عبارت و چې د روم د عوامو له خوا تصویبېده او د تطبیق ساحه یې هم یوازې عوام وو.

اما په فرانسه کې د قانون لپاره دلو (loi) کلمه چې د ویلو په مانا وه استعمال شوې ده، چې په لاندې ډول یې تعریفوو.

قانون له هغې مقررې څخه عبارت دی چې لیکل شوی وي او د لوستلو وړ وي.

د فرانسې انقلابونو له قانون څخه متابعت کولو او د هغې عصر د فلسفې په بنا قانون یې د عامه ارادې مظهر پېژندل کېده.

(روبسپیر) Robsper یوازنی سړی دی چې قانون ته ترجیع ورکوي، چې وینا یې په لاندې ډول ده:

د محاکمو د قضایي رویې کلمه باید د خلکو په ژبو کې و لتهول شي، دا په دې مانا کوم دولت چې د اساسي قانون او مقننه قوې لرونکی وي، نو قضایي رویه یې د قانون له جز څخه بله مانا نه ورکوي یا دا چې بله مانا نه لري.

همدارنګه ناپیلون هم د قانون د پرمختګ او انکشاف لپاره هلې ځلې کړې دي، مونږ د هغه قانون او نظریات په لاندې ډول بیانوو:

د منابعو د کموالي اقدام د یوې معینې او مشخصې موضوع په حیث د هغه وخت د انقلاب نتیجه وه، چې د دغه مفکورې اطاعت او پیروي د ناپیلون په قانون کې په صراحت سره لیدل کېږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناپيلون قانون د هغه وخت يو ځلېدونکی قانون دی او د حقوقو په معاصر سيستم کې پوره ارزښت لري.

د ناپيلون قانون په (۱۸۰۴) م کال کې نشر شوی دی، چې د غرب د بورژوازۍ په ټولنه کې دې قانون د قهرمان حيثيت غوره کړی دی، چې په دغه وخت کې مختلفي قانون نامې منځ ته راغلې، لکه د (۱۸۰۷) م کال کې د مدني محاکمو اصولو قانون او د تجارت اصول نامه، په (۱۸۱۲) م کال کې د جزايي مقرراتو قانون نامه او داسې نورې قانون نامې منځ ته راغلې.

د ناپيلون هلې ځلې چې د قانون ګذارۍ د قدرت او وحدت لپاره يې کړې وې، دا روښانه کوي چې هغه قانون د حقوقو د يوې موثرې منبع په حيث پېژانده، چې دغه موضوع د (وينو توس)( venotos ) د قانون په اوومه ماده کې صراحت لري، له کومې ورځې څخه چې دغه قانون نافذ شوی د روم ټول قوانين، لوايح او فرامينو خپل اهميت د لاسه ورکړی، د هغه وخت ټولو خلکو په دې باندې عقيده درلوده، چې ټول موضوعات بايد د قانون د لارې پر مخ ولاړې شي، اما وروسته وليدل شو چې همدغه موضوع په ډېر لږ تفاوت سره مخکې لاړه.

*لومړی جز-د قانون پېژندنه:*

د دې لپاره چې په قانون باندې ښه پوه شو، بهتره به وي چې لومړی لغوي او وروسته يې اصطلاحي تعريف وکړو.

*د قانون لغوي تعريف:*

قانون يوه عربي کلمه ده چې مانا يې مقياس او اندازه ده، ځينې علماء وايي، چې قانون يوه فارسي کلمه ده، ولې ځينې نور علماء وايي: چې د قانون کلمه له يوناني کلمې (canon) څخه استنباط شوې، چې مانا يې اندازه کول دي، يا دا چې قانون يوناني الاصله کلمه ده، چې د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاعدې په مانا استعمال شوې، په انګلیسي کې د قانون کلمه د (law) له کلمې څخه اخیستل شوې، یا د (law) د کلمې سره مترادفه ده، چې مانا یې یو شانوالي دی.

همدارنګه په فرانسوي کې د (loi) د کلمې سره مترادفه ده، د روم په پخواني حقوقو کې د (lax) کلمه هم استعمال شوې، چې له لیکل شوو مقرراتو څخه عبارت دی، نو قانون د قاعدې اندازې او مقیاس په مانا ده، په هر صورت د علماوو له نظره قانون یوه عربي کلمه ده چې د یو ثابت او ټاکلي امر له تکرار څخه عبارت دی.

## د قانون اصطلاحي تعریف:

قانون له هغه لیکل شوو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی، چې د ذیصلاح مقام له خوا وضع کېږي او الزامي جنبې لري.

یا قانون عبارت له هغه قواعدو څخه دی چې د عمومي قدرت په واسطه وضع شوي وي او الزام، اذن او اباحت سره مدلول وي او ټول خلک له هغې څخه پیروي وکړي.

یا قانون له هغه مناسباتو یا غوښتنو څخه عبارت دی چې د دولت د مقاماتو (مقننه قوې) له خوا وضع کېږي، چې د دغو مناسباتو په اساس د افرادو روابط د افرادو او دولتونو سره په یوه ټاکلې ساحه کې ترتیب او تنظیموي.

یا قانون هغه روښانه او الزامي امر دی، چې په لیکلي ډول د واکمنو مقاماتو له خوا وضع او تدوین کېږي او هدف یې د راتلوونکي ژوند لارښوونه ده.

کوم شی چې ټولنه له ګډوډۍ څخه ساتي، د انسانانو او د دولتونو تر مینځ روابط ټینګوي هغه عبارت له قانون څخه دی.

ابو علی سینا وایي: د افرادو تر منځ ټولنیز ژوند پرته له روابطو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاملاتو څخه ناممکن دی او همدارنګه روابط او معاملات قانون او عدالت ته محتاج دي

ددې لپاره چې مونږ د قانون په تاریخي شالید او لغوي او اصطلاحي ماناوو باندې پوره پوه شو، نو بهتره به وي چې د قانون اهمیت، مشخصات، د قانون ډولونه، د قانون د وضع کېدو ذیصلاح مراجع، د قانون د انفاذ مراحل، د قانون تطبیق، د قانون تفسیر د قانون الغا (لغوه کېدل) او نور عنوانونه په ډېر تفصیل سره ذکر کړو.

## دویم جز-د قانون مشخصات

څرنګه چې په اسلامي هېوادونو کې قانون (د افاقي حقوقو) دویمه اصلي منبع ده او په غیر اسلامي هېوادونو کې لومړنۍ اصلي منبع ده، نو معمولاً په ټولو هېوادونو کې د حقوقي مسایلو د حل او فصل لپاره له قانون څخه استفاده کېږي، همدا وجه ده چې قانون یو لړ مشخصات لري، چې په لاندې توګه یې په لنډ ډول تر مطالعې لاندې نیسو.

### ۱-قانون په مستند ډول وضع کېږي

په ټولو هېوادونو کې چې قانون وضع کېږي، هغه خاص مراحل تر سره کوي، چې همدغه د خاصو مراحلو تر سره کول د قانون په مستند والي باندې دلالت کوي

### ۲-قانون په لیکلې توګه وضع کېږي

د نشر لپاره په لیکلي ډول د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې خپرېږي

### ۳-قانون په ماده وار شکل وضع کېږي

د قانون ټول احکام په مختلفو برخو باندې وېشل، بیا هره یوه برخه بېل، بېل عنوانونه او واړه عنوانونه او هر یو عنوان جلا جلا مادې لري، نو ځکه مونږ وایو چې: قانون ماده وار او جز وار وضع کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د قانون مندرجه مواد باید ډېر روښانه وي

قانون چې کله وضع کېږي، مقنن باید دا کوښښ وکړي چې قانون ډېر روښانه، ساده، سلیس او روان وي، تر څو ټول خلک تر ښه استفاده وکولای شي، په دې د امکان تر بریده کوښښ باید وشي، چې روښانه وي، ولې متاسفانه ددغه کوښښونو سره سره بیا هم موږ ګورو چې قوانین کله هم وضع کېږي، یا په کې خلا موجوده وي او یا په کې مغلقیت او پېچید ه ګي چې بیا د تفسیر په اساس حل او فصل کېږي چې زیات بحث به بیا د قوانینو په تفسیر کې پرې وکړو.

## ۵- قانون د قدرت لرونکي مقام له خوا وضع کېږي

هر وخت چې قانون وضع کېږي، نو د انفاذ نه مخکې څه مراحل طی کوي، لکه مسوده چې د پارلمان یا دیو کمیسون، یا د عدلیې وزارت او یا د مربوط کوم ارګان (وزارت) له خوا یې خاکه جوړېږي، له هغه څخه وروسته مقننه قوی (ولسي جرګې او د مشرانو جرګې) ته یې د تائید لپاره لېږي او هر وخت چې د مقننه قوې له خوا تائید شو، له هغې څخه وروسته رئیس جمهور ته د توشیح لپاره لېږل کېږي، د رئیس جمهور له توشیح څخه وروسته بیا د عدلیې وزارت د نشراتي ارګان له خوا نشر او بیا نافذ شي، چې دغه پورته ټول موضوعات د قدرت لرونکي مقام له خوا تر سره کېږي.

## ۶- قانون عمومي دی او مشخص نه وضع کېږي

د قانون قاعده په دې مانا ده چې د قانون جوړښت په عامه توګه وي، نه یوازې معین شخص او نه یوې ځانګړې واقعې ته، بلکې کله چې په هر شخص او یا پېښې کې یو لړ شرطونه او صفات موجود شول، نو نوموړی قانون پرې تطبیق کېږي، د مثال په ډول هر شخص چې د اتلس کلنۍ عمر یې پوره، د کامل عقل خاوند وي (سلیم عقل ولري) او پر هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې قانوني موانع نه وي، نو د خپلو مدني حقوقو د تر سره کولو په غرض د کامل اهلیت خاوند ګڼل کېږي، چې دغه قاعده په هر شخص قابل د تطبیق ده، نر، ښځه، کلی، ولسوالي یا ولایت په نظر کې نه نیسي او بل دا چې د دغه قاعدې په اساس چې د قانون له انفاذ څخه تر العا پورې په ټولو وختونو کې قابل د رعایت ده.

یادا چې مونږ وایو د انسان شخصیت له تولد څخه شروع کېږي او د مرګ تر ورځې پورې، هغه له دې شخصیت څخه برخورداره دی، دا د هر شخص لپاره ده، نه د یو خاص شخص لپاره، نو ځکه مونږ وایو چې د قانون قاعده عامه ده او خاصه نه ده.

## ۷- قانون باید د مختلفو ډولونو لرونکی وي

قوانین د سلسله مراتبو له حیثه په درې برخو باندې وېشل شوي دي، چې د اساسي قانون، ارګانیکي قانون، عادي قانون، څخه عبارت دي همدا رنګه د دې قوانینو تر څنګ مقرره، لایحه او د رئیس جمهور تقنیني فرمانونه وجود لري، چې دغه موضوع به ان شاالله د قانون د ډولونو تر عنوان لاندې مطالعه شي.

## ۸- قانون په ټولنه کې انصاف راولي.

## ۹ - قانون غیر جانبداره وي (بې طرفه وي)

د قانون دغه خصوصیت په دې مانا دی چې د قانون ټول قواعد او پرنسیپونه په یو او مساوي ډول تطبیق کېږي، یانې هغه افراد چې په یو ردیف کې ژوند کوي، هغه ټول په یو ډول او یو شان د قانون تابع دي او یو رنګه پرې د قانون احکام تطبیق کېږي

په همدې شکل په قوانینو کې که کومه استثنآ رامنځ ته کېږي، هغه هم په یو شان تطبیق کېږي، د مثال په ډول له جزا څخه لېونی، صغیر او مکره شخص معاف دی، دا چې هر څوک لیونی وي یا ماشوم وي، یا په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور او جبر یې یو جرمي عمل تر سره کړی وي، هغه له مجازاتو څخه خلاص دی او جزا ورباندې نه تطبیق کېږي، نه دا چې یو لیونی معاف او بل لیونی مجازات شي او د یوه طرفي پکې وشي، بلکې طرفي پکې نه کېږي

## ۱۰- قانون همېشه امریه خصوصیت لري

دا په دې مانا چې د قانون قواعد همېشه امري وي، یانې که د یو کار کول وي هم امر کوي، چې دا کار وکړئ او که د منع خبر هم وي، بیا هم امر کوي چې دا کار به نه کوئ

## ۱۱- قانوني قاعده یو ټولنیزه قاعده ده.

تر څو چې ټولنه موجوده نه وي، قانون موجودېدای نه شي، دا ځکه چې د قانوني قاعدې غرض د ژوند تنظیم دی او په یوه ټولنه کې دا هر یوه خیالي فرضیه ده، ځکه انسان یو ټولنیز مخلوق دی(موجود دی) چې په ټولنه کې پیدا کېږي او په ټولنه کې ژوند کوي، چې دغه ټولنه یو ټولګی خلک نه بلکې نن ورځ ترېنه یو دولت عبارت دی، دا په دې مانا چې دولت موجود نه وي، قانون رامینځ ته کېدای نه شي.

## دریېیم جز- د قانون غرض:

د قانون غرض د ټولنې له تنظیم او ترتیب څخه عبارت دی، قانون ټولنه تنظیموي، چې په دې انډول کې د خلکو د ګټو او ازادیو تنظیم له یوه طرفه او د ټولنې ګټې له بله طرفه تنظیموي

## څلورم جز- د قانون اهمیت:

د آفاقي حقوقو له اصلي منابعو څخه یوه منبع ډېر اهمیت لري او د ټولنې د ملا د تیر حیثیت لري، د اسلامي شریعت احکام او دویمه اصلي منبع قانون دی، چې د ټولنې نظم، ترتیب او تنظیم لپاره همدا رنګه په ټولنه کې د پرمختګ او انکشاف لپاره یو ضروري او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمي امر ګڼل کېږي ، دا په دې مانا که چېرې په ټولنه کې نظم نه وي، پرمختګ، انکشاف او ترقي نه وي، هغه ټولنه په خپل ټولنیز ژوند کې د زیاتو مشکلاتو سره مواجه کېږي او هم پکې ګډوډي او بې نظمي رامنځ ته کېږي، نو موږ بیا دا حکم کوو چې د نظم او پرمختګ لپاره یو لازمي امر دی.

چې اهمیت یې په دې ډول بیانوو.

لکه څرنګه چې په مخکې درس کې دد یادونه وشوه، چې قانون د قدرت لرونکي مقام له خوا وضع کېږي، خو د غه ذیصلاح مقام باید داسې مقام وي، چې د الله ج د امر او فرمان ښوونکی وي،و چې په دې هکله الله ج د قرآن کریم د سورة النسا په اووم نمبر ایت کې داسې فرمايي:(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ).(سورة النسا، ۷ ایت)

ژباړه: ای مؤمنانو حکم و منئ تاسې د الله ج او حکم و منئ تاسې د رسول الله ص او حکم و منئ د خپلو حاکمانو او مشرانو.

له پورته ایت کریمه څخه دا څرګندېږي، چې په لومړي قدم کې د الله ج د امر اطاعت د هغه نه وروسته د رسول الله ص د امر اطاعت او له دې څخه وروسته د خپل مسلمان مشر او حاکم د امر اطاعت پر موږ باندې لازمي دی، چې له همدې څخه د قانون اهمیت په ګوتو کېږي او هغه دا سې چې قانون د آمر له خوا وضع او تائید ېږي، چې په حقیقت کې قانون د آمر امر دی او د آمر د امر اطاعت په هکله موږ او تاسې ته الله ج په قرآن کریم کې هدایت و فرمایه، چې موږ د دغه ایت کریم د هدایت له مخې دا حکم کوو ، چې قانون زیات اهمیت لري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پینځم جز- د قانون ډولونه:

۱- اساسي قانون
۲- ارګانیکي قانون
۳- عادي قانون
تبصره.
۱- مقرره.
۲- لایحه
۳- د رئیس جمهور تقنیني فرمانونه

مونږ غواړو چې هر قانون په لاندې توګه په جلا جلا ډول روښانه کړو.

## ۱- اساسي قانون

A: د اساسي قانون پېژندنه
B: د اساسي قانون اهمیت یا امتیازات
لومړی تعریف
دویم تعریف
درېیم تعریف
څلورم تعریف
د متن او محتوی له حیثه
د خلکو نظریات زیات د خپل وي
د خاصو تشریفاتو په اساس د خلکو نظریات را جمع کېږي
د خاصو تشریفاتو په اساس وضع کېږي.

چې د بنه پوهېدو لپاره لومړی د اساسي قانون تعریفات یانې مانا او مفهوم پېژنو او له هغه څخه وروسته یې اهمیت (امتیازات) مطالعه کوو.

### - د اساسي قانون پېژندنه:

اساسي قانون د ملي حقوقو په سیستم کې له لوی اهمیت څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخمن دی او دا ځکه چې د هر هېواد اساسي قانون د هغه هېواد د ملي حقوقو په سیستم یوه اساسي او عمده وثیقه (چاته واک ورکول) ده، چې سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، ملي جوړښت او مناسباتو ته په کلي ډول انعکاس ورکوي او د هر هېواد نور ټول قوانین د اساسي قانون مطابق جوړېږي.

فلهذا موږ اساسي قانون داسې تعریفوو: اساسي قانون لپاره زیات تعریفات شته، چې موږ ترېنه دیو څو یادونه کوو.

*لومړی تعریف:*

اساسي قانون د هغو قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دی، چې د یو دولت له ټولو مهمو او عمده موضوعاتو څخه بحث کوي، لکه د دولت سیاسي رژیم، د دولت متشکله عناصر، د دولت درې ګوني قواوې، د دولت د درې ګونو قواوو تشکیلات، واکونه، صلاحیتونه او په خپلو کې روابط او د دغو درې ګونو قواوو استقلالیت، حکومت، شکل یې، کابینه، د افرادو حقوق، وجایب ازادي او ځنې نور عمده او مهم موضوعات لکه: انتخابات، قضآ، بیرغ، ملي ژبه، ملي سرود، سیاسي روابط او موضوعات.

*دویم تعریف:*

اساسي قانون د هغو قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دی چې د دولت قدرت، د قدرت انتقال، د قدرت اجرا او د دوی ترمنځ روابط ترتیب او تنظیموي.

*درېیم تعریف:*

اساسي قانون له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی چې د دولت د قوا او صلاحیتونه د حکومت حاکمیت د افرادو حقوق او له ازادۍ څخه بحث کوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شلورم تعریف:

اساسي قانون له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی چې د دولت د داخلي او خارجي قدرت او د اجرا له شکل څخه بحث کوي.

له پورته تعریفاتو څخه څرګندېږي چې اساسي قانون په یو هېواد کې له نورو قوانینو څخه د اعتبار په حیث په لومړۍ درجه کې قرار لري او نور ټول قوانین د اساسي قوانینو په نظر کې نیولو سره جوړېږي، همدا علت دی چې اساسي قانون د نورو قوانینو د مور حیثیت ځانته غوره کړی، د قوانینو د مور په نوم یادېږي او ډېر اهمیت لري، اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې کوم امتیازات دي چې اساسي قانون ته یې دغه د اولویت او علویت درجه ورکړې ده؟

ددې پوښتنې ځواب به د لاندې عنوان په ترڅ کې تر لاسه کړو.

### - د اساسي قانون امتیازات یا اهمیت:

د لاندې دلایلو په اساس موږ دا حکم کولای شو، چې اساسي قانون نسبت نورو قوانینو ته خاص امتیازات لري، یادا چې زیات اهمیت لري.

### الف: د متن او محتوی له حیثه:

څرنګه چې په لومړي تعریف کې ولیدل شو چې، د اساسي قانون موضوعات او مسایل عبارت دي د دولت د شکل، سیاسي رژیم، درې ګونې قواوې.. او داسې نور او په نورو قوانینو کې معمولاً داسې موضوعات نه مطرح کېږي، نو ځکه موږ وایو چې اساسي قانون د متن او محتوی له حیثه ډېر مهم دی.

### ب: د خلکو نظریات پکې ډېر دخیل وي:

په اساسي قانون کې د خلکو نظریات نسبت نورو قوانینو ته زیات دخیل وي او دا په دې مانا چې کله د اساسي قانون مسوده جوړېږي، په دې کې د خلکو نظریات اخیستل کېږي او بل دا چې د اساسي قانون د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویب مرجع لویه جرګه ده، چې په دې کې د لوی جرګې نظریات دخیل وي او لویه جرګه د خلکو نماینده ګان دي، نو د هر ولس نماینده چې نظر وړاندې کوي دا ددې مانا ورکوي چې د ولس نظر پکې دخیل شو.

اوس که دلته یوه پوښتنه رامنځ ته شي او هغه دا چې نور قوانین خو د مقننه قوې له خوا تصویب کېږي او مقننه قوه کې هم د ولسونو استازې ناست دي؟

ځواب یې داسې ورکوو: چې د یوې خوانه په لویه جرګه کې د استازو شمېر د مقننه قوې له شمېر څخه زیات وي، بل دا چې دلته د انتخاباتو حوزه د ولایت په سطحه وي او کېدای شي چې دیو اداري واحد څو استازي موجود وي، ولې یو بل اداري واحد(ولسوالۍ) هېڅ نماینده و نه لري، په داسې حال کې چې په لویه جرګه کې هر اداري واحد ته خپل سهم ورکول کېږي او د وکیل د انتخاب حوزه یو اداري واحد یانې ولسوالۍ وي، نو دغه نماینده واقعاً د هغوی نماینده وي

## ج: د خاصو تشریفاتو په اساس د خلکو نظریات راجمع کېږي:

لکه مخکې ورته اشاره وشوه، چې په اساسي قانون کې د خلکو نظریات زیات د خیل وي، دا ځکه چې د خلکو نظریات راجمع کېږي، اوس پوښتنه داده چې په کوم ډول د خلکو نظریات راجمع کېږي، چې مو دغه تشریفات د اهمیت یوه نقطه وګڼله؟

هر وخت چې د اساسي قانون لپاره مسوده جوړه شي، د دغه مسودې په هکله د خلکو نظریات راجمع کېږي، چې دغه نظریات په دوه ډوله راټولېږي، چې یو ته یې نظرخواهي او بل ته یې ریفریندم وایي، ولې په نورو قوانینو کې د مسودې په هکله نظریات اول هېڅ نه وي او دغه نظر خواهي او ریفریندم خو هېڅ نشته دی، که وي نو د یو عالم د نظریاتو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالعه یې کېدای شي کړي وي، یا دا چې د عرفي قواعدو په هکله پوښتنه کېدای شي وکړي،و دلته مناسب ګڼو چې نظر خواهي او ریفریندم وپېژنو.

۱ - *نظرخواهي:* کله چې د اساسي قانون د کمیسون له خوا یوه مسوده جوړه شي او د دغه مسودې خاکه په لیکلې ډول خلکو ته وړاندې شي او د هغې په هکله د خلکو نظریات راواخیستل شي، دا عبارت له نظر خواهۍ څخه شو، ولې په دې کې کمیسون د مسودې په هکله د خلکو نظریات مطالعه کوي او د هغوی نظریاتو په نظر کې نیولو سره په مسوده کې اصلاحات راولي.

۲ - *ریفریندم (ټولپوښتنه):*

په دې طریقه کې داسې وي چې کله د اساسي قانون مسوده جوړه او نشر شي ا و د خلکو لپاره په اطلاع ورسول شي، نو بیا له خلکو څخه پوښتنه کېږي، چې دغه مسوده سمه ده ا و که سمه نه ده او که سمه نه وي نو په دې طریقه کې یواځې د خلکو نظر د صحت او عدم صحت په هکله اخیستل کېږي، نه ددې لپاره چې ددغه مسودې په هکله نظریات وړاندې کړي، چې دغه ریفریندم په دوو طریقو سره کېږي، ځینې هېوادونه ټولو خلکو ته بکسونه لېږدي او له خلکو څخه په دې هکله پوښتنه کوي، چې لومړۍ مسوده درسته ده او که درسته نه ده؟

د، *اساسي قانون د خاصو تشریفاتو په اساس وضع کېږي:* هر وخت چې اساسي قانون وضع کېږي، ددې د تصویب لپاره خاص تشریفات نیول کېږي، چې هغه عبارت له لوېې جرګې څخه دی او پرته له لوېې جرګې څخه اساسي قانون تصویبېدای نه شي، ولې نور قوانین دا امتیاز نه لري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هـ: د اساسي قانون د مسودې لپاره خاص کميسون تاکل کېږي

هر وخت کې چې اساسي قانون جوړېږي، نو د لويې جرګې له خوا بايد هغه ته يو کميسون وټاکل شي، تر څو د اساسي قانون لپاره مسوده (خاکه) جوړه کړي، ولې موږ ګورو چې کله د نورو قوانينو لپاره مسوده جوړېږي، هغه د لويې جرګې د کميسون په اساس نه جوړېږي، بلکې، د دغه قوانينو مسوده يا د مربوط ارګان له خوا يا د عدلي وزارت له خوا يا د پارلمان په داخل کې کوم کميسون د دې لپاره جوړېږي او په مسوده باندې کار کوي.

۳- کله چې ارګانيکي قانون رامينځ ته کېږي، نو اساسي قانون يې د ايجاد غوښتنه کوي، خو کله چې اساسي قانون وضع کېږي، ارګانيکي قانون د هغې د ايجاد غوښتنه نه کوي.

۴- د موضوع له حيثه هم ارګانيکي قانون نسبت اساسي قانون ته ضعيفه دی.

## ۲- ارګانيکي قانون:

ارګانيکي قانون عبارت له هغه قانون څخه دی، چې په اساسي قانون کې يې د ايجاد غوښتنه شوې وي لکه، د انتخاباتو قانون، د مدافع وکيلانو قانون، د رسنيو قانون او داسې نور.

## ۳- عادي قانون:

عادي قوانين عبارت له هغو قوانينو څخه دي، چې د ايجاد لپاره يې په اساسي قانون کې غوښتنه نه کېږي، بلکې د دغه قانون د ايجاد غوښتنه به يا خپله د مربوطه ارګان، عدليې وزارت يا د پارلمان له خوا کېږي او د غوښتنې سره يوه خاکه هم ورته جوړ وي او کله يې چې خاکه په عدليې وزارت کې اصلاح او تائيده شي او مسوده يې جوړه شي، بيا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تصویب لپاره د اساسي قانون په څېر خاصو تشریفاتو ته ضرورت نشته او د مقننه قوې له خوا تصویبېږي، او له دې څخه وروسته مراحل یې د اساسي قانون سره یو شان رئیس جمهور لاسلیک کوي او وروسته په رسمي جریده کې نشرېږي، چې د اکثره برخو لپاره قوانین په عادي شکل باندې جوړېږي.

### تبصره:

په دغه ځای کې لازمي بولم چې مقرره، لایحه او همدارنګه د رئیس جمهور تقنیني فرمانونه روښانه کړم.

### ۱- مقرره:

له هغه تقنیني یا قانوني سند څخه عبارت ده، چې د عدلیې وزارت یا د کوم بل مربوط ارګان له خوا ترتیب شوي وي، د وزیرانو شورا له لخوا تائیده شوې وي او رئیس جمهور د وزیرانو شورا د رئیس په حیث نه د رئیس جمهور په حیث لاسلیک کړی وي.

### ۲- لایحه:

دا هم له یو قانوني یا تقنیني سند څخه عبارت ده، چې د یوې وزارت خانې په داخل کې ترتیب شي او د همدغه مربوط وزارت د عالي شورا له خوا تائید شي او د دغه شورا رئیس یې چې اکثره وزیر وي لاسلیک کړي.

### ۳- تقنیني فرمان:

رئیس جمهور کولای شي، په ځینې وختونو کې تقنیني فرمانونه صادر کړي او دغه د رئیس جمهور فرمانونه د قانوني سند په حیث قبول شوي دي، ولې دلته اوس لاندې پوښتنې مطرح کېږي.

لومړۍ پوښتنه- په کومو حالاتو کې رئیس جمهور تقنیني فرمان صادروي؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه پوښتنه_د رئیس جمهور تقنیني فرمان څومره وخت پورې قابل د اعتبار دی؟

د لومړۍ پوښتنې ځواب دا دی چې رئیس جمهور هغه وخت کولای شي یو تقنیني فرمان صادر کړي، چې اضطراري حالت وي، بل دا چې عاجله موضوع وي او پارلمان رخصت وي او دریم حالت کې چې پارلمان بالکل د منځه تللی وي، یانې موجود نه وي

د دویمې پوښتنې ځواب مو دا دی چې که چېرې پارلمان رخصت وي او رئیس جمهور فرمانونه صادر کړي وي، تر هغه پورې که اضطراري حالت وي، تر هغې پورې او یا دا چې په اساسي قانون د ټاکلې مودې د پوره کېدو پورې باید دغه تقنیني فرمانونه پارلمان (مقننه قوې) ته وړاندې شي، که پارلمان دغه فرمانونه تائید کړه د قانون په حیث اعتبار پیدا کوي، له دې څخه وروسته وخت لپاره هم او که چېرې پارلمان دا رد کړه له همدغه تاریخ څخه خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي او که چېرې بالکل پارلمان موجود نه وي، نو په دې وخت کې تقنیني فرمان د پارلمان د جوړېدو تر وخت پورې حقوقي اعتبار لري

دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې څرنګه مونږ پوهېږو چې د اساسي قانون سره نور قوانین مطابقت لري؟

ددې لپاره چې نور قوانین د اساسي قانون سره مغایرت لري او که نه، په هر هېواد کې خپل خاص طرز العملونه موجود وي، چې له هغې جملې څخه مونږ دلته یو څو مثالونه ذکر کوو.

په المان کې دغه کار چې قوانین په خپل مینځ کې مطابقت لري او که نه، یوه محکمه جوړه شوې، په فرانسه کې یوه خاصه شورا جوړه شوې، په ایران کې هم د نګهبان په نوم یوه خاصه شورا جوړه شوې او داسې نور... هېوادونه هم مختلف وظایف پرمخ بوزي، متاسفانه چې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې دغه کار لپاره موږ تر اوسه کوم خاص ارګان نه دی جوړ کړی، یادونه شوې وه چې یو کمېسون باید په دې هکله جوړ شي، ولې متاسفانه چې تر اوسه پورې په دې هکله کوم اقدام نه دی تر سره شوی.

دد ې خبرې یادونه هم موږ باید دلته ذکر کړو، چې ځینې هېوادونه بیا په دې عقیده دي چې د اساسي قانون او عادي قوانینو تر منځ مطابقت او یو شانوالي ته ضرورت نشته او دا یو لازمي خبره هم نه ده، چې ټول قوانین دې د اساسي قانون تر سیوري لاندې جوړ شي.

دوی داسې دلیل راوړي: اساسي قانون د دولت پورې ارتباط لري، عادي قوانین د دولت پورې نه بلکې د خلکو د ژوندانه مسایلو پورې ارتباط لري، یانې د خلکو د ژوندانه روابط ترتیب او تنظیموي، چې هالینډ، سویډون او ځینې نور هېوادونه ددغې نظریې طرفداران دي

## شپږم جز -د قانون د انفاذ مراحل:

هر وخت چې قانون وضع کېږي، لاندې مراحل باید طی کړي:

لومړی_ د تسوید مرحله

دویم_ د تصویب مرحله

دریېم_ د توشیح مرحله

څلورم_ د نشر مرحله

پینځم_ د مهلت مرحله

شپږم_ د انفاذ مرحله

تبصره(الغاء)

## لومړی -د تسوید مرحله:

تسوید یوه عربي کلمه ده چې تورولو ته وایي، په حقیقت کې دغه د قانون د وضع کولو لمړنۍ مرحله ده، چې په لاندې څلورو مواردو کې رامنځ ته کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د ضرورت او اړتیا په صورت کې خپله اړونده ارګان یوه خاکه یا دا چې د پروژې په شکل خپل ضروریات، پېشنهادات او د پرمختګ عوامل په لیکلي ډول د عدلیې وزارت ته وړاندې کوي په عدلي وزارت کې د قانون جوړونې لپاره خپل خاص ارګان وجود لري، چې تول فني او مسلکي کسان پکې کار کوي، د هغوی له خوا دغه پېشنهاد شوي پروژه یا د قانون لپاره جوړه شوې طرحه د غور او بحث لاندې نیول کېږي، چې په نتیجه کې په نوموړې پروژه کې د نورو قوانینو سره د مطالعې او مقایسې په صورت تغییر او اصلاحات راولي او هر وخت چې له اړونده ارګان څخه دغه د قانون د جوړېدو لپاره یوه خاکه د پروژې په شکل پېشنهاد شوه او د عدلیې وزارت له خوا وروسته د تغییراتو او اصلاحاتو څخه تائید شوه، دا عبارت له مسودې څخه دی او دغه عمل چې تر سره شو دا عبارت د تسوید له مرحلې څخه دی.

۲- کله داسې هم کېدای شي چې د اړونده ارګان له خوا نه بلکې د یو کمیسون له خوا چې د عدلي وزارت یا د پارلمان له خوا تاکل شوی وي، د قانون لپاره یوه خاکه یا دا چې یوه پروژه په دې هکله پېشنهاد کړي او دا هم د عدلي وزارت ته پېشنهاد کېږي، د عدلیې وزارت له خوا په هغې کې تغییرات یا اصلاحات راځي، چې لاس ته راغلي مواد د مسودې په نوم او دغه عمل یې د تسوید په نامه یادېږي، چې په حقیقت کې د تسوید له مرحلې څخه عبارت دی.

۳- کله داسې واقع کېږي، چې کمیسون موجود نه وي او اړونده ارګان د یو قانون د جوړېدو د ضرورت سره سره بیا هم کومه خاکه یا پروژه نه جوړوي، نو په دې صورت کې دغه موضوع ته پارلمان متوجه کېږي او په اړه یې یوه خاکه د پروژې په شکل جوړوي، چې دا هم باید د عدلیې وزارت له خوا اصلاح شي.

چې دغه مواد د مسودې او عمل د تسوید په نامه یادېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- کله داسې هم کېږي، چې کمېسون موجود نه وي، مربوط وزارت یا ارګان هم متوجه نه وي، پارلمان هم په دې اړه کوم اقدام نه کوي، په دې وخت کې ګورو چې د عدلیې وزارت متوجه کېږي او یوه خاکه د قانون لپاره جوړوي او اصلاح یې هم کېږي، چې دا مواد هم مسوده د ه او مرحله یې د تسوید په نامه یادېږي.

اوس دلته یوه پوښتنه واقع کېږي او هغه دا چې په دې ټولو حالاتو کې یې ولې د عدلیې وزارت ته د اصلاحاتو او لیدنې لپاره وړاندې کوي؟

ځواب: دا ځکه چې په عدلیې وزارت کې د دې کار لپاره یو خاص ریاست جوړ شوی، چې هلته ټول پوهان، عالمان، حقوق دانان او قانون دانان وظیفه تر سره کوي او هغوی چې کله د قانون په موادو کې غور او بحث کوي، نو له یوې خوا ګوري چې الفاظ یې یو د بل سره برابر او منظم دي او که نه؟ بل دا چې ګوري چې الفاظ یې قانوني دي او که نه؟ بل دا چې دوی ګوري دغه مسوده کومه چې رامنځ ته کېږي، دا د نورو قوانینو سره په تعرض او ټکر کې خو نه ده او که چېرې د نورو قوانینو سره په ټکر کې وي، هغه متعارض نقاط کوم چې د بل قانون سره په تعارض کې دي، هغه به یا اصلاح کوي او یا ورته تغییر ورکوي، تر څو په راتلونکي کې چې د عمل او تطبیق په ساحه کې کوم مشکلات رامنځ ته کېږي، د هغه مخه ونیسي.

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې دغه څلور ارګانونه چې د قانون مسوده جوړوي، دوی د دغه مسودې یا قانون په خاکه جوړونه کې له کومو منابعو څخه استفاده کوي، یا دا چې له کومو منابعو څخه باید استفاده وکړي؟

ځواب: دوی باید له لاندې پنځه منابعو او مراجعو څخه استفاده وکړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-له پخوانیو قوانینو څخه
۲-له موجوده قوانینو څخه
۳-د نورو لرې او نژدې هېوادونو له مشابه قوانینو څخه
۴-د پوهانو، حقوق دانان او دانشمندانو له نظریاتو څخه، یانې د دوکتورینو له نظریاتو څخه استفاده کوي
۵-له نورو مشابه او غیر مشابه ارګانونو څخه

## دویم-د تصویب مرحله:

تصویب اصلاً د تائیدولو په مانا راځي:

په دې مرحله کې مسوده پارلمان (مقننه قوې) ته وړاندې کېږي، هر وخت چې دغه مسوده پارلمان ته ورسېږي، پارلمان پرې غور او بحث کوي، که چېرې د پارلمان له خوا نوموړې مسوده تائیده شوه عبارت له تصویب څخه دی.

البته دا خبره باید په یاد ولرو چې پارلمان له دوو مجلسو څخه جوړ شوی دی، چې عبارت له مشرانو جرګې او ولسي جرګې څخه دی.

کله چې مسوده پارلمان ته راځي، نو په لومړی قدم کې کې ولسي جرګې ته راوړل کېږي، ولسي جرګه په مسوده باندې غور او بحث کوي، چې په نتیجه کې به یا مسوده تائیدوي یا به د اصلاحاتو، یا تغییراتو او حتی دا چې یا به یې ردوي، که چېرې د تغییراتو او اصلاحاتو غوښتنه وشوه، نو د دغه کار لپاره یې بېرته همغه ځای ته چې له کومې مرجع څخه راوړل شوې استوي او نوموړی ارګان یې له اصلاحاتو او تغییراتو څخه وروسته بېرته ولسي جرګې ته سپاري، که چېرته په لومړي ځل دغه مسوده د پارلمان د ولسي جرګې له خوا تائید شوه، دغه تائید شوې مسوده بیا د مشرانو جرګې ته لېږل کېږي، څرنګه چې د قانون د تصویب په برخه کې د مشرانو جرګه له ولسي جرګې څخه زیات

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک لري او هغه دا چې د ولسي جرګې له خوا په تائيده شوي مسوده کې دوی د اصلاحاتو او تغييراتو د راوړلو او يا هم د تائيدولو صلاحيت لري

او دا ځکه چې په مشرانو جرګې کې لکه چې د نوم ځخه يې معلومېږي، اکثراً مشران، باتجربه او مسلکي کسان وجود لري او بل دا چې (۳۴) کسان يې د دولت له خوا په انتصابي ډول ځای په ځای کېږي، نو هغه مجبور دي چې د دولت نه د فاع وکړي، همدا علت دی چې د دوی صلاحيت له ولسي جرګې ځخه زيات دی.

اما که چېرې د دغو دواړو مجالسو له خوا ديوې موضوع په هکله اختلاف راغی، دغه اختلاف به د څه شي په اساس حل او فصل شي؟

ځواب: کله چې د دغه دواړو مجالسو له خوا اختلاف رامنځ ته شي، نو د حل لاره يې دا ده چې د دواړو مجالسو له خوا ورته يو مشترک کميسون تاکل کېږي او د دغه مشترک کميسون په اساس يې موضوعات حل کېږي، چې دغه ټول اجرات د تصويب په نامه يادېږي

## دريیم د توشيح مرحله:

توشيح په لغت کې ښکلي کولو او مزين کولو ته وايي، کله چې نو موړې مسوده د پارلمان د دواړو مجالسو له خوا تائيد شي، له هغه ځخه وروسته رئيس جمهور ته د توشيح لاسليک او يا د تائيد لپاره وړاندې کېږي، دغه تصويب شوې مسوده (مصوبه) به يا د رئيس جمهور له خوا تائيد کېږي او کله چې د رئيس جمهور له خوا تائيد شوه، دا له توشيح ځخه عبارت دی، په دې شرط چې رئيس جمهور يې لاسليک کړي، چې له دې ځخه وروسته دغه مصوبه يانې تصويب شوې مسوده په قانون باندې بدلېږي، او که چېرې دغه تصويب شوې مسوده د رئيس جمهور له خوا تائيد نه شي، بېرته پارلمان ته د اصلاح او تغيير

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وړاندې کېږي

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې رئیس جمهور په دې هکله کوم صلاحیت لري، یا دا چې څومره او د څه شي صلاحیت لري؟

ددې په ځواب کې داسې لیکو چې رئیس جمهور د تغییر، اصلاح، تائید یا د ردکولو صلاحیت لري او همدارنګه که په قانون کې خلا و ګوري، د هغه د ډکولو د اصلاح لپاره یې پارلمان ته لېږي

اوس دلته یوه بله پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې رئیس جمهور د څو ځلو لپاره د تغییر او اصلاح.. صلاحیت لري؟ ددې پوښتنې په ځواب کې داسې وایو چې رئیس جمهور یو ځل دا صلاحیت لري، د دویم او درېیم ځل لپاره بیا دا صلاحیت نه لري

د رئیس جمهور دغه اجرات چې د قانون د مسودې په هکله تر سره کېږي، د توشیح په نامه یادېږي، ولې په ریاستي نظامونو کې د رئیس جمهور صلاحیت زیات وي

## *څلورم-د نشر مرحله:*

هر وخت چې د قانون د توشیح مرحله تکمیل شي، له دې څخه وروسته د قانون مسوده په قانون تبدیله شي او دا په دې مانا چې قانون جوړ شو، ولې هر وخت چې قانون جوړ شي، هغه باید نافذ او تطبیق شي، خو موږ ګورو چې داسې یو اصل موجود دی چې پرته له قانون څخه نه جرم شته او نه مجازات په دې مانا چې له دغه قانون څخه باید ټول خلک خبر شي او تر څو پورې چې خبر شوي نه وي په هغوی باندې تطبیق کېدای نه شي. نو د همدې هدف لپاره قانون باید د ټولو خلکو په اطلاع ورسول شي او دا باید د دولت د ټولو اطلاعاتي یا رسنیزو وسایلو له لیارې نشر او خاصتاً باید د عدلیې وزارت په رسمي جریده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نشر شي، چې دغه نشرول د قانون د نشر د مرحلې په نامه يادېږي

## پينځم -د مهلت مرحله:

هر وخت چې قانون نشر شي، د دې نه وروسته يو څه موده د دې لپاره تعينېږي ترڅو په دغه موده کې ټول خلک خبر شي، دا ځکه چې له قانون څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي، چې دغه موده د قانون د مهلت د مرحلې په نامه يادېږي.

اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي، چې څومره وخت د خلکو د خبرېدو لپاره ورکوي، د دې اطلاع د رسېدو لپاره د ولت خپل امکانات ګوري او همدارنګه د خپل امکاناتو په نظر کې نيولو سره او هم د خپل هېواد د جغرافيوي جوړښت او مساحت په نظر کې نيولو سره وخت ورکوي، ولې موږ ګورو چې په افغانستان کې اکثره يوه مياشت وخت ورکوي، لکه په لاندې قانون کې ګورو.

د افغانستان د (۱۳۵۵) هـ ش کال د جزا قانون په (۵۲۳) ماده کې داسې ذکر شوي دي، چې ((دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو په (۳۰) ورځو کې ياني (۳۰) ورځې وروسته نافذ دی)) چې د رسمي جريدې نشر عبارت دی له (۱۳۵۵) هـ ش کال د تلې د مياشتې (۱۵) پرلپسې ګڼه(۳۴۷) يا د مدني قانون (۲۴۱۲) ماده چې((دا قانون په رسمي جريده کې (۳۰) ورځې وروسته د خپرېدو څخه نافذ ېږي، وروسته نافذ دی

اوس دلته يوه بله پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د ټولو قوانينو لپاره له نشر څخه وروسته وخت ورکول ضروري دي؟

د ټولو قوانينو لپاره وخت ورکول ضروري نه دي، اکثره هغو قوانينوته چې په هغه کې عمومي احکام چې بيا قابل د جبران نه وي مهلت ورکوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه قوانين چې د خاصو ساحو لپاره وضع شوي وي، هغه که نشر هم نه شي دومره ضروري او لازمي نه ده، يادا چې داسې احکامو لپاره راغلي وي، چې هغه معمولاً د خلکو د (منفعت) يا ګټې لپاره وي، لکه د جزايي اجراتو قانون چې په (۵۰۰) ماده کې داسې صراحت لري: دا قانون په رسمي جريده کې د نشرېدو له نېټې څخه نافذېږي، د نشرېدو نېټه يې (۱۳۴۴-۳-۱۵) ګڼه ۲۲.

*شپږم - د قانون د انفاذ مرحله:*

د قانون د نشر مرحله چې کله خلاصه شي، له هغې څخه وروسته بله مرحله شروع کېږي، چې د انفاذ د مرحلې په نوم يادېږي او دا په دې مانا چې له دې وخت څخه وروسته ټولې نوې مسئلې به د دغه قانون په واسطه حل او فصل کېږي او پخوانی قانون ددې قانون له انفاذ څخه وروسته خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي او لغوه کېږي، چې مورږ او تاسې بايد د قانون الغاء د يوې تبصرې په ترڅ کې مطالعه کړو.

*تبصره - د قانون الغاء:*

د قانون له خصوصياتو څخه يو خصوصيت دا هم دی، چې قانون د همېش لپاره نه وضع کېږي او نه د همېشني او دايم پاتې کېدو خصوصيت لري، بلکې د وخت او زمان په تغيير سره همدارنګه د سياسي نظامونو په تغيير سره خپل ځای نورو قوانينو ته پرېږدي او خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي، چې دغه اعتبار د لاسه ورکول د قانون د منځه وړلو، ختمېدلو او فسخه کولو ته وايي، چې په لاندې ډول توضيح شوی دی.

*۱ - د قانون د لغوې او فسخې پېژندنه او مفاهيم يې:*

هر وخت چې نوی قانون وضع شي، پخوانی قانون خپل ځای نوي قانون ته پرېږدي او نوی قانون مرعي الاجرا ګرځي، چې دا عبارت د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون له الغاء څخه دی.

ددې لپاره چې پر موضوع ښه پوه شو، لازمه ده چې لومړی لاندې پوښتنې ځواب کړو.

الف: اسلامي شریعت او وضعي قوانین د الغاء له مخې په خصوصیاتو کې څه فرق لري او که نه؟

ب: که فرق ونه لري، روښانه یې کړئ چې څه فرق به ولري؟

ج: د قانون لغوه په لغوي او اصطلاحي ډول ولیکئ؟

د پورته پوښتنو ځواب ستاسې کورنۍ وظیفه ده.

## ۲ - د لغوې (الغاء) ډولونه

الف: صریحه الغاء

ب: ضمني الغاء.

### الف؛ د صریحې الغاء مثالونه په قوانینو کې:

۱- د (۱۳۵۵) ه ش د جزا د قانون (۵۲۲) ماده.

۲- د محاکمو لپاره د جزائي اجراتو د (۱۳۵۳) ه ش کال قانون (۴۹۹) مه ماده.

۳- د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون (۱۳۸۲) کال (۹۸) فقره.

۴- د محبسونو او توقیف ځایونو قانون (۱۳۸۴) کال د غبرګولي لسمه (۵۴) ماده.

### ب؛ ضمني الغاء:

د قانون د الغاء په صورت کې دوه ډوله قوانین موجود دي، چې له پخواني قانون او نوي قانون څخه عبارت دي، چې همدغه قوانین بیا دوه ډوله احکام لري، عام احکام او بل خاص احکام

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱- پخوانی قانون:

الف- خاص احکام

ب- عام احکام

### ۲- نوی قانون:

الف: عام احکام

ب: خاص احکام

### ۳- دري پوښتنې:

په دې ځای کې درې پوښتنې مطرح کېږي، چې په لاندې ډول دي

الف: ایا د قانون عدم تطبیق د قانون لغوه ګڼل کېږي؟

ځواب: د قانون عدم تطبیق د قانون لغوه نه ګڼل کېږي، ځکه چې مدني قانون(۳) ماده (۲) فقره همدغه حکم کوي، چې د قانون عدم تطبیق لغوه نه ګڼل کېږي

ب: قانون د څه په اساس لغوه کېږي؟

ځواب: قانون د قانون په اساس لغوه کېږي او بس، مدني قانون(۲) مه ماده لومړۍ فقره دا حکم کوي

ج: ایا عرف قانون نقض کولای شي؟

ځواب: نه! عرف قانون نه شي نقض کولای، ځکه د مدني قانون(۲) ماده دا حکم کوي

*تبصره:*

که چېرې قانون د اسلامي شریعت سره په ټکر کې وي، څه حکم به ولري؟

ځواب: د اساسي قانون دریمه ماده ((په افغانستان کې هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي)).

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- اسلامي شریعت او وضعي قوانین د الغاء له مخې په ځانګړتیاو او خصوصیاتو کې یو د بل سره څه تفاوت شته دی، لکه څرنګه چې پوهېږو اسلامي شریعت د الله ج له خوا د جبرائیل امین په وسیله په محمد ص باندې نازل شوی دی، حضرت محمد ص اخرني پیغمبر دی او له دې څخه وروسته بل پیغمبر نه راځي، فلهذا اسلامي شریعت هم بیا نه لغوه کېږي او نه د بل کوم دین په اساس د منځه ځي او د اسلامي شریعت د امتیازاتو له جملې څخه یو امتیاز هم دادی چې په هر وخت، هر اسلامي نظام او هر ملک (ځای) کې قابل د تطبیق دی او تغییر نه کوي او لکه نن ورځ یې موږ او تاسې ګورو چې: (۱۴۰۰) کاله پخوا راغلی او نن ورځ هم د هر ځای لپاره قابل د تطبیق دی او هېڅ مشکلات پکې نشته او دا ځکه چې دا قانون د الله ج له خوا وضع شوی او د الله ج علم کامل ازلي او ابدي دی.

ولې نور قوانین له پورته خصوصیاتو او امتیازاتو څخه یو هم نه لري، د مثال په ډول:

اسلامي شریعت الله ج وضع کړی چې ازلي او ابدي کامل علم لري، ولې وضعي قوانین د انسانانو په لاس جوړېږي او د انسانانو علم ناقص دی او په ټولو موضوعاتو باندې علم نه لري او کېدای شي په یوه وخت کې یو قانون د ډېرو ضرورتونو سره برابر نه شي او کله چې ډېرې احیاناً کله داسې وشي. چې ډېر زیات کوښښونه وکړي، نو کېدای شي چې یو اځې د خپل ښار د خلکو له ضروریاتو او احتیاجاتو څخه یو څه معلومات تر لاسه کړي، ولې دغه معلومات به بیا هم له نواقصو څخه خالي نه وي، چې د یوې خوا نه به بیا هم دغه ضروریات پوره نه وي، بل دا چې که وي نو یواځې ددې ښار د خلکو دی، د نورو هېوادونو او ښارونو په رابطه معلومات پکې نشته او بل دا چې دا یواځې د نن ورځې مشکلات دوی درک کړه، په دې باندې نه پوهېږي چې سبا به څه کېږي او د حل لاره به یې څه وي؟ نو همدغه نواقص دي چې د وخت، ځای او سیاسي قدرت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تغيير په وخت کې د خلکو ضروريات، احتياجات او مشکلات يو د بل سره فرق پيدا کوي او دې ته ضرورت پيدا کېږي، چې بايد دغه مشکلات حل شي، ولې پخواني قانون دا ځواب نه شي ورکولای، نو ځکه نوی قانون جوړېږي او پخواني لغوه کېږي، چې اسلامي شريعت له دې خلا څخه پاک او منزه دی، مخکې چې کوم توضيحات ورکړل شول هغه د دغه دواړو قوانينو خصوصيات او فرقونه يې وو، اوس غواړو چې دا موضوع روښانه کړو، چې الغاء څه مانا لري؟

په لغوي لحاظ سره د قانون د منځه تلل، ختميدل، فسخه کول او يا دا چې د خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکول او په اصطلاحي لحاظ داده چې د وخت او ځای د شرايطو او غوښتنو لپاره د وخت سره برابر نوی قانون چې کله جوړ شي، په دې صورت کې پخواني قانون خپل ځای نوي قانون ته پرېږدي او خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي، چې دغه د حقوقي اعتبار د لاسه ورکول د قانون د الغاء يا فسخې په نامه يادېږي

چې مثالونه يې موږ په چارت کې ذکر کړي دي، چې د جزا قانون په (۵۲۲) ماده، د محاکمو لپاره د جزايي اجرااتو د قانون (۴۹۹) مه ماده، د جزايي اجرااتو موقت قانون (۹۸) ماده، د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون (۵۴) ماده او داسې نور... دا مانا ورکوي چې د دوی په راتګ سره پخواني قانون لغوه دی او په دې هکله صراحت هم شته، ولې داسې قانون شته چې په هغه کې دا نه ذکر کېږي، چې پخواني قانون لغوه دی، بلکې هغه قانون خپله خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي، چې دلته هم الغاء منځ ته راځي، چې دغه الغاء او مخکې ذکر شوي الغاء يو له بل سره فرق لري، چې موږ يې هم دې ته مجبور کړي يو چې د قانون الغاء په دوه برخو باندې ووېشو.

لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه چې د قانون الغاء په دوه برخو باندې وېشل شوې ده، چې عبارت له صريحې او ضمني الغاء څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، مونږ هر يوه جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### الف: صريحه الغاء:

هر وخت چې نوی قانون منځ ته راشي او د نوي قانون په يوې ماده کې په دې هکله صراحت وجود ولري، چې د پخواني قانون ټول مواد يا دا چې ځينې برخې يې اعتبار نه لري يا دا چې لغوه دي، دغه لغوه د صريحې لغوې په نامه يادېږي، چې د قانون مثالونه يې پورته ذکر شول.

### ب: ضمني الغاء:

په ضمني ډول د قانون الغاء عبارت له دې څخه دی، چې نوی قانون منځ ته راشي او د هغې په يوه ماده کې هم نه وي ذکر شوي چې له دې تاريخ څخه پخوانی قانون ملغا دی نوی قانون په عين نامه ((د پخواني قانون په نامه)) او په عين ساحه کې وي او يا دا چې نوی قانون به د پخواني قانون په نوم نه وي، ولې همغه موضوعات به پکې د خيل وي او موضوعات به يې يو شی وي، چې په دې دواړو حالتونو کې ضمني الغاء کېدای شي او شوي هم دي چې د ضمني الغاء مثالونه په لاندې ډول دي:

۱. د تروريزم د تمويل پر خلاف د مبارزې قانون کوم چې په ۱۳۸۳ هـ ش کال د ميزان په (۳۰) نېټه په (۸۳۹) ګڼه کې خپور شوی دی، د دې قانون په يوه ماده کې هم هېڅ قسم صراحت نشته دی، ولې داسې موضوعات خامخا شته چې پخوا په نورو قوانينو کې ذکر شوي دي، خو هغه حکماً او س ملغا ګڼل کېږي.

۲. د پيسو د تطهير او له جرمونو څخه د راپيدا شويو عوايدو پر خلاف د مبارزې قانون کوم چې (۱۳۸۳) لمريز د لړم په (۱۰) مه نېټه په (۸۴) ګڼه کې نشر شوی دی.

په دې قانون کې هم د پخوانيو قانوني موادو د الغاء په رابطه کوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صراحت نشته، ولې حکماً هغه ټول قوانين ملغا دي.

يانې د لغوې لپاره دا شرط دی چې هر نوی قانون د پخوانې قانون لپاره ناسخ ګڼل کيږي او پخوانی قانون منسوخ ګڼل کيږي.

غير له اساسي قانون څخه چې عادي قوانين د اساسي قانون لپاره ناسخ نه ګڼل کېږي، مګر اساسي قانون عادي قوانين منسوخ او لغوه کولای شي، لکه څرنګه چې ټول په دې باندې پوهيږو چې قوانين دوه ډوله احکام لري، چې عبارت دي له عام او خاص احکامو څخه، نو که چېرې داسې واقع شي، چې د نوي قانون او پخواني قانون تر منځ په دغه عام او خاص دواړو احکامو کې يا په يوه، يوه برخه کې تعارض رامنځته شي، د کوم قانون حکم د بل قانون د کوم حکم پر اساس لغوه کيږي؟ دغه موضوع په لاندې کرښو کې روښانه کوو:

کله چې د دوو قوانينو تر منځ تعارض رامنځته شي، دا بايد د منځه لاړ شي، ځکه چې د تعارض په حالت کې قضات او محاکم د تطبيق په ساحه کې د مشکلاتو سره مخامخ کوي، نو ځکه د قوانينو تر منځ توافق بايد رامنځ ته شي، چې په دې صورت کې د قانون د توافق لپاره اسانه لاره او طريقه دا ده چې د نوي قانون حکم د پخواني قانون د حکم لپاره ناسخ وګڼل شي، دغه تعارض کله ګلي او کامل وي، چې د نوي قانون ټول احکام د پخواني قانون د ټولو احکامو سره په تعارض کې واقع کېږي، چې په دې صورت کې د پخواني قانون ټول احکام منسوخ ګڼل کېږي، چې دغه فسخه د کاملې فسخې په نامه يادېږي.

ولې کله داسې وي چې د نوي قانون او پخواني قانون تر منځ تعارض جزوي وي او دا په دې مانا چې په دې حالت کې د پخواني قانون همغه متعارض احکام لغوه او نور يې په خپل حال پاتې کېږي، دا په دوه حالاتو وېشل کېږي، يو دا چې د نوي قانون عام حکم لغوه او که د نوي قانون خاص حکم د پخواني قانون د خاص حکم سره په ټکر کې وي، په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې صورت کې همدغه د پخواني قانون خاص حکم لغوه کېږي

او کله داسې شکل سره واقع کېږي، چې د پخواني قانون عام حکم د نوي قانون(۱۰۹) د خاص حکم سره په ټکر کې وي، چې د نوي قانون دغه حکم د پخواني قانون په عام حکم کې شامل وي، په دې صورت کې د نوي قانون خاص حکم د پخواني قانون د همدغه حالت پورې مربوط حکم فسخه کوي او نور حالات یې په خپل حال باقي پاتې کېږي او دا ځکه چې تر څو پورې عام حکم د یو یا څو نفرو په مورد کې نه وي نافذ شوی، تر هغې پورې ټول قوانین نافذ شمېرل کېږي.

د مثال په ډول: په پخواني قانون کې تصریح شوی وي، چې د منقولو او غیر منقولو اموالو ملکیت د عقد د انعقاد سره متصل اخیستونکي ته انتقالیږي. ولې په نوي قانون کې یو خاص حکم موجود وي، چې د غیر منقولو اموالو انتقال د عقد په انعقاد نه کېږي، چې په دې صورت کې د پخواني قانون حکم یواځې د منقولو اموالو په هکله منسوخ دی، اما په نورو حالتونو کې د پخواني قانون حکم باقي پاتې دی.

او که چېرې داسې واقع شي چې نوي قانون د پخواني قانون ټول احکام منلي وي، یانې هیڅ قسم تعارض د دوی تر منځ موجود نه وي، په دې صورت کې نوی قانون نافذ دی او د پخواني قانون لغوه یو ضمني کار دی.

اوس مور دلته د یو څو پوښتنو ځواب ورکوو، ولې د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه وي، لومړی پوښتنه او وروسته یې ځواب ذکر کوو.

لومړۍ پوښتنه: ایا د قانون عدم تطبیق د قانون لغوه ګڼل کېږي؟

ځواب: د دې پوښتنې ځواب اسانه او لنډ دی او هغه دا چې په دې صورت کې د قانون عدم تطبیق د قانون د فسخې مانا نه ورکوي او نه قانون لغوه کېږي او دا ځکه چې د افغانستان د(۱۳۵۵) ه ش کال مدني قانون په دې هکله صراحت لري، د مدني قانون دریمه ماده دویمه فقره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې صراحت لري

د قانون عدم تطبيق د قانون لغوه نه ګڼل کېږي

دويمه پوښتنه: قانون د څه شي په اساس لغوه کېږي؟

ځواب: ددې پوښتنې ځواب دادی چې قانون به د قانون په اساس لغوه کېږي، چې زموږ لپاره ددې خبرې دليل د افغانستان د (۱۳۵۵) هـ ش کال د مدني قانون دويمه ماده داسې صراحت لري:

قانون يوازې د قانون په اساس لغوه کېږي او بس.

درېيمه پوښتنه: عرف او عادات د قانون ناسخ ګڼل کېږي او که نه؟

ځواب: په دې هلکه علماء دوه نظره لري، يوډله علماء وايي، چې عرف او عادات د قانون لپاره ناسخ کېدای شي او دا ځکه چې عرف کولای شي چې قانون تکميل کړي، په همدې اساس کولای شي چې قانون لغوه هم کړي، ولې بله ډله علماء وايي چې هيڅ کله هم عرف د قانون لپاره ناسخ نه دی او دا ځکه چې عرف او عادات له قانون څخه په درجه کې ښکته دي، لکه: چې د افغانستان د (۱۳۵۵) هـ ش کال مدني قانون دويمه ماده په دې هکله داسې صراحت لري

که چېرې د يوې موضوع د حل او فصل په هکله په اسلامي شريعت کې احکام پيدا نه کړي، نو بيا به قانون ته مراجعه کوي او د مسايلو حل او فصل به د قانون په اساس کېږي او که چېرې په قانون کې هم احکام نه وي موجود، نو په دې صورت کې بيا عرف و عادات ته مراجعه کېږي، نو ځکه دا ضعيفه ده او د لغوې امکان نشته

## اووم جز-د قانون د وضع کولو ذيصلاح مراجع:

څرنګه چې پوهېږو قانون مختلف ډولونه لري، چې د هر ډول قانون د تصويب مراجع يو د بل سره توپير لري، د مثال په ډول اساسي قانون، عادي قانون، مقرره، لايحه، تقنيني فرمان او د اسې نور چې په ترتيب

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د تصویب مراجع یې عبارت دي، له لویې جرګې، ملي شورا(پارلمان) او د وزیرانو شورا راځخه، نو موږ هم په دې ځای کې د قانون د ډولونو په اعتبار سره په لاندې ډول د قانون د وضع کولو ذیصلاح مراجع تر بحث لاندې نیسو.

لویه جرګه، مقننه قوه یا ملي شورا یا پارلمان، رئیس جمهور، د وزیرانو شورا، د وزارت عالي شورا او د سترې محکمې عالي شورا، چې د بنه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

## لومړی - لویه جرګه:

په افغانستان کې د اساسي قانون د وضع کولو لپاره اصلي مرجع لویه جرګه ده، البته لویه جرګه یوا ځې په افغانستان کې د اساسي قانون د وضع کولو اصلي او قوي ترینه مرجع ده په نورو هېوادونو کې لویه جرګه د قانون د وضع کولو د مرجع په حیث وجود نه لري، چې د موضوع د ښه پوهېدو لپاره لاندې عنوانونه روښانه کېږي

د لویې جرګې تاریخي سیر، د لویې جرګې تشکیل او د لویې جرګې صلاحیتونه مطالعه کېږي

### *د لویې جرګې تاریخي بهیر:*

لکه څرنګه چې مخکې دې خبرې ته اشاره وشوه، چې لویه جرګه د اساسي قانون د تصویب یوا ځینۍ قوي مرجع ده نو په همدې اساس موږ د لوی جرګې تاریخي بهیر د اساسي قانون د تاریخي بهیر سره یو ځای مطالعه کوو.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې اساسي قانون د لومړي ځل لپاره په (۱۳۰۱هـ ش) کال کې د امیر امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې منځته راغی، چې د افغانستان د عالیه دولت (اساسي نظامنامې) په نوم یادېده، د دغه نظامنامې لپاره د ۱۳۰۱ هـ ش کال د حوت په لسمه د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرقي زون شورا چې (۸۷۲) غړي يې درلودل راوغوښتل شو، ولې دا چې ددې شورا د غړو کم ؤ، نوموړې نظامنامه يې يواځې تدوين کړه او د تصويب لپاره يې په ۱۳۰۳ ه ش کال کې د پغمان لويه جرګه راوغوښته چې شمېر يې ۱۰۵۲ تنه ول او نوموړې نظامنامه يې تصويب کړه.

د دويم ځل لپاره د اساسي قانون لپاره نادر خان په ۱۳۱۰ ه ش کال کې لويه جرګه را وغوښته چې د اساسي اصولو په نوم يې تصويب کړل.

د درېيم ځل لپاره په ۱۳۴۳ ه ش کال کې لويه جرګه راوغوښتل شوه چې اساسي قانون يې تصويب کړ.

ځلورم ځل سردار داود خان په ۱۳۵۵ ه ش کال لويه جرګه را وغوښته او اساسي قانون يې تصويب کړه.

پينځم ځل لپاره په ۱۳۶۶ ه ش کال ډاکټر نجيب الله لويه جرګه راوغوښته او اساسي قانون يې تصويب کړ.

شپږم ځل لپاره ډاکټر نجيب الله په ۱۳۶۹ ه ش کال کې لويه جرګه راوغوښته او اساسي قانون يې تعديل کړ.

د اووم ځل لپاره حامد کرزي ۱۳۸۲ ه ش کال کې لويه جرګه راوغوښته او اساسي قانون يې تصويب کړ چې اوس هم نافذ دی.

## د اساسي قانون تشکيل:

لويه جرګه په افغانستان کې تر ټولو ستره شورا ده، چې د افغانستان د اتباعو د ارادو او ارمانونو لويه منبع ګڼل کېږي، چې د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون د (۱۱۰) مادې د حکم په اساس له لاندې اشخاصو څخه متشکله ده.

۱۱۰ ماده: ((لويه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی.))

د لويې جرګې غړي عبارت دي له:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د ملي شورا له غړيو.

۲- د ولايتونو او ولسواليو د جرګو له رئيسانو، وزيران، د سترې محکمې رئيس او غړي بې او لوی ثارنوال کولای شي د لوی جرګې په غونډو کې بې له دې چې د رائې ورکولو حق ولري ګډون وکړي. لويه جرګه په لومړۍ غونډه کې يو تن د رئيس، يوتن د مرستيال دوه تنه د منشي او نايب منشي په توګه ټاکي.

## لويه جرګه کله دايرېږي؟

د اساسي قانون د (۱۱۱) مادې د حکم په اساس لويه جرګه په لاندې حالاتو کې دايرېږي

۱- د هېواد د خپلواکۍ، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصميم نيول

۲- ددې اساسي قانون د حکمونو تعديل

۳- ددې اساسي قانون د (۶۹) مادې له مخې د جمهور رئيس محاکمه کول

پورته درې واړه حالتو کې د لوئې جرګې راغوښتل د لوئې جرګې صلاحيتونه ټاکي.

د پورته توضيحاتو په اساس موږ لويه جرګه وپېژنده او س راځو دې ته چې لويه جرګه څرنګه د اساسي قانون خاکه جوړه کړي او د هغې په هکله نظر خواهي وکړي او له نظر خواهۍ څخه وروسته اصلاحات پکې راشي له هغې څخه وروسته د لوئې جرګې عمومي غونډې ته د بحث او غور کولو لپاره وړاندې کېږي. په هره ماده باندې علمي بحث کېږي او له بحث څخه وروسته په هغه کې تعبيرات او اصلاحات وارد کړي او يا دا چې دغه خاکه (مسوده) د لوئې جرګې په عمومي غونډه کې د رائو په اکثريت باندې تائيد شي. عبارت د اساسي قانون له تصويب څخه دی،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په لویه جرګه کې قانون تصویب شو تر هغې وروسته رئیس جمهور ته د توشیح لپاره وړاندې کېږي او هر وخت چې دغه مصوبه د رئیس جمهور له خوا توشیح شي، له هغې څخه وروسته په رسمي جریده کې نشر شي تردې وروسته قانون نافذ دی.

## دویم- مقننه قوه( ملي شورا یا پارلمان):

نن ورځ د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې د ښه حکومت کولو لپاره پارلمان قبول شوی دی، تر څو د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي چارو د سرنوشت د ټاکلو لپاره مستقیم یا بالواسطه خلک په حکومت کې برخه واخلي.

چې همدغه د خلکو د نماینده ګانو په اساس په حکومت او نظام کې برخه اخیستنه دیموکراسي ګڼل کېږي او پارلمان د دیموکراتیکو نظامونو له اصولو څخه یو اصل ګڼل کېږي

ددې لپاره چې د پارلمان په اړه ښه پوه شو، لازمې ده چې لاندې سر لیکونه مطالعه کړو.

د پارلمان پېژندنه، د پارلمان تاریخي بهیر، د پارلمان تشکیلات، صلاحیتونه او نور په لنډ ډول مطالعه کېږي

### *د پارلمان تعریف:*

دغه بنیاد او نهاد د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې مختلف نومونه ځان لپاره کسب کړي دي

د امریکا متحده ایالتونو کې د کانګرس(Congress) په نوم، په فرانسه کې ملي شورا یا (National Assembly). په جاپان کې د نماینده ګانو مجلس(House of Representatives) او په انګلستان او سنګاپور کې د پارلمان (Parliament)په نوم سره یادېږي

په ایران کې د اسلامي شورا مجلس. په افغانستان کې ملي شورا.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هالند کې (State General) او داسې نور. په هر صورت د پارلمان کلمه د فرانسوي ژبې له پارلر (Parler) څخه اخیستل شوې ده، چې د خبرو کولو او مشورې کولو په مانا ده او په اصطلاح کې د خلکو د ارادو عالیترین مظهر او د قواوو ملي حاکمیت دی، چې د قواعدو او مقرراتو د وضع کولو په منظور د ټولنیزو روابطو د ترتیب او تنظیم لپاره منځته راغلی دی.

## د پارلمان تاریخي بهیر

د پارلمان تاریخي بهیر په دوه عنوانو کې جلا جلا مطالعه کوو چې یو یې د نړۍ په سطحه او بل یې د افغانستان په سطحه دی.

۱- د پارلمان تاریخي بهیر د نړۍ په سطحه: د نړۍ په سطحه د لومړي ځل لپاره د پارلمان مفکوره په انګلستان کې منځته راغلې، له ډېر پخوا وخت څخه را په دې خوا په انګلستان کې لویه شورا (Concilian Magnaml) وجود درلود چې د نجباوو، اشرافو، روحانینو او له لوړ پوړو منصب خاوندانو څخه جوړه شوې وه، چې د شاهي دربار سره یې تړاو درلود.

په ۱۲۵۲م کال کې د دغې شورا نوم په پارلمان تبدیل شو چې د سیاسي، اقتصادي او قضائي اختیاراتو خاوند شو، البته د قانون جوړونې صلاحیت یې نه درلود، خو د شاه سره یې مشورې کولې، په ۱۲۹۵م کال کې (اډوارډ) چې لومړی شاه ؤ، د انګلستان د شخصي خاطراتو له امله چې له پارلمان څخه یې درلودل، هغې ته یې پراختیا ورکړه او د ټولنې ټولو برخو ته یې ونډه ورکړه، دغه جوړښت یې د عبادت کوونکو، جنګ کوونکو او کارکوونکو په اساس منځته راوړه، چې د سیاسي او اقتصادي بدلونونو په اثر بورژوازانو د پارلمان اکثریت ترلاسه کړ، د خبرو اترو په شروع کې چې په پارلمان کې به ټول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه ځای کېناستل، ورو، ورو د اشرافو او روحانینو تر منځ دا خبره منځته راغله چې ولې د عوامو سره یو ځای کېنېني او د دولت په مسایلو باندې بحث کوي، نو لومړی ځل روحانیین، بیا اشراف او نجبا له پارلمان څخه ووتل، د څوارلسمې پېړۍ وروسته پارلمان په دوو مجالسو باندې ووېشل شو. چې یو ته یې د عوامو او بل ته یې د لاردانو مجلس وایي، هر یو جلا جلا مطالعه کوو.

## د عوامو مجلس:

د عوامو مجلس د بورژوازانو، تجارانو، د لاسي صنایعو له خاوندانو او کسب ګرو څخه جوړ شوی و.

د لاردانو مجلس: چې له روحانینو، اشرافو او نجباو څخه جوړ شوی ؤ په ۱۳۴۳ م کال کې د لاردانو مجلس په لوړو او عالي ودانیو کې جلسې دایرولې چې د عوامو مجلس د کم واک درلودونکي ول، لاردانو په ۱۳۸۲ م کال کې د عوامو مجلس په واکونو کې زیاتوالی راغی او د لاردانو د مجلس سره یې مساویانه عمل شروع کړه.

په ۱۹۱۱-۱۹۴۹ م کلونو کې د دیموکراسۍ روحیه قوي شوه او د عوامو مجلس د خلکو د عمومي رائو په اخیستلو سره قوي شول او په لومړۍ درجه کې یې ځای ونیوه او لاردان د عرفي او سنتي حیثیت په درلودلو سره د مشورې په ورکولو او کمزورو واکونو په درلودلو سره د انګلستان د پارلمان په جوړښت کې پاتې شول.

په فرانسه کې په ۱۳ م پېړۍ کې د پارلمان د بنیاد ډېره کېښودل شوه، په ۱۸ او ۱۹ پیړیو کې نوی پارلمانونه د ځانګړو خواصو په درلودلو سره منځته راغلل.

## په افغانستان کې د پارلمان تاریخي بهیر:

پخوا په اکثرو دولتونو کې د یکتاتوري نظامونه موجود ول او هر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه به يې چې خپل زړه وغوښته همغه به يې کول، د افرادو فردي آزادي يې تر ډېره حده پورې سلب شوې وه، ولې ددې باوجود بيا هم شوراګانې موجودې وې، سپين ږيرو او قومي مشرانو رهبري کوله او د خلکو مسئلې به يې حل کولې، د وخت په تېرېدو سره پدغه نظريه کې تغيير راغی چې د لومړي ځل لپاره امير شير علي خان او له هغې څخه وروسته د امير حبيب اله خان په وخت کې دغه شوراګانې ګرندۍ شوې او د ملي شورا لپاره يې هلې ځلې وکړې ولې پلې نه شو.

له دې څخه وروسته د امان الله خان په وخت کې پارلمان د ديموکراسۍ د اصل په توګه او د درې ګونو قواوو د تفکيک د نظريې په اساس تر هغه ځايه چې ممکنه وه په عمل کې پلې کړه چې په لاندې کرښو کې ترې نه يادونه کوو.

کله چې انګليس استعمار ګرو ماتې وخوړه او امان الله خان په ۱۲۹۸ ه ش کال چې د ۱۹۱۹ م سره برابر دی د افغانستان سياسي استقلال لاسته راوړه، نو سمدلاسه يې د اقتصادي، فرهنګي او کلتوري ودې په اړه لازم پلانونه په کار واچول او هم يې د ولس د سياسي حقوقو په اړه د پام وړ توجه وکړه او د ولس نماينده ګان يې راوغوښتل. لويې جرګې ته يې د اساسي قانون مسوده وړاندې کړه او په ۱۳۰۱ ه ش کال کې اساسي قانون تصويب کړ. چې په ۱۳۰۳ ه ش کال کې يې اساسي قانون کې د لويې جرګې له خوا نوښت راوسته او د دولت درې ګونې قواوې يې منځته راوړې او عملاً يې په کار شروع وکړ. مقننه قوه چې د اعيانو مجلس او د دارالشورى چې د د ولت د شورا په نامه يادېده، منځته راغله چې د افغانستان په تاريخ کې لومړنی شورا ده چې غړي يې د نفوسو په تناسب په انتخابي او انتصابي ډول ټاکل کېدل. رئيس جمهور او مرستيالان يې د درې کالو لپاره د شورا د منځه انتخابېدل.

دويمه شورا د محمد نادر شاه له خوا په ۱۳۰۹ هـ ش کال کې چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳۰۱) تنه غړي يې درلودل، دا لومړنى ملي شورا وه چې دوه مجلسه يې درلودل، چې يو يې ولسي جرګه انتخابي وه، او بل يې داعيانو مجلس انتصابي ؤ، چې ۱۳۱۰ هـ ش كال د چنګابښ په مياشت كې د محمد نادر شاه له خوا پرانيستل شوه او عملاً يې كار شروع كړ او د غړو شمېر يې (۱۱۱) تنه و.

د دغه شورا په درېيم كال كې نادر شا وفات او ظاهر شاه د قدرت په ګدۍ كېناست او ۱۵-۱۱-۱۳۱۲ ه ش كال كې يې فرمان صادر كړه او د ملي شورا د دويمې دورې انتخابات تر سره شول، چې (۱۳۱۳-۱۳۱۵) پورې دوره وه.

درېيمه دوره (۱۳۱۶-۱۳۱۸) كلونه

څلورمه دوره (۱۳۱۹-۱۳۲۱) كلونه

پينځمه دوره (۱۳۲۲-۱۳۲۴) كلونه

شپږمه دوره (۱۳۲۵-۱۳۲۷) كلونه

اوومه دوره (۱۳۲۸-۱۳۳۰) كلونه

اتمه دوره (۱۳۳۱-۱۳۳۳) كلونه

له دې دورې څخه وروسته د ديموكراسۍ دوره شروع شوه چې د اول ځل لپاره دوكتور محمد يوسف د صدراعظم په حيث په غير له سلطنتي خاندان څخه منځته راغى، چې همدا د ديموكراسۍ بنياد ګڼل كېږي

په ۱۳۴۳ هـ ش كال كې نوى اساسي قانون او د انتخاباتو قانون وضع شو، چې د لومړي ځل لپاره ازاد، مستقيم، پټ او عادلانه انتخابات د ملي شورا لپاره تر سره شول، چې له هرې ولسوالۍ څخه يو تن، له كوچيانو څخه شپږ تنه، له كابل ولايت څخه پنځه تنه او له نورو ولايتونو څخه دوه، دوه تنه انتخاب شول

د مشرانو جرګې د غړو ټاكنه د اساسي قانون د (۴۵) مادې له مخې يو ثلث پوه او تجربه لرونكي غړي د پنځه كالو لپاره په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتصابي ډول د شاه له خوا انتخابېدل او د هر ولایت د ولایتي شورا له غړو څخه یو، یو تن د درې کالو لپاره انتخابېدل او له هر ولایت څخه یو استازی د انتخاباتو د لارې ټاکل کېدل. چې په دې وخت کې د ولسي جرګې د غړو تعداد ۸۰ تنه ول.

په (۱۳۴۸) ه ش کال کې پارلماني انتخابات تر سره شول چې (۲۱۳) تنه ولسي جرګې لپاره انتخاب شول.

بالاخره په ۱۳۵۲ هـ ش کال د چنګاښ په ۲۲ نېټه شاهي رژیم په جمهوریت تبدیل شو او دغه شورا د تعلیق په حالت کې وه چې ۱۳۵۵ هـ ش کال اساسي قانون هغه لغوه اعلان کړ او تر ۱۳۸۴ هـ ش کال پورې بله انتخابي شورا منځته رانغله او په ۱۳۸۴ کې بله انتخابي شورا رامنځته شوه.

د ولسي جرګې د کارموده پنځه کاله ده چې د ۱۳۸۴ ه ش کال د سنبلې په ۲۷ شروع او د ۱۳۸۹ هـ ش د سرطان په اوله نېټه پای ته رسېږي چې د غړو شمېر یې ۲۳۹ تنه دی او بله دوره په ۱۳۸۹ ه ش کال کې شروع کېږي او پنځه کاله وروسته به پای ته رسېږي چې د ولسي جرګې د غړو شمېر ۲۴۹ تنه او د مشرانو جرګې د غړو شمېر (۱۰۲) تنه دي چې ټول (۳۵۱) تنه کېږي.

## د ملي شورا جوړښت

د نړۍ په هېوادونو کې د ملي شورا جوړښت مختلف دی یوه مجلسه، دوه مجلسه، درې مجلسه او څلور مجلسه پارلمانونه په نړۍ کې شتون لري، چې په دې اړوند له توضیحاتو څخه صرف نظر شوی دی او یواځې د افغانستان په ملي شورا باندې په لنډ ډول رڼا اچول شوې چې دوه مجلسه پارلمان لري، یو ته ولسي جرګه او بل یې د مشرانو جرګه ده چې ۳۴ تنه د رئیس جمهور له خوا انتصابي (۳۴) تنه د هر ولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ولايتي شورا ګانو څخه او(۳۴ )تنه د هر ولايت د ولسواليو د شورا ګانو څخه انتخابيږي.

### د ملي شورا داخلي جوړښت

د جرګو رئيسان، لومړي مرستيالان، دويم مرستيالان، منشيان او نائب منشيان او داخلي کميسونونه او د هغوی رئيسان، دارالانشا چې د ملي شورا د مالي نشراتي او اداري چارو د سمون لپاره کار کوي.

د ملي شورا د واړه مجالس د قانون په تصويب کې د خيل دي او د دواړو له تائيد څخه وروسته قانون تصويبيږي.

## دريم-د دولت د رياست مقام:

د دولت د رياست مقام هم د قوانينو د وضع کولو يوه مرجع ده، چې معمولاً په دوو حالاتو کې قوانين وضع کوي. د اساسي قانون د (۶۴) مادې، ۱۲ بند يې د قوانينو او تقنيني فرمانونو توشيح د رئيس جمهور صلاحيت بولي.

-د قانون توشيح.

-تقنيني فرمان صادرول: چې هر يو جلا جلا روښانه شوي دي.

-د قانون توشيح: هر قانوني سند چې د قانون اطلاق پرې کيږي لازمي ده چې هغه به د رئيس جمهور له خوا توشيح شوی وي او تر څو چې توشيح شوی نه وي تر هغې پورې د قانون په نوم نه يادېږي او هر وخت چې د دولت رياست مقام له خوا توشيح کيږي، يوازې په دې مانا نه ده چې امضا کيږي، بلکې د دولت رياست مقام صلاحيت لري چې په هغه کې تغييرات، اصلاحات، تائيد او حتی دا صلاحيت لري او دا صلاحيت د اساسي قانون، ارګانيکي قوانين، عادي قوانين چې متني وي او که شکلي توشيح کوي چې دا يو صلاحيت د وضع کولو شو.

-ځينې وخت رئيس جمهور صلاحيت لري چې بدون له پارلمان څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقنیني فرمانونه صادر کړي، چې دا د دولت د ریاست مقام دویم صلاحیت دی او س دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې:

### د دولت د ریاست مقام په کومو حالاتو کې تقنیني فرمانونه صادروي؟

ځواب: د دولت ریاست مقام په لاندې حالاتو کې تقنیني فرمانونه صادروي

- پارلمان موجود نه وي: کله کله په دولت کې داسې حالات رامنځته شي چې بلکل پارلمان یا ملي شورا موجود نه وي، ریاست مقام تقنیني فرمانونه صادروي
- پارلمان موجود وي خو رخصت وي او موضوع ضروري وي، نو پداسې حالاتو کې رئیس جمهور یا د دولت د ریاست مقام صلاحیت لري چې تقنیني فرمانونه صادر کړي
- د قانون د وضع کولو عاجل او اشد ضرورت وي، یا دا چې اضطراري حالات وي، نو په دې صورت کې رئیس جمهور تقنیني فرمانونه صادروي، چې د فرمانونو صادرول د رئیس جمهور یا دولت د ریاست مقام صلاحیت دی.

اوس دلته یوه بله پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې:

### دغه تقنیني فرمانونه تر کوم وخت پورې حقوقي اعتبار لري؟

کله چې پورته درې حالات، عادي حالاتو ته راوګرځي، پارلمان موجود شي، د پارلمان رخصتي خلاصه شي، یا اضطراري حالت خلاص شي نو په دې صورت کې د رئیس جمهور فرمانونه ملي شورا ته وړاندې کېږي او د اساسي قانون د(۹۰) مادې د لومړي بند د حکم په اساس به دغه فرمانونه تعدیل. تصویب یا لغوه شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تقنیني فرمان د ملي شورا له خوا تصویب شي، نو په قانون باندې تبدیلېږي، او تر څو چې بل نوی قانون نه وي راغلی دا قانون نافذ دی، چې له تعدیل څخه وروسته هم همدغه حکم لري.

که چېرې د رئیس جمهور تقنیني فرمان د ملي شورا له خوا لغوه شي، له همغې نیټې څخه وروسته خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي.

## څلورم-د وزیرانو شورا:

د قوانینو او تقنیني فرمانونو تر څنګ ځینې نور تقنیني اسناد هم شتون لري چې تطبیق یې اجباري جنبه لري چې هغه عبارت د مقررې او لایحې د وضع کولو له مراجعو څخه دي، چې د قانون او تقنیني فرمانونو د وضع کولو د مراجعو سره فرق لري.

د مقررې د وضع کولو ذیصلاح مرجع عبارت د وزیرانو له شورا څخه ده. لکه څرنګه چې د ملي شورا وظایف ډېر زیات دي او ځینې وختونو کې نشي کولای چې ټولو موضوعاتو ته رسیده ګي وکړي، نو له همدې وجهې څخه یې ځینې واکونه د وزیرانو شوا ته محول کړي چې ځینې تقنیني اسناد خپله تصویب کړي او هر هغه قانوني سند چې د وزیرانو د شورا له خوا تصویبېږي عبارت له مقررې څخه ده، نو ځکه موږ وایو چې د وزیرانو شورا هم د قانوني اسنادو د وضع کولو یوه مرجع ده.

### *د وزارت عالي شورا:*

د وزرات د عالي شورا له خوا چې کوم تقنیني سند تصویبېږي عبارت له لایحې څخه دی، لکه چې د لایحې په تعریف کې مو لوستي دي، لایحه هغه قانوني سند دی چې د وزارت د عالي شورا له خوا تصویب او د وزیر له خوا د شورا د رئیس په حیث امضا کېږي، چې د همدې وجې موږ وایو چې د وزارت عالي شورا د قانوني سند د وضع کولو یوه مرجع ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سترې محکمې عالي شورا:

کله کله ستره محکمه ځینې قوانین تغییروي، یا دا چې ځینې مصوبې تصویبوي، چې د همدې وجې مونږ وایو چې د سترې محکمې عالي شورا هم د قانوني اسنادو د تصویب یوه مرجع ده.

## اتم جز- د قانون تطبیق:

لکه څرنګه چې مخکې په دې باندې بحث وشو چې قانون په ټولنه کې د اشخاصو د روابطو د ترتیب او تنظیم لپاره وضع کېږي او د اشخاصو ترمنځ حقوقي او جزایي متنازع فیه مسایل حل او فصل کوي

له پورته توضیحاتو څخه دا معلومېږي، چې قانون باید له وضع کولو څخه وروسته تطبیق هم شي او که چېرې قانون تطبیق نشي نو د کومو اهدافو لپاره چې وضع شوی هغه اهداف نه تر لاسه کېږي او هم خپل اهمیت د لاسه ورکوي او د یو داستان، ناول یا کتاب شکل ځانته غوره کوي

له همدې وجې په یو د ولت کې درې ګونې قواوي په ترتیب سره خپل اجرات پدا سې شکل ترسره کوي چې مقننه قوه قوانین وضع او تصویبوي، کله چې قوانین وضع شي قضات او محاکم د همدې قانون په اساس پرېکړې کوي او هر وخت چې د قضایه قوې له خوا د قانون مطابق پرېکړه وشي همدغه پرېکړه د اجرایه قوې له خوا تطبیق کېږي او مقننه قوه د دغه پرېکړو له تطبیق څخه نظارت هم کوي

او س دلته لاندې پوښتنو ته ځواب ویل کېږي

۱- د قانون د تطبیق ساحې کومې دي؟ په دې مانا چې قانون په کومه ساحه باندې تطبیق کېږي؟

۲- د قانون د تطبیق وخت کوم دی؟ په دې مانا چې قانون له کوم وخت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه تر کوم وخت پورې قابل د تطبیق دی؟

۳- قانون په کومو پېښو باندې تطبیق کېږي؟

۴- قانون په کومو اشخاصو باندې تطبیق کېږي؟

کله چې دغه څلور واړه پوښتنې ځواب شي نو د قانون د تطبیق عنوان به تکمیل شي.

چې د ښه پوهېدو لپاره د هرې پوښتنې لپاره جلا جلا ځواب ویل شوی دی.

## د قانون تطبیق د مکان له حیثه:

د لومړۍ پوښتنې ځواب له دې پوښتنې څخه هدف دا و چې قانون په کومه ساحه باندې تطبیق کېږي، چې د ښه پوهېدو لپاره لومړی د قلمرو پرنسیپ او په دویم قدم کې د قانون د تطبیق په اړه چې کوم استثنات شته مطالعه کوو.

## لومړی -پرنسیپ:

د یو دولت قانون یواځې او یواځې د همدې دولت د قلمرو په داخل کې تطبیق کېږي او یا په بل عبارت قانون په هغه موضوعاتو او مسایلو باندې تطبیقېږي چې د همدې دولت د قلمرو په داخل کې واقع شوي وي.

اوس دلته یوه بله پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د یو دولت قلمرو کوم دی، یا دا چې د یو دولت قلمرو کومې ساحې دي؟

د یو دولت قلمرو له ټولو هغو ساحو څخه عبارت دي چې د دغه دولت د ملي حاکمیت لاندې وي، چې د دغه قدرت او نفوذ لاندې ساحې په بري او بحري هېوادونو کې فرق کوي چې موږ یې دواړه جلا جلا تر مطالعې لاندې نیولي دي.

بري دولتونه: بري دولتونه له هغې دولتونو څخه عبارت دي چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو خواوو ته يې وچه وي او هيڅ يوې خوا ته يې بحر موجود نه وي او قلمرو يې له نورو دولتونو څخه د ځينو خاصو وسايلو په ذريعه جلا شوي وي، لکه غرونه، سيندونه، رودونه، ديوالونه او نور، چې د دغه موجوده ساحې تحت الارض په مخروطي شکل او فضا په مستطيلي شکل د نوموړي دولت قلمرو ګڼل کېږي.

اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي چې د يو دولت داخلي او بين المللي فضا څه ته وايي؟

### د دولت داخلي فضا:

داخلي فضا له هغې فضا څخه عبارت ده چې د همدغه دولت عادي الوتکې د عادي مقاصدو لپاره پکې پرواز کولای شي.

### بين المللي فضا:

دا عبارت له هغې فضا څخه ده چې ټول دولتونه يې په عادي ډول د سوله ييزو مسايلو لپاره استعمالولی شي.

### بحري هېوادونه:

بحري هېوادونه هغه دي چې، لږ ترلږه يو طرف ته يې بحر موجود وي د بحري هېوادونو قلمرو له ځمکې، د ځمکې لاندينۍ برخې، فضا او له ساحلي اوبو څخه عبارت دي.

اوس پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې ساحلي اوبه کومې دي؟

ساحلي اوبه: د بحر هغه برخه چې د يو دولت سره تر يوې اندازې پورې نښتې وي، د ساحلي اوبو په نوم يادېږي.

اوس يوه بله پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د ساحلي اوبو اندازه څرنګه ټاکل کېږي؟

په پخوا وختونو کې د ساحلي اوبو اندازه به د توپ د ګلولې په واسطه ټاکل کېده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يانې د همدغه دولت له ساحل څخه به يې د توپ ګلوله فير کوله او تر کومه ځايه به چې ورسېده همغه ځای به يې ساحلې اوبه ګڼل کېدې نو موړې ساحلي اوبه به د ياد دولت تر حاکميت لاندې وې او د همدې دولت قلمرو ګڼل کېده.

پاتې نورې اوبه به د بين المللي اوبو په نوم يادېدې ددې طريقې منطق په دې کې و چې د هر دولت د توپ مرمی به چې تر کومه ځايه پورې رسيده، نو ددې مانا دا وه چې تر همدې ځايه پورې ساحه يې تر کنترول لاندې ده.

ولې نن ورځ له دغې طريقې څخه استفاده نه کېږي او ساحلي اوبه د بين المللي معاهداتو په اساس ټاکل کېږي، اوس وخت کې د دغې ساحلې اوبو اندازه (۱۲) بحري ميله ده چې يو بحري ميل (۱۸۵۲) متره کېږي.

دلته د يوې خبرې يادونه ضروري ګڼل شوې ده، چې الوتکې او بحري بيړۍ په هر ځای کې چې وي د هغه دولت قلمرو ګڼل کېږي چې د هغه دولت بيرغ او نښه پرې کارل شوي وي، يا بيرغ پرې نصب شوی وي، ددې خبرې مانا دا ده چې پدغه الوتکه يا کښتۍ کې که په هر ځای کې جرم واقع شي خپل مربوطه دولت ورته رسيدګي کوي او مجرمين محاکمه او مجازات کوي.

## دويم-استثنات:

د پرنسيپ له مخې قانون په هغه قلمرو باندې تطبيق کېږي چې په کوم قلمرو کې جوړ شوی وي، اما د حقوقو دغه پرنسيپ لکه د نورو حقوقي پرنسيپونو په څېر استثنات هم لري او ددې استثناتو مانا دا ده چې کله کله داسې واقع کېږي چې د A دولت قوانين د Bدولت په قلمرو کې تطبيق شي او يا ددې برعکس د B دولت قوانين د A په دولت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطبيق کېږي، چې د ښه پوهېدو لپاره لومړی د A د ولت د قوانينو تطبيق د B په هېواد کې او بيا د B دولت د قوانينو تطبيق د A په دولت کې مطالعه کوو.

## د A دولت د قوانينو تطبيق د B دولت په قلمرو کې:

په لاندې څلورو حالاتو کې د A دولت قوانين د A دولت له قلمرو څخه دباندې يا د B دولت په قلمرو کې قابل د تطبيق دي.

۱- د A دولت جعلي بانک نوټونه يا پولي واحدونه د B په دولت کې جوړېږي، نو په دې صورت کې د B دولت د قوانينو تر څنګ د A دولت هم حق لري چې دغه پېښې ته رسيده ګي وکړي او خپل قوانين پرې تطبيق کړي

۲- د A دولت د ډيپلومات د B په دولت کې جرم کوي، په دې پېښه کې هم د B دولت قوانين نه تطبيق کېږي او نوموړی شخص د A د دولت د قوانينو په اساس محاکمه او مجازات کېږي

۳- د A دولت اتباع د B په دولت کې اقامت لري، په دې صورت کې د A دولت د اتباعو د شخصي احوالو پورې مربوط ټول مسايل د A دولت د قانون په اساس حل او فصل کېږي، لکه نکاح، طلاق او داسې نور.

۴- د A دولت اتباع د B په دولت کې استوګن دي نو د A دولت د اتباعو ديني او مذهبي مسايل د A د دولت د قانون په اساس حل او فصل کېږي، نه د B د دولت د قوانينو په اساس

## د B دولت قوانينو تطبيق د A دولت په قلمرو کې:

دا هم پورته څلور حالت دي البته برعکس

## *د قانون تطبيق د زمان له حيثه:*

د قانون تطبيق د زمان له حيثه لاندې ماناوې لري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



- قانون له کوم وخت څخه تر کوم وخت پورې تطبیق کېږي؟
- قانون په کومو واقعاتو باندې تطبیق کېږي؟ په ما قبل پېښو باندې که په مابعد پېښو باندې؟
- قانون له کوم وخت څخه تر کوم وخت پورې قابل د تطبیق دی؟

معمولاً دوه ډوله قوانین یا احکام وجود لري، یو شرعي احکام یا قوانین او بل وضعي احکام یا قوانین دي: هغه چې شرعي احکام دي یا دا چې د اسلامي شریعت احکام دي د هغې په هکله باید دا خبره وکړو چې حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم اخرنی پېغمبر دی او له دې څخه وروسته بل پېغمبر نه راځي، که اخر وخت کې حضرت عیسي ع راځي هغه به هم د همدې دین پیروي کوي، نو ځکه وایو چې د اسلامي شریعت احکام تر څو پورې چې دا دنیا اباده وي قابل د تطبیق دي او کوم تغییر به پکې نه راځي.

له بلې خوا، وضعي قوانین هغه قوانینو ته وایي، چې د ټولنیز ژوند د تنظیم لپاره د انسانانو له خوا جوړېږي.

وضعي قوانین د دایمي او ابدي قوانینو خصوصیت نه لري،دا مانا چې د وخت او زمان، په تېرېدو او د سیاسي قدرت په تغییر سره تغییر کوي، نو هر وخت چې نوي قوانین وضع شي پخواني قوانین خپل حقوقي اعتبار د لاسه ورکوي او هغه بیا قابل د تطبیق نه دی، لکه: د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون(۱۲۲ )ماده داسې صراحت لري ((ټول هغه قوانین چې ددې اساسي قانون سره مغایرت لري هغه لغوه دي )) په دې مانا چې نور د هغې قوانینو په اساس حکم نه کېږي، یا دا چې هغه قوانین قابل د تطبیق نه دي.

له پورته توضېحاتو څخه دې نتیجې ته رسېږو چې د وضعي قوانینو د تطبیق وخت له انفاذ څخه شروع تر الغاء پورې دی.

- قانون په کومو پېښو باندې قابل د تطبیق دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه په لنډ ډول وايو چې قانون د تطبيق نه تر الغاء پورې په ټولو هغو واقعاتو او پېښو باندې تطبيق کېږي چې د قانون له تطبيق څخه وروسته واقع شوي وي.

اما کله کله داسې واقع کېږي چې د قانون له انفاذ څخه په مخکنيو پېښو باندې هم تطبيق شي، چې د همدې وجې د قانون د تطبيق موضوع په هکله دوه سرليکيونه مطالعه کو يو پرنسيپ او بل استثنات چې د بنه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

## ۱- پرنسيپ:

په حقوقو کې يو پرنسيپ قبول شوی او هغه دا چې د جرايمو او جزا ګانو د مشروعيت پرنسيپ دی، يانې چې بې له قانون څخه نه جرم شته او نه مجازات، په دې مانا چې لومړی بايد قانون وضع شي او له هغې څخه وروسته خلکو ته جزا ورکول شي.

چې همدغه مطلب الله تبارک و تعالی د سورت الانفال په (۱۳۱) ګڼه ايت کې داسې روښانه کړی دی:

ذٰلِكَ أَن لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا غَافِلُونَ ۱۳۱ـــ

ژباړه: دا ددې لپاره چې نه دی ستا رب هلاک کوونکی د کليو (بانډو) په نسبت د ظلم کولو د هغوی او اوسېدونکي د هغوی بې خبره دي.

(۲۹۲ مخ، احسن الکلام ۴ جلد).

ددې مانا داوه چې ترڅو پورې رسول نه وي راغلی له هغې څخه مخکې چا ته هم جزا نه ورکوي يانې اول بايد قانون وضع شي او وروسته تطبيق شي په دې اړه قرآن کريم په ډېرو ځايونو کې هدايات فرمايلي دي، بل دا چې دا موضوع دومره اهمه او ضروري ده چې د هر دولت په اساسي قانون کې ذکر شوې ده، لکه د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال د اساسي قانون (۲۷) ماده:

((هېڅ يو عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغې قانون له مخې چې د جرم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارتکاب تر مخه نافذ شوی وي هېڅ ته جزا نه شي ورکول کېدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغې قانون د احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي)) همدارنګه د جزا ګانو او نورو شکلي قوانینو کې هم دا موضوع صراحت لري.

د پورته د لایلو په اساس دا حکم کوو چې د پرنسیپ له مخې قانون په هغو پېښو باندې تطبیق کېږي، چې د قانون له انفاذ څخه وروسته واقع شوی وي او په پخوانیو پېښو باندې نه تطبیق کېږي او دا ځکه چې د عدالت غوښتنه همدا ده چې لومړی باید خلکو ته حرام او حلال بیان شي او له هغې څخه وروسته بیا (د سرغړونې په صورت کې) مجازات شي نور دلایل یې په لاندې ډول دي:

د مفیده اعمالو د اجرا د مخنیوي له حیثه: د محاکمو د پرېکړو د ثبات له حیثه، د سلیم عقل د غوښتنې له حیثه، د جرم د تعریف له حیثه، د شخصي اعراضو له حیثه او همدارنګه د افرادو د حقوقو او ازادیو له حیثه *(حقوق جزا عمومي، ۱ جلد، ۷۲_۸۱)*

ددې پرنسیپ تر څنګ ځینې استثنات هم شته، په دې مانا چې کله، کله قانون ما قبل ته رجعت کوي او په هغه واقعاتو باندې تطبیق کېږي، چې د قانون له انفاذ څخه مخکې واقع شوي دي، موږ دغه موضوع د استثناتو تر عنوان لاندې مطالعه کوو.

## ۲-استثنات:

سره ددې چې ما قبل ته د قوانینو د عدم رجعت موضوع ډېره مهمه او با ارزښته موضوع ده، اما ددې تر څنګ استثنات هم شته دي چې مهم یې په لاندې ډول دي

### الف_ د قانون پېش بیني

ځینې وختونو کې خپله په قانون کې دا صراحت موجود وي چې، دا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون ما قبل ته رجعت کوي، په دې مانا کله چې قانون تصویبېږي، خپله د مقنن لخوا ددې پېش بیني کېږي چې دا قانون د یو کال یا شپږو میاشتو مخکې واقعاتو باندې هم تطبیقېږي

په قانون کې دا رنګه پېش بیني د بحث وړ یوه موضوع ده، ولې په دې ځای کې ترېنه صرف نظر شوی دی.

د قانون د پېش بینی مثال: د ۱۳۹۲ کال د حمل د میاشتې په اول تاریخ باندې قانون نافذ شي خو په دې قانون کې لیکلي وي چې په یو کال مخکیني موضوعاتو هم تطبیق کېږي، لکه: مالیه ۲٪ فیصده زیاته شوه او حکم کوي چې د ۱۳۹۱ ه ش کال هم زیاته شوې ده.

## ب_ تفسیري قوانین

کله چې قانون د تطبیق په ساحه کې ځینې مشکلات ولري او هغه دا چې یا په الفاظو کې مغلقیت او پېچیده ګي وي او یا دا چې په قانون کې خلا او تشه شتون لري، نو په دې صورت کې مقنن یا قضات دغه مغلقیت روښانه کوي، یا دا چې د قانون خلا ډکوي چې دا عبارت د قانون له تفسیر څخه دی چې په راتلونکې درس کې به انشا الله شروع شي.

دغه تفسیري قوانین لیدل کېږي چې له پېښې څخه وروسته منځ ته راغلي، ولې بیا هم په مخکینو واقعاتو باندې تطبیق کېږي، ددې خبرې منطق په دې کې دی چې د وهم قانون چې اوس د تفسیر په اساس منځته راغلی کوم خاص احکام نه لري، بلکې هغه پخوانی قانون یې تفسیر کړی دی او نوی تفسیر شوی قانون د پخواني قانون تابع دي نو په همدې اساس تفسیري قانون د هغه تاریخ نه چې پخوانی قانون نافذ شوی وي، د تطبیق وړ ګڼل کېږي او په همدې اساس ما قبل ته رجعت کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج- شکلي قوانین

له دې نګاه څخه چې یو قانون د موضوع ماهیت بیانوي او که د یوې موضوع شکیلات ترتیب او تنظیموي، ټول قوانین په دوه برخو باندې وېشل شوي دي، ماهوي یا متني قوانین او شکلي قوانین، هر یو یې جلا جلا تعریف وو.

### - ماهوي یا متني قوانین:

له هغه قوانینو څخه عبارت دي چې د یوې موضوع له متن او محتوی څخه بحث کوي

د مثال په ډول: جرایم او جزا ګانې، په متني او ماهوي قوانینو کې پرنسیپ دا دی چې ما قبل ته رجعت نه کوي اما استثناً په ځینو وختونو کې رجعت کوي چې مخکې بیان شول.

### - شکلي قوانین

له هغو قوانینو څخه عبارت دي چې د یوې موضوع له متن او محتوی څخه بحث نه کوي، بلکې یوائې د یوې موضوع شکلیات ترتیب او تنظیموي او د رسیده ګی لپاره یې طرز العملونه تشریح کوي.

لکه: اصول محاکمات جزایي

اصول محاکمات مدني

اصول محاکمات تجارتي

اصول محاکمات اداري

چې اداري محاکمات په افغانستان کې تر اوسه وجود نه لري، شکلي قوانین د ماهوي قوانینو برعکس هغه قوانین دي چې د پرنسیپ په لحاظ ما قبل ته رجعت کوي او استثنا که چېرې ضرر تر پېنه رسېږي بیا ما قبل ته رجعت نه کوي.

اوس دلته یوه پوښتنه پیدا کېږي، چې د شکلي قوانینو او متني یا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهوي قوانينو تر منځ کوم توپير شتون لري؟

(د شکلي او متني قوانينو تر منځ لاندې توپيرونه شتون لري)

۱- متني قوانين جرايم، مجرمين او جزاګانې تشريح کوي، پداسې حال کې چې شکلي قوانين د جزايي اجرااتو قانون تشريح کوي.

۲- متني او ماهوي قانون د مدني قانون، مدني تخلفاتو او مسوولیتونو څخه بحث کوي، پداسې حال کې چې شکلي قوانين اصول محاکمات تشريح کوي، مدني دعواوو ته د رسيده ګي طرز العمل تشريح کوي.

۳- متني او ماهوي قوانين د تجارت اصولنامه او تجارتي معاملې تشريح کوي پداسې حال کې چې شکلي قوانين اصول محاکمات، تجارتي او تجارتي دعواوو لپاره د رسيده ګۍ طرز العمل تشريح کوي.

## د- د امنيتي تدابيرو پورې مربوط قوانين

په پخوا وختونو کې په مجرمينو باندې يواځې او يواځې جزاګانې تطبيق کېدې او دا ځکه چې په پخوانيو قوانينو کې يواځې جزاګانې پېش بيني شوې وې، ولې نن ورځ د مجرمينو د ښې اصلاح، تربيې او معالجې لپاره په مجرمينو باندې يواځې جزاګانې نه تطبيق کېږي، بلکې جزايي مؤيدات او يا تولنيز عکس العملونه هم تطبيق کېږي چې د امنيتي تدابيرو په نامه يادېږي او دا ځکه چې نن ورځ قوانينو د جزا ګانو تر څنګ امنيتي تدابير هم پېش بيني کړي دي.

اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې امنيتي تدبير جزا ده او که نه؟

امنيتي تدابير په حقيقت کې د مجرمينو د تعذيب، اذيت او زجر لپاره نه تطبيق کېږي، بلکې د مجرمينو د اصلاح، تربيې او يا دا چې که چېرې امراض يا اعتياد ولري، نو په دې صورت کې د معالجې او درمان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره تطبیق کېږي، د تطبیق د ساحې او د هغې د شرایطو په نظر کې نېولو سره امنیتي تدابیر په دوه برخو وېشل شوي دي

۱- هغه امنیتي تدابیر چې د جزا ګانو سره ډېر شباهت لري، لکه له قانون څخه د سرغړونکو اطفالو په اړه چې محمکه حکم وکړي او د حکم له نهایت څخه وروسته د ماشومانو د اصلاح او تربیې په مرکز کې د حجز لاندې وي او د حجز موده تقریبا د جزا سره ډېر شباهت لري

۲- هغه امنیتي تدابیر دي چې د جزا ګانو سره ډېر ورته والی (شباهت) نه لري او یوازې اصلاحي او معالجوي جنبه لري، لکه د مخدره موادو معتادینو باندې په روغتونو او صحې مراکزو کې د اعتیاد ضد رژیم تطبیقوي او داسې نور.

په دغه پورته دواړو ډولونو کې ما قبل ته د عدم رجعت موضوع فرق کوي په اول ډول امنیتي تدابیرو کې چې د جزا ګانو سره شباهت لري، ما قبل ته رجعت نه کېږي او هر هغه چې د دویم قسم پورې تړاو لري، یانې د جزا ګانو سره شباهت نه لري، نو په دې صورت کې ما قبل ته رجعت کوي، یانې په هغه جرایمو او له قانون څخه په سرغړاوي باندې تطبیق کېږي چې د قانون له انفاذ څخه مخکې واقع شوي وي

*هـ نرم قوانین*

که چېرې نوي قوانین نظر پخوانیو قوانینو ته نرم وي او د متهم په ګټه وي، نو په دې صورت کې استثناً قوانین ما قبل ته رجعت کوي او په هغو پېښو باندې هم تطبیقېږي، چې د نوي قانون له انفاذ څخه پخوا واقع شوي وي

د لاډېرو معلوماتو لپاره د عمومي حقوق جزا اول جلد ته کوم چې دوکتور حفیظ الله دانش تالیف کړی مراجعه وکړي *(دانش، ۲ جلد، ۷۵_۸۸)*

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قانون تطبيق د اشخاصو له حيثه

د قانون له خصوصياتو څخه يو ډېر اهم خصوصيت دا هم دی، چې په ټولو خلکو يو شان تطبيق او ټول انسانان د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري، ان تر دې چې نارينه او ښځينه د قانون په وړاندې برابر دي، د دې لپاره چې په اشخاصو د قانون د تطبيق په اړه ښه پوه شو، نو په لومړي قدم کې د قانون تطبيق پر اشخاصو د پرنسيپ له حيثه او په دويم قدم کې د قانون په تطبيق کې موجوده استثنات تر مطالعې لاندې نيسو.

### ۱- پرنسيپ:

د پرنسيپ له لحاظه ټول انسانان د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري، همدارنګه قانون په ټولو انسانانو باندې په مساوي ډول بې له کوم امتياز او تفکيک څخه تطبيقېږي، په همدې ترتيب په قانون کې دا نشته چې د ټولنې يوه طبقه انسانان دې، په بلې طبقې د انسانانو باندې امتياز او ځانګړتيا ولري، چې دغه موضوع د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۱۳۸۲ه ش کال اساسي قانون په ۲۲ ماده کې په لاندې ډول صراحت لري

((د افغانستان د اتباعو تر منځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی، د افغانستان اتباع ښځې او نارينه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري))

دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې ټول هغه انسانان چې په افغانستان کې ژوند کوي، په هغوی باندې د افغانستان قانون تطبيق کېږي، ايا خارجيان هم په دې حکم کې شامل دي؟

ځواب: هر څوک چې په افغانستان کې ژوند کوي، دا چې د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د دولت اتباع دي او که د خارجي دولتونو اتباع ټول په دې باندې مکلف دي چې د قانون اطاعت وکړي او ماليه ورکړي، چې په دې اړه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون (۵۶) ماده په دې ډول صراحت لري

((د اساسي قانون د حکمونو پيروي، د قوانينو اطاعت او د عامه نظم او امنيت رعايت د افغانستان د ټولو خلکو وجيبه ده، له قانون څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي))

په همدې ډول د اساسي قانون (۵۷) ماده دا ډول صراحت لري

((دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او آزادي له قانون سره سم تنظيموي، دا کسان د بين المللي حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانينو په رعايت مکلف دي))

همدارنګه د اساسي قانون په (۴۲) ماده کې د ماليې په اړه داسې صراحت موجود دی چې ((هر افغان مکلف دی، له قانون سره سم دولت ته ماليه او محصول ورکړي)) هېڅ راز ماليه او محصول د قانون له حکمه پرته نه وضع کېږي، د ماليې او محصول اندازه او د ورکړې ډول يې د ټولنيز عدالت په رعايت د قانون په وسيله ښوول کېږي(( دا حکم د بهرنيو کسانو او مؤسسو په برخه کې هم تطبيق کېږي)).

د اساسي قانون له پورته ذکر شوو قانوني احکامو څخه دا په صراحت سره معلومېږي چې ټول هغه انسانان چې د يو دولت د قلمرو په داخل کې ژوند کوي، د قانون په وړاندې په دې مکلف دي چې اطاعت يې وکړي او د عدم اطاعت په صورت کې مجازات ورکول کېږي او قانون پرې تطبيق کېږي.

البته دا دې خبرې ياد ونه بايد وکړو چې د قانون تطبيق کاملاً مطلق او ګلي نه دی چې هېڅ قسم عذر او استثنات يې نه دي قبول کړي، بلکې داسې اشخاص هم شته چې د قانون د تطبيق په برخه کې ځينې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



استثنات د هغوی لپاره په نظر کې نیول شوي، چې هم په داخلي برخه کې او هم په خارجي برخه کې تطبیق کېږي چې هغه عبارت دي په ملي سطحه کې استثنات او په بین المللي سطحه کې استثنات.

الف- په ملي سطحه د قانون د تطبیق استثنات.

ب- په بین المللي سطحه د قانون د تطبیق استثنات.

چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

## الف_ په ملي سطحه د قانون د تطبیق استثنات.

په ملي حقوقو کې د قانون تطبیق د اشخاصو له حیثه د پرنسیپ تر څنګ یو سلسله استثنات شته کوم چې عبارت دي له: رئیس جمهور، د ملي شورا وکیلان، د سترې محکمې غړي، البته ددې خبرې یادونه باید وکړو چې د اشخاصو له حیثه د قانون د تطبیق له مخې کوم استثنات موجود دي هغه په شکلي قانون کې لیدل کېږي، یانې جرایمو ته د رسیده ګۍ په پروسیجر کې ځینې استثنات قبول شوي دي، په متني قوانینو کې کوم استثنات نه لیدل کېږي، د مثال په ډول که رئیس جمهور، د ملي شورا وکیلان یا د سترې محکمې غړي قاضیان د کوم جرمي عمل مرتکب شي، نو د متن او محتوی له حیثه ددې شخص عمل لکه دیو عادي انسان په څېر جرم ګڼل کېږي لکه غلا کول، قتل کول او داسې نور، استثنات یوازې په دې برخه کې دي چې د عادي اشخاصو په مقابل کې چې پولیس، څارنوالان یا قضات څرنګه اجراات کوي یا دا چې د کوم پروسیجر له مخې جرم ته رسیده ګي کوي د رئیس جمهور په مقابل کې دا پروسیجر توپیر لري، چې په لاندې ډول روښانه شوی دی.

### - رئیس جمهور:

رئیس جمهور لکه د عادي اشخاصو په څېر نه محاکمه او نه مجازات کېږي او په دې اړه ځینې خاص استثنایي حالات په نظر کې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیول شوي دي او هغه داسې چې لومړی باید رئیس جمهور له وظیفې څخه عزل شي او له هغې څخه وروسته د یوې خاصې محکمې په اساس محاکمه او مجازات شي د موضوع د ښه وضاحت لپاره د اساسي قانون اړوند احکام دلته ذکر شوي دي

۶۹ ماده: جمهور رئیس د ملت او ولسي جرګې په وړاندې ددې مادې د احکامو مطابق مسؤل دی.

پر جمهور رئیس د بشري ضد جرمونو، ملي خیانت یا جنایت د ارتکاب تور لګول د ولسي جرګې د ټولو غړیو د درییمې برخې له خوا غوښتل کېدای شي، که چېرې دا غوښتنه د ولسي جرګې د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو له خوا تائید شي، ولسي جرګه د یوې میاشتې په دننه کې لویه جرګه دایروي

که لویه جرګه منسوب شوی اتهام د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو په اکثریت تصویب کړي، جمهور رئیس له وظیفې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محکمې ته سپارل کېږي، چې دا ځانګړې محکمه د ولسي جرګې د دریو غړو، د سترې محکمې له دریو غړو او د مشرانو جرګې له رئیس څخه جوړېږي، دعوه د هغه شخص له خوا چې د لوئې جرګې له خوا ټاکل کېږي، اقامه کېږي

په دې حالت کې ددې اساسي قانون په (اوه شپیتمه) ماده کې راغلي حکمونه تطبیق کېږي

د اساسي قانون د احکامو مانا او مفهوم دا دی چې کله هم دولسي جرګې او مشرانو جرګې له خوا د رئیس جمهور جرم تایید شي نو د (۲۷) مادې حکم مطابق له وظیفې څخه عزل کېږي او هر وخت چې رئیس جمهور له ریاست جمهوري څخه لرې شي نو له هغه څخه وروسته د ځانګړې محمکې په اساس محاکمه کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ملي شورا غړي:

د ملي شورا غړي که چېرې د کوم جرم مرتکب شي نو دوی هم د عادي اشخاصو په څېر نه محاکمه کېږي، چې له دې څخه هم په اساسي قانون کې یادونه شوې ده، چې دغه عمل ته پارلماني مصؤنیت هم ویل کېږي

د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون په دې اړه په (۱۰۲) ماده کې داسې صراحت لري:

**۱۰۲ ماده:** که د ملي شورا غړي په یو جرم متهم شي، مسؤل مامور له موضوع څخه هغې جرګې ته چې متهم یې غړی دی خبر ورکوي او متهم د عدلي تعقیب لاندې راتلای شي، د مشهود جرم په مورد کې مسؤل مامور کولای شي متهم د هغې جرګې له اجازې پرته چې دا یې غړی دی، تر عدلي تعقیب لاندې راولي او ویې نیسي، په دواړو حالتونو کې که عدلي تعقیب د قانون له مخې د توقیف ایجاب وکړي، مسؤل مامور مکلف دی چې له موضوع څخه یې له ځنډه نوموړې جرګې ته خبر ورکړي او تصویب یې تر لاسه کړي

که اتهام د ملي شورا د رخصتۍ په وخت کې رامنځته شي، د نیولو او توقیف اجازه د مربوطې جرګې له اداري هئیت څخه تر لاسه کېږي او موضوع د نوموړې جرګې لومړۍ غونډې ته د تصمیم نیولو لپاره وړاندې کېږي

همدرانګه په (۱۰۱) ماده کې هم د ملي شورا د غړو مصؤنیت ته اشاره شوې ده.

د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون (۱۰۱) ماده داسې صراحت لري

**۱۰۱ ماده:** د ملي شورا هر غړی د هغې رایې یا نظریې له امله چې د وظیفې د اجراتو وخت کې یې څرګندوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیول کېږي

همدارنګه د لويې جرګې غړی هم د لويې جرګې د جريان په وخت کې له نوموړې مصئونیت څخه برخمن دي، چې په دې اړه د همدې اساسي قانون ۱۱۵ ماده صراحت لري

**۱۱۵ ماده:** د لويې جرګې د جريان په وخت کې د دې اساسي قانون د يو سلو يوومې او د يو سلو دويمې مادې مندرج احکام د لويې جرګې د غړو په باب تطبيق کېږي

- **د کابینې اعضاء:**

که چېرې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابینې اعضاء (وزیران) د يو جرم مرتکب شي دوی هم لکه د نورو عادي اشخاصو په څېر نه محاکمه کېږي، بلکې د دوی لپاره هم ځانګړې محکمه دايرېږي او په هغې کې يې محاکمه صورت نيسي، چې دا موضوع د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال په اساسي قانون کې روښانه شوې ده.

د افغانستان ۱۳۸۲ ه ش کال د اساسي قانون اته اويايمه ماده داسې صراحت لري

**۷۸ ماده:** که چېرې وزير په بشري ضد جرمونو، ملي خيانت او يا په نورو جرمونو متهم شي، موضوع د دې اساسي قانون د يو سلو څلور ديرشمې مادې په رعايت ځانګړې محکمې ته سپارل کېږي

- **د سترې محکمې غړي:**

که چېرې د سترې محکمې کوم غړی د يو جرمي عمل مرتکب شي نو په دې صورت کې د يو ځانګړي طرز العمل په اساس لومړی له وظيفې څخه عزل او له هغې څخه وروسته د يوې ځانګړې محکمې په اساس محاکمه کېږي، چې دا هم د اساسي قانون په اساس روښانه شوې دي

د افغانستان اسلامي جمهوريت د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضیانو د محاکمې په اړه احکام لري چې همدغه احکام د قضاتو د مصئونیت په نامه هم یادېږي

د افغانستان اساسي قانون یو سلو اوه ویشتمه ماده داسې صراحت لري

**۱۲۷ ماده:** که چېرې د ولسي جرګې تر درېیمې برخې زیات غړي، د سترې محکمې د رئیس یا غړیو محاکمه د وظیفوي جرم، یا د جنایت د ارتکاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرګه دا غوښتنه د ټولو غړیو له دریو برخو څخه د دوو برخو په اکثریت تصویب کړي، متهم له وظیفې څخه عزل او موضوع خاصې محکمې ته سپارل کېږي

د محکمې او د محاکمې طرز العمل د قانون په اساس تنظیمېږي چې په دې ځای کې یې له تشریح څخه تېرېږو.

## ب ـ په بین المللي سطحه د اشخاصو له حیثه د قانون په تطبیق کې استثنات:

په بین المللي حقوقو کې هم د پرنسیپ تر څنګ ځینې استثنات موجود دي، چې هغه استثنات موږ په دوه ساحو کې لیدلای شو.

د سیاسي نمایندګیو له حیثه او د نظامي اشخاصو له حیثه، چې هر یو جلا جلا روښانه شوي دي

### - د سیاسي نمایندګیو له حیثه:

که چېرته سیاسي نمایندګان (د ډیپلوماتان، سفیران) او د هغوی د پر نژدې خپلوان (کورني غړي) که په کوربه هېواد کې د جرم مرتکب شي نو په دې صورت کې نوموړي اشخاص پدغه کوربه هېواد کې نه محاکمه او مجازات کېږي، بلکې د محاکمې او مجازاتو لپاره خپل متبوع هېواد ته استول کېږي، چې دا یو استثنایي حالت قبول شوی دی، د دې تر څنګ ځینې نور امتیازات هم ورکول شوي چې نور خلک

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا له دغه امتیاز څخه برخمن نه دي.

د مثال په ډول: دیپلوماتان له تالاشۍ او کنترول څخه مصئون دي او هغه داسې چې د یپلوماتان په هوایي میدانونو او بندرونو کې په دقیق ډول نه تالاشي کېږي، د خارجي نماینده ګانو (دپلوماتانو) خپلوان او مالونه هم نه تالاشي کېږي، دویم دا چې له دغه سیاسي نماینده ګانو څخه مالیه، محصول او ټکس هم نه اخیستل کېږي.

په دې ځای کې لیدل کېږي چې قانون یو شان نه تطبیقېږي او دا ځکه چې ټول خارجیان په کوربه هېواد کې چې د کوم جرمي عمل مرتکب شي په همغه هېواد کې محاکمه او مجازات کېږي، اما سیاسي نماینده ددې نه استثنا دي.

- *د نظامي اشخاصو له حیثه:*

څرنګه چې په بین المللي حقوقو کې د سیاسي نماینده ګانو په اړه استثنات قبول شوي، د نظامي اشخاصو په اړه هم دغه استثنات قبول شوي دي او هغه دا چې د یو دولت نظامي اشخاص په بل ملک کې محاکمه او مجازات کېږي نه، بلکې د جرم د ارتکاب په صورت کې خپل متبوع هېواد کې محاکمه او مجازات کېږي. اوس دلته یو پوښتنه مطرح کېږي، هغه دا چې له نظامي اشخاصو څخه هدف کوم اشخاص دي؟

له نظامي اشخاصو څخه هدف: د حربي پوهنتون استادان یا نظامي صاحب منصبان دي، چې د کوربه هېواد د نظامیانو د روزنې لپاره راغوښتل شوي وي، یا په خلص ډول باید ووایو چې ټول هغه نظامي اشخاص چې په رسمي ډول په بل دولت کې دنده تر سره کوي.

اوس دلته یوه بله پوښتنه هم مطرح کېږي او هغه دا چې؛

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ملي او بين المللي حقوقو کې د اشخاصو له حيثه د قانون په تطبيق کې استثنات څه توپير لري؟

دا چې په ملي او بين المللي حقوقو کې استثنات شتون لري، خو دا مصؤنيت يا استثنات يو د بل سره په لاندې تکي کې فرق لري

په ملي حقوقو کې يواځې همغه شخص چې قانون پيش بيني کړې دی، مصؤنيت لري، د هغه د کورنۍ غړي، وکيل يا وزير که د جرمي عمل مرتکب شي نو يواځې همدغه شخص مصئونيت لري، نه د هغه کورنۍ، اما په بين المللي حقوقو کې د سياسي نماينده ګانو او نظامي اشخاصو تر څنګ د هغوی لمړی درجه خپلوان لکه: ښځه، اولادونه، والدين او نور نژدې عقارب، هم مصئونيت لري، که چېرې د يو نظامي يا ديپلومات خپلوان هم په کوم کوربه هېواد کې جرم وکړي، د محاکمې او مجازاتو لپاره خپل متبوع هېواد ته استول کېږي

دلته يوه بله پوښتنه هم مطرح کېږي او هغه دا چې؛

## په ملي او بين المللي حقوقو کې دغه مصؤنيت ولې قبول شوی دی، حکمت يې څه دی؟

د لاندې دوه دلايلو په اساس دغه مصئونيتونه قبول شوي دي

۱- ددې لپاره چې ټول ورسپارل شوي وظايف په ډېر جرات سره اجرا کړي او له هيڅ چا څخه وېره او خطر و نه لري

۲- که چېرې د دولتونو تر منځ روابط خراب وي، نو په دې صورت کې کېدای شي د هغه د سياسي نماينده لپاره په همغه دولت کې خراب حالات په نظر کې ونيول شي.

ددې بحث لنډيز دا شو چې کله هم قانون له توشيح څخه وروسته په رسمي جريده کې نشر شي او د انفاذ وخت يې شروع شي، نو له همدغه وخت څخه وروسته په همدې ډول، د ټول قلمرو په ټولو داخلي او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خارجي اشخاصو تطبيق شي، البته په هغو پېښو باندې تطبيق شي چې د قانون له انفاذ څخه وروسته واقع شوي وي او له استثنايي حالاتو څخه پرته په نورو ټولو حالاتو کې يو شان تطبيق کېږي.

## نهم جز-د قانون تفسير:

د قوانينو او مقرراتو ايجاد د قانون جوړونکو ارګانونو کار دی، اما حقوقي قاعدې عملاً د هغه د تطبيق د ډول په وسيله اهميت پيدا کوي او هغه داسې چې هر وخت قضات او محاکم غواړي چې قانون تطبيق کړي.

کله کله داسې واقع کېږي، چې د قانون په تطبيق کې مشکلات رامينځته کېږي، په دې ډول چې يا به د دغه موضوع او پېښې په اړه هېڅ ډول د حل لاره نه وي پېش بيني شوې او يا دا چې که پېش بيني شوې هم وي په هغه کې به پېچيده ګۍ او مغلقيت موجود وي. د دې لپاره چې قضات او محاکم وکولای شي قانون تطبيق او اجرا کړي، نو د قانون د تفسير يو طرز العمل ته ضرورت لري د روم جرمن حقوقي سيستم لرونکو مختلفو هېوادونو کې مختلف طرز العملونه ټاکل شوي چې ډېر مهم او عمده ډولونه يې له محدود او آزاد تفسير څخه عبارت دي.

همدارنګه په مختلفو هېوادونو کې مختلف مراجع وجود لري، چې هغوی ته د قانون د تفسير صلاحيت ورکول شوی دی.

همدارنګه مختلفو دولتونو کې علماوو، جلا جلا نظريات ورکړي دي، لکه په المان کې د (Lering) او (Heck) نظريات د مفيد تفسير په نامه او په فرانسه کې د (Genny) معتدل نظريات وجود لري.

د پورته توضيحاتو په نظر کې نيولو سره بهتره به وي چې لاندې سرليک مطالعه کړو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قانون د تفسیر پېژندنه، د قانون د تفسیر ذیصلاح مراجع د قانون د تفسیر ډولونه او په نورو هېوادونو کې د قانون تفسیر چې د ښه پېژندو لپاره هر یو، جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

## د قانون د تفسیر پېژندنه:

هر وخت چې د مقننه قوې له خوا قانون وضع کېږي، ددې لپاره چې د قانون د تطبیق په وخت کې د خلا، مغلقیت او د ټولنیز عکس العمل سره مواجه نشي، نو باید د قانون جوړونې په وخت کې ځینې ارزښتونه او مهم ټکي چې عناصر هم ورته ویلای شو، په نظر کې ونیول شي، چې هغه عبارت دي له:

۱- مقنن باید کوښښ وکړي چې د قانون په جوړولو کې مغلق، پیچیده، او ګونګ الفاظ، کلیمې او جملې استعمال نه کړي.

که چېرې د قانون الفاظ او عبارات ګونګ، مغلق او پېچیده وي، نو په دې صورت کې به ترینه ښه، ساده او روانه مفهوم نه اخیستل کېږي او هر قاضي چې حکم کوي هغه به ترینه جلا جلا مفهوم اخلي همدارنګه هر قاضي به جلا جلا یا یو د بل سره مخالفې فیصلې کوي، چې په دې صورت کې به د قانون په تطبیق کې ګډوډي او د محاکمو د پرېکړو عدم استقرار او عدم وحدت رامنځته کېږي، یا دا چې کېدای شي د قانون څخه هېڅ مانا او مفهوم وانه خیستل شي او قضات به د قانون د تطبیق په وخت کې د مشکلاتو سره مخامخ شي،

په همدې اساس د یو ډېر مهم عنصر یا اصل په حیث دا قبوله شوې ده چې قانون ساده او روښانه وي او هر څوک په ځانګړي ډول مسلکي اشخاص پرې بې له کوم مشکل څخه پوه شي.

۲- د قانون جوړونې په وخت کې دویم مهم ټکی یا عنصر دا دی چې مقنن باید د ټولنې ټولې برخې په نظر کې ونیسي او د هرې برخې لپاره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره دقیقه د حل لاره پیدا کړي

ددې خبرې مانا او مفهوم دادی چې مقنن چې کله د کومې ساحې لپاره قانون جوړوي، نو باید د همغې ساحې ټولې خواوې په نظر کې ونیسي او د ډېر احتیاط لپاره لازمي ده چې د ټولو هغو شیانو یو لست برابر کړي کوم چې مخکې تېر شوي، اوس څه واقع کېږي د هغه شیانو لست هم برابر کړي چې په اغلب ګمان په راتلونکې کې به واقع شي، د هغوی لپاره احکام په نظر کې ونیسي او هېڅ یوه موضوع هم باید د یاده و نه باسي او د راتلونکې لپاره هم یو څه پېش بیني کړي او که چېرې داسې و نه کړي، نو د قانون د تطبیق په وخت کې به قضات او محاکم د یو جدي مشکل یانې خلا سره مواجه شي.

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي چې د قانون جوړونې په وخت کې کوم ټکي او عناصر ډېر مهم دي چې هغه باید په نظر کې ونیول شي؟

په ځواب کې باید وویل شي چې لاندې ټکي ډېر مهم دي او باید مراعات شي.

*ـ دیني او مذهبي ارزښت.*

د قانون د وضع کولو ذیصلاح مراجعو لپاره له ټولو عناصرو او ارزښتونو څخه ډېر مهم ارزښت دا دی چې د قانون د وضع کولو په وخت کې به دیني او مذهبي ارزښتونه او احکام په نظر کې نیسي، ددې مانا دا ده چې د قانون د تدوین او وضع کولو په صورت کې باید داسې قواعد وضع نه شي چې د اسلامي شریعت د احکامو سره په ټکر کې وي او یا د خلکو عقایدو ته زیان ورسوي که چېرې احیاناً داسې قانوني قواعد وضع شي، نو په هغې صورت کې خو تطبیق لا څه چې د خلکو د جدي عکس العمل سره به مخامخ شي او د تطبیق ورتیا به د لاسه ورکړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - د ټولنې مشروع عرف او عادات

هر وخت چې مقنن قانون وضع کوي، دويم مهم ټکى چې بايد په نظر کې ونيول شي هغه د ټولنې عرف او عادات دي، البته هغه عرف او عادات چې د اسلامي شريعت او د قانون سره په ټکر کې نه وي لکه په بدو کې د ښځو ورکول او داسې نور...

ددې خبرې مانا داده چې هر وخت چې کوم قانون د ټولنې د عرف، عاداتو، رسم او رواج سره په ټکر کې وي، خلک د هغې تطبيق خو لا څه چې پر ضد يې مبارزه هم کوي. نو په همدې اساس دا حکم شوی چې مقنن بايد د قانون د وضع کولو په وخت کې د خلکو عرف او عاداتو ته احترام وکړي.

## -اقتصادي عنصر:

د اسلامي شريعت او عرف او عاداتو تر څنګ په ټولنه کې بل مهم ارزښت اقتصاد دی، نو هر وخت چې مقنن قانون وضع کوي، بايد د ټولنې اقتصادي وضعيت او انکشاف په نظر کې ونيسي او داسې قانون وضع کړي چې خلک هغه د خپل اقتصادي ورتيا په درلودلو سره قبول کړي، که چېرې د خلکو له اقتصادي وضعې څخه لوړوي، نو خلک يې نه يوازې دا چې نه قبلوي بلکې د تطبيق په صورت کې يې توان هم نه لري. نو په دې صورت کې هم قانون خپل د تطبيق اعتبار د لاسه ورکوي لکه د مالياتو قانون يا داسې نور.

## -ټولنيز او تاريخي ارزښت

هر وخت چې مقنن قانون وضع کوي بايد د ټولنې قومي، نژادي او تاريخي وياړنې په نظر کې ونيسي که چېرې داسې قانون وضع کړي چې د قومي، نژادي، ژبني او تاريخي وياړونو سره په ټکر کې وي، نو په دې صورت کې د قانون تطبيق د مشکلاتو سره مخامخ کېږي، نو څکه بايد مقنن دا ارزښت مراعات کړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -اخلاقي ارزښت

د پورته ذکر شوو معیارونو او ارزښتونو تر څنګ بل مهم ارزښت چې په ټولنه کې شتون لري او د ټولنې وګړي ورته ډېر احترام لري، بلکې د شخصیت د لوړېدو او ټيټېدو معیار ګڼل شوی دی، هغه اخلاقي ارزښت دی چې باید د قانون د تدوین په وخت کې په ډېر جدي ډول په نظر کې ونیول شي، هر وخت چې مقنن دغه معیارونه مراعات کړي، نو په دې صورت کې به قانون ډېر قوت پیدا کړي او که داسې قانون وضع کړي چې د ټولنې د اخلاقي معیارونو او ارزښتونو سره په ټکر کې وي، نو د تطبیق په وخت اجرائیه قوه د جدي مشکلاتو سره مخامخ کیدای شي.

## -اقلیمي او جغرافیایي ارزښت

د انسانانو د ټولنیز ژوند په ترتیب او تنظیم کې جغرافیایي موقعیت او اقلیمي حالات فوق العاده ارزښت لري، نو مقنن چې هر وخت وغواړي د ټولنې د پرمختګ، انکشاف او روابطو د ترتیب او تنظیم لپاره قانون وضع کړي، نو په هغې کې باید اقلیمي او جغرافیایي ارزښت په نظر کې ونیسي که دا کار ونه کړي نو د قانون د تطبیق په وخت کې به مشکلات رامنځته شي.

په لنډ ډول باید ووایو چې مقنن د قانون د تدوین په وخت کې باید دا کوښښ وکړي چې قانون ډېر ساده، روښانه، عام فهمه او د ټولنې ټولو برخو ته څرګند وي، په دې مانا چې په الفاظو کې مغلقیت او پېچلي ګی نه وي او هم یې د ټولنې ټولو برخو ته څرګند وي او هیڅ ډول خلا او تشه و نه لري.

اما په عمل کې دا کار د غوښتنې او تقاضا خلاف دي او هغه داسې چې کله قضات او محاکم وغواړي چې قانون تطبیق کړي، لیدل کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یا په قانون کې مغلقیت موجود دی او یا هم په قانون کې خلا شتون لري

اوس یوه پوښتنه دا ده چې د پورته ذکر شوو معیارونو باوجود بیا هم په قانون کې مغلقیت موجود وي ؟ او یا هم ولې په قانون کې خلا شتون لري؟

ددې لپاره چې د پورته پوښتنې لپاره مو مناسب ځواب ویلی وي، بهتره به وي چې د خلا د رامنځته کېدو دلایل جلا او د مغلقیت دلایل جلا تر مطالعې لاندې ونیسو.

## ۱- په قانون کې د خلا د رامنځته کېدو دلایل:

په قانون کې خلا او تشه په لاندې حالاتو کې رامنځته کېږي

الف- دا چې قوانین د انسانانو پواسطه جوړېږي او انسانان په خپلو اجرااتو کې د سهوې او اشتباه سره مخامخ کېږي، نو ځکه د قانون د جوړېدو په وخت کې هم سهواً ترېنه ځینې موضوعات پاتې شي او کله چې قانون وضع شي خلا پکې موجود وي.

ب- دویم دا چې انسانان کامل علم نه لري او نشي کولای چې داسې قانون جوړ کړي چې د ټولنې ټولو برخو ته ځواب ووایي او د ټولنې ټول ضروریات او مشکلات حل او فصل کړي، نو په همدې خاطر په قانون کې خلا رامنځته کېږي.

ج- دا چې کله انسانان یو قانون جوړوي، نو دوی کولای شي چې د موجوده وخت لپاره ځینې موضوعات پېش بیني کړي او د هغې لپاره د حل لاره په قانون کې وټاکي، خو په دې باندې نه پوهېږي، چې د وخت او زمان په تېرېدو سره به په ټولنه کې څه ادلون بدلون رامنځته کېږي او د هغې د حل لاره به څه وي؟ نو ځکه ټول مسایل نه شي پېش بیني کولای او په قانون کې خلا رامنځته کېږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د_ څلورم دلیل دا دی چې له یوې ورځې څخه بلې ورځې ته نوي اختراعات کېږي، نوي مسایل او موضوعات رامنځته کېږي، چې پخوا هغه موجود نه وو، چې همدا نوي اختراعات او مسایل چې په قانون کې ورته د حل لاره نه وي پېش بیني شوې او په قانون کې خلا رامنځته کوي لکه پخوا کمپیوټر او کمپیوټري جرایم موجود نه و، خو اوس شتون لري، چې دا نوي اختراعات او نوي مسایل دي او پخواني قانون ورته د حل لاره نه ده پېش بیني کړې او د قانون خلا رامنځته شوې ده.

### ۲- په قانون کې د مغلقیت او پېچیده ګۍ د رامینځته کېدو دلایل:

ولې په قانون کې مغلقیت او پېچیده ګي رامینځته کېږي؟

دا ځانته دلایل لري چې په لاندې ډول دي

الف_ قانون عملاً د یو نا ټاکلي وخت لپاره جوړېږي، کله کله ډېر زیات وخت دربر نیسي، لکه د فرانسې دولت مدني قانون چې د (۱۹) پېړۍ په اوایلو کې جوړ شوی او تر اوسه هم قابل د تطبیق دی، د وخت په تېرېدو سره د ژبې کلمې او لغتونه تغییر کوي، هر وخت چې قانون جوړېږي، په هغه وخت کې د پوهېدنې وړ وي ولې د وخت په تېرېدو سره دغه کلمې مغلق او پېچیده شي چې د تطبیق په وخت کې مشکلات راپیدا کوي

ب_ ځینو وختونو کې یو لفظ ډېرې ماناوې لري، یا دا چې یو لغت زیاتې تشریح ته ضرورت لري، نو په دې صورت کې مقنن له زیاتې تشریح څخه یا دا چې د زیاتو ماناوو له لیکلو څخه صرف نظر کوي او یواځې همغه یو لغت لیکي چې په اساس یې مغلقیت او پېچیده ګي رامنځته کېږي

ج_ د انسانانو فطرت دا دی چې ځان په خلکو کې پوه او د اوچت علم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکی معرفي کړي او نور خلک ځانته په غیر مستقیم ډول محتاج کړي، د همدې نقطې له وجې مغلق او پېچیده الفاظ استعمالوي، چې په دې اساس قانون مغلق او پېچیده شي.

د پورته دلایلو په اساس په قانون کې مشکلات رامنځته کېږي چې هغه عبارت له خلا (تشې) او مغلقیت څخه دی، خلا دېته وایي چې په قانون کې د نوموړې موضوع لپاره هېڅ ډول د حل لاره نه وي پېش بیني شوي او مغلقیت دې ته وایي چې په قانون کې خلا موجود نه وي ولې هغه مواد چې ذکر شوي دي په هغه کې مغلق او پېچیده الفاظ ذکر شوي وي او د پوهېدنې وړ نه وي.

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې کله قضات د قانون د تطبیق په وخت کې د خلا او مغلقیت سره مخامخ شي نو په دې صورت کې به د حل لاره څه وي؟

ددې پوښتنې لنډ ځواب همدا دی، چې قانون باید تفسیر شي.

### *د قانون تفسیر:*

تفسیر په لغت کې د ویونکي د مقصود له کشف او بیان څخه عبارت دی، دغه کلمه د (فسر) له ریښې څخه اخیستل شوی چې مفهوم یې کشف، ښکاره کول او روښانه کول دي او په اصطلاح کې کله چې قضات او محاکم د قانون د تطبیق په وخت کې د قانون د خلا ، مغلقیت او ابهام سره مخامخ شي نو د هغې لپاره د حل لاره پیدا کړي او د حل لاره یې دا ده چې که خلا موجود وي هغه باید ډکه کړي او که مغلقیت موجود وي هغه باید روښانه کړي، چې د قانون خلا ډکول او د مغلقیت ساده او روښانه کول د قانون له تفسیر څخه عبارت دی.

اوس دلته ځینې پوښتنې مطرح کېږي او هغه دا چې د قانون تفسیر به څوک کوي؟ د قانون تفسیر په څو ډوله دی؟ او ایا په ټولو هېوادونو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د قانون تفسير يو شان وي؟ چې د همدې درې پوښتنو ځواب په دې ځای کې ورکول شوی دی.

د لومړۍ پوښتنې ځواب تر لاندې سر ليک لاندې ورکول شوی دی:

## د قانون د تفسير د يصلاح مراجع:

لکه څرنګه چې هر څوک نه شي کولای قانون تدوين او تصويب کړي بلکې د قانون د وضع کولو او تدوين لپاره خاص ذيصلاح مراجع شتون لري چې هغه په مخکې درسونو کې په تفصيل سره روښانه شوي.

همدارنګه که په قانون کې خلا او مغلقيت موجود وي نو د دغه خلا ډکول او د مغلقيت ساده کول هرڅوک نه شي کولای بلکې خاص مراجع لري او پر درې برخو وېشل شوي دي، چې عبارت دی له:

تقنيني مرجع، قضايي مرجع او شخصي مرجع څخه، کله چې د تقنيني مرجع له خوا قانون تفسير شي هغې ته تقنيني تفسير وايي او کله چې د قضايي مرجع له خوا قانون تفسير شي هغې ته قضايي تفسير وايي او که د شخصي مرجع له خوا قانون تفسير شي هغې ته شخصي تفسير وايي، چې له دې څخه وروسته مورږ د تقنيني مرجع په عوض تقنيني تفسير د قضايي په عوض قضايي تفسير او د شخصي مرجع په عوض شخصي تفسير ليکو.

## اول- تقنيني تفسير:

کله چې قانون نافذ شي او له انفاذ څخه وروسته وليدل شي چې په قانون کې يا خلا شتون لري او يا دا چې د قانون الفاظ مغلق او پېچلي دي او د عمل په ساحه کې ستونزې رامنځته کوي، نو هر وخت چې په قانون کې خلا يا مغلقيت وليدل شي او له هغې څخه وروسته تقنيني مرجع ته چې عبارت له لويې جرګې يا ملي شورا څخه ده، واستول شي او د مقننه قوې له خوا د قانون خلا ډکه شي او مغلقيت يې ساده شي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه عمل د قانون د تقنيني تفسير په نامه يادېږي. کوم قانون چې لاسته راغلی هغه ته تفسيري قانون وايي او هغه قانون چې تفسير شوی هغې ته تفسيري قانون وايي.

دا چې د مقننه قوې له خوا د قانون تفسيرولو عمل په خپل وار سره هم ګټې لري او هم نواقص، چې د بنه پوهېدو لپاره لومړی د تقنيني تفسير ګټې او دويم د تقنيني تفسير نواقص مطالعه کوو.

### د تقنيني تفسير ګټې:

کله چې د مقننه قوې له خوا قانون تفسير شي دې ته تقنيني تفسير وايي چې دغه تفسير ډېرې ګټې لري او مهمې ګټې يې په لاندې ډول دي:

#### - کله چې مقننه قوه قانون تفسير کړي:

دا تفسير واقعاً چې ډېر دقيق دی او اشتباهات پکې ډېر کم وي او علت يې دا دی چې: همدغه مقننه قوه ده چې مخکې يې نوموړی قانون تصويب کړی دی او د نوموړي قانون ټولې خواوې ورته معلومې دي، کله چې دا قانون تصويب کېده او کوم مناقشات د مقننه قوې د اعضاو تر منځ شوي، مذاکرات شوي، مختلف نظريات ورکول شوي او د کوم هدف لپاره، چې قانون وضع شوی هغه ټول دوی ته معلوم دي او حتی کوم سوال او ځواب چې د قانون د تصويب په وخت کې شوی دی، له هغې څخه هم خبر دي.

د پورته ټولو معلوماتو په درلودلو سره چې قانون تفسير شي په دې باندې دلالت کوي نوموړی د قانون تفسير دقيق دی.

#### - د مقننه قوې د مداخلې له حيثه:

ليدل کېږي چې د ملي شورا يا مقننه قوې عمده او اساسي وظيفه د قوانينو تصويب دی، کله چې قانون تصويب کړي او په نوموړي قانون کې د خلا يا مغلقيت له حيثه که کوم مشکلات موجود وي، د نوموړو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکلاتو حل هم د مقننه قوې کار دی او کله چې مقننه قوه خپله قانون تفسير کړي دا يو ګټور کار دی، ځکه د مقننه قوې له خوا که قانون تفسير شي نو له يوې خوا ځځه يې خپله وظيفه تر سره کړې، بل دا چې تفسير به يې دقيق وي او همدارنګه د مقنن اصلي هدف به لاسته راغلی وي او اشتباهات به هم کم وي.

- د نه مداخلې له حيثه:

معمولاً نن ورځ په ټولو دولتونو کې د رې ګونې قواوې موجودې دي، چې هغه عبارت دي له مقننه قوه، چې قانون جوړوي، قضايه قوه چې د دغه قانون په اساس د خلکو تر منځ پرېکړې کوي او اجرايه قوه چې د محاکمو له خوا کومې فيصلې شوي، پر هغوی اجراات کوي يانې د قضايه قوې پرېکړې تطبيق کوي، ليدل کېږي چې درې واړه قواوې يو د بل سره همکاري لري او د حقوقو له حيثه بايد چې سره همکاري وکړي، خو دغه همکاري ددې مانا نه لري، چې يو د بل په کارونو کې مداخله وکړي او که چېرې مداخله وکړي، نو په کارونو کې ګډوډي او بې نظمي رامنځته کېږي.

نو هر کله چې مقننه قوه خپل کار خپله وکړي او بله قوه پکې مداخله و نه کړي همدغې ته عدم مداخله وايي چې دا يو ګټور کار بلل شوی او که احياناً د قانون تفسير د بلې قوې له خوا ترسره شي امکان لري لاندې نواقص رامينځته شي:

۱- که يوه قوه د بلې قوې په کارونو کې مداخله وکړي امکان د بې نظمۍ او ګډوډۍ لري.

۲- امکان د اشتباهاتو زيات دی او دا ځکه چې د قانون په اړه پخواني معلومات او سوابق نه لري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د شخصي اغراضو د نه موجوديت له حيثه:

که چېرې د مقننه قوې له خوا قانون تفسير شي په دې صورت کې شخصي اغراض او ملاحظات موجود نه وي او دا ځکه چې:

۱- مقننه قوه قانون نه تطبيق کوي

۲- بل دا چې مقننه قوه له قضاياوو څخه خبر هم نه وي او هر وخت چې قانون تطبيق نه کړي او له هغه قضاياوو څخه چې رامنځته شوي اطلاع هم ونه لري نو په دې صورت کې مقننه قوه بې طرفانه، عادلانه او واقع بينانه قانون تفسير کوي.

او بالمقابل هغه قوه چې د قضاياوو په اړه د عوه هم ورسره وي او د همدې دعوې لپاره قانون هم تفسير کړي نو په دې صورت کې ډېر امکانات شتون لري چې شخصي اغراض او ملاحظات به پکې موجود وي او شايد چې بې طرفانه او واقع بينانه تفسير ونه کړي.

-د اجباري والي له حيثه:

د تقنيني تفسير بل مفيديت دا دی چې اجباري جنبه لري او په ټولو مشابه موضوعاتو باندې په جبري ډول تطبيق کېږي.

-د استناد وړوالي له حيثه:

د استناد قابليت يې هم دوامداره وي او ټول رسمي مراجع کولای شي په خپلو پرېکړو او اجرااتو کې په تقنيني تفسيري قانون باندې استناد وکړي.

-د مستقيمې استفادې له حيثه:

کله چې مقننه قوه قانون تفسير کړي په دې صورت کې دا چې الزامي جنبه لري، نو ټول اجرايي ارګانونه مکلف دي چې له تقنيني تفسير څخه استفاده وکړي.

د تقنيني تفسير نواقص:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ددې چې د قانون تقنيني تفسير زياتې ګټې لري، د دغه ګټو تر څنګ نواقص هم لري، چې هغه عبارت له دې څخه دي، چې تقنيني تفسير ډېر وخت نيسي، دا ځکه چې په لومړي قدم کې قانون مقننه قوې ته استول کېږي، په لومړي قدم کې د ولسي جرګې له خوا ورته يو کميسون تاکل کېږي، له هغې څخه وروسته ولسي جرګه په عمومي مجلس کې د هغه تصويب کوي او له هغې څخه وروسته د مشرانو جرګې ته ځي، کله چې د مشرانو جرګې له خوا هم تائيد شي، نو د قانون تصويب تکميل شي، وروسته رئيس جمهور ته د توشيح لپاره استول کېږي او کله چې د رئيس جمهور له خوا توشيح شي له هغې څخه وروسته تطبيق کېږي، چې دا ډېر زيات وخت نيسي، پداسې حال کې چې پېښه په جريان کې ده او عاجلې فيصلې ته ضرورت لري او که د قانون تفسير ته انتظار کوي، نو په قضيه کې ډېر تاخير رامنځته کېږي، د همدغو مشکلاتو د حل لپاره استثناءً يوې بلې مرجع ته د قانون د تفسير اجازه ورکړل شوې چې هغه عبارت له قضايه قوې څخه ده او کله چې قضايه قوه قانون تفسير کړي د قضايي تفسير په نامه يادېږي.

## دويم - قضايي تفسير: د قضايي تفسير مانا او مفهوم

کله چې قضات او محاکم غواړي چې د يوې پېښې په اړه د قانون د خلا يا د مغلقيت په صورت کې د مشکلاتو سره مخامخ شي، په دې صورت کې د قانون تفسير ته ضرورت ليدل کېږي.

که دغه قانون د مقننه قوې په واسطه تفسير شي، نو په دې صورت کې زيات وخت دربر نيسي، پداسې حال کې چې قضات او محاکم عاجلو پرېکړو ته ضرورت لري، نو په دې صورت کې قانون سترې محکمې ته د قانون د تفسيرولو واک ورکړی دی.

د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون ۱۲۱ ماده داسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صراحت لري:

## ۱۲۱ ماده:

له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين المللي معاهدو او بين المللي ميثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت يا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسير د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحيت دی.

د پورته مادې د حکم په اساس قضات ددې صلاحيت لري چې قانون تفسير کړي، نو هر وخت چې د قانون د تطبيق په وخت کې قضات د قانون د خلا يا مغلقيت سره مخامخ شي او ستره محکمه دغه خلا ډکه کړي او که مغلقيت موجود وي هغه روښانه کړي دغه عمل ته قضايي تفسير وايي.

## د قضايي تفسير اعتبار:

ليدل کېږي چې قضايي تفسير په هغه صورت کې د قضاتو له خوا تر سره کېږي چې کله د دوو اشخاصو تر منځ دعوه موجوده وي يا دا چې کومې جرمې پېښې سره مخامخ شي، په دې مانا چې کله قضاتو ته يوه موضوع راشي او د همدغه موضوع په اړه په قانون کې يا خلا موجوده وي او يا دا چې مغلقيت موجود وي، نو په دې صورت کې د همدغه خاصې موضوع لپاره قانون تفسير وي او کله چې د يوې خاصې موضوع او پېښې لپاره قانون تفسير شي، يواځې پر همغې پېښې تطبيق کېږي او پر نورو پېښو يې تطبيق اجباري جنبه نه لري او محاکم هم په دې باندې مکلف نه دي، چې بيا دې دغه فيصله تکرار کړي

## A د قضايي تفسير ګټې (مزاياوې):

کله چې د قضايه قوې له خوا قانون تفسير شي لاندې ګټې لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱- د وخت نه ضایع کېدو له حیثه یا د عاجل والي له حیثه:

کله چې قضات د قانون له مشکلاتو سره مخامخ شي نو په دې صورت کې هغوی خپله د هغې لپاره د حل لاره لټوي نه یې مقننه قوې او نه یې رئیس جمهور ته لېږي، بلکې یو اځې د سترې محکمې د ۹ تنو اعضاو له خوا تفسیر کېږي، چې په دې صورت کې د وخت د ضایع کېدو مخه نیول کېږي.

### ۲- د اجباري والي له حیثه:

قضایي تفسیر هم لکه د تقنیني تفسیر په څېر الزامي او اجباري جنبه لري، خو د تقنیني تفسیر سره یې فرق دا دی د تقنیني تفسیر الزامي والی په ټولو پېښو او واقعاتو باندې تطبیق کېږي، قضایي تفسیر بیا یو اځې په همغه پېښه او قضیه باندې تطبیق کېږي، چې د هغې لپاره تفسیر شوې وي.

### ۳- د استناد وړوالي له حیثه:

د استناد له حیثه هم قضایي تفسیر د تقنیني تفسیر په څېر دی خو یو توپیر لري چې قضایي تفسیر د همدې خاص موضوع لپاره د استناد وړوالي لري او تقنیني تفسیر عام دی او په ټولو موضوعاتو کې ور باندې استناد کېږي.

### B د قضایي تفسیر نواقص:

قضایي تفسیر د ذکر شوو ګټو تر څنګ نواقص هم لري، چې په لاندې ډول دي:

### ۱- د شخصي اغراضو د لرلو له حیثه:

کله چې قضات قانون تفسیر کړي نو په دې صورت کې ددې احتمال شته دی چې د دعوې له ذید خلو خواوو څخه د یوه په ګټه یا ضرر قانون تفسیر کړي او دا څکه چې لومړی دوی ته دعوه راغلې ده او د دعوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرفین دوی ته معلوم دي نو ددې احتمال شته دی، چې له دغو اشخاصو څخه کوم یو سره یا همکاري او یا هم بدبیني ولري او د هغې په نظر کې نیول سره قانون تفسیر کړي، چې دا یې هم له نواقصو څخه ګڼل کېږي.

۲- د نورو په کارونو کې د مداخلې له حیثه:

کله چې قضایه قوه قانون تفسیر کړي، په دې صورت کې قضایه قوه د مقننه قوې په کارونو کې مداخله کړې ده او کله چې یوه قوه د بلې قوې په کارونو کې مداخله کوي، نو احتمال شته چې کارونه به له یوې خوا غیر دقیق وي او د بلې خوا به اصلي هدف هم تر لاسه نه کړي چې دا یې له نواقصو څخه ګڼل شوی دی.

دریم- شخصي تفسیر: د شخصي تفسیر مانا او مفهوم:

شخصي تفسیر د ېته وایي، چې د کومې رسمي مرجع لکه مقننه قوې او قضایه قوې له خوا نه وي شوی، بلکې د غیر رسمي اشخاصو، لکه حقوق دانانو، علماو، مسلکي اشخاصو او دانشمندانو له خوا تفسیر کېږي او دا په دې مانا چې هر وخت حقوق دانان او قانون پوهان په قانون کې خلا او مغلقیت وګوري نو دغه د قانون خلا ابهام او پېچلتیا په خپل ذوق سره، د خپل استعداد مطابق خلا ډکوي او مغلقیت ساده کوي او هغه په نشراتي ارګانونو کې نشروي چې دغه عمل ته شخصي تفسیر وایي.

کله چې د غیر رسمي مرجع له خوا قانون تفسیر شي دا تفسیر هم ګټې لري او هم نواقص چې دلته یې ګټې او نواقص دواړه جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

د شخصي تفسیر ګټې:

شخصي تفسیر لاندې ګټې لري:

۱- د شخصي اغراضو او ملاحظاتو د عدم موجودیت له حیثه:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې قانون پوهان او حقوق دانان قانون تفسیروي، نو په دې صورت کې دوی ته دا معلومه نه وي چې له نوموړي قانون څخه به خامخا د قضایاوو په حل او فصل کې استفاده کېږي او که نه؟ همدارنګه دا هم ورته معلومه نه وي چې نوموړی قانون که احیاناً تطبیق هم شي دا به په چا باندې تطبیق کېږي، نو په همدې اساس د نورو ارګانونو په څېر شخصي ملاحظات پکې نه مطرح کېږي.

## ۲- د دقیق والي له حیثه:

په شخصي تفسیر کې له علماوو سره د قانون په اړه پخواني سوابق موجود نه وي، نو څرنګه مورد دا حکم کولای شو چې شخصي تفسیر به دقیق وي او په تفسیر کې به یې مشکلات موجود نه وي؟ د دغه دواړو پوښتنو ځواب په لاندې ډول ویل شوی دی.

لومړی دا چې شخصي تفسیر اجباري جنبه نه لري او اختیاري دی او کله چې په خپله خوښه او رضا باندې کوم کار کوي، معمولاً دا به هغه کار وي چې نوموړی د هغې په اړه دقیق معلومات لري، دویم دا چې هر څوک چې قانون تفسیر کوي دا به علماً او مسلکي اشخاص وي او کله چې تفسیر کوي نو دا په هغه صورت کې وي، چې پر موضوع فوق العاده حاکمیت لري.

دریم دا چې اکثره وختونو کې شخصي تفسیر د یو حقوقدان له خوا نه، بلکې د یو دسته حقوق پوهانو د یوې ډلې له خوا تر سره شي، که مورد ووایو چې مقننه قوه د یو ګروپ کسانو له خوا د قانون په اړه بحث کوي او د هغې تفسیر یا تصویب کوي، د هغوی په اړه باید وویل شي چې په مقننه قوه کې خو ټول ګروپ حقوق دانان او مسلکي اشخاص نه وي.

نو په همدې اساس کله چې د حقوق دانانو له خوا قانون تفسیر شي دا تفسیر به دقیق وي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شخصي تفسير نواقص:

د پورته يادو شوو مزاياوو سره سره شخصي تفسير لاندې نيمګړتياوې يا نواقص هم لري:

### ۱- د غير اجباري والي له حيثه:

کله چې د حقوق پوهانو له خوا قانون تفسير شي، د غه تفسير شوی قانون اجباري او الزامي جنبه نه لري او نه تر ېنه مستقيماً استفاده کېږي.

يانې قضات او محاکم په دې باندې مکلف نه دي چې خامخا دې له دغه تفسير څخه په پرېکړو کې استفاده وکړي او نه نور خلک په دې باندې مکلف دي چې د يو قانون په څېر نوموړی تفسير په خپل ځان باندې لازمي کړي او نه دولت خلک په دې باندې مجبوروي، چې خامخا د حقوق پوهانو تفسير قبول کړي، اما په غير مستقيم ډول اجباري جنبه لري او هغه داسې چې کله تر ېنه قضات او محاکم په پرېکړو کې يا دا چې مقنن د قانون په تصويب يا تفسير کې استفاده وکړي، نو هغه پرېکړه او قانون اجباري جنبه لري، چې دا غير مستقيم د حقوق دانانو نظر دی چې اجباري جنبه لري.

### ۲_ د نه استناد له حيثه:

په شخصي تفسير باندې مستقيماً استناد نه کېږي، يانې هيڅ قاضي د پرېکړو په وخت کې داسې استناد نه کوي چې ما د پلانکي عالم د نظر په اساس دا پرېکړه کړې ده، ولې په غير مستقيم ډول استناد پرې کېږي او هغه په لاندې حالاتو کې:

- کله چې نوی قانون جوړېږي او د قانون جوړونکې ارګان له خوا د يو عالم د نظر په اساس د قانون يوه يا څو مادې جوړې شي.
- کله چې په قانون کې د مقننه قوې له خوا اصلاحات او تغييرات

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته شي.

- یا دا چې د پخواني قانون په تفسیر کې د علماوو له نظریاتو څخه استفاده وشي.

- کله چې قضات او محاکم د قانون د تفسیر په وخت کې د نوموړي عالم له نظر څخه استفاده وکړي، نو پدغه پورته څلور واړو حالاتو کې د عالم نظریات په غیر مستقیم ډول اجباري جنبه اختیاروي او استناد پرې کیږي.

تر دې ځایه په دې باندې بحث وشو چې په ټوله کې درې ارګانونه دي چې قانون تفسیروي، چې هغه عبارت دي، له مقننه قوې، قضایه قوې او شخصي یا غیر رسمي مرجع څخه چې عبارت له حقوق دانانو څخه دي، د دغه درې واړو تفسیرونو پېژندنه ګټې او نواقص په تفصیل سره بیان شول، اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کیږي او هغه دا چې د قانون د تفسیر په وخت کې مفسر په دې باندې مکلف دی، چې د قانون چوکاټ په داخل کې قانون تفسیر کړي او که د قانون له چوکاټ څخه دباندې هم تفسیر کولای شي؟ د دغې پوښتنې د ځواب لپاره ښه دا ده، چې لاندې عنوان په تفصیل سره مطالعه کړو.

*د تفسیر ډولونه د محدودوالي او وسیع والي له حیثه*

هر وخت چې په قانون کې خلا یا مغلقیت موجود وي او د قانون دغه خلا یا مغلقیت خپله د قضاتو او محاکمو له خوا حل شي، په دې مانا چې قضات خپله د قانون خلا ډکه کړي یا دا چې مغلقیت یې ساده او روښانه کړي، دغه عمل ته د قانون تفسیر وایي، چې دا به له دوو حالاتو څخه خالي نه وي.

*لومړی حالت*: قضات او محاکم به د قانون د چوکاټ په داخل کې د قانون د خلا او مغلقیت لپاره د حل لاره پیدا کوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



*دویم حالت*: قضات او محاکم به د قانون د چوکاټ نه دباندې د قانون د خلا او مغلقیت لپاره د حل لاره پیدا کوي، چې لومړی حالت ته محدود تفسیر او دویم حالت ته آزاد تفسیر وایي.

له پورته توضیحاتو څخه دا په ډاګه کېږي، چې د قانون تفسیر په دوه ډوله دی، محدود او آزاد تفسیر، چې هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو:

## *لومړی محدود تفسیر:*

هر وخت چې قضات او محاکم د قانون د تطبیق په وخت کې د مشکلاتو (د قانون خلا او مغلقیت) سره مخامخ شي او وغواړي چې دغه مشکلات حل کړي، په دې مانا چې خلا ډکه کړي او مغلقیت ساده کړي، په دې شرط چې د قانون د چوکاټ په داخل کې به د مشکلاتو حل کوي.

پس هر وخت چې د قانون د چوکاټ په داخل کې د قانون خلا ډکه او مغلقیت یې ساده کړي دا عبارت له محدود تفسیر څخه دی.

اوس پوښتنه دا ده چې؛

## *د قانون د چوکاټ داخل، څه مانا لري؟*

د قانون چوکاټ داخل په دې مانا دی چې که په قانون کې خلا موجوده وي، نو د همدې قانون د یوې بلې مشابه موضوع سره به قیاس وکړي او که مغلقیت موجود وي نو د قانون د چوکاټ په داخل کې به یوازې د هغه لفظ ژباړه او مانا وکړي او بس.

له پورته توضیحاتو څخه دا هم ثابته شوه چې محدود تفسیر په دوه برخو باندې وېشل شوی دی، چې یو ته قیاسي تفسیر او بل ته یې لفظي تفسیر وایي چې هر یو جلا جلا مطالعه کوو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف-لفظي تفسير:

هر وخت چې قضات او محاکم د قانون د تطبيق په وخت کې د الفاظو د مغلقيت سره مخامخ شي، په دې مانا چې د قانون متن موجود دی، خو داسې الفاظ او عبارات پکې استعمال شوي چې قاضي له هغې څخه درک نه شي کولای چې ددې الفاظو او عباراتو هدف څه دی او څه مانا لري؟ نو په دې صورت کې مفسر د ډېر قوي او سخت مشکل سره نه دی مواجه شوی او دا ځکه چې د قانون متن موجود دی، يوازې الفاظ يې مغلق او پېچلي دي.

هر وخت چې دغه مغلق او پېچلي الفاظ د قانون په چوکاټ کې ساده کړي عبارت له لفظي تفسير څخه دی.

اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د قانون په چوکاټ کې په کومه طريقه تفسير کوي؟ يا دا چې مفسر د الفاظو په ساده کولو کې له کومې طريقې څخه کار اخلي؟

کله چې د يوې ټاکلې موضوع په اړه د قانون متن وجود لري، اما دا متن د نوموړې موضوع لپاره پوره ځواب ګوی نه وي، بلکې د مغلقيت او پېچلتيا لرونکی وي، ددې مشکل د حل لپاره له لفظي تفسير څخه د قانون د متن په نظر کې نيولو سره کولای شي د لاندې دري طريقو څخه استفاده وکړي.

## لومړۍ طريقه-د قانون د تدوين مقدماتي کارونو ته مراجعه کول:

قضات او محاکم له مرعی الاجرا (نافذ) قانون څخه علاوه، بايد هغه مختلفې طرحې او پروژې چې ددې قانون د مسودې د تيارولو لپاره تهيه او رامنځته شوي وي د غور او برسی لاندې ونيسي او بالاخره پيدا کړي چې مقنن نوموړي الفاظ د کوم هدف لپاره تدوين او په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصويب رسولي دي

په دې طريقه قاضي کولای شي چې مورد نظر قانون په ښه ډول سره تفسير کړي او د مقنن اصلي هدف ته ورسېږي

### دويمه طريقه-مخکنيو مشابه قضاياوو ته مراجعه کول:

کله چې قضات او محاکم د قانون د الفاظو مغلقيت سره مواجه شي نو مخکې چې کوم مشابه موضوعات فيصله شوي هغې ته مراجعه وکړي او وګوري چې له نوموړي لفظ څخه هدف څه ؤ؟

په دې حالت کې بايد قضات او محاکم کوښښ وکړي، چې نوې موضوع د پخوانۍ مشابه موضوع له مخې د موجوده لازم الاجرا قانون د متن په نظر کې نيولو سره ولټوي او د حل لاره يې پيدا کړي.

### دريمه طريقه-د الفاظو مانا او ژباړه کول:

که چېرې قاضي د پورته دوه طريقو په اساس و نه توانېده چې موضوع حل کړي، نو د قانون د متن مغلق او پېچلي الفاظ بايد يو اځې وژباړي يا دا چې مانا يې بايد وليکي، دلته اوس پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې که يو لفظ څو مانا ګانې ولري، نو بيا بايد څه وکړي؟ په دې صورت کې به د مقنن د عقيدې په اساس په دې موضوع کې عمومي منافع په نظر کې نيول شوي او که خصوصي منافع په نظر کې نيول شوي، چې دا په نظر کې نيول حقيقت ته سړی نژدې کوي

لفظي تفسير هم ګټې او هم نواقص لري چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### د لفظي تفسير ګټې:

د مقنن اراده او هدف تغيير (بدلون) نه خوري او دا ځکه چې مفسر د قانون د چوکاټ نه دباندې نه دی وتلی او د قانون په چوکاټ کې يې مغلقيت ساده کړی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د لفظي تفسير نواقص:

حقوق د انجماد حالت ځانته غوره کوي، په دې مانا، چې حقوق داسې يو علم دی، چې: د نورو علومو په څېر د انکشاف او پرمختګ په حالت کې دی، ولې د حقوقو د علم انکشاف او پرمختګ د علماو د نظرياتو په اساس رامنځته کېږي، نو په دې صورت کې ليدل کېږي چې علماو نظرياتو له ورکولو څخه منع شوي نو ځکه دا حکم کوو چې حقوق د انجماد حالت غوره کوي

### ب- قياسي تفسير:

هر وخت چې قضات او محاکم د عمل په ساحه کې (د قانون د تطبيق په ساحه کې) د قانون د خلا سره مخامخ شي او د قانون دغه خلا د قانون په چوکاټ کې ډکه کړي يانې د يوې بلې مشابه موضوع سره قياس وکړي او خلا ډکه کړي، دغه تفسير د قياسي تفسير په نوم يادېږي

دا چې د يوې ټاکلې موضوع په اړه هيڅ قانوني متن موجود نه وي، په دې صورت کې ليدل کېږي، چې مفسر له لفظي تفسير څخه استفاده نه شي کولای، بل دا چې په دې صورت کې د قانون تفسير د لفظي تفسير په نسبت د تفسير مغلق ترين ډول دی او دا ځکه چې د يوې موضوع په اړه د قانون کوم ټاکلی متن وجود نه لري.

اوس دلته هم يوه پوښتنه مطرح کېږي، چې له کومې طريقې څخه مفسر استفاده وکړي، چې د يوې خوا د مقنن اصلي هدف ترلاسه شي او له بلې خوا د قانون له چوکاټ څخه دباندې ونه وځي؟

حقوق دانانو په دې برخه کې يو څو د حل لارې وړاندې کړي، چې په لاندې ډول روښانه کېږي:

### ۱- د قياس له مخې استدلال:

لومړی طريقه چې په دې مورد کې وجود لري هغه عبارت له قياس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ده، کله چې د يوې تاکلې موضوع په اړه د قانون په متن کې کوم حکم موجود نه وي، په دې صورت کې قاضي بايد کوښښ وکړي، چې د قانون په چوکاټ کې بله مشابه موضوع پيدا کړي او پر هغې قياس وکړي، البته ددې خبرې يادونه بايد وکړو چې قياس بايد د داسې موضوع سره وکړي چې لاندې دوه شرايط پکې پوره شي.

*اول شرط:*

د دواړو مسئلو ترمنځ بايد تام شباهت بايد موجود وي يانې د دواړو مسئلو تر منځ مشابهت شرط دی، لکه: د تلويزون قياس د راديو سره، يا د موټر قياس د اورګادي سره.

*دويم شرط:*

له هغې موضوع سره چې قياس ورسره کېږي، بايد صريح حکم موجود وي او که په هغه کې صريح حکم موجود نه وي نو د هغې سره بيا قياس نه کېږي.

ددې لپاره چې د قياس په اړه ښه پوه شو، بايد لاندې مثال مطالعه کړو.

په فرانسه کې د ښځې او مېړه د جلا والي يو ډول د(جسمي انفصال) په نامه يادېږي، که فرض کړو د A په نوم يو سړی او د B په نوم ښځې تر منځ جسمي انفصال صورت نيسي، د انفصال څخه وروسته داسې سوال واقع کېږي، ايا A به ټول هغه تحايف چې د ازدواج په دوران کې يې خپلې ښځې ته ورکړي دوباره په لاس راوړي او که نه؟

د فرانسې مدني قانون په دې اړه کوم حکم نه لري، ولې په مدني قانون کې د طلاق په اړه داسې حکم شته دی، چې: مېړه کولای شي له طلاق څخه وروسته ټول هغه تحايف لاسته راوړي کوم چې يې د ازدواج په دروان کې خپلې ښځې ته ورکړي وو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ځای کې د طلاق او جسمي انفصال تر منځ مشابهت شتون لري او د جسمي انفصال قیاس له طلاق سره کېدای شي او باید چې ټول تحایف A ترلاسه کړي

## ۲ - د قوي دلیل له مخې استدلال:

کله کله داسې وي، چې په قانون کې متن موجود نه وي، ولې تر څنګ یې یو بل قوي دلیل موجود وي، نو مفسر کولای شي چې د دغه قوي دلیل په اساس قانون تفسیر کړي

ښځه او مېړه چې کله هم شریک ژوند تېروي نو دوی د شریکو اموالو خاوندان دي او کوم اموال او شتمني چې لري، د کورنۍ د شتمنۍ په نامه یادېږي، چې هم د مېړه او هم د ښځې پورې تړلتیا لري، ددې لپاره چې دغه شتمني په ښه شکل سره تنظیم شي، نو د کورنۍ له غړو څخه یې یو د اموالو سرپرستي په غاړه لري، چې په اکثرو دولتونو کې د دغه اموالو سر پرست سړی وي

فرض کوو چې د یوې کورنۍ رئیس یا سرپرست غواړي، چې خپل کوربل چا ته په اجاره ورکړي او له خپلې ښځې سره یې موافقه نه ده کړې، آیا په دې صورت کې کور په اجاره ورکولای شئ؟

ددې پوښتنې ځواب چې کله په قانون کې ولیدل شو، نو کوم حکم موجود نه و، ولې داسې یوه ماده شتون لري چې: مېړه کولای شي په خپل صلاحیت خپل کور خرڅ کړي، ولې د اجارې په اړه کوم حکم نشته دی.

په دې ځای کې د قوي استدلال له مخې داسې نتیجه اخلو چې مېړه کولای شي خپل کور د بیعې د عقد له مخې خرڅ کړي، پس د قوي استدلال له مخې خپل کور په کرایه او اجاره هم ورکولای شي، نو په دې صورت کې قانون تفسیر کېږي البته قیاسي تفسیر.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قیاس په اساس تفسیر کتې او تاوانونه لري:

د قیاسي تفسیر کتې هغه کتې دي کومې چې په لفظي تفسیر کې مطالعه شوې او تاوانونه يې هم همغه دي کوم چې په لفظي تفسیر کې مطالعه شول، چې په دې ځای کې يې نه تکرارو.

## دویم-آزاد تفسیر:

له آزاد تفسیر ځخه په جزایي مسایلو کې استفاده نه کېږي او یواځې په مدني مسایلو کې ترېنه استفاده کېږي ددې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي، لومړی آزاد یا وسیع تفسیر تعریفوو او په دویم قدم کې دغه موضوع روښانه کوو چې ولې په جزایي مسایلو کې ترېنه استفاده نه کېږي؟

## تعریف:

هر وخت چې قضات او محاکم د عمل په ساحه کې د قانون د خلا سره مخامخ شي، ددې خلا د ډکولو لپاره محاکم او قضات په خپله د قانون د چوکاټ نه دباندې د کوم معیار او هدف تاکلو تصمیم ونیسي او دغه خلا ډکه کړي، په دې مانا چې مفسر ځانته کوم معیار نه وي ټاکلی، دغه عمل د آزاد تفسیر په نوم یادېږي، په دې صورت کې چې دا خلا ډکوي مفسر د خپل ځان سره دوه سوالونه مطرح کوي او ددې سوالونو ځواب هم خپله ورکوي او دغه سوال او ځواب د خپل ځان لپاره یو معیار ټاکي.

۱- مفسر ته دا سوال پیدا کېږي چې که چېرې پخوانی مقنن موجود وی، یا ژوندی وای او هغه ددې مشکل سره مخامخ شوی وای، نو هغه به په دې اړه څه تصمیم نیولای وای؟

ددې سوال په ځواب کې د مفسر ځواب دا دی که چېرته په دې وخت کې هغه مقنن ژوندی وی، نو ددې مشکل حل به يې په دې طریقه کړی وی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته باید د یوې خبرې یادونه وکړو چې دغه مفسر چې کومه نظر یه ولیکله په دې کې باید هغه د منطقي ټول شرایط په نظر کې نیولي وي او د خپل وجدان د محکمې مطابق یې حقیقي فیصله کړي وي، چې دغه عمل چې ده تر سره کړی، نو دغه عمل خپله یو تفسیر دی.

۱- کله کله مفسر له ځان سره داسې سوال هم مطرح کوي، چې که چېرته زه په خپله مقنن وای او د داسې یوې خلا سره مخامخ وای، نو ما به په څه ډول د دغې مسلې حل رایستلای وای؟ یانې په څه ډول به مې خلا ډکه کړې وای؟

په ځواب کې وایي، چې که چېرته زه په خپله مقنن وای، نو ما به دغسې یو قانون جوړ کړی وی، یا به مې په دې ډول دغه خلا ډکه کړې وی.

کله چې پورته دوه سوالونه مطرح کړي تر هغې وروسته خپل نظر ورکوي، د نظر ورکولو په وخت کې باید د ټولنې ټول شرایط او ظروف په نظر کې ونیسي او وروسته یې د وجدان محکمې دا فیصله قبوله کړې وي او له هغې څخه وروسته د قانون آزاد تفسیر کوي.

مخکې دې خبرې ته اشاره وشوه چې له آزاد تفسیر څخه یوازې په مدني مسایلو کې استفاده کېږي او په جزایي مسایلو کې ترېنه استفاده نه کېږي، ددې خبرې دلیل څه دی؟

د لاندې دوه دلایلو په اساس:

## لومړی دلیل:

په حقوقو کې یو ډېر مهم پرنسیپ موجود دی او هغه د جرایمو او جزاګانو د قانونیت پرنسیپ دی، په دې مانا چې بې له قانون څخه نه جرم شته او نه مجازات.

یانې تر هغه وخته پورې چې قانون موجود نه وي او کوم عمل ته یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرم نه یې ویلی، موږ هېڅ عمل ته جرم نشو ویلای، نو په همدې اساس له آزاد تفسیر څخه په جزایي مسایلو کې استفاده نه کېږي

## دویم دلیل:

په جزایي مسایلو کې تر ښه څکه استفاده نه کېږي، چې که اشتباه تر ښه وشي د هغه بېرته جبران نه کېږي، د مثال په ډول که اشتباهاً یو سړی ووژل شي او وروسته ثابته شي چې اشتباه شوې ده نو هغه سړی بېرته ژوندی کېدای نشي او په مدني مسایلو کې تر ښه څکه استفاده کېږي، چې د هغې جبران کېدای شي، د مثال په ډول که قاضي د یو چا ځمکه اشتباهاً بل چا ته ورکړي او وروسته ثابته شي چې اشتباه شوې ده، نو په دې صورت کې کولای شي، چې ځمکه بېرته اصلي مالک ته وسپاري

## د آزاد تفسیر ګټې او نواقص:

کله چې قانون په آزاد ډول تفسیر شي هم ګټې لري او هم نواقص، چې هر یو یې جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### د آزاد تفسیر ګټې:

ازاد تفسیر لاندې ګټې لري

۱- وخت نه ضایع کېږي

۲- د حقوقو د انجماد حالت منځ ته نه راځي

### د آزاد تفسیر نواقص:

هر وخت چې قانون په آزاد ډول تفسیر شي لاندې نواقص لري

۱- غیر دقیق وي او دا ځکه چې یو اځې یو شخص د قانون د چوکاټ نه دباندې قانون تفسیر کړی دی

۲- شخصي ملاحظات پکې واقع کېږي

۳- د مقنن اصلي هدف نه تر لاسه کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په نورو هېوادونو کې د تفسير کتنې

هر هېواد د قانون د تفسير په اړه ځانګړي قواعد لري، موږ هم د قانون د تفسير څرنګوالی په ځينو غربي هېوادونو کې مطالعه کوو چې په لاندې ډول دي:

### الف- د قانون تفسير په فرانسه کې:

((بالوبو پره)) د فرانسې د ديوان لومړی رئيس د فرانسې د مدني قانون د ((۱۰۰)) سلم کال د پوره کېدو په مناسبت په (۱۹۰۴) م کال کې د قانون د تفسير په هکله په خپل مشهور تقرير کې په هغې زمانه کې د تفسير روش چې پر ته له کوم اعتراض څخه د فرانسې په دو کتور ينو حاکمه وه رد کړه او وېې ويل: ((کله چې د قانون متن په حکمي حالت کې په روښانه او دقيق ډول بيانات شوی وي او هيڅ ډول مبهم والی و نه لري، قاضي د هغې په منلو او اطاعت کولو موظف دی. ليکن کله چې د قانون متن مبهم وي د هغه په کلماتو او مانا کې ترديد او شک موجود وي چې د يل متن په مقايسه ممکنه ده. تر يوې اندازې پورې نقيص يا کم شي او يا برعکس تصميم شي زما نظر دا دی چې په دې صورت کې قاضي د تفسير لپاره د لوی اختيار خاوند دی، هغه بايد کوښښ وکړي، تر څو معلوم کړي چې قانون ليکونکي ۱۰۰ کاله مخکې د قانون د ليکلو په وخت کې څه فکر درلود؟ هغه بايد د ځانه پوښتنه وکړي، داسې چې که هغه مقنن نن موجود وای ددې مادې په اړه به يې څه فکر کاوه.

بايد ځانته ووايي چې د هغې تغييراتو له امله چې په دې ۱۰۰ کالو کې د فرانسې ټولنې په افکارو، اساساتو او همدا رنګه په اقتصادي او ټولنيزې وضعې کې منځته راغلي، نو بايد چې قانون د همدغه واقعيتونو او غوښتنو سره همغږې شي او د همدې مفکورې په اساس قانون تفسير کړي، چې عدالت او عقل د واړه ددې حکم کوي.))

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- د قانون تفسير په المان کې:

د المان د تفسير طريقه د روم جرمن حقوقي کورنۍ د هېوادونو سره نژدې والى لري، خو د فرانسې هېواد سره څه توپير لري او هغه دا چې د فرانسې حقوق دانان خپل پخوانى قانون چې هم تفسيروي کوښښ کوي چې د مقنن اراده او هدف تفسير نه کړي، ولې المان کې که چېرې ضرورت وي، د مدني قانون ليکونکي کولاى شي، چې ځينې قانوني مقررات خنثى کړي.

## ج- د قانون تفسير د شمالي اروپا په هېوادونو کې:

په ځينو خاصو قانوني قواعدو باندې، د ګلي اصولو د ارزښت نظريه په سويډن او فنلينډ کې هم منل شوې ده، له دې جملې څخه د سويډن د رسمي قوانينو ټولګه په هر کال کې خپرېږي، د يوې پخوانې عنعنې له مخې چې ان تر (۱۳م) پېړۍ د وستګوتن (Westgoten) په قوانينو کې هم ليدل کېږي، د قاضيانو د لارښوونې تر عنوان لاندې يوه عمومي برخه لري، چې قاضيانو ته پکې (۴۳) لارښوونې موجودې دي، دا اصول په (۱۵۵۰ م) کال کې د يو استاد له خوا چې اولاس پيټر ( Olaus Petr) نومېده راغونډ شوي دي، سره ددې چې رسمي قانوني بڼه يې خانته نه ده غوره کړې، ولې له (۳۰۰) کالو څخه را په دې خوا په قوانينو کې ليکل کېږي، په دغو اصولو کې قضاتو ته ډېر پراخه صلاحيت ورکړل شوى دى، د مثال په ډول:

کله چې يو قانون مضر ثابت شي، نور نو قانون نه ګڼل کېږي، د يو صالح انسان حقوقي شعور او غوره قاضي د يوې موضوع په نظر کې نيولو سره شخصي ګټې په نظر کې نيسي، نو هر هغه قانون چې د شخصي ګټې په نظر کې نيسي قانوني اعتبار لري او هر هغه قانون چې د شخصي ګټې په نظر کې نه نيسي، قانونى اعتبار نه لري، ولې ددې تر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګ دا سې اصول هم شته دی چې: هغه شخص چې د قانون محتوی، هدف او مفهوم نه پېژني قاضي کیدای نه شي.

په لنډه ډول ویلی شو، چې هر وخت په قانون کې د کومې پېښې په اړه وضاحت موجود نه وي، یا دا چې بلکل خلا موجوده وي، یا دا چې الفاظ یې مغلق وي، نو هغه باید حل شي، ځکه چې د قانون په تطبیق کې، مشکلات رامنځته کوي او کله چې وغواړو دغه مشکلات حل شي نو باید قانون تفسیر شي.

دا چې تفسیر د مقننه قوې له خوا کېږي، که د قضایه قوې له خوا کېږي او که د عالمانو له خوا کېږي، خو نوموړی مشکل باید حل او فصل شي، ددې خبرې یادونه هم ضروري ده چې په جزایي مسایلو کې د قانون د چوکاټ په داخل کې د قانون تفسیر ډېر ښه دی او اعتبار هم لري

## دریم مطلب - عرف او عادات

ددې لپاره چې د عرف او عاداتو په اړه ښه معلومات تر لاسه کړو، لاندې عنوانونه باید مطالعه کړو، د عرف تاریخي بهیر، د عرف مانا او مفهوم، د عرف او عاداتو شرایط، د عرف او عاداتو د مشروعیت دلایل، د عرف اهمیت، د عرف متشکله عناصر، د عرف رول په قانون کې، دعرف ګټې او د عرف نواقص

### لومړی جز - د عرف او عاداتو تاریخي بهیر:

په تاریخي لحاظ له ټولو حقوقي منابعو څخه لومړنی منبع عرف او عادات دي

د قوانینو وضع کول هم له هغه وخت څخه چې دولتونه منځ ته راغلي پیل شوي دي، چې له هغې جملې څخه د حمورابي قانون چې له میلادي پېړۍ څخه دوه زره کاله مخکې تدوین شوی دی، همدارنګه الواح

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوازده ګانه، د ساماتیاتو قانون، د ماني قانون، د پخوانیو هند قوانین، د اتن او نور قوانین چې ډېره پخوانی سابقه لري، ولې کوم معیار وته چې په نظر کې نیول شوې له هغې څخه معلومیږي چې دغه ټول قوانین د تدوین شوي عرف له مجموعي څخه عبارت دي

تاریخ لیکوونکي او ټولنپېژندونکي بالاخره دې نتیجې ته رسي چې د حکومتونو تر ایجاد پخوا هم ډېرې قبیلې او قومونه تېر شوي دي، چې هغوی ادابو او قومي رواجونو ته احترام درلود. له پورته توضیحاتو څخه دې نتیجې ته رسیږو چې عرف د حقوقو ډېره مهمه منبع ده.

## دویم جز- د عرف او عاداتو مانا او مفهوم

په تېرو درسونو کې مو مطالعه کړل چې آفاقي حقوق دوه ډوله منابع لري، چې یو یې اصلي منابع دي او بل یې فرعي منابع. اصلي منابع عبارت له هغې منابعو څخه دي چې مستقیماً ترې نه استفاده کیږي، الزامي جنبه لري او استناد پرې کیږي. دغه اصلي منابع په درې برخو ویشل شوي دي.

د قوت په لحاظ اولینه منبع اسلامي شریعت دی، دویمه منبع قانون دی او درېیمه منبع یې عرف او عادات دی. ددې خبرې مفهوم دا دی چې هر وخت په یوه موضوع کې اختلافات پیدا شي، نو په لومړي قدم کې په اسلامي شریعت ته مراجعه کیږي. که په اسلامي شریعت کې د علم د کموالي په اساس حکم پیدا نه شو کړای، نو بیا قانون ته مراجعه کیږي او د هغوی د احکامو مطابق به فیصله کیږي او که په قانون کې هم حکم موجود نه وي. نو بیا به عرف او عاداتو ته مراجعه کیږي او د عرف په اساس به فیصله صورت نیسي اوس پوښتنه دا ده. چې عرف څه ته وایي؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عرف لغوي تعریف

عرف په لغت کې په مانا د معرفت او پېژندنې سره راغلې ده او عادات له هغه معقول کار څخه عبارت دي، چې د هغه په تکرار یا تندي انسان روږدی وي.

همدارنګه ابن عابدین وايي: عادات له معاودت څخه اخيستل شوي او تکرار ته وايي.

## د عرف اصطلاحي تعریف

د عرف او عاداتو لپاره ډېر تعریفات شوي دي چې دلته د نمونې په ډول تر ېته یادونه کوو، عرف او عاداتو، له هغو حقوقي قواعدو څخه عبارت دي چې د مقننه قوې او اساسي قانون له تشریفاتو څخه پرته، خپله د خلکو له وجدان او ذهنیت څخه ایجاد شوي وي.

یا په بل عبارت: عرف او عادات د هغو قواعدو مجموعه ده چې له ټولنيزو پېښو څخه راپیدا شوي وي او بې د مقننه قوې له مداخلې څخه یې د حقوقي قاعدې شکل ځانته غوره کړی وي.

یا: په ملي حکومت کې ټول ملي او حقوقي قواعد چې د ملت له ارادې څخه سرچینه اخلي، نو په هغه صورت کې چې په غیر مستقیم ډول یې د مقننه قوې له خوا اراده بیان او منځته راوړل شي قانون او که په مستقیم ډول منځته راوړل شي عرف ګڼل کیږي.

یا عرف او عادات د هغو اصولو مجموعه ده کوم چې انسانانو په خپله اختیار کړي وي او د قانون په څېر احترام یې کوي او خپلې ټولې فیصلې یې همدې ته محول کړي وي.

ځینې علماء وايي چې عرف په اصطلاح کې په دوو ماناوو سره استعمال شوی دی.

۱- عرف او عادات عبارت له هغې څخه دی چې د ټولنې اکثره خلکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو عمل يا خبرې په اثر تكرار كړې وي

۲- عرف او عادات د حقوقي قواعدو مجموعه ده، چې د عامو خلكو له سلوك او عاداتو څخه لاسته راغلي وي

له پورته تولو ذكر شويو تعريفاتو څخه له مفهومه ډك 'A:

'A: او هر اړخيز تعريف په لاندې ډول دی:

*تعريف:*

د غير رسمي حقوقي قواعدو مجموعه، چې خلكو په خپله خوښه د خپل ځان لپاره ايجاد كړې وي او له ډېر وخت څخه په استمراري ډول تكرار شوي وي او خلكو يې تطبيق په خپل ځان باندې د يوې حقوقي قاعدې په څېر لازمي او اجباري ګرځولي وي، عبارت له عرف او عاداتو څخه دی.

ددې لپاره چې د پورته تعريف په اړه پوه شو، لاندې نقاط روښانه كوو.

۱- عرف او عادات يوه غير رسمي حقوقي قاعده ده، ددې خبرې مانا دا ده چې د قدرت لرونكي مقاماتو له خوا چې هغه عبارت له مقننه قوې، لويې جرګې، رئيس جمهور، د وزيرانو شورا او د وزارت له عالي شورا څخه دي، نه وي تصويب شوي بلكې د عوامو له خوا ايجاد شوي وي

۲- پخواني به وې: عرف او عادات هغه وخت د حقوقي قاعدې شكل اختياروې چې، زيات وخت ورباندې تېر شوي وي، كه چېرې وخت ورباندې نه وي تېر شوی بيا حقوقي قاعده نه ګڼل كېږي

۳- په استمراري ډول تكرار شوي وي: په دې كې دوه نقاط دي، يو دا چې دا بايد تكرار شوي وي، تكرار څخه هدف دا دی چې، په كراتو كراتو تكرار شوي وي، خو ددې تر څنګ چې بله نقطه شتون لري هغه له استمرار څخه ده او ددې مانا دا ده چې په تكرار كې به يې انقطاع نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي رامنځته شوې او که په منځ کې یې انقطاع رامنځته شوي وي، دا بیا دحقوقي قاعدې حیثیت نه لري.

۴- ټولو خلکو ځکه هدف دا دی چې دا به په ټول قلمرو کې تکراریږي، که چیرې د یوې سیمې او منطقې خلک د یو عمل تکرار کوي، هغه ته رسم او رواج ویل کیږي، خو د یوې حقوقي قاعدې په مانا نه دی.

۵- خلکو یې تطبیق په ځپل ځان باندې لازمي کړی وي، ددې هدف دا دی چې پرته د اجرایه قوی له شتون څخه نو موږي اعمال خلکو ته د قدر وړ ښکاري او په خپل ځان باندې دا لازمي ګرځولې وي او په احترام باندې ورته قایل شوي وي.

نو هر وخت چې دغه پنځه واړه نقاط په یو عمل کې موجود شي له هغې څخه وروسته هغې ته موږ عرف او عادات وایو.

د پورته نقاطو تر څنګ چې د عرف او عادات د تعریف او روښانه کولو لپاره ذکر شو، د عرف او عادات لپاره یو سلسله خاص شرایط تاکل شوي، که دغه شرایط موجود نه وي بیا نو، حقوقي قاعده نه ګڼل کیږي.

*دریم جز- د عرف او عاداتو شرایط:*

په عرف او عاداتو کې باید لاندې شرایط موجود وي، که چیرې له دغه شپږو شرایطو څخه یو هم موجود نه شي، عرف او عادات صحت نه لري.

*لومړی شرط: عرف او عادات باید د عامه نظام سره مطابق وي*

که چیرې عرف او عادات د عامه نظام سره مخالفت ولري، په دې صورت کې نوموړي عرف او عادات د حقوقو د منبع په حیث نه قبلیږي، اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کیږي چې عامه نظام څه ته وایي؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له‌ عامه‌ نظام څخه‌ هدف اسلامي شريعت او قانون دوي، چې له‌ همدې دواړو څخه‌ هر يو جلا جلا روښانه‌ کوو.

عرف او عادات بايد د اسلامي شريعت سره‌ په‌ ټکر کې نه‌ وي. لکه‌ په‌ يدو کې د ښځو ورکول، په‌ قرآن کريم کې الله فرمايي:

(وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ.)

ژباړه: د يو چا بار د بل چا په‌ اوږو باندې مه‌ باروئ. همدا رنګه‌ په‌ سورة بقره‌ کې داسې فرمايي:

(وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ(بقره، ۱۳٤).)

ژباړه: او د هغوی د عملونو په‌ هکله‌ تاسې نه‌ پوښتل کيږئ.

له‌ دغه‌ دواړو اياتونو څخه‌ معلوميږي، چې جرم يو شخص عمل دی او د يو شخص په‌ عوض بل شخص محاکمه‌ او مجازات کيږي نه‌

نو دلته‌ ليدل کيږي چې په‌ يدو کې ورکول هم د دغه‌ پرنسيب، سره‌ مطابقت نه‌ لري، ځکه‌ چې جرم يو چا کړی او جزا يې بل چا ته‌ ورکول کيږي

همدا رنګه‌ د فقهي له‌ قواعدو هم داسې عرف غوره‌ ګڼه‌ ده.

استعمال الناس حجة يجب العمل بها.

ژباړه: د خلکو عادات چې د شرعي مخالف نه‌ وي د عمل وجوب لپاره‌ دليل دی.

په‌ دې مانا چې: ټول هغه‌ اعمال چې خلک يې په‌ خپل منځ کې تکراروي که‌ چيرې د اسلامي شريعت سره‌ مخالف نه‌ وي، نو د خلکو عادات خپله‌ په‌ دې دليل دي چې دا کار جائز او واجب التعميل دی.

### عرف او عادات په‌ قانون کې:

قانون هم خينې عادات منع کړي دي. لکه‌ په‌ يدو کې د ښځو ورکول، له‌ ميراث څخه‌ محرومول، په‌ اموالو کې له‌ تصرف څخه‌ منع کول او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې نور.

لکه د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي د منع قانون

۲۵A ماده کې داسې حکم کوي:

((که څوک په بدو کې ښځه ورکړي، یا یې ورکړي په اوږد حبس محکومیږي، چې له (۱۰) کالو څخه زیات نه وي)) د همدې قانون په (۳۳) ماده کې داسې صراحت وجود لري

۳۳ ماده: ((هغه شخص چې د ښځې د میراث په متروکه خنډ شي په لنډ حبس چې د یوې میاشتې زیات نه وي، محکومیږي))

یا دا چې اوس په اکثرو ځایونو کې خلک عادت شوي دي، چې په عمومي لارو، سرکونو او پارکونو کې کثافت اچوي، چې دغه عادت د قانون خلاف دی. لکه د جزا قانون ۵۰۲ ماده حکم کوي

که څوک په عمومي لارو، سرکونو، تفریح ځایونو او نورو کې کثافت، د چارو ښځلې، چټلي ((یا غیره واچوي په حبس محکومیږي، چې تر (۱۵) ورځو زیات نه وي، یا نغدي جریمه چې تر (۵۰۰) افغانیو تجاوز و نه کړي))

نو هر عرف چې د اسلامي شریعت یا قانون مخالف وي اعتبار هم نه لري

دویم شرط: باید له عامه ذهنیت څخه یې منشاء اخیستې وي

نو هر هغه عرف چې د ټولنې د اکثرو خلکو ذهنیت هغه قبول کړی وي او د هغې لپاره په زړه کې احترام ولري، نو اعتبار هم لري. که چیرې کوم عرف پوره نه کړي. یا دا چې د ټولنې د اکثره خلکو ذهنیت او رایه د هغې خلاف وي یا د عرف اعتبار نه لري. په دې مانا چې د حقوقو منبع نه ګڼل کیږي. لکه په هوټلونو کې ودونه کول، یا ځینې بې ځایه رواجونه. لکه د خارجیانو له خوا خلکو ته زیاتې تحفې ورکول. په اکثره ځایونو کې د حج فریضه د عرف، رسم او رواج په اثر له خلکو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شي او داسې نور.

*دريم شرط: عرف او عادات بايد پخواني وي*

هغه عرف او عادات د حقوقو د منبع په حيث پېژندل کېږي، چې تاريخي قدامت ولري او له پخوا زمانې څخه تکرار شوي وي، که چېرې نوی او تازه شروع شوی وي، بيا دا عرف اعتبار نه لري.

*څلورم شرط: عرف او عادات بايد د ټولنې د اکثرو غړو له خوا قبول شوي وي*

که چېرې کوم عرف او عادات داسې وي، چې د ټولنې اکثرو غړو هغه نه وي قبول کړی، هغې ته د حقوقو منبع نه شو ويلی.

*پينځم شرط: عرف او عادات بايد داخلي وي*

که چېرې کوم عرف يا عادات له پرديو څخه را انتقال شي، هغه ددې ټولنې لپاره د عرف اعتبار نه لري.

*شپږم شرط: عرف او عادات بايد په تسلسل سره تکرار شوی وي*

هر هغه عرف چې بيا بيا تکرار شوی وي او هېڅ ډول انقطاع پکې نه وي راغلی، عبارت له عرف څخه دی او د عرفي منبع په حيث قبول شوی.

او که چېرې داسې وي چې تکرار شوی نه وي او يا دا چې تکرار شوی ي، خو انقطاع پکې رامنځته شوي وي اعتبار نه لري.

*څلورم جز- د عرف او عاداتو مشروعيت*

د عرف او عاداتو په اړه وويل شو، چې دا د حقوقو له اصلي منبع څخه عبارت دی، اوس د لته يوه پوښتنه مطرح کېږي، د کومو دلايلو په اساس موږ دا حکم کولای شو چې عرف او عادات د حقوقو اصلي منبع ده؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې لپاره لاندې دلايل موجود دي

۱ـ د قرآن کريم دليل:

د سورت اعراف (۱۹۹) ايت کې الله تعالى فرمايي:

(خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ۱۹۹.)

ژباړه: عادت جوړ کړه د ګذشت کولو او حکم کوه د نيکو کارونو او ډډه کوه له جاهلانو څخه (معارف القران، ۳ جلد ، ۲۲۱ مخ)

الله تعالى په دې ځای کې پيغمبر ع ته دستور ورکوي چې خلکو ته په عرف حکم وکړي

په دې ځای کې له عرف څخه لغوي مانا عبارت له ښه کار څخه، خو دا ددې بيانوونکی دی چې عرف په اسلام کې اعتبار لري

همدارنګه که د اسلام د ظهور تاريخ ته متوجه شو، الله ج د عربو ډېر عرفونه او عادتونه تائيد کړي دي لکه مضاربت، بيع، صحيح اجاره، همدارنګه فقهاو په فقهي قاعدو کې داسې فرمايلي دي:(العادة محكمة): عادت د شرعي حکم د اثبات لپاره حکم شمېرل کېږي

يا دا: هغه چې په عرف ثابت دی، هغه په شرعي دليل ثابت دی.

يا دا چې: الثابت باالعرف کا الثابت باالنص.

هغه چې په عرف ثابت شوی، داسې فرض کړه چې په نص ثابت شوی دی.

يا په بل عبارت: استعمال الناس حجة يجب العمل بها.

ژباړه: د خلکو عادت چې د شرعې مخالف نه وي، د عمل د وجوب لپاره دليل دی.

يا: التعين باالعرف کا التعين باالنص.

ژباړه: په عرف کې ټاکل شوی شی داسې دی لکه په نص چې ثابت شوی وي.(قواعد فقهي، ۹۷ -۹۸ مخونه).

د دغو ټولو دلايلو تر څنګ د افغانستان د مدني قانون کوم

Scanned by CamScanner

چې په (۱۳۵۵ هـ ش) کال نافذ شوی دی، په دویمه ماده کې داسې صراحت موجود دی.

۲ ماده: ((په هغه صورت کې چې په قانون یا د اسلامي د شریعت د حنفي فقهي په کلي اساساتو کې یو حکم موجود نه وي، محکمه د عمومي عرف سره سم حکم صادروي، خو په دې شرط، چې حکم د دې قانون د حکمونو یا عدالت د اساساتو متناقض نه وي.))

همدارنګه د دې قانون د ۹ مادې دویم بند کې داسې صراحت موجود دی:

۹ ماده، دویم بند: ((له حق څخه تیری په لاندې مواردو کې پیدا کیږي.))

۱- د عرف او عاداتو مخالف کارونه

له دې جملې څخه معلومیږي، هر هغه څوک چې د عرف او عادت مخالف عمل تر سره کړي، نو د دې مانا دا ده، چې د بل چا حق یې تلف کړی دی، د دې نه هم ثابته شوه چې عرف او عادت د حق منبع ګڼل کیږي

پینځم جز- د عرف او عاداتو اهمیت

څرنګه چې موږ او تاسې ولوستل چې عرف او عادات د آفاقي حقوقو له اصلي منابعو څخه یوه ډیره مهمه منبع ده، چې اهمیت یې په لاندې ډول تکو کې واضح کوو.

۱- څېله قانون ورته اهمیت ورکړی دی.

دا د قانون غوښتنه ده، چې عرف او عادات باید د قانون او عدالت سره د عدم متاقي والي په صورت کې د آفاقي حقوقو د اصلي منبع په حیث قبول شوي دي

چې د افغانستان د مدني قانون دویمه ماده په دې اړه صراحت لري چې مخکې درس کې لوستل شوې ده: لکه غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي عدالت یا غیر رسمي قضاوت

د قومي مشرانو او علماوو له خوا د خلکو تر منځ د مسایلو حل او فصل کول، چې دا یوه حقوقي منبع ده، خو که په همدغو جرګو کې داسې پرېکړه وکړي چې د قانون یا عدالت خلاف وي نو د حقوقو د منبع په حیث نه منل کېږي لکه په یادو کې ورکول.

**۲- عرف او عادات د خلکو له ذهنیت څخه منشاء اخلي:**

د اهمیت ور دویمه نقطه یې همدا ده، چې خلکو په خپله خوښه د خپل ځان لپاره اختیار کړې دي او بیرته له اجرائیه قوې څخه خپله یې په ځان لازم او ضروري ګرځولي وي.

لکه په کلي کې د یو چا کور کې مړی کېږي، نور خلک له خپل کلیوالۍ سره د همکارۍ له مخې دا په خپل ځان باندې لازمي ګرځولې ده چې باید له هغوی سره مرسته او همکاري وکړي، چې په دې صورت کې پولیس یا بل کوم اجرایي قوت نشته، خو خلکو یې عملي کول پر خپل ځان لازمي ګرځولي.

**۳- د قانون په ایجاد کې ستر رول**

هر وخت چې قانون جوړېږي، عرف او عادات له هغې سره مرسته او کومک کوي، دا ځکه چې عرف او عادات پخواني دي او قوانین له عرف څخه وروسته منځته راغلي چې یو دلیل یې قدامت شو، دویم دلیل دا دی چې مقنن هر وخت قانون جوړوي، باید د ټولنې عرف او عادات په نظر کې ونیسي او د هغوی په رڼا کې قانون تصویب کړي، همدارنګه د قانون د خلا په ډکولو کې مرسته او همکاري کوي او هغه داسې چې هر وخت په قانون کې حکم موجود نه وي، نو باید چې د عرف او عاداتو په اساس حکم وشي، چې په اسلامي قوانینو کې هم ځینې داسې مقررات شتون لري، چې د پخوانیو قومونو عرف او عادات یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبول کړې دي

د اسلامي شريعت له تعليماتو څخه دا معلومه ده چې، د اسلام سپېڅلي دين د غلامۍ خلاف دی.

خو دا چې په عربو کې عرف دا و، چې قومونه په دوه برخو وېشل شوي وو، چې يو يې غلامان او بل يې اشراف يا اصيل خلک وو، چې اسلام د عرف له مخې په خپلو تعليماتو کې غلامي قبوله کړه، سره د دې چې د غلامانو د آزادولو لپاره يې ډېرې لارې په کار اچولې لکه کفارات او نور.

*۴- عرف او عادت پخواني دي:*

دا چې لومړی عرف او عادات منځته راغلي او وروسته بيا قانون منځ ته راغلی، نو پر همدې اساس عرف او عادات ډېر مهم دي

## *شپږم جز- د عرف او عاداتو متشکله عناصر:*

عرف او عادات دوه عناصر لري، چې د حقوقي قاعدې د ايجاد او تحقق لپاره لازمي دي دا عناصر عبارت له مادي عنصر او معنوي عنصر څخه دي، چې هر يو په جلا جلا ډول روښانه کوو.

*لومړی- مادي عنصر:*

مادي عنصر په دې مانا چې دغه عمل به د ټولو خلکو له خوا په ټول قلمرو کې د پخوا وختونو راهيسې په کراتو په خپله خوښه د خپل ځان لپاره انتخاب شوی وي، چې د مادي عنصر مهم نقاط په لاندې ډول مطالعه کوو.

- د ټولو خلکو له خوا دغه عمل تر سره شوی وي. که چېرې د يو خاص ګروپ له اړخه تر سره شوی وي اعتبار نه لري، د تحقق لپاره يې عمومي والی شرط دی.

- په ټول قلمرو کې به عملي کېږي، که چېرې د يو دولت په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه سيمه کې يا په يو څو سيمو کې اجرا کېږي او په ټولو کې نه اجرا کېږي لکه په يو ولايت يا څو ولاياتو کې ترسره کېږي او په ځينو ولاياتو کې نه ترسره کېږي، نو په دې صورت کې عرف د حقوقو د منبع په حيث نه پېژندل کېږي.

-خلکو دغه عمل په خپله خوښه انتخاب کړی وي او يو داخلي عمل وي.

-د عه عمل به ډېر پخوانی وي، که يو عمل نوی په يو هېواد کې د خلکو له خوا رواج شوی وي، نو په دې صورت کې د حقوقو د منبع حيثيت ځانته نه غوره کوي.

-دغه عمل به په پرله پسې ډول پرته له انقطاع څخه تکرار شوی وي.

-دغه عمل به د يوې مشخصې موضوع پورې تړلی وي.

*دويم- معنوي عنصر:*

د خلکو ذهنيت نو موړې موضوع (د عرف او عادت) د يوې حقوقي قاعدې په شکل په خپله خوښه په ځان لازمي کړي وي او د هغې احترام ته قايل وي، چې د معنوي عنصر مهم ټکي په لاندې ډول دي:

-خلکو يې تطبيق په خپل ځان باندې لازمي کړی وي.

-خلک دا ګومان کوي چې دغه عمل يوه حقوقي قاعده ده.

-الزاميت يې په خپله خوښه وي.

-خلک ورته په احترام باندې قايل وي.

*اووم جز- د عرف او عاداتو رول په قانون کې:*

د عرف او عاداتو رول او نقش په قانون کې په مختلفو بڼو کېدلای شي، چې له هغې جملې څخه لاندې درې ټکي ډېر مهم دي:

۱- عرف او عادات د قانون خلا ډکوي، لکه د افغانستان د ۱۳۵۵ ه ش کال مدني قانون په دويمه ماده کې راغلي: ((که د يوې مسئلې د حل لپاره په قانون او شريعت کې کومه لاره پيدا نه کړي، نو بايد د عرف او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاداتو په اساس نوموړي موضوع حل او فصل کړي))

۲- د قانون په ایجاد کې نقش لري

هر وخت چې قانون جوړېږي نو په دې صورت کې مقنن له عرف او عاداتو څخه استفاده کوي او د هغې په رڼا کې قانون وضع کوي

۳- د قانون په تفسير کې مهم نقش لري: کله چې په قانون کې خلا یا مغلقیت موجود وي، نو په دې صورت کې د قانون مفسر ټولنې ته مراجعه کوي او په دې اړه له ټولنې څخه استفاده کوي

### اتم جز- د عرف او عاداتو ډولونه

عرف او عادات د مختلفو وجوهاتو له مخې په مختلفو برخو باندې وېشل شوي دي، چې مهم یې په لاندې ډول دي

### ۱- د قول او فعل په اعتبار سره

د قول په اعتبار سره عرف په دوه ډوله دی، يو قولي عرف او بل هغه فعلي عرف، چې په لاندې توګه ترېنه یادونه کوو:

### الف- قولي عرف

هغې عرف ته وايي، چې د خلکو ترمنځ د الفاظو او خبرو په شکل رواج وي، لکه د لوط د قوم عمل، که څوک ووايي چې د لوط د قوم عمل یې تر سره کړی دی نو که وليدل شي چې د لوط د قوم اعمال څو ډېر دي، لکه، د سپيو جنګول، لاسونه پرې کول، کوترباري، له ترانو څخه د خپلو خواهشاتو پوره کول او داسې نور.

خو په افغاني ټولنه کې که څوک ووايي چې د لوط د قوم عمل یې کړی دی، له دې څخه هدف له ترانو څخه د خپل خواهش پوره کول دي

### ب- فعلي عرف

دا عبارت له هغې عرف څخه دی چې په ټولنه کې یې خلک د يو عمل په څېر اجرا کوي لکه ولور، یا ښځو ته د میراث نه ورکول، یا مهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجل او مهر معجل.

### ۲- د خاص او عام په اعتبار سره د عرف ډولونه:

د خاص او عام په اعتبار سره عرف په دوه برخو باندې وېشل شوی دی، چې یو ته عام عرف وایي او بل ته خاص عرف وایي.

*الف- عام عرف:* عام عرف عبارت له هغې عرف څخه دی، چې په ټول قلمرو کې یا د یو دولت د اکثرو خلکو له خوا عملي کېږي یا په بل عبارت هغه عرف ته ویل کېږي، چې هېڅ یوې طبقې ته ځانګړی شوی نه وي یا په بل عبارت: عام عرف هغې ته ویل کېږي، چې د صحابه وو له زمانې څخه راپه دې خوا جاري وي او مجتهدینو منلی او عملي کړی وي.

*ب- خاص عرف:* له هغه ځانګړي شي څخه عبارت دی، چې په یوې ډلې پورې تړلی وي.

### ۳- قانون سره د رابطې په اعتبار د عرف ډولونه:

په دې اعتبار سره عرف په درې برخو وېشل شوی دی.

*الف- د قانون تکمیلونکی عرف:*

موږ مخکې د افغانستان د مدني قانون(۲) ماده ذکر کړه، چې که په قانون او شریعت کې د مسئلې حل نه و، نو په دې صورت کې عرف ته مراجعه کېږي، چې همدغه حالت د قانون تکمیل ګڼل کېږي.

*ب- د قانون همکار عرف:*

کله داسې وي چې د یوې مسئلې لپاره یو څه مسایل قانون پېش بیني کړي وي او یوه برخه یې عرف پېش بیني کړې وي، یا د عرف په اساس حل او فصل شوي وي. لکه: د افغانستان د مدني قانون(۱۴۸۲) ماده داسې صراحت لري:

*۱۴۸۲ ماده:* ((تعهد کوونکي مکلف دي، هغه اضافي سامان چې د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار اجرا کول یې ایجابوي په خپل مصرف برابر کړي، مګر دا چې د کسب ګرو عرف یا د دواړو خواوو موافقه په بل ډول وي ))

*ج- د قانون مخالف عرف.*

کله داسې وي چې عرف د قانون مخالف وي، لکه ولور، په بدو کې د ښځو ورکول او داسې نور.

اوس دلته پوښتنه واقع کېږي؛ که عرف د قانون یا شریعت خلاف وي، حقوقي منبع ګڼل کېږي؟

په دې اړه لاندې توضیح ورکول شوې ده:

- که عرف د قانون مخالف وي نو د مدني قانون (۲) مادې د حکم په اساس عرف اعتبار نه لري

که د شریعت سره په ټکر کې وي نو دا به دوه علتونه لري، یو که د نص سره په ټکر کې وي، نو په دې صورت کې نص ته اعتبار ورکول کېږي او عرف اعتبار نه لري او که چېرې له فقهي مسایلو سره په ټکر کې وي، یانې نص موجود نه وي بلکې د اجتهاد له مخې د هغې حکم ثابت شوی وي، نو په دې صوررت کې عرف ته په په خپله زمانه کې اعتبار دی، ځکه چې مجتهد په ګڼ شمېر مسلو کې د خلکو د عاداتو مطابق حکم کوي، نو په دې اساس بې شمېره احکام د زمان په اوښتو سره او یا د یو ضرورت په پیدا کېدو سره بدلون پیدا کوي، نو همدا وجه ده چې په معاصر وخت کې علماء د قرآن کریم په تعلیم، اذان او امامت باندې اجرت (اجوره) اخیستل جایز ګڼي، ځکه چې که خلک په بل کار بوخت شي، نو په دې صورت کې د قرآن کریم تعلیم او تعلم له منځه ځي، سره ددې چې امام ابو حنیفه رح او یاران یې په طاعاتو کې اجرت اخیستل ناروا بولي.

اما د هغوی زمانه او سني عصر سره ډېر توپیر لري چې نه مقایسه کېږي *(فقهي قواعد، ۹۲)*.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم جز- د عرف او عاداتو ګټې او زیانونه

دا چې عرف او عادات د حقوقو له اصلي منابعو څخه یوه منبع ده، راځو دې ته چې خپله عرف او عادات ګټې او نواقص لري، که نه؟

په دې اړه باید ووایو، چې عرف او عادات ګټې او نواقص دواړه لري، چې له هر یو څخه په جلا جلا ډول یادونه کوو.

### د عرف او عاداتو ګټې:

د عرف ګټې په لاندې ډول دي:

۱- لکه څرنګه چې د حقوقو دریمه اصلي منبع ده، نو هر وخت چې عرف او قانون سره مقایسه کړو، نو لیدل کېږي، چې عرف له طریقو څخه لاسته راغلي، چې حقوقي قواعد له هغې څخه استخراج کېږي

۲- عرف د ټولنې نظریات او تحولات تعقیبوي او د ټولنې د ظروفو په نظر کې نیولو سره تغییر کوي او نوی قواعد ایجادوي، چې د دولت مداخلې ته ضرورت نه لري

### د عرف او عاداتو زیانونه:

عرف او عاداتو لاندې زیانونه لري:

۱- عرف او عادت کې چې کله هم کوم تغییر او تحول رامنځته کېږي، هغه ډېر بطي او سست وي، عرف سمدلاسه منځته نه راځي، بلکې زیات وخت غواړي

۲- عرف د یو واحد سیاسي نظام وسیله نه ګڼل کېږي، بلکې د سیاسي نظام وحدت د حقوقو د قواعدو په اساس رامنځته کېږي

۳- د عرف او عاداتو تشخیص ډېر مشکل دی او د ډېر دقت نه وروسته ثابتېږي، چې د حقوقو منبع ګڼل کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مبحث- د افاقي حقوقو فرعي منابع:

هر وخت چې د يوې موضوع د حل لاره په اصلي منابعو کې پيدا نه شي، نو له هغې څخه وروسته فرعي منابعو ته رجوع کېږي او په هغې کې د نوموړې موضوع د حل لپاره لاره پيدا کوي، ددې لپاره چې د فرعي منابعو په اړه ښه پوه شو، لاندې موضوعات روښانه کوو.

فرعي منابع او اصلي منابع يو له بل سره څه توپير لري؟ بل دا چې فرعي منابع په څو برخو وېشل شوي دي؟

د اصلي منابعو په تشريح کې دا خبره روښانه شوې، چې: اصلي منابع له هغو منابعو څخه عبارت دي، چې لاندې درې خصوصيات ولري:

۱-له اصلي منابعو څخه مستقيماً استفاده کېږي

۲-اصلي منابع اجباري او الزامي جنبه لري

۳-قضات او محاکم په اصلي منابعو باندې استناد کوي

پورته درې صفتونه، چې اصلي منابعو لپاره ذکر شوي، د همدغه خصوصياتو برعکس خصوصيات په فرعي منابعو کې شتون لري، چې د همدغه خصوصياتو په اساس دغه دواړه منابع يو له بله جلا کېږي

### د فرعي منابعو خصوصيات:

۱- له فرعي منابعو څخه مستقيماً استفاده نه کېږي

۲-فرعي منابع الزامي او اجباري جنبه نه لري

۳-قضات او محاکم د حکم په وخت کې مستقيماً پر فرعي منابعو استناد نه شي کولای.

البته د يوې خبرې يادونه ضروري برېښي چې له فرعي منابعو څخه په غير مستقيم ډول استفاده هم کېږي، د قضاتو د تصميم او د قانون په تفسير، ايجاد، تغيير او تبديل کې له استفادې څخه وروسته اجباري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنبه هم پیدا کوي او بیا پرې استناد هم کېږي

چې همدغه موضوع د فرعي منابعو له تشریح څخه وروسته ښه روښانه کېږي

دویمه کومه نقطه چې روښانه کول غواړي هغه داده چې، فرعي منابع په څو برخو باندې وېشل شوي دي؟ او دا وېشنه د کوم معیار په اساس شوې ده؟

فرعي منابع په دوه برخو باندې وېشل شوي دي، چې له قضایي رویې او دوکتورینو څخه عبارت دي. د دغه دواړو د وېش لپاره کوم خاص معیار په نظر کې نه دی نیول شوی، خو اعتبار یې د قوت او ضعف په اساس دی او هغه په دې مانا چې په فرعي منابعو کې د یوې موضوع په اړه د حل لاره موجوده نه وي، نو بیا د فرغي منابعو څخه په لومړي قدم کې قضایي رویې ته مراجعه کېږي، که چېرې قضایي رویه کې د مسئلې لپاره د حل لاره موجود وه، نو په دې صورت کې دکتورینو ته مراجعه نه کېږي او که چېرې احیاناً په قضایي رویه کې حکم موجود نه وي نو له هغې څخه وروسته به بیا دکتورینو ته مراجعه کېږي، له دې توضیح څخه معلومه شوه چې د فرعي منابعو وېش هم لکه د اصلي منابعو په څېر د قوت او ضعف په لحاظ د سلسله مراتبو په نظر کې نیولو سره شوی دی.

ددې لپاره چې د فرعي منابعو په هکله ښه پوه شو، ډولونه یې جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

## لومړی مطلب- قضایي رویه:

لکه څرنګه چې مخکې هم دې خبرې ته اشاره شوې وه چې مقنن ددې توان نه لري، چې داسې قانون وضع کړي چې د ټولنې د ټولو مشکلاتو د حل لپاره یې پېش بیني کړې وي، نو همدا علت دی چې د قانون د تطبیق

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وخت کې قضات او محاکم له مشکلاتو سره مخامخ کېږي، په دې صورت کې قضات مجبور دي چې په قانون کې دغه شته نواقص جبران کړي او يوه د حل لاره ورته راوکاږي، ليدل کېږي د قانون وضع، تصويب، د خلا ډکول، روښانه کول، يا د قانون تفسير، د قضايه قوې کار نه دی، خو دا چې پرېکړو ته اشد ضرورت دی او وخت هم کم دی نو همدا علت دی چې قضايه قوې ته د دې واک ورکول شوی، چې د قانون تفسير وکړي، په دې مانا چې د مشکلاتو د حل لپاره لاره ولټوي او کله چې قضات او محاکم د مسايلو لپاره د حل لاره پيدا کړي او په هغې باندې پرېکړه وکړي او همدغه پرېکړه د همدې محکمې يا نورو محاکمو له خوا تکرار شي له قضايي رويې څخه عبارت دی، خو ددې لپاره چې د قضايي رويه په اړه بهتر معلومات تر لاسه کړو لاندې عنوانونه بايد مطالعه شي.

د قضايي رويې پېژندنه،د قضايي رويې د ايجاد عوامل، د قضايي رويې ډولونه، د قضايي رويې ګټې او نواقص او له ځينو نورو فرعي عنوانو څخه يادونه شوې ده، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي.

## لومړی جز-د قضايي رويې تعريف:

د قانون د تطبيق په وخت کې کله داسې واقع کېږي، چې قضات او محاکم د قانون د خلا يا مغلقيت او پېچلتيا سره مخامخ شي او د نورو مراجعو له خوا دغه مشکلات درک شي، ددغې خلا او مغلقيت لپاره مقننه قوه اقدام وکړي او دغه مشکل لپاره د حل لاره ولټوي، چې دغه عمل ته تقنيني تفسير وايي، اما کله داسې هم واقع کېږي، چې قضات د قانون د تطبيق په وخت کې له مشکلاتو سره مخامخ کېږي، خو د دغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکلاتو د حل لپاره خپله د قضاتو او محاکمو له خوا قانون تفسیرېږي، چې دغه عمل ته قضایي تفسیر وایي او هر وخت چې همدغه قضایي تفسیر د ددې محکمې یا بلې کومې محکمې له خوا تکرار شي دغه د محاکمو د پرېکړو تکرار په مشابه موضوعاتو کې عبارت له قضایي رویې څخه دی.

که د قضایي رویې اصطلاح پرته له قید او شرط څخه او یا په مطلق ډول په کار یوړل شي، نو هدف یې د قضایي اراوو مجموعه ده. ولې په خاص ډول د قضاتو له هغه تصمیم څخه عبارت دی، چې په مشابه موضوعاتو کې یو شان تصمیم و نیسي او دغه تصمیم دومره تکرار شي چې: وویل شي که محاکم بیا ددې مشکل سره مخ شي نو همدا تصمیم به بیا نیسي او تکراروي به یې.

همدا علت دی، چې قضایي رویه د حقوقو له منابعو څخه یوه منبع ګڼل کېږي.

اوس دلته یو سوال مطرح کېږي او هغه دا چې: هر وخت چې په یوه محکمه کې یو حکم صادر شي یا دا چې یوه پرېکړه وشي، آیا خپله همدغه محکمه او یا نور محاکم په دې باندې مکلف دي چې همدغه پرېکړه تکرار کړي؟

ددې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې: د پر نسیپ له مخې هېڅ یوه محکمه په دې باندې مکلفه نه ده چې د بلې محکمې له خوا صادر شوې پرېکړه تکرار کړي، حتی خپله همدغه محکمه هم په دې مکلفه نه ده.

اوس بله پوښتنه مطرح کېږي، چې: ولې محاکم د یوې محکمې پرېکړه بیا تکراروي، چې په نتیجه کې قضایي رویه ایجادېږي؟

ددې لپاره چې دا پوښتنه ځواب شي، نو باید چې ووایو دا څکه چې د قضایي رویې ایجاد ځانته علل او عوامل لري، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاندې ډول روښانه کېږي

## دويم جز-د قضايي رويې د ايجاد عوامل:

د قضايي رويې د ايجاد لپاره دوه ډوله عمده عوامل شتون لري، يو تولنيز او رواني عوامل دي او بل د محاکمو د طبقه بندۍ له مخې د قضايي رويې د ايجاد عوامل دي، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي.

### الف-د قضايي رويې د ايجاد رواني او تولنيز عوامل:

هر وخت چې قضات او محاکم قانون تفسير کړي، يا دا چې په هغه صورت کې چې په قانون کې صراحت موجود نه وي، خو محاکم له همدې قانون څخه يو حکم استنباط کړي او د هغې په اساس د يو چا په اړه تصميم ونيسي نو په رواني او تولنيز ډول نورې محاکم د همغې پرېکړې حمايت کوي او بيا يې تکراروي، دا چې ولې يې تکراروي عوامل يې عبارت دي له:

#### د دقت له حيثه:

کوم وخت چې دوی د لومړي ځل لپاره قانون تفسير کړي، نو په هغه وخت کې دوی له ډېر زيات د قت څخه پکې کار اخيستی وي، هلې ځلې يې کړې وې، مطالعات يې کړي وي، له نورو قضاتو څخه يې معلومات تر لاسه کړي وي، پخوانی پرېکړې يې هم ليدلې وي او يو څه وخت يې هم پرې ضايع کړی وي، نو دغه قضاتو ته خپل کار ډېر دقيق ښکاري او همدغه حکم بيا تکراروي

#### د سهولت له حيثه:

دوی چې کله يو ځل مخکې په يوه مشابه موضوع کې پرېکړه کړې وه، نو په هغې کې يې پلټنه کړې وه، نو د سهولت لپاره هغه حکم بيا تکراروي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د حیثیت له حیثه

دا چې قضات او محاکم خپل خاص پرستیژ، حیثت او شخصیت لري، نو دوی دي لپاره چې بله ورځ ځوک و نه وایي چې وګورئ قاضي صاحب په یوه مشابه موضوع کې پرون یو رنګ او نن بل رنګه حکم کوي، البته سمه استفاده یې وکړه، نو حیثیت او شخصیت ته یې صدمه رسیږي، پس ددې لپاره چې حیثیت او شخصیت یې خوندي پاتې وي همغه پخوانی حکم بیا تکراروي،

### د نبه لاسته راوړنې د ساتنې له حیثه

دا چې قضاتو قانون تفسیر کړی او یوه لاسته راوړنه لري، نو که همغه حکم تکرار کړي، ددې مانا دا ده چې خپل ابتکار او لاسته راوړنه یې ساتلې ده.

### د ډاډمنتیا له حیثه

قاضي چې کله حکم وکړي، پر هغې ډاډمن وي، چې اشتباه ترې نه ده شوې او پریکړه د ډاډ وړ ده.

### ب- د محاکمو د طبقه بندی له حیثه د ایجاد عوامل:

په نړۍ کې مختلف حقوقي سیستمونه موجود دي او په هر یوه کې د محاکمو جوړښت او تشکیل د سلسله مراتبو په اعتبار جلا جلا برخو باندې وېشل شوي دي، چې یو تعداد هېوادونو کې محاکم په درې برخو وېشل شوي دي، چې هغه عبارت دي له:

ابتدایه محکمه، استیناف محکمه او ستره محکمه، چې افغانستان هم په همدې ګروپ کې راځي چې موږ لومړی د افغانستان اسلامي جمهوریت د قضایه قوې یا محاکمو تشکیل او جوړښت په ډېر لنډ ډول ذکر کوو او په دویم قدم کې بیا دې خبرې ته اشاره کوو چې ولې یوه محکمه دبلې محکمې پرېکړې تکراروي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې د محاکمو تشکیل او جوړښت:

په افغانستان کې د محاکمو تشکیل او جوړښت په درې برخو باندې وېشل شوی دی.

ابتدایه محکمه، استیناف محکمه او د تمیز یا ستره محکمه چې هره یوه جلا جلا تر مطالعې نیسو.

### ۱- ابتدایه محکمه:

لکه څرنګه چې له نوم څخه یې معلومېږي، چې ابتدایه محکمه نسبت استیناف محکمې او سترې محکمې ته په ټیټه سطحه کې قرار لري او د ابتدایه محکمو پرېکړې د عدم قاطعیت په صورت کې استیناف محکمې ته د حل لپاره وړاندې کېږي، چې په ټولو اداري واحدونو او ښارونو کې موجودې وي، چې د یوانونه یې عبارت دي له:

- د جزا عمومي دیوان
- مدني دیوان
- د عامه حقوقو دیوان
- د عامه امنیت دیوان
- د ترافیکي جرایمو دیوان

ولې ددې خبرې یادونه باید وکړو چې د ولسوالۍ په ابتدایه محکمه کې ټول دیوانونه یواځې د همغه ولسوالۍ د قاضیانو له خوا تر سره کېږي، البته هر دیوان جلا جلا قاضیان لري او ټولې پرېکړې کوي پرته نه همغه پرېکړو چې د هغې لپاره جلا اختصاصي محکمه موجوده وي لکه: د اطفالو ابتدایه محکمه، د شخصي احوالو ابتدایه محکمه او نور....

### ۲- استیناف محکمه:

استیناف محکمه د سلسله مراتبو په لحاظ له ابتدایه محکمې څخه لوړه او له سترې محکمې څخه ټیټه ده. ټولې پرېکړې چې په ابتدایه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه کې پرې قناعت و نه شي، استيناف محکمې ته محول کېږي او د هغې پرېکړې د عدم قناعت په صورت کې د تميز محکمې ته محول کېږي، چې لاندې ديوانونه لري

- دجزا عمومي ديوان
- د عامه حقوقو ديوان
- د عامه امنيت ديوان
- د تجارتي ديوان
- د اطفالو ديوان
- د شخصي احوالو ديوان
- د مدني ديوان

## ۳- ستره محکمه

ددې محکمې لەنوم څخه معلومېږي، چې د قوت په لحاظ لەنورو دوارو څخه اوچت مقام لري او په دې مانا چې د دوارو پرېکړې سترې محکمې ته محول کېږي، البته په دې ځای کې ددې خبرې يادونه ضروري ده چې ستره محکمه يواځې ددې نقطې له حيثه چې پرېکړه قانونيت لري او کنه بيا غور کېږي

ستره محکمه نهه غړي لري، چې يو يې رئيس او همدغه نهه غړي د سترې محکمې عالي شورا ګنل کېږي

چې لاندې ديوانونه هم لري

- د جزا عمومي ديوان
- د عامه حقوقو او مدني ديوان
- د تجارتي ديوان
- د عامه امنيت ديوان

لەنورو توضيحاتو څخه صرف نظر شوی خو يواځې د يوې پوښتنې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب ورکول کېږي، چې ولې يوه محکمه د بلې محکمې حکم تکراروي.

د دې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايو، چې هره محکمه ځانته ځانته عوامل لري چې په لاندې ډول روښانه کېږي

- عين محاکم، موازي محاکم، تحتاني محاکم، فوقاني محاکم، چې هر يو جلا جلا دلايل او عوامل لري، موږ غواړو، چې لومړى عين محاکم تر مطالعې لاندې ونيسو.

*- عين محاکم:*

*ولې عين محاکم خپل پخواني حکم تکراروي؟*

ياد محاکم د لاندې دلايلو له مخې خپل پخواني حکم په مشابه مسايلو کې تکراروي

*۱- د سهولت له حيثه:*

يانې کوم وخت چې دوى د لومړي ځل لپاره قضايي تفسير ترسره کړي، نو دوى په دې تفسير کې ډېرې هلې ځلې کوي او له زيات دقت څخه يې کار اخلي او پوره وخت پرې ضايع کوي، نو که چېرې د دويم ځل لپاره همداسې يوه مشابه موضوع محکمې ته راشي، نو په دې صورت کې د دويم ځل لپاره سهولت په دې کې دى چې همغه پخواني حکم تکرار کړي

*۲- د حيثيت له حيثه:*

که چېرې قاضي د لومړي ځل لپاره قانون تفسير کړي او د يوې مسئلې لپاره د حل لاره پيدا کړي او حکم پرې وکړي، کله چې د دويم يا دريم ځل لپاره همدغه مشابه موضوع رامنځته شي نو په دې صورت کې که قاضي بيا تفسير کوي او حکم تغييروي، نو په ټولنه کې د دوى په هکله شک کوي او حيثيت ته يې صدمه رسېږي نو د دې لپاره چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل حیثیت یې ساتلی وي نو پخوانی حکم تکراروي

۳- د ډاډمنتیا له حیثه:

کله چې دوی د لومړي ځل لپاره قانون تفسیر کړي، نو په هغه باندې ډاډمن وي، ځکه چې له دقت څخه وروسته یې د لومړي ځل لپاره پرېکړه کړې وه، نو په همدې ډاډ سره پخوانی حکم بیا تکراروي

- موازي محاکم:

موازي محاکم عبارت له هغې محاکمو څخه دي، چې د سلسله مراتبو په لحاظ استیناف محکمې او یا د ولسوالیو ابتدایي محکمې چې یو له بل سره موازي محاکم دي

نو په دې صورت کې داسې یوه پوښتنه مطرح کېږي چې؛

موازي محاکم ولې یو د بل حکم تکراروي؟

ددې پوښتنې د ځواب لپاره لاندې دوه دلایل موجود دي

۱- د سهولت له حیثه:

کله چې د لومړي ځل لپاره موازې محکمې قانون تفسیر کړي او پرېکړه یې کړې ده، نو دوی په دې باندې ډاډمن وو، نو که همداسې یوه مشابه موضوع یوې موازې محکمې ته راشي، نو دغه موازي محکمه د پخوانۍ محکمې قضایي تفسیر تکراروي او دا ځکه چې دوی په هغه باندې ډاډ او باور لري

- فوقاني محاکم:

فوقاني محاکم عبارت له هغې محاکمو څخه دي چې د سلسله مراتبو په لحاظ له بلې محکمې څخه قوت ولري، لکه ستره محکمه د استیناف له محکمو څخه قوت لري، او استیناف محاکم د ابتدایه محکمو څخه قوت لري

اوس پوښتنه دا ده، چې؛ پورتنۍ محاکم ولې د ښکتنیو محاکمو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### حکم په مشابه موضوعاتو کې تکراروي؟

د لاندې دلايلو په اساس دغه حکم تکراروي

**۱- د سهولت له حيثه**

دوی پرته ددې چې غور او بحث وکړي، يا دا چې وخت پرې ضايع کړي، د ښکتنې محکمې حکم تکراروي، چې دا هم دوی ته سهولت دی.

**۲- د ډاډمنتيا له حيثه**

څرنګه چې ښکتني قضات د پورتنيو محاکمو له خوا ټاکل کېږي، نو هغوی په دې باندې ډاډمن دي، چې ښکتني محاکم مسلکي، پاک او تجربه لرونکي اشخاص دي او پرېکړه يې دقيقه ده.

**۳- د حيثيت له حيثه**

که پورتني محاکم د ښکتنيو محاکمو حکم مات کړي، يا دا چې تکرار يې نه کړي، نو په دې صورت کې خلک پر دوی باندې نيوکه کوي، چې د قضاتو په تعين او ټاکنه کې يې دقت نه دی کړی او غير مسلکي اشخاص يې مقرر کړي دي، نو په دې اساس چې خپل حيثيت وساتي او د ښکتنيو محاکمو حکم تکراروي.

**- تحتاني محاکم:**

له هغې محکمو څخه عبارت دي، چې د سلسه مراتبو په لحاظ په ټيټه درجه کې قرار لري.

دا چې ښکتني محاکم ولې د پورتنيو محاکمو قضايي تفسير تکراروي، نظر لاندې دلايلو ته

**۱- د سهولت له حيثه**

د تېر په څېر دوی ته هم اسانه لاره همدا ده چې د بلې محکمې حکم تکرار کړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲- د ډاډمنتيا له حيثه

ښکتني محاکم د پورتنيو محاکمو د قضاتو په نسبت د کمې تجربې لرونکي دي او پورتني محاکم د صلاحيت او قوت په لحاظ له دوی څخه اوچت دي او دوی د هغې په تفسير باندې ډاډمن دي، نو ځکه د هغوی حکم تکراروي

### ۳- د حيثيت له حيثه

دا چې د ښکتنيو محاکمو پرېکړې پورتني محاکم بيا د غور او بحث لاندې نيسي، نو په دې صورت کې ښکتني محاکم د پورتنيو محاکمو حکم تکراروي، چې بيا د هغوی له خوا د دوی پرېکړه تائيد شي، نو کله چې د يوې ښکتنۍ محکمې حکم د پورتنۍ محکمې له خوا تائيد شي نو د دوی د حيثيت ساتنه کېږي او په برعکس حالت کې يې حيثيت ته صدمه رسېږي

## دريم جز- د قضايي رويې ډولونه:

قضايي رويه د قضاتو د پرېکړو تکرار دی، چې دا هم په ملي او هم په بين المللي سطحه رامنځته کېږي، نو په همدې وجه قضايي رويه په دوه برخو باندې وېشل شوې ده، چې يو يې په ملي سطحه او بل يې په بين المللي سطحه ده، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوې ده.

### الف- قضايي رويه په ملي سطحه:

کله چې د يو دولت د قلمرو په داخل کې يا دا چې د داخلي محاکمو له خوا د نوموړي دولت پورې مربوط قوانينو کې خلا يا مغلقيت موجود وي او دغه خلا د ملي محاکمو له خوا ډکه شي او يا دا چې مغلقيت يې ساده شي دا قضايي تفسير ګڼل کېږي او هر وخت چې دغه قضايي تفسير د داخلي محاکمو له خوا په مشابه موضوعاتو کې تکرار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، له ملي قضايي رويي څخه عبارت ده.

ب- قضايي رويه په بين المللي سطحه:

ځيني وخت مسايلو کې داسې اختلافات رامنځته کېږي، چې خارجي عناصر لري او د يو دولت پورې مربوط نه وي نو په دې صورت کې د هغوی د ا ختلافاتو د حل او فصل لپاره د عدالت بين المللي محکمې ته استول کېږي، هر وخت چې د عدالت بين المللي محکمه د نوموړو مسايلو لپاره په بين ا لمللي سطحه په قانون (بين المللي معاهداتو) کې خلا يا مغلقيت ووينې او دغه خلا يا مغلفيت د عدالت د بين المللي محکمې له خوا تفسير او همدغه تفسير په څو مشابه موضوعاتو کې د عدالت بين المللي محکمې له خوا تکرار شي، له بين المللي قضايي رويې څخه عبارت ده.

څلورم جز -د قضايي رويې ګټې او نواقص:

دا چې قضايي رويه د آفاقي حقوقو فرعي منبع ده او په اکثره دولتونو کې پلې کېږي، چې د عملي کېدو په صورت کې ګټې او تاوانونه دواړه لري، موږ په لومړي قدم کې د قضايي رويې ګټې او په دويم قدم کې يې نواقص تر مطالعې لاندې نيسو.

د قضايي رويې ګټې:

قضايي رويه دوه ګټې لري

ا- د وخت د نه ضايع کېدو له حيثه:

هر وخت چې قضات او محاکم په جلا جلا ډول قانون تفسيروي، نو د ټولو قضاتو وخت ضايع کېږي او که چېرې په يوه محکمه کې قانون تفسير شوی وو، نو ر محاکم له همدې تفسير څخه استفاده کوي، نو د وخت د ضايع کېدو مخه نيول کېږي او ددې تر څنګ د قضاتو وخت پرې نه ضايع کېږي، د چا په اړه چې پرېکړه کېږي د هغې وخت هم نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضایع کېږي، او په ټاکلي وخت کې د هغوی په اړه تصمیم نیسي.

۲- په پرېکړو کې د مختلفو لارو د مخنیوي له حیثه:

کله چې قضات او محاکم د یوې محکمې حکم په نورو مشابه موضوعاتو کې تکرار کړي، نو په دې صورت کې د قضاتو په پرېکړو کې یو استحکام او ثبات رامنځته کېږي او که دا کار و نه شي نو بیا به هر قاضي جلا حکم کوي او د هرې مسئلې لپاره به جلا پرېکړه کېږي، چې په دې کار سره به وحدت له منځه لاړ شي.

د قضایي رویې نواقص:

قضایي رویه دوه نواقص لري.

۱- د اشتباه د تکرار له حیثه:

که چېرې په لومړي سر کې قضات او محاکم د قانون د تفسیر په وخت کې اشتباه وکړي نو تر څو پورې چې له دغه تفسیر څخه استفاده کېږي، تر همغه وخت پورې به دغه اشتباه تکرارېږي.

۲- د پرمختګ او ابتکار د مخنیوي له حیثه:

په اکثرو حالاتو کې یوه محکمه د ځینې خاصو دلایلو په اساس د نورو محاکمو قضایي تفسیر تکراروي، خاصتاً ښکتني محاکم د پورتنیو محاکمو د پرېکړو تابعداري کوي او خپل نظریات نه ورکوي، نو په دې صورت کې هغه ابتکار او پرمختګ چې دوی کولای شو، له هغه څخه مخنیوی وشو.

دویم مطلب- دوکتورین:

لکه څرنګه چې مخکې دې خبرې ته اشاره شوې ده، چې دوکتورین د آفاقي حقوقو له اصلي منابعو څخه نه ګڼل کېږي او یوه فرعي منبع کېدای شي، دا په دې مانا چې د علماوو له نظریاتو څخه مستقیماً استفاده نه کېږي، اجباري جنبه هم نه لري او نه پرې استناد کېږي، البته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غیر مستقیم ډول کله کله دغه خصوصیات کسب کوي، نو ددې لپاره چې دوکتورین ښه وپېژنو لاندې موضوعات باید مطالعه کړو.

*لومړی جز- د دوکتورینو پېژندنه:*

د وکتورین په لغت کې د نظر او فکر په مفهوم سره استعمال شوي دي او په اصطلاح کې د حقوق دانانو او علماوو د هغه نظریاتو له مجموعې څخه عبارت دي، چې د قانون او حقوقي قواعدو د خلا او مغلقیت په اړه یې ارایه کړې وي او همدغه نظریات په نشراتي ارګانونو کې نشر شي.

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي چې؛ *کوم نظریات دوکتورین ګڼل کېږي؟*

څرنګه چې لیدل کېږي او په قضایي رویه کې مو ور مطالعه کړل چې په رسمي انداز کې د حقوقي قواعدو صحیح او درست مفهوم ارایه کوي، په داسې حال کې چې علماء او حقوق دانان په غیر رسمي ډول نوې وړاندیزونه ارایه کوي، چې په دې کې د محاکمو په ارایه باندې انتقاد شوی وي، د قوانینو مصالح او مفاسد په ګوته کړي، د هغه عرف او عاداتو طبقه بندي کول چې قانون جوړوونکی له هغې څخه د قانون د تصویب په وخت کې استفاده کړې وي.

همدارنګه د حقوقي قواعدو ګټې او نواقص په ګوته کول او د هغې د حل لپاره وړاندیز کول او داسې نور د علماوو او حقوق دانانو نظریات شمېرل کېږي.

دلته یوه بله پوښتنه هم مطرح کېږي او هغه دا چې: *د علماوو نظریات په کومو نشراتي ارګانونو کې نشر شي، ترڅو اعتبار ولري؟*

ټول نشراتي ارګانونه اعتبار لري، لکه کتاب، تحقیق، مقاله، مجله، اخبار، رساله، راډیو، تلویزون او نور ټول جراید. نشراتي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارګانونه بلل شوي دي او د دوکتورینو د ایجاد لپاره کفایت کوي

دلته یوه بله پوښتنه هم مطرح کېږي چې: *د قضاتو او علماوو نظریات یو بل سره فرق لري او که نه؟*

په دې اړه باید ووایو، چې د قضاتو نظر هر وخت که د قانون په هکله ورکړي او پرېکړه وکړي، رسمي جنبه لري او په همدغه موضوع کې د دولت سیاسي قدرت د هغې حمایت کوي

ولې د علماوو نظریات کومه رسمي جنبه نه لري او نه د دولت له سیاسي قدرته برخمن دي، اوس دلته یوه بله پوښتنه هم مطرح کېږي او هغه دا چې، د علماو نظریات چې نه رسمي جنبه لري او نه د دولت د سیاسي قدرت له حمایت څخه برخمن دي، نو په قانون او قضایي رویې باندې څه نفوذ او تاثیر لري؟

*دویم جز- د دوکتورینو نفوذ په قانون او قضایي رویه کې:*

د دې لپاره چې دا پوښتنه ځواب کړو، په قانون او قضایي رویه باندې د دوکتورینو نفوذ جلا جلا مطالعه کوو. البته ملي او بین ا لمللي موضوع هم په نظر کې نیول شوې ده.

*په ملي سطحه د دوکتورینو نفوذ او تاثیر په قانون او قضایي رویه کې:*

په ملي سطحه دا مانا چې کله حقوق دانان او علماء دیو دولت د قلمرو په داخل کې حقوقي مسایل توضیح، روښانه او یا دا چې د هغوی د ګټو او نواقصو په اړه نظریات ارایه کړي دا په ملي سطحه دوکتورین ګڼل کېږي

دا چې دوکتورین نه الزامي جنبه لري او نه تر ېنه مستقیماً استفاده کېږي، ولې بیا هم په غیر مستقیم ډول په قانون او قضایي رویې نفوذ لري، چې هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د دوکتورینو نفوذ په قانون کې:

هر وخت چې مقنن غواړي نوی قانون وضع کړي، یا د پخواني قانون خلا ډکه کړي، یا دا چې غواړي د پخواني قانون مغلقیت ساده کړي او یا دا چې غواړي په پخواني قانون کې تغییرات او اصلاحات راولي، نو په دې صورت کې مقنن کوښښ کوي، چې د ټولنې ټولې خواوې مطالعه کړي، لکه دین، مذهب، عرف او عادات، همدارنګه اقتصادي، ټولنیز، جغرافیوي او تاریخي وضع او حالات مطالعه او معلومات تر لاسه کړي، چې معمولاً د دغه پورته معلوماتو اکثره برخه د علماوو له خوا په هر اړخیزه توګه روښانه شوي وي او مقنن په دې صورت کې له هغې څخه معلومات تر لاسه کوي او د هغې په نتیجه کې په قانون کې تغییرات، اصلاحات، د قانون خلا ډکول او مغلقیت ساده کول او یا د نوي قانون په جوړولو کې استفاده کوي، چې دغه نقاط دا سې روښانه شوي دي

### ۱- د قانون د ایجاد له حیثه:

هر وخت چې علماء او حقوق دانان په ټولنه کې د پرمختګ، انکشاف، امن، نظم او دسپلین په اړه نظریات ورکړي او مقنن د همدغو نظریاتو په اساس نوی قانون تصویب کړي، دلته لیدل کېږي، چې دوکتورین د قانون په ایجاد کې نقش او نفوذ لري.

### ۲- د دوکتورینو نقش او رول د قوانینو په اصلاح او تغییر کې:

هر وخت چې علماء په قانون کې نواقص وګوري نو د هغوی په اړه په تفصیل سره لیکنې کوي، چې مقنن د همدغه لیکنو په نظر کې نیولو سره په قانون کې تغییرات او اصلاحات راولي، موږ ګورو چې دوکتورین د قانون په اصلاحاتو او تغییراتو کې نقش او رول لري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳- د دوکتورینو نقش د قانون په استحکام کې:

هر وخت چې قانون د مقننه قوې له خوا وضع شي او علماء وګوري چې په قانون کې مثبت ټکي شتون لري او علماء په خپلو نظریاتو کې د قانون مثبت ټکي په ګوته کړي، د دې مانا دا ده چې د مقننه قوې قانون یې تائید کړی دی او هر وخت چې د علماوو له خوا قانون تائید شي، نو هغه قانون په ټولنه کې استحکام پیدا کوي چې په همدې اساس ویل کېږي، چې دوکتورین د قانون په استحکام کې فوق العاده رول او نقش لوبوي

### د دوکتورینو نقش او نفوذ پر قضايي رویې:

قضايي رویه د قضاتو او محاکمو له خوا د قانون له تفسیر څخه رامنځته کېږي، هر وخت چې د قانون قضايي تفسیر په څو نورو مشابه موضوعاتو باندې په تکراري ډول تطبیق شي، قضايي رویه ګڼل کېږي، هر کله چې قضات او محاکم د قانون خلا ډکوي، یا دا چې مغلقیت روښانه کوي، نو په دې صورت کې هم دوکتورین مهم رول او نقش لري، چې په لاندې درې نقطو کې زیات لیدل کېږي

#### ۱- د دوکتورینو رول او نقش د قضايي رویې په ایجاد کې:

کله چې د علماوو له خوا په قانون کې خلا ولیدل شي، یا دا چې مغلقیت ولیدل شي، نو په دې صورت کې د دغه خلا په خپلو نظریاتو کې ډکه کړي او مغلقیت ساده کړي او کله چې بیا قضات او محاکم د قانون د تطبیق په وخت کې د خلا او مغلقیت سره مخامخ شي او د خلا په ډکولو او د مغلقیت په ساده کولو کې د علماوو له نظریاتو څخه استفاده وکړي او د هغوی په نظر کې نیولو سره قانون تفسیر کړي او همدغه تفسیر د همدې محکمې یا نورو محاکمو له خوا تکرار شي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضايي رويه ترېنه رامنځته کېږي چې په دې صورت کې ليدل کېږي چې د قضايي رويې په ايجاد کې دوکتورين نفوذ او رول لري.

*۲- د دوکتورينو نقش او نفوذ د قضايي رويې په تغيير او اصلاح کې:*

کله چې په قانون کې خلا يا مغلقيت موجود وي او د قضاتو له خوا خلا ډکه او مغلقيت روښانه شي او همدغه تفسير د قضاتو له خوا تکرار شي، دلته قضايي رويه رامنځته شوه، وروسته د حقوق دانانو او علماو له خوا وليدل شو چې په دغه خلا کې نواقص موجود دي، علماوو دغه نواقص په خپلو ليکنو او نظرياتو کې اصلاح کړل، وروسته قضاتو د علماوو د دغو نظرياتو په اساس په قضايي رويه کې تغييرات او اصلاحات (تعديلات) راوړل، په دې صورت کې ليدل کېږي، چې د قضايي رويې په تعديل کې دوکتورين مهم رول او نقش لري.

*۳- د استحکام له حيثه:*

ځينې وخت د قضاتو له خوا قضايي رويه ايجاد شي، په دغه قضايي رويه کې، ډېر مثبت ټکي موجود وي، علماء او حقوق دانان د دغه مثبتو ټکو په هکله ليکنې کوي او دغه قضايي رويه تائيدوي، نو هر وخت چې د هغوی له خوا قضايي رويه تائيده شوه، دلته ليدل کېږي، چې د علماوو او حقوق دانانو نظريات يا دوکتورين د قضايي رويې په استحکام کې نفوذ او تاثير لري.

لکه څرنګه چې په ملي سطحه دوکتورين شته دی، په بين المللي سطحه هم موجود دي او په دې مانا، چې کله حقوق دانان او علماء د هغه موضوعاتو په اړه ليکنې کوي او نظريات ورکوي، چې خارجي عنصر پکې موجود وي يا دا چې خارجي جنبه لري، دغه بين المللي دوکتورين ګڼل کېږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په بین المللي سطحه دوکتورین هم په قضایي رویه او هم په قانون کې فوق العاده تاثیر او نفوذ لري، چې هغه هم په دري تکو کې:

- د ایجاد له حیثه
- د تغییر او اصلاح له حیثه
- د استحکام له حیثه

چې دغه تاثیرات په ملي او بین المللي سطحه یو شان دي او په ملي سطحه توضیح شول او بیا تکرار ته یې ضرورت نشته دی.

## دریم جز-د دکتورینو ګټې او نواقص:

مخکې هم دې خبرې ته اشاره شوې ده، چې اصلي منابع او فرعي منابع دواړه ګټې او نواقص لري، چې د هر یو ګټې او نواقص یو له بل سره فرق هم لري، چې له هغې جملې څخه دوکتورین هم ګټې او نواقص لري، د بنه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### د دکتورینو ګټې:

دکتورین لاندې ګټې لري.

*۱-د دقت له حیثه:*

هر وخت چې په قانون کې خلا یا مغلقیت موجود وي او علماء د هغې په هکله لیکنه کوي، نو دا لیکنه یا اصلاحات چې هغه د خلا ډکول یا د مغلقیت ساده کول دي، ډېر دقیق وي، دا ځکه چې د یوې خوا خو دوی مسلکي او تجربه لرونکي اشخاص دي او له بلې خوا یې په خپله خوښه او رضا باندې دا لیکنه کړې ده.

*۲-د شخصي ملا حظاتو د عدم موجودیت له حیثه:*

کله چې علماء او حقوق دانان د قانون د خلا د ډکولو یا مغلقیت د ساده کولو په هکله اقدام کوي. نو دوی په دې کې کومه شخصي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاحظه نه لري او دا ځکه چې دوی ته خو دعوه نه ده راجع شوې چې چا دا جرم کړی، بل دا چې حقوق دانان په دې هم نه پوهېږي چې څوک به دا جرم کوي او په دې هم نه پوهېږي، چې قضات او محاکم به د دوی له نظریاتو څخه استفاده کوي، نو په دې اساس هېڅ ډول شخصي ملاحظات پکې نه مطرح کېږي

## د دوکتورینو نواقص:

دوکتورین لاندې نواقص لري:

*۱- مستقیماً استفاده ترېنه نه کېږي:*

هر وخت چې علماء او حقوق دانان د قانون په اړه لیکنه وکړي یا دا چې نظر ورکړي، قضات او محاکم د پرېکړو په وخت کې په دې باندې مجبور نه دي، چې د هغوی د نظریې مطابق فیصله وکړي، یانې الزامي جنبه نه لري

*۲- استناد پرې نه کېږي:*

د علماوو او حقوق دانانو نظریات که ډېر دقیق او په ځای هم وي، خو قضات او محاکم مستقیماً په هغې باندې استناد نشي کولای

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویمه برخه

## عندي یا ذاتي حقوق

څرنګه چې وړاندې مو یادونه وکړه، چې حقوق په دوو ماناوو سره کارول کېږي، یو دا چې د قواعدو او مقرراتو مجموعه ده، چې ټولنیز روابط ترتیب او تنظیموي، یا دا چې په اشخاصو حکومت کوي، دویم دا چې حقوق د یو ډول امتیاز، صلاحیت او تسلط څخه عبارت دي چې د حقوقي قواعدو له لورې د اشخاصو د اړیکو د تنظیم لپاره د هغوی د یو زیات شمېر په ګټه د نورو په وړاندې ایجادېږي.

عندي حقوق په حقیقت کې د حقوقو د مفهوم همدغه دویم ډول په خپله غېږ کې رانغاړي او د حقوقي قواعدو په څېر مجدد او کلي نه دي، بلکې همېشه یو معین کس پورې اړه لري.

واقعیت دا دی چې عندي حقوق له هغه قدرت او صلاحیت څخه عبارت دي چې په وسیله یې یو شخص په ټولنیز ژوند کې ګټه پورته کوي، ددې لپاره چې شخص له خپل حق څخه په ښه ډول استفاده وکړي، نو لازمي ده چې د آفاقي حقوقو له خوا باید فردي حقوق معتبر وګڼل شي. او حمایت یې وکړي، په دې مانا چې د اجراء تضمین یې وکړي

دې لپاره چې د عندي حقوقو په اړه ښه پوه شو لازمي ده چې، لاندې عنوانونه مطالعه کړو.

د عندي حقوقو پېژندنه، د عندي حقوقو موضوع، د عندي حقوقو منابع، د عندي حقوقو ډولونه، چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو، جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

# د عندي حقوقو پېژندنه

د دې لپاره چې عندي حقوق ښه وپېژنو لاندې درې سرليکونه بايد مطالعه کړو، د عندي حقوقو تعريف، د عندي حقوقو خصوصيات او دريېم دا چې عندي حقوق اصطلاح ده او که اعتبار؟ چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

## لومړی مبحث-د عندي حقوقو تعريف

د عندي حقوقو لپاره علماو مختلف او زيات تعريفات کړي دي، چې په دې ځای کې د نمونې په شکل درې تعريفات ذکر کوو.

ا. تعريف: عندي حقوق له هغه قدرت، سلطې او امتياز څخه عبارت دي چې شخص ترېنه په ټولنيز ژوند کې استفاده کوي، چې بل چا ته يې ضرر نه وي او د عامه قدرت له خوا تضمين شوې وي

د دې لپاره چې د پورته تعريف په اړه ښه پوه شو، لاندې ټکي بايد روښانه شي.

- *په ټولنيز ژوند کې ترې استفاده کول:*

دا چې ټول انسانان ټولنيز مخلوقات دي، په ټولنه کې ژوند کوي، او په انفرادي ډول ژوند نه شي کولای، نو ځکه مجبور دي چې نو موړي صلاحيتونه او امتيازات بايد په ټولنه کې يا دا چې په ټولنيز ژوند کې تطبيق کړي

- *د عامه قدرت له خوا يې تضمين شوی دی*

د دغه فردي حقوقو د عدم اجرا په وخت کې دولت يا عامه قدرت مداخله کوي او په تخلف کوونکي باندې يې جبرا تطبيق کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بل چا ته ضرر نه وي:

هر شخص صلاحیت او امتیاز لري، چې په ټولنه کې ترېنه استفاده وکړي، خو د استفادې لپاره دا شرط دی، چې بل چا ته به یې ضرر نه وي موجود او که بل چا ته دده له عمل څخه ضرر رسېږي، په هغه صورت کې د ده صلاحیت او قدرت قطع کېږي.

د مثال په ډول: یو سړی په یو کلي کې یو اندازه ځمکه لري، دغه سړی دا صلاحیت او قدرت لري، چې هلته تعمیر جوړ کړي، باغ پکې جوړ کړي، یا دا چې یو تجارتي مارکیټ پکې جوړ کړي، یا دا چې یو فابریکه پکې جوړه کړي، خو که ددې شخص له خوا فابریکه جوړېږي او دکلي خلکو یا عامه خلکو ته یې عام ضرر وي، نو په دې صورت کې نوموړی شخص له خپل صلاحیت څخه استفاده نه شي کولای.

۲. تعریف: عندي حقوق یو امتیاز، صلاحیت او اختیار دی، چې شخص یې په ټولنیز ژوند کې، د نورو په مقابل کې لري، حتی تر دې چې د عمل د اجرا او اهمال (امتناع) اختیار هم پکې شامل دی.

په دې تعریف کې د یوې نقطې توضیح کول ضروري بریښي او هغه دا چې د یو عمل اجرا او یا د یو عمل نه اجرا هم د نوموړي شخص اختیار دی. چې دا خبره د یو مثال په ورکولو سره روښانه شوې ده.

یو شخص غواړي، چې طب پوهنځی ولولي، نو هر وخت چې د طب پوهنځي د شمولیت شرایط پوره کړي، اختیار لري چې طب پوهنځی ووایي، یا دا چې یو شخص نه غواړي، چې د اقتصاد پوهنځی ولولي، نو ددې اختیار لري چې د اقتصاد پوهنځي له لوستلو څخه امتناع وکړي.

۳-تعریف: عندي حقوق له هغه قدرت او صلاحیت څخه عبارت دي، چې د آفاقي حقوقو په اساس په ټولنیز ژوند کې یو چا ته ورکول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وي او په اساس یې نوموړی شخص د حق حامل (لېږدونکی) ګڼل کېږي

پورته ذکر شوي تعریفات او داسې نور زیات تعریفات شتون لري، خو زما په نظر تر ټول غوره او هر اړخیز تعریف د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد پوهاند دوکتور حفیظ الله دانش کړی دی، چې وایي:((عندي حقوق د هغه قدرت، صلاحیت، سلطې او امتیاز څخه عبارت دي، چې یو شخص یې د بل شخص یا نورو اشخاصو په مقابل کې یا د یو جنس او مال په مقابل کې لري، د تحقیق لپاره یې د قانون حمایت لازمي دی.)) اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې؛

## دویم مبحث-عندي حقوق اعتبار دی او که اصطلاح؟

په دې اړه علماء دوه نظره لري

*لومړی نظر:* عندي حقوق اعتبار دي. دا علماء وایي چې عندي حقوق ظاهري بڼه نه لري، نه لیدل کېږي، نه قابل د لمس دي، نو ځکه دا یو اصطلاح نه بلکې یو اعتبار دی، خو دغه اعتبار د قانون ګذار له خوا غوښتل شوی او د قدرت لرونکي مقام له خوا یې حمایت کېږي. لکه د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون (۴۲) ماده کې ذکر شوي. چې:((هر افغان د تعلیم حق لري.)) د همدې اساسي قانون (۴۳-۴۴-۴۵ او ۴۶) مادو کې یې د تطبیق لپاره نورې لارې چارې هم ذکر شوې دي او ددې تر څنګ یې د تعلیم د حمایت لپاره مکتبونه او پوهنتونه هم جوړ کړي دي.

یا دا چې دا اعتبار د یو قرارداد وجود دی، یا دا چې یو ساده او بسیط مفهوم دی، چې په ذهن کې تصور کېږي او یو مادي شی نه دی، چې ولیدل شي، بلکې دا یو معنوي حق دی، چې د عامه قدرت له خوا ورکول کېږي، همدا علت دی چې په یو ځای کې ورکول کېږي او په یو ځای کې نه ورکول کېږي. لکه د ملکیت حق چې په سرمایه دارۍ او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي اقتصادي نظامونو کې اشخاصو ته ورکول کېږي، یا دا چې دا اعتبار دی او دا ځکه چې وېش يې د عامه قدرت له خوا کېږي، لکه په ځينو قومونو، مذهبو، دينونو او دولتونو کې يو شخص ته ځيني اختيارات ورکول او ځينو نورو اشخاصو ته نه ورکول.

لکه اسلامي شريعت کې يو سړی څلور ښځې کولای شي، خو بل سړي ته وايي چې ته بايد يوه ښځه وکړې

*دويم نظر:* بله ډله علماء وايي چې عندي حقوق يوه اصطلاح ده او دا ځکه چې حقوق جمع د حق ده او په حقيقت کې د حقوقو مجموعه چې د انسانانو د ټولنيز ژوند د تنظيم لپاره منځته راغلي، د حق او تکليف مجموعه ده.

هر وخت چې يوه حقوقي اړه منځته راځي، په هغه کې دوه خواوې موجود وي، چې يو ته يې د حق خاوند او بل ته مکلف وايي. د مثال په ډول: يو سړی وايي چې تعليم زما حق دی، نو دلته د دولت مکلفيت دا دی چې د تعليم زمينه به ورته برابروي، هر وخت چې دولت دا مکلفيت لري، نو په مقابل کې يې حق هم لري او هغه دا چې نوموړی شخص به د هغه د قوانينو اطاعت کوي، چې دغه اطاعت د دولت او د شخص مسووليت دی. په لنډ ډول بايد ووايو، چې عندي حقوق د حق او مکلفيت مجموعه ده، چې تضمين يې د مکافاتو او مجازاتو په اساس کېږي، نو دا پر دې دلالت کوي، چې عندي حقوق يوه اصطلاح ده.

## دریيم مبحث - د عندي حقوقو ځانګړتياوې

عندي حقوق يو سلسله ځانګړتياوې لري، چې په اساس يې له نورو رشتو څخه جلا کېږي، ځيني مهم يې په لاندې ډول دي

### *لومړی مطلب - د الزامي والي له حيثه*

د عندي حقوقو له ځانګړتياوو څخه يوه ځانګړنه دا ده چې په ټولنه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې شخص ته کوم امتیاز او سلطه ورکول شوې ده، اختیاري جنبه نه لري، دا په دې مانا چې مقابل طرف که د نومو ړي شخص اختیار او سلطه قبوله نه کړي، یادا چې اطاعت یې و نه کړي، د آفاقي حقوقو له خوا یې تضمین کېږي او په جبري ډول پرې تطبیق کېږي، لکه د آمر حق په مامور باندې، د استاد حق په شاګرد، د والدینو حقوق په اولاد باندې، د قرض ورکوونکي حق په قرضدار باندې، چې د عدم اطاعت په صورت کې په اجباري ډول تطبیق کېږي.

*دویم مطلب- د آفاقي حقوقو له خوا د تضمین له حیثه:*

لکه مخکې چې هم دې خبرې ته اشاره وشوه، چې د عندي حقوقو د حمایت لپاره د آفاقي حقوقو قواعد او مقررات وضع کېږي، تر څو د عندي حقوقو د تطبیق حمایت وکړي.

*دریم مطلب -د سلطې، امتیاز او صلاحیت له حیثه:*

عندي حقوق همېشه د سلطې، امتیاز، قدرت، اختیار او صلاحیت په مانا دي، هېڅ کله هم د قواعدو، مقرراتو، اصولو او پرنسیپونو په مانا نه راځي.

*څلورم مطلب- د کلي والي او یو شان والي له حیثه:*

د عندي حقوقو سلطه او امتیاز عام وي او د ټولو خلکو لپاره وي، لکه د پلار سلطه په زوی باندې، ددې مانا دا ده چې ټول پلرونه په خپل اولاد باندې صلاحیت لري، بل دا دی چې: دغه صلاحیت هر یو پلار ته یو شان ورکول شوی، داسې نه ده چې یو پلار ته زیات ورکول شوی او بل ته کم.

*پینځم مطلب-د روابطو د تنظیم له حیثه:* د عندي حقوقو کوم صلاحیتونه او امتیازات چې ټاکل شوي، ددې اصلي هدف دا دی چې کارونه او اړیکې په ښه ډول پر مخ و لاړشي، ددې خبرې یادونه ضروري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې د عندي حقوقو صلاحيتونه او امتيازات د دې لپاره نه دي تاکل شوي، چې دا معلومه کړي، چې دا سړی د بر بنه سړی دی او دا سړی د بر بنه سړی نه دی، دا ځکه چې د شخصيت تعين د اخلاقي معيارونو پورې تړلی دی او حقوق د ټولنې د اړيکو د تنظيم لپاره رامنځته شوي دي.

*شپږم مطلب-په ټولنه کې د سلطې او امتياز له حيثه:*

عندي حقوق يا شخصي حقوق يو شخص ته هغه وخت ورکول کېږي، چې په ټولنه کې ټولنيز ژوند لري. که چېرې يو شخص له ټولنيز ژوند څخه ګوښه توب اختيار کړي او په يو غره يا صحرا کې په يواځې ځان ژوند کول اختيار کړي، اول؛ خو دا ممکنه نه ده او که احياناً بيا هم ژوند اختيار کړي، نو هغه عندي حقوق چې په ټولنه کې تر لاسه کولای شي، هغه بې له ټولنې څخه نه تر لاسه کېږي، لکه د استاد، امر، شاګرد، مامور، اخيستونکي، پلورونکي، داين، مديون او داسې نور ټول حقوق هغه وخت د استفادې وړ دي، چې شخص په ټولنه کې ژوند کوي.

## څلورم مبحث-د عندي حقوقو بنسټ

د عندي حقوقو په اړه واحد نظر شتون نه لري، بلکې په دې اړه مختلف نظريات موجود دي.

۱-يو شمېر علماء د عندي حقوقو مبناء او بنسټ د شخص اراده ګڼي او د عندي حقوقو په اړه نوموړي علماء داسې نظر څرګندوي، چې:

عندي حقوق له هغې ورتيا څخه عبارت دي، چې د شخص ارادې ته ورکړل شوي وي.

له دې تعريف څخه معلومېږي، چې د عندي حقوقو اصلي عنصر د شخص اراده ده.

-خينې علماء وايي، چې (حق هغه ګټه ده، چې په حقوقي لحاظ يې ملاتړ شوی وي) له دې تعريف څخه څرګندېږي، چې د عندي حقوقو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي خاوند هغه څوک دی چې له همدغه حق څخه ګټه پورته کوي، نه دا چې د حق لپاره اراده لري

- ځينې علماء بيا وايي:(عندي حقوق د شخص د اختيار پورې تړلي او حق له شخصيت څخه جلا نه دی، دوی وايي، حق د شخص (حقيقي يا حکمي) شخص له اختيار څخه عبارت دی.)

چې د دوی په نظر ليونی، ماشوم او مکره هم کولای شي، چې د حق خاوندان شي، ولې دغه حق د خپلو استازو يا وکيلانو په ذريعه تر سره کوي

ياني دوی د تملک اهليت لري، خو د تصرف اهليت نه لري، د حکمي اشخاصو په اړه ډېرې نيوکې شتون لري، کولای شو په لنډ ډول سره ووايو.

په هغو مواردو کې چې يوه ډله خلک په ټولنه کې د خپلو ګډو اهدافو او ګټو پلټنه کوي، يا له مالونو او حقوقو څخه يوه ټاکلې برخه خپلې موخې ته د رسېدو لپاره ځانګړې کوي، نو امکان لري چې قانون ګذار دغه ډول اشخاص د مالونو د جمع کولو لپاره د يو خپلواک شخصيت په توګه وپېژني او هغه ته د حکمي شخصيت نوم ورکړي، لکه: دولتونه، موسسات، شرکتونه، احزاب، ټولنې او نور، نو په دې اساس کولای شو، چې د حق د جوهر او مبناء په اړه دې نتيجې ته ورسېږو چې:

(حق هغه سلطه او اختيار دی چې د هر هېواد حقوق يې د اشخاصو د ګټو د ساتنو په موخه هغوی ته ورکوي) د همدې تعريف په اساس د حق اثار محکم او استوار دي، په دې ځای کې دې نتيجې ته رسېږو، چې عندي حقوق په حق سره تعبير شوي، ولې دا هغه وخت شتون لري، چې په مقابل کې يې وجيبه موجوده وي، چې مخکې د حق او وجيبې يا مکلفيت په اړه بحث شوی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

# د عندي حقوقو موضوع

په عمومي ډول د عندي حقوقو موضوع په اشخاصو باندې راڅرخېږي، په دې مانا چې عندي حقوق له شخص او شخصيت څخه بحث کوي، په حقوقو کې اشخاص په دوه برخو وېشل شوي دي، چې يو يې طبعي يا فزيکي اشخاص دي او بل يې حقوقي، حکمي يا معنوي اشخاص، د ښه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي

## لومړی مبحث - حقيقي يا فزيکي اشخاص

په عام ډول ټول انسانان له تولد څخه د مرګ تر ورځې پورې حقيقي، طبيعي يا فزيکي اشخاص ګڼل کېږي، خو ددې لپاره چې پدغه موضوع باندې مو ږ ښه پوه شو، لاندې څلور مطالب بايد روښانه شي.

د حقيقي اشخاصو پېژندنه، د حقيقي اشخاصو پيل او پای، د حقيقي اشخاصو اهليت او د حقيقي اشخاصو ځانګړتياوې

چې د ښه پوهېدو لپاره هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### *لومړی مطلب - د حقيقي اشخاصو پېژندنه:*

هر وخت چې د اشخاصو خبره کېږي، نو دلته دوه اصطلاحات بايد روښانه شي، يو د شخص او بله د شخصيت اصطلاح ده، چې دا هم دواړه جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

### *لومړی جز - د شخص تعريف:*

شخص په لغت کې د انسان په مانا دی، چې جمع يې اشخاص دي

د حقوقو له نظره: شخص هغه موجود دی چې د حق او وجيبې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودونکی وي يا په بل عبارت هر هغه شخص يا شی چې د حق موضوع تشکليوي شخص بلل کېږي، لکه انسانان، شرکتونه، موسسات، اتحاديې او داسې نور.

يا په بل عبارت هر هغه موجود چې له حقيقي يا حکمي شخصيت څخه برخمن وي شخص بلل کېږي

## دويم جز-د شخصيت تعريف:

د شخصيت اصطلاح له اروپايي حقوقو څخه اخيستل شوې ده، چې د هر شخص د ځانګړي خلق او خوی په مانا دی، ولې په خاص مفهوم سره شخصيت له يوناني ژبې د (persona) کلمې څخه اخيستل شوې ده او دا د هغه نقاب او پوښ په مانا و، چې په نمايش نامو او نندارتونونو کې به هنري لوبغاړ پر خپلې څېرې خوروله څرنګه چې هر هنرمند هنرمند، ځانته ځانګړی رول او نقش درلود، نو هر چا به چې هغه نقاب وليده، نو هغه هنرمند به يې پېژنده، نو له همدې وجې د persona کلمې د نقش او سهم برخې مفهوم ځانته غوره کړه، څرنګه چې په ټولنه کې هر څوک ځانته خاص رول او نقش لري، نو دا مفهوم يې د شخصيت په نوم و نومول، د حقوقو له نظره شخصيت داسې تعريف شوی دی، شخصيت هغه صفت او شايستګي ده، چې ددې په واسطه طرف او صاحب د حق يا تکليف وګرځي.

يا په بل عبارت د يو تشخيص د تشخيص حالت ته له دې کبله شخصيت وايي چې د حق او وجيبې موضوع تشکيلوي.

په ټولنه کې هر وګړی د حق او وجيبې خاوند ګرځي، چې د غه وړتيا په طبيعي ډول انسان ته ورکړل شوې ده، ځکه انسان ته طبيعي شخص وايي.

## دويم مطلب-د حقيقي اشخاصو پيل او پای:

د هر حقيقي شخصيت ژوند له يوې ټاکلې زماني نقطې څخه پيل او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يوې تاکلې زماني نقطې باندې پای ته رسېږي، نو دا چې د حقيقي اشخاصو ژوند له کومې نقطې څخه پيل او په کومه نقطه باندې پای ته رسېږي، دغه دوه مفاهيم دي، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

*لومړی جز-د حقيقي اشخاصو پيل:*

د افغانستان د مدني قانون د احکامو له مخې د طبعي اشخاصو شخصيت له پيدا ښت (تولد) سره سم شروع کېږي، چې د دغه مطلب په اړه د افغانستان اسلامي دولت د (۱۳۵۵ هـ ش) کال د مدني قانون (۳۶) مادې لومړۍ فقره کې داسې صراحت شتون لري: (د انسان شخصيت په پوره ولادت سره په دې شرط چې ژوندی وزېږي پيل کېږي

اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې؛ *د جنين مرحله کې انساني شخصيت پيل کېږي او که نه؟*

د افغانستان د مدني قانون له مخې چې له حنفي فقهې څخه پيروي کوي، جنين د ځينو حقوقو درلودونکی ګڼل کېږي

د مدني قانون د (۳۶) مادې دويمه فقره داسې صراحت لري: ((جنين د هغو حقوقو لرونکی دی، چې قانون پرې صراحت لري)) چې د قانون له دې حکم څخه معلومه شوه، چې د حقيقي اشخاصو شخصيت د جنين له مرحلې څخه پيل کېږي، ولې اکثره فقها وايي، چې د حقيقي اشخاصو شخصيت لپاره دا شرط دی، چې جنين ژوندی تولد شوی وي

*دويم جز-د حقيقي اشخاصو پای:*

الله ج چې څومره مخلوقات پيدا کړي دي، د هغوی د پيدا ښت د پيل او پای نېټه معلومه ده او د الله ج له سپېڅلي ذات څخه پرته نور ټول مخلوقات له دنيا څخه پناه کېږي، چې انسانان هم له دې څخه مستثنا کېدای نه شي او د مړينې پر اساس خپل حقوقي شخصيت له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه ورکوی اوله مرګ څخه وروسته نشي کولای چې د ژوندي شخص په توګه خپل حقوق تر لاسه او وجایب تر سره کړي

د افغانستان د ۱۳۵۵ ه ش کال مدني قانون د (۳۶) مادې په لومړی فقره کې داسې صراحت لري:

((د انسان شخصیت د هغه په پوره ولادت سره، په دې شرط چې ژوندی و زېږي شروع کېږي او په مرګ سره پای ته رسېږي ))

وفات په لغت کې مړینې ته ویل کېږي، د فقهې او حقوقو په اصطلاح کې له بدن څخه د روح خارجېدل، چې د نړۍ په پخوانیو قوانینو کې سربېره پر طبیعي مرګ، حکمي مرګ هم شتون درلود، چې هغې ته مدني مرګ ویل کېده. لکه د فرانسې هېواد په حقوقو کې ځینې داسې جرایمو شتون درلود، چې مرتکب به یې پر مدني مرګ محکومېدل او خپل شخصیت به یې له لاسه ورکاوه او په زنداني یا قیدي حالت کې به یې ژوند تېراوه، دا حالت داسې ګڼل کېده، لکه چې مړ وي

په اوسنیو قوانینو کې مدني مرګ په رسمیت نه دی پېژندل شوی، ولې د فرضي موت په نامه یې یو څه پېش بیني کړی دی. لکه یو سړی، چې ډېر وخت ورک وي او هېڅ درک یې معلوم نه وي

*دریم مطلب-د حقیقي اشخاصو اهلیت*

اهلیت په لغت کې شایستګۍ، وړتیا، قدرت او صلاحیت ته وایي، لکه چې وایي علي ددې کار اهل دی، یا دا چې ددې کار د ترسره کولو صلاحیت لري

الله تبارک و تعالی په قرانکریم کې فرمایي:

(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمٰنٰتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا.(النساء ۵۸).)

ژباړه: ای مومنانو بیشکه الله تعالی امر کوي، تاسې ته ددې لپاره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسې د امانتونو اهل ته د هغوی امانتونه وسپارئ.

او د فقهې په اصطلاح کې د یو شخص هغه وړتیا او صلاحیت څخه عبارت دي چې د خپلو شرعي حقوقو د ثبوت، وجوب او صحت لپاره یې لري، اهلیت بلل کېږي.

د حقوقو په اصطلاح کې: اهلیت د یو شخص هغه وړتیا او صلاحیت دی، چې نوموړی شخص یې د حق او وجیبې د لرلو او اجرا کولو لپاره لري، په همدې اساس اهلیت د شخص هغه صلاحیت او وړتیا ده، چې د هغې په واسطه نوموړی شخص د حق د لرلو، تکلیف د تحمل کولو او د خپل شرعي او قانوني حقوقو د کارولو وړ بلل کېږي.

*څلورم مطلب-د حقیقي اشخاصو خصوصیات (ځانګړنې):*

حقیقي اشخاص د یو شمېر خصوصیاتو (ځانګړنو) درلودونکي دي، چې د هغې په واسطه له نورو مخلوقاتو سره یې توپیر کیدای شي، په دې مانا چې همدا ځانګړنې د حقیقي اشخاصو له نوم، تابعیت، د اوسېدو ځای، د اسنادو سجلونه، فامیل او داسې نورو له درلودلو څخه عبارت دي، موږ هڅه کوو چې د حقیقي اشخاصو هر یوه ځانګړنه د دې بحث ترپایه پورې په جلا جلا توګه تر څېړنې لاندې ونیسو.

*لومړی جز-د نوم درلودل:*

د نوم درلودل د طبیعي یا حقیقي اشخاصو یو له هغه ځانګړتیاوو څخه ده، چې د طبیعي اشخاصو هویت پرې څرګندېږي، د اسلام د حقوقي سیستم او د هېواد د مدني قانون له مخې هر حقیقي شخص ددې حق لري، چې نوم ولري، موږ هم د نوم درلودلو حق لومړی د مدني قانون له مخې او بیا د اسلام د سپېڅلي دین له نظره تر څېړنې لاندې نیسو.

*- حقیقي اشخاصو نوم د مدني قانون له نظره:*

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د مدني قانون د (۳۸) مادې له حکم څخه څرګندېږي، چې هر طبيعي شخص د دې حق لري، چې په رسمي ډول يو نوم ولري، په همدې ترتيب کولای شي، چې پرته له خپل نوم څخه د کورنۍ نوم هم ولري، چې مدني قانون له دې حق څخه ځانګړې ملاتړ کوي.

*الف- د نوم تعريف او ډولونه يې:*

نوم هغه کلمه او امر دی، چې د هغې په واسطه انسانان يو له بله تفکيک او پېژندل کيدای شي، چې کولای شو د نوم له ډولونو څخه په لاندې ډول يادونه وکړو.

۱- *کوچنی نوم:* هغه نوم چې د هر شخص لپاره ځانګړی شوی وي، کوچنی نوم ګڼل کېږي، چې د شخصي نوم په نامه هم ياد ېږي.

۲- *کورنی نوم:* کورني نوم ته کله کله لوی نوم هم وايي او دا د يوې کورنۍ د ټولو هغه غړو لپاره ځانګړی شوی وي، چې په ميراث کې سره شريک وي.

۳- *مستعار نوم:* هغه نوم دی، چې يو شخص يې د ځان لپاره غوره کوي، تر څو د خپل اصلي او واقعي نوم پرځای هغه وکاروي.

۴- *موهوم نوم:* دا نوم تر يوې کچې پورې د مستعار نوم سره ورته والی لري او دا ډول نوم هم يو شخص د خپل واقعي نوم د پټولو لپاره کاروي.

۵- *تجارتي نوم:* دا هغه نوم دی چې يو شخص يې د خپلې تجارت خانې لپاره کاروي او دا يو ډول اختياري نوم دی چې بايد په اړونده اداره کې ثبت او راجستر شي.

۶- *لقبونه او عنوانونه (افتخاري. تشريفاتي او اشرافي):*

دا ډول لقبونه او عنوانونه له پخوا زماني څخه د حکومتي مقاماتو له لورې اشخاصو ته ورکول کيده، لکه فخر الدولت. امين الملک او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې نور، چې نن ورځ د حقوقو له نظره پر ته د شخصي نوم، کورني نوم او تجارتي نوم څخه بل یو نوم هم حقوقي ارزښت نه لري.

ب- د نوم درلودلو او د هغې د تغییر او تصحیح حق:

د افغانستان د مدني قانون له مخې هر حقیقي شخص باید یو نوم ولري، چې له نورو څخه یې فرق وشي، چې د غه موضوع د ۱۳۵۵ ه ش کال مدني قانون په (۳۸) ماده کې داسې تصریح شوی دی:

(هر شخص کولای شي چې پر ته له خپل نوم څخه، کورنی نوم هم غوره کړي کورنی نوم اولادونو ته نقلیږي)

معمولاً په هر حقیقي شخص باندې د هغه د والدینو له خوا نوم ایښودل کیږي، ولې هر وخت چې یو شخص هغه نوم چې ورباندې ایښودل شوی خوښ نه کړي، نو هغه شخص حق لري چې په خپله خوښه هغه نوم تغییر کړي، څکه په پورته ماده کې د شخصي نوم تر څنگ د کورني نوم انتخابول هم مجاز گڼل شوي دي.

ولې له دې سره سره بیا هم د هغو ستونزو د مخنیوي لپاره، چې د یوې خوا نوم بدلوونکي شخص او د بلې خوا د نفوسو د احوالو د ثبت ریاست کارکوونکو ته راولاړیږي، د نوم د بدلولو لپاره لاندې شرایط باید موجود وي.

۱- د نوم بدلون په تذکره او د سجلونو په اسنادو کې باید ثبت شي، چې د افغانستان د نفوسو داحوالو د ثبت قانون د دویمې مادې په ۱۵ فقره کې په دې هکله داسې صراحت شتون لري: (د نوم بدلون په تذکره او د نفوسو د احوالو د ثبت په دفترونو کې د نوم له تغییر څخه عبارت دی)

۲- د نوم بدلون باید له ۱۸ کلنۍ څخه مخکې وي

۳- اشخاص په ټول عمر کې یوازې یو ځل خپل نوم بدلولی شي، چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نفوسو د احوالو د ثبت قانون (۷۹) ماده داسې صراحت لري:(د نوم بدلون د ۱۸ کلنۍ سن تر تکمیل پورې د نفوسو د احوالو د ثبت د مقرراتو مطابق په ټول عمر کې یو ځل صورت نیسي.)

کله داسې وي چې د یو چا په نوم یا په اسنادو کې اشتباه رامنځته شوې وي، چې په دې صورت کې د نوم تصحیح ته ضرورت دی او کولای شي چې خپل نوم اصلاح او تصحیح کړي.

د نوم د تصحیح په اړه د نفوسو د احوالو د ثبت قانون د دویمې مادې په ۱۴ فقره کې داسې ذکر شوی دی:(د نوم تصحیح عبارت د ی د نوم تصحیح په تذکره او د نفوسو د احوالو د ثبت په دفترونو کې.)

پاتې دې نه وي چې د نوم تصحیح هم لکه د نوم د بدلون په څېر په ټول عمر کې یو ځل امکان لري.

*ج- د نوم د وحدت اصل:*

سره له دې چې اشخاص کولای شي، په ټولنه کې له یو څخه زیات نومونه ولري، ولې په رسمي ډول څوک د دې حق نه لري، چې له یو څخه زیات نومونه ولري او په رسمیاتو کې د نوم وحدت باید په جدي ډول مراعات هم شي.

*د- د کورني نوم درلودل:*

هر حقیقي شخص د دې حق لري چې د خپل شخصي نوم تر څنګ کورنی نوم هم ولري او د غه کورنی نوم د هغه اولادونو ته هم انتقالېږي

دا قاعده یوه مطلق قاعده نه ده، بلکې طبعي اشخاص کولای شي چې خپل کورني نوم کې تغییر راولي.

*-نوم د اسلامي فقهې له نظره:*

د اسلام په حقوقي سیستم کې هر حقیقي یا فزیکي شخص حق لري چې نوم ولري او له د غه نوم څخه مادي او معنوي ګټه پورته کړي، دا چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اولاد باندې نوم د والدينو له خوا اېښودل کېږي او والدين د نوم په اېښودلو کې آزاد دي، ولې د دې لپاره چې غوره نوم يې پرې اېښي وي، نو په دې اساس رسول اکرم صلی الله عليه وسلم داسې هدايت فرمايلي دي: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ. *(رواه ترمذي، السنن الکبری للبيهقي، باب ۵۴).*

ژباړه: په خپلو اولادونو باندې نيک نوم کېږدئ، ځکه تاسې د قيامت په ورځ په خپل نوم او د پلار په نوم راغوښتل کېږي. لکه مخکې چې دې خبرې ته اشاره وشوه، چې والدين د خپلو اولادونو د نومونو په انتخاب کې آزاد دي، ولې اسلامي شريعت کې ځينې نومونه غوره دي او ځينې حرام او مکروه هم شته، نو په همدې اساس والدين بايد کوښښ وکړي، چې ښه نوم اولاد ته وټاکي، چې د ښه پوهېدو لپاره لاندې نقاط روښانه کوو.

*- غوره نومونه:*

د اسلامي شريعت له نظره غوره نومونه هغه دي، چې ښايسته مانا ولري، عقيدوي ښه ولري او د اسلامي فرهنګ ښکارندوی وي، غوره نومونه هغه دي، چې د الله تعالی د بنده ګۍ مانا او مفهوم ولري، لکه: عبدالله، عبدالرحمن... په دويم قدم کې د پيغمبرانو عليهم السلام نومونه غوره دي، چې دليل يې دا لاندې حديث شريف دی.

((پر خپلو اولادونو باندې د پيغمبرانو نومونه کېږدئ، يا هغه نومونه چې د الله ج د بنده ګۍ مانا لري، د الله تعالی پر وړاندې محبوب ترين نومونه عبدالله، عبدالرحمن... دي او صادق ترين نومونه حارث او همام دي او بد ترين نومونه حرب او مرة دي)) *(روا ابو داود ونسايي عن ابو وهب جثمي رض).*

*- حرام نومونه:* ټول هغه نومونه چې په نورو باطلو اديانو او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذاهبو پورې تړاو ولري، لکه: د هندوېزم، بودېزم، زردشت او نور حرام ګڼل کېږي، داسې نومونه، چې د الله تعالی د صفت ښکارندوي وي، لکه: ملک الموت، ذولجلال والاکرام، سلطان سلاطین، احکم الحاکمین او داسې نور، چې ددې نومونو اېښودل یوازې الله ج پورې خاص دي او بنده ته یې انتخاب حرام دی.

یا دداسې نوم انتخابول، چې یوازې د الله ج پورې تړاو لري، لکه الله، رحمن، صمد او نور د انسان لپاره جایز نه دي، چې داسې نومونه انتخاب کړي، ولې په یو شرط کولای شي دا نومونه انتخاب کړي، چې له نوم څخه وړاندې د عبد کلمه ور زیاته او بیا په انسان باندې کېښودل شي، لکه عبدالله، عبدالرحمن، عبدالصمد او نور.

د حنا بله علماو له نظره هغه نومونه چې د حضرت محمد ص لپاره ځانګړي شوي دي، هغه د نورو انسانانو لپاره حرام دي، لکه: خاتم النبین، سیدالانبیا او نور.

*- مکروه نومونه:* شوافع وايي چې په اسلامي فقه کې د(سیدالناس، سیدالسادات او نور) نومونه د کذب والي پر بنا مکروه ګڼل کېږي، خو حنا بله دا نومونه بیا حرام ګڼي.

همدارنګه د رباح (ګټې)، لفلح (کامیابۍ) او یسار (اساني) په شان نومونه هم د انسان لپاره مکروه دي

حنابله فقها وايي، چې: د شیطان، شهاب، حمار، کلب یا د ظالمو او بدکارو خلکو نومونه اېښودل هم مکروه دي

*- د خرابو نومونو تغییرول:*

د اسلام له نظره خراب نومونه باید تغییر شي، څکه چې رسول اکرم ص همدا کار کولو د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه دا لاندې حدیث شریف روایت شوی دی: (كَانَ يَغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ) رواه ترمذي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:((حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به خراب نومونه تغییرول))

د مثال په ډول: په مسلم شریف کې روایت شوي دي، چې د حضرت عمر رض یوه لور وه چې عاصیه نومېده رسول ص د هغې نوم په جمیلې باندې بدل کړ.

## دويم جز -د حقيقي اشخاصو تابعيت.

د طبیعي اشخاصو له مهمو ځانګړنو څخه یو هم تابعیت دی چې د هویت په پېژندنه کې مرسته کوي

تابعیت په لغت کې له (تبع) سره ګډه ریښه لري، چې د پیروۍ او وروسته تګ په مانا ده، په حقوقي اصطلاح کې د افغانستان تابعیت د قانون د (۲) مادې له مخې (تابعیت د شخص سیاسي او حقوقي اړیکه ده).

د تابعیت په هکله د خصوصي بین المللي حقوقو علماوو مختلف نظریات ارایه کړي دي، چې یو له بل سره فرق لري؛ مګر کوم شی، چې مسلم دی، هغه د تابعیت د سیاسي والي او داخلي والي خصلت دی، ځکه تابعیت داسې یو صفت او حالت دی، چې یو شخص ته د یو معین ملت یا دولت سره تعلق وربښي.

یا په ساده ډول یې په لاندې ډول تعریفوو:

تابعیت یوه سیاسي، حقوقي او معنوي اړه ده چې یو فرد ته د یو معین دولت سره ارتباط ورکوي، په دې تعریف کې په حقیقت کې موږ د درې ډولو رابطو نومونه واخیستل چې عبارت دي: له سیاسي رابطې، معنوي رابطې او حقوقي رابطې څخه چې دا درې واړه بېلا بېل څېړو:

- *د تابعیت د رابطې سیاسي والی:* موږ وویل چې تابعیت یوه سیاسي اړه ده، ځکه ورته سیاسي اړه وایو چې د دولت له حاکمیت څخه منشاء اخلي یانې دولت دی، چې دا تشخیص کوي، چې څوک او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومو شرايطو ددې دولت تابعيت لاسته راوړي، يا په دې مانا چې دولت مکلف نه دی چې چاته تابعيت ورکړي، بلکې دا د دولت اختيار دی، چې د خپلې جغرافيوي، سياسي او اقتصادي وضعې او حالاتو ته په کتو سره چاته تابعيت ورکړي او چاته يې ورنه کړي.

### - د تابعيت د رابطې معنوي والی:

نظر دې ته چې تابعيت ديو دولت اتباعو ته د هغه مشترکو اهدافو او عرف او عاداتو له مخې چې د دوی تر منځ شتون لري، د خپل متبوع دولت سره پيوند ورکوي، چې دا يوه معنوي اړيکه شوه، چې د شخص د اوسيدو محل سره هيڅ تړاو نه لري، يا په بل عبارت معنوي اړه ورته ځکه وايي چې په يو خاص مکان پورې ارتباط نه لري، چېرته چې شخص موقعيت لري دا بيا هم د خپل هېواد تبع ګڼل کېږي، لکه يو افغان چې د دنيا په هر ګوټ کې ژوند کوي او هغه بيا هم افغان دی.

### - د تابعيت د رابطې حقوقي والی:

دا چې تابعيت په ملي او بين المللي سطحه د ځينو حقوقي اثارو درلودونکی دی، نو دا يوه حقوقي رابطه شوه، لکه په خارجي هېوادونو کې د يو دولت له خوا د خپلو اتباعو سياسي حمايت، د رايه ورکولو حق له مدني او تجارتي حقوقو څخه ګټه اخيستنه، يا د ټولو بين المللي معاهداتو له مفاداتو څخه برخمن کېدل... دا ټول هغه څه دي، چې د تابعيت په حقوقي والي دلالت کوي.

## دريیم جز - د حقيقي اشخاصو د اوسېدو ځای:

د اوسېدو ځای يا (Dwelling or Domicile) د طبعي يا حقيقي اشخاصو يوه بله ځانګړتيا ده، چې د هغوی د هويت په تثبيت کې مهم رول او نقش لري.

د لغت له مخې اقامتګاه له دوه کلمو څخه مرکبه ده، چې يو يې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اقامت) او بل يې (ګاه) چې په تولیزه توګه د اوسېدو د ځای مانا ورکوي، خو په اصطلاح کې اقامتګاه زياتې ماناوې لري، چې د نمونې په ډول يې دلته يو څو بيان شوي دي:

۱- تعريف: استوګنځی يوه مادي او حقوقي اړه ده، چې يو شخص ته پرته له دې چې د هغه تابعيت په نظر کې و نيول شي، د يو دولت د خاورې د يوې برخې پورې پيوند ورکوي.

۲- تعريف: اقامتګاه د يو شخص اړيکې له خپل شا او خوا محيط سره يا له هغې سيمې سره چې شخص پکې ژوند تېروي او يا هم د هغه کسب او کار سره، چې نوموړی پر هغه باندې بوخت وي، ګڼل کېږي.

۳- تعريف: استوګنځی يوه حقوقي اړيکه ده او ځينې سياسي ځانګړتياوې لري، چې د اشخاصو او دولت د قلمرو د يوې معينې حوزې ترمنځ ټينګېږي، په دې وسيله پرته له دې چې اشخاص د تبعه کېدو اوصاف ولري، د نوموړي حوزې له اوسېدونکو څخه شمېرل کېږي، چې په دې اړه د افغانستان د مدني قانون (۵۱) ماده دويمه فقره وايي: (يو شخص کولای شي چې له يو څخه زيات د اوسېدو ځايونه ولري)

څلورم جز- د حقيقي اشخاصو د سجلونو اسناد:

د سجلونو اسناد هغه اسناد دي، چې په شخصيه احوالو پورې اړه لري او د هېواد د مدني قانون له مخې د کورنيو چارو وزارت د نفوسو د احوالو د ثبت رسمي مامورين يې ترتيب او تنظيموي، چې په دې اړه د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون (۴۶) ماده داسې صراحت لري:

(کوم اشخاص چې د اتلس کلنۍ عمر پوره کوي، د هغوی مدني حالت د سجلونو د ثبت په مخصوصو دفترونو کې، د دې قانون د (۴۷- ۴۸- ۴۹ او ۵۰) مادو د درج شوو حکمونو سره سم ثبتېږي)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مدني قانون او د نفوسو د احوالو د ثبت قانون له مخې د حقیقي اشخاصو د سجلونو اسناد په دوه ډوله دي، چې یو یې د نفوسو د احوالو د ثبت ریاست، د سجلونو د ثبت ځانګړي دفترونه او دویم یې د هویت ځانګړې پاڼه ده چې تذکره ورته وایي، چې هر یو جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

۱- *د سجلونو د ثبت ځانګړي دفترونه:* د افغانستان د ۱۳۵۵ ه ش کال مدني قانون د (۴۶) او (۴۷) مادې مطابق د سجلونو د ثبت ځانګړي دفترونه عبارت له هغو دفترونو څخه دي چې، د مدني قانون، د نفوسو د احوالو د ثبت قانون او د نفوسو د احوالو د ثبت ریاست پورې اړوندو مقرراتو له مخې د دولت د رسمي مامورینو له خوا د حقیقي اشخاصو مدني حالت پکې ثبت کېږي.

۲- *تذکره:* د نفوسو د احوالو د ثبت قانون ۱۲ مادې له مخې تذکره هغه قانوني سند دی چې د هر افغان هویت پکې درج وي، تذکره د نفوسو د احوالو د ثبت په دفترونو کې د ثبت شوو معلوماتو او اطلاعاتو له مخې ترتیب او غوښتونکي ته ورکول کېږي، چې د افغانستان د ۱۳۵۵ ه ش کال مدني قانون په (۴۷) ماده کې په دې اړه داسې صراحت لري:((د شخص مدني حالت د هویت په مخصوصه پاڼه کې درجېږي او د غوښتنې په صورت کې غوښتونکې ته ورکول کېږي))

## *پینځم جز- د حقیقي اشخاصو کورنی:*

کورنی هم د حقیقي اشخاصو له ځانګړتیاو څخه یوه ځانګړتیا ده چې په دوامدار ډول د کورنی درولودونکی وي

## *شپږم جز- د حقیقي اشخاصو مسوولیتونه:*

ددې لپاره چې په دې اړه بسه پوه شو، بسه به وي، چې لومړی د مسوولیت په اړه معلومات تر لاسه کړو او وروسته بیا د حقیقي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاصو مسوولیت وپېژنو.

۱ - *مسوولیت:* په لغت کې د پوښ شوي او مطالبه شوي په مانا او هغه شي ته وايي، چې شخص د هغې عهده دار وي

مسوولیت هغه حقوقي اړیکه ده، چې د فعل د ترک په اساس چې حرام او د قانون مخالف وي رامنځته کېږي

یا په بل عبارت: مسوولیت عبارت له هغه تعهد څخه دی چې شخص د وارده ضرر د دفع کولو لپاره د نورو په مقابل کې د هغه په کولو مکلف وي، چې په درې ډوله يې ویشو.

۱ -/ *اخلاقي مسوولیت:* اخلاقي مسوولیت هغه مسوولیت دی چې په قوانینو کې هغه ډېر وضع شوی نه وي، بلکې د اخلاقي معیارونو پر اساس ورته راجع شوی وي او د عدم اجرا په مقابل کې غیرله دې څخه چې په ټولنه کې کرکه او نفرت د نوموړي شخص په مقابل کې وزېږوي، بل کوم مدني اوجزايي مسوولیت ورته نه راجع کېږي

۲ - *مدني مسوولیت:* د شخص له هغې التزام څخه عبارت دی، چې صدمه لیدونکی ته د خساري جبران ورکړي

۳ - *جزايي یا قانوني مسوولیت:* دا عبارت له هغې مسوولیت څخه دی چې شخص د هغه فعل د اجرا یا ترک مرتکب شي چې اسلامي شریعت او قانون يې په مقابل کې جزا ټاکلې وي. *(رسولي ۱۸ مخ).*

په خلص ډول باید ووایو چې طبیعي اشخاص د تکلیف او وجیبې منونکي دي او خپل ټول امورات باید داسې تنظیم کړي، چې اسلامي شریعت، وضعي قوانینو او اخلاقي معیارونو سره په ټکر کې نه وي

نو څکه وایو چې د طبیعي او حقیقي اشخاصو بله ځانګړتیا دا ده چې د تکلیف او وجیبې منونکی وي، د پورته ذکر شوو ځانګړتیاوو ترڅنګ انسانان څینې طبیعي ځانګړتیاوې هم لري، چې هغه عبارت دي: د ګوتو نښان، د سترګو، وینتانو او پوستکي رنګ، قد او اندازه، د وینې ګروپ او داسې نور چې دا هم د شخص د هویت په تثبیت کې مهم رول لري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم مبحث -حکمي، معنوي يا حقوقي اشخاص

تر دې ځايه خو د حقيقي اشخاصو په هکله بحث وشو، ولې يوازې حقيقي اشخاص د حقوقو او وجايبو درلودونکي نه دي، بلکې حکمي اشخاص هم حقوق او وجايب لري، ترڅو خپلو ټاکلو تجارتي، اقتصادي، سياسي، فرهنګي، خيريه او نورو موخو ته د رسېدو په منظور يوه ټولنه جوړه کړي، چې له دغه حقيقي اشخاصو څخه په يو شخص پورې به هم تړلې نه وي، چې په قانون کې دا رنګه ټولنې د حق او وجيبې درلودونکې ګڼي. څرنګه چې په دې بحث کې پر حکمي اشخاصو باندې بحث کېږي نو ښه به وي چې په لاندې سرليکونو باندې بحث وکړو.

۱-د حکمي شخصيت پېژندنه

۲-د حکمي شخصيت ځانګړتياوې

۳-د حکمي اشخاصو ډولونه، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول شوي دي.

### *لومړی مطلب-د حکمي اشخاصو پېژندنه*

حکمي شخصيت د منافعو او اهدافو هغه ټولنو ته ويل کېږي، چې عمومي قدرت هغه له څو تشکيل کوونکو عناصرو څخه د يو خپلواک واحد په توګه وپېژني او ملاتړ يې وکړي، حقوق پوهان د حکمي اشخاصو په اړه داسې نظر لري.

حکمي شخصيت هغه وخت څرګند يږي، چې د افرادو يوه ډله مشترک فعاليتونه او منافع ولري، يا د اموالو يوه برخه د خاصو اهدافو لپاره ځانګړې کړي، يو د بل تر څنګ راټول شي او هم د قانون له خوا د خپلواک شخصيت په توګه چې د مستقل حق او مسوولیت لرونکی وي ومنل شي، لکه سياسي احزاب، تجارتي شرکتونه، اتحاديې، ټولنې او دې ته ورته نور....

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون په ۳۳۷ مادې کې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمي یا معنوي شخصیت داسې تعریف کړی دی:

۳۳۷ ماده: ((حکمي شخص هغه معنوي شخص دی چې د حقوقي اهلیت لرونکی وي او د ټاکلو هدفونو پر اساس د جمعیت، موسسې یا شرکت په شکل تشکیلېږي.))

له پورته تعریفاتو څخه لاندې اهم نقاط استنباط کېږي:

۱- حکمي اشخاص یو معنوي وجود لري، فزیکي او حقیقي وجود نه لري.

۲- حکمي اشخاص باید د حقیقي اشخاصو په څېر د حقوقي اهلیت لرونکي وي.

۳- د کومو اهدافو لپاره چې حکمي اشخاص ایجادېږي، هغه اهداف باید ټاکلي وي.

۴- د تشکیل شکل به یې د شرکت، موسسې، ټولنې او دې ته ورته نورو په څېر څرګند وي.

۵- حکمي اشخاص به د حقیقي اشخاصو په څېر د حقوقو او وجایبو درلودونکي وي.

د حکمي اشخاصو د ماهیت په اړه مختلف نظریات شتون لري، چې موږ پر هغو نظریاتو باندې بحث نه کوو، یوازې د افغانستان د مدني قانون حکم، چې د حکمي اشخاصو د ماهیت په اړه یې لري دلته رانقل کوو.

*د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون ۳۳۹ ماده:* ((د هغو اشخاصو مجموعه چې د یو حکمي شخصیت د شرطونو او عناصرو لرونکی وي، د قانون په وسیله د حکمي شخص په حیث پېژندل کېدای شي.))

فلهذا تر هغې چې قانون یو شخص د حکمي شخص په حیث نه وي قبول کړی، تر هغې پورې نو موړی شخص حکمي شخص نه ګڼل کېږي، همدارنګه هیڅ کس نه شي کولای چې حکمي شخص ایجاد کړي، مګر د قانون د حکم په اساس، نو پر همدې اساس په افغانستان کې د ټولو حکمي شخصیتونو ایجاد، رامنځته کېدل او انحلال د دولت په ارادې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اجازې پورې تړلي دي

## دویم مطلب-د حکمي اشخاصو خصوصیات.

حکمي یا معنوي اشخاص هم لکه د حقیقي یا فزیکي اشخاصو په څېر د یو شمېر ځانګړو خصوصیاتو لرونکي دي، چې پر اساس يې له نورو اشخاصو څخه جلا کېږي، چې دغه خصوصیات په لاندې ډول دي.

### ۱-د حکمي اشخاصو نوم:

حکمي اشخاص هم لکه د حقیقي شخص په څېر د خپل خاص نوم درلودونکی وي، ځکه چې دې ډول اشخاصو سره د معاملاتو اجرا کول او یا هم د اړتیا پر مهال دې ډول اشخاصو ته مراجعه کول، ددې غوښتنه کوي، چې دا ډول اشخاص باید نوم ولري، د افغانستان (۱۳۵۵ هـ ش) کال مدني قانون له مخې هر حکمي شخص د نوم درلودونکی دی، چې د هغه په اساسنامه کې به درج وي.

*د مدني قانون ۴۰۵ ماده:* په دویم بند کې د حکمي شخص نوم ته د ټولنې عنوان تر نامه لاندې په دې ډول اشاره کړې ده: (د جمعیت د اداري مرکز له افغانستان څخه د باندې جواز نه لري) د همدې قانون په (۴۱۹) ماده کې داسې صراحت وجود لري.

۱-د جمعیت نوم، د داخلېدو ګټه او د هغې د فعالیتونو حدود په ټولو دفترونو، پاڼو او د هغې په خپرونو کې درجېږي، همدارنګه د افغانستان د تجارت اصولنامه په ۴۱ ماده کې داسې صراحت لري

هر تاجر که یوازې او که له خصوصي شریک سره وي، چې تجارت کوي او همدا ډول ټول تجارتي شرکتونه مجبور دي، چې د خپل تجارت عنوان (نوم) په هغه محل کې چې تجارت پکې کوي او یا د هغوی مرکز هلته وي، د تجارت د ثبت په دایره کې ثبت او اعلان کړي.

### ۲-د حکمي اشخاصو تابعیت.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تابعیت یوازې په حقیقي اشخاصو پورې اړه نه لري، بلکې حکمي اشخاص په ځانګړې ډول شرکتونه هم باید تابعیت ولري، د حکمي اشخاصو د تابعیت په هکله جلا جلا نظریات وجود لري.

حقوقي (حکمي) اشخاص په خپل وار سره په دوه برخو وېشل شوي دي، چې عمومي حقوقي اشخاص او خصوصي حقوقي اشخاص دي.

*الف- عمومي حقوقي اشخاص:*

هغه دي چې دولت پورې تړاو لري او هر وخت چې دولت په رسمیت وپېژندل شي، نو په هغې پورې مربوط نور حقوقي اشخاص هم په دې پورې تړلي دي او د تابعیت په اړه یې څه مشکل نه لیدل کېږي.

*ب- خصوصي حقوقي اشخاص:*

دا هغه دي چې څو حقیقي اشخاص د یو ټاکلي هدف لپاره خپل کوښښونه سره شریکوي او یو مستقل شخصیت منځته راوړي، چې کله د یو هېواد د اتباعو له خوا ایجادېږي، ولې کله د خارجي عنصر لرونکي هم وي، په هغه صورت کې چې د یو دولت په داخل کې د داخلي اتباعو له خوا ایجادېږي په تابعیت کې څه مشکل نه شته او د همغه هېواد تابع ګڼل کېږي، خو په هغه صورت کې چې خارجي عنصر ولري په دې صورت کې د حکمي شخصیت د تابعیت تعین مشکل او په اړه یې مختلف نظریات موجود دي، چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي.

*الف- د حکمي شخصیت د تابعیت ټاکنه د شریکانو د تابعیت پر اساس:* علماء وایي: په یو شرکت (حکمي شخصیت) کې چې د هر هېواد د اتباعو شمېر زیات وي، نو موړې شرکت د همغه هېواد تبع ګڼل کېږي، خو دا نظر هم دقیق نه دی، ځکه کیدای شي، د یو دولت شریک خپل سهم بل شریک ته ورکړي او د شریکانو شمېر تغییر وکړي.

*ب- د موسسینو اراده:* ځینې حقوق پوهان وایي چې دموسسنو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارادې ته دې پرېښودل شي چې د کوم دولت تابعیت اخلي اختیار ولري.

ج- *د شرکت د تشکیل د محل له حیثه:* شرکت، چې په کوم ځای کې تشکیل شوی، د همغه هېواد تابع ګڼل کېږي.

د- *د شرکت د فعالیت مرکز له حیثه:* هر ځای کې چې شرکت فعالیت لري، همغه یې د تابعیت لپاره کافي دی.

هـ- *د شرکت د اداري استوګنځی یا اصلي مرکز:* شرکت د همغه هېواد تابع ګڼل کېږي، چې د شرکت د اداري اصلي مرکز په همغه ځای کې موجود وي.

### ۳- د حکمي اشخاصو استوګنځی:

د افغانستان د ۱۳۵۵ هش کال مدني قانون د (۳۴۲) مادې د لومړي بند د حکم په اساس حکمي اشخاص باید استوګنځی ولري او د حکمي اشخاصو استوګنځی له هغې ځای څخه عبارت دی چېرته چې د حکمي اشخاصو مرکزي اداره موجوده وي.

د دې امر علت دا دی، چې حکمي اشخاص هم لکه د حقیقي اشخاصو په څېر د حقوقو او وجایبو درلودونکي دي او یو سلسله فعالیتونه ترسره کوي، هر وخت چې حکمي اشخاص ځینې فعالتیونه اجرا کوي، نو په دې صورت کې حکمي شخص د دې ایجاب کوي، چې د اوسېدو ځای یا استوګنځی هم باید ولري.

### ۴- د حکمي اشخاصو مالي حقوق او وجایب:

حکمي اشخاص (عام له دې چې عامه شخص وي او که خصوصي شخص) د طبیعي اشخاصو یوه ډله ده، چې ټاکلو اهدافو ته د رسېدو په خاطر رامنځته کېږي.

د مثال په ډول: د عامې روغتیا وزارت موخه دا ده چې د افغانستان اتباعو ته عامه روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا دا چې د تجارتي شرکتونو موخه، د خوراکي او ناخوراکي موادو صادرول او واردول دي، یا داسې نور حکمي اشخاص چې مختلف اعمال تر سره کوي، دا چې حکمي اشخاص کوم اعمال تر سره کوي، نو په نتیجه کې داسې ویلی شو، چې دوی باید منقول او غیر منقول اموال ولري او د دغه اموالو په هکله حقوق او صلاحیتونه هم لري، چې مالي حقوق او وجایب ګڼل کېږي.

**۵- د حکمي اشخاصو اهلیت:** اهلیت په لغت کې د استعداد، توانایي او وړتیا په مانا ده او په اصطلاح کې اهلیت هغه صلاحیت ته ویل کېږي، چې یو شخص یې د یو شي د لرلو او یا د حقوقو او وجایبو د تر سره کولو لپاره لري، د اهلیت دغه تعریف د حقوقي اشخاصو لپاره هم صدق کوي، ځکه چې د حقوقي شخص وجود ددې غوښتنه کوي، چې نوموړی شخص دې باید د حقوقو او جایبو د تر سره کولو وړتیا ولري، نو هر هغه شخصیت چې حقوق او وجایب لري، ددې لپاره دا لازمي ده، چې د داسې حقوقو او وجایبو د اجرا کولو اهلیت هم باید ولري.

**دریم مطلب- د حکمي اشخاصو د تابعیت اهمیت:**

د حقوقي (حکمي) اشخاصو تابعیت د هغوی د حقوقو او وجایبو په ټاکلو کې مهم رول لري، ځینې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

الف- د حکمي اشخاصو د تابعیت په واسطه دا معلومېږي، چې نوموړی شخصیت د کوم هېواد په قلمرو کې د یو خپلواک حقوقي شخصیت په توګه تاسیس او له کومو حقوقو څخه برخمن کیدای شي.

ب- دولتونه یوازې د هغو شرکتونو حمایت کوي، چې د اړوند دولت تابعیت ولري.

ج- په اکثرو هېوادونو کې شرکتونه مجبور دي، چې د خپلو تجارتي، صنعتي، زراعتي او داسې نورو فعالیتونو د ترسره کولو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره له اړوند دولتونو څخه اجازه تر لاسه کړي، چېددې اجازې په اخيستلو کې د حقوقي اشخاصو تابعيت رغنده رول لري.

د- په ډېرو هېوادونو کې د شرکتونو تشکيل، کړنلاره، افلاس او انحلال د متبوع دولت د قوانينو تابع وي.

هـ- يو شمېر هېوادونه خپلو متبوع شرکتونو ته د دوه اړخيزو تړونونو له مخې ځينې امتيازات او سهولتونه برابروي. لکه د ماليات له ورکړې څخه معافيت، ګمرکي اسانتياوې او داسې نور، چې تابعيت په دې برخه کې رغنده رول لوبوي.

## څلورم مطلب- د حکمي (حقوقي) شخصيت ډولونه

د افغانستان د مدني قانون له مخې حکمي (حقوقي) اشخاص په دوه برخو باندې ويشل شوي دي، چې هغه عبارت دي له عمومي حکمي اشخاصو او خصوصي حکمي اشخاصو څخه، چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

۱- **عمومي حکمي شخصيت:** عمومي يا عامه حکمي اشخاص هغه اشخاصو ته ويل کېږي، چې د خصوصي اشخاصو پر خلاف د دولت د ارادې پر اساس ايجاد او منحل کېږي، په دې مانا چې دا ډول حقوقي اشخاص د دولت په ارادې او لزوم ديد پورې اړه لري، دلته موږ غواړو چې په لومړي قدم کې د افغانستان د مدني قانون له مخې عامه حقوقي اشخاص تعريف او په دويم قدم کې د عامه حکمي (حقوقي) اشخاصو پيل او پای باندې رڼا واچوو.

لومړی- د افغانستان د مدني قانون د (۳۳۸) مادې په لومړۍ فقره کې عمومي حقوقي يا حکمي اشخاص داسې تعريف شوي دي.

د *(۳۳۸) مادې لومړۍ فقره:* ((حکمي عمومي شخصيت چې د دولت رکنونو فرعي ادارو د هغې له مربوطو شعبو سره او عمومي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسیساتو ته شامل دي))

د نوموړي قانون له احکامو څخه داسې څرګندېږي، چې عمومي معنوي یا حکمي اشخاص عبارت دي له دولت، د دولت درې ګونې قواوې او ټولې هغه اداري چې د دغه درې ګونو قواوو پورې مربوطې وي، همدارنګه ټول هغه تاسیسات چې د عامه ګټو لپاره ایجادېږي، د عمومي حکمي اشخاصو په کتار کې راځي، یا په خلص ډول باید ووایو چې، عمومي حکمي اشخاص دولت او د هغې فروعو ته ویل کېږي.

*دویم- د عامه حکمي اشخاصو پیل او پای:* لکه څرنګه چې مخکې په دې باندې رڼا واچول شوه چې حقیقي اشخاص د پیل او پای درلودونکي وي، نو حکمي اشخاص هم له دې امر څخه مستثنا کیدای نه شي، یا په دې مانا چې هیڅ شخصیت داسې نه پیدا کېږي، چې پیل او پای و نه لري.

عمومي حکمي اشخاص (دولت او دولتي سازمانونه) چې کله تاسیس شي، له همغې ورځې څخه د فعالیت اجازه لري او همدغه د تاسیس نېټه یې د پیل نېټه ده او هر وخت یې چې د فعالیت اجازه ختمه شي همدغه نېټه یې د پای نېټه ده، چې عمومي حکمي اشخاص د رئیس جمهور د فرمان پر اساس ایجاد او منحل کېږي.

**۲- خصوصي حکمي شخصیت**

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون (۳۳۸) مادې په دویم بند کې د خصوصي حکمي شخصیت په اړه داسې صراحت لري

*(۳۳۸) ماده- دویم بند:* خاص حکمي شخصیت چې د خصوصي افرادو له ارادې څخه پیدا کېږي. لکه وقف، ټولنې، مؤسسې، مدني یا تجارتي شرکتونه. مګر دا چې قانون دا رنګه شخصیتونه عام کړي دي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

# د عندي حقوقو منابع

لکه څرنګه مو چې مخکې ولوستل چې حقوق په دوه لویو برخو وېشل شوي، چې له آفاقي او عندي حقوقو څخه عبارت دي، آفاقي حقوق ټولنیز حقوق دي، چې په ټولنې پورې اړه لري او دې حقوقو ته په ډېرو حقوقي مباحثو کې قوانین هم ویل کېږي، خو د حقوقو دویم ډول هم دا عندي حقوق دي چې د افرادو امتیازات او سلطې دي، چې د اشخاصو او شیانو په مقابل کې یې لري او په ډېرو حقوقي مباحثو کې د حق په مانا تعبیر کېږي.

دا چې زموږ د بحث موضوع د حقوقو اصلي منابع دي او له هغې څخه مو د آفاقي حقوقو د اصلي منابعو په اړوند یو لړ معلومات په لومړۍ برخه کې وړاندې کړل او دویمه برخه مو د عندي حقوقو د منابعو لپاره ځانګړې کړې ده، چې د غه منابع په دوه ډوله دي، چې له حقوقي اعمالو او حقوقي حوادثو څخه عبارت دي، چې هر یو یې جلا جلا په دوو بېلابېلو عنوانو کې تر بحث لاندې نیسو.

## لومړی مبحث - حقوقي اعمال

لکه څرنګه چې مو مخکې یادونه وکړه، عندي حقوق دوه ډوله منابع لري، حقوقي حوادث او حقوقي اعمال، دا چې دا څپرکی د حقوقي اعمالو لپاره ځانګړې شوې، نو له حقوقي حوادثو څخه دلته صرف نظر کوو او حقوقي اعمال تر څېړنې لاندې نیسو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مطلب-د حقوقي اعمالو پېژندنه:

حقوقي اعمال د یو یا څو اشخاصو د ارادو څرګندول دي، د حقوقي نتیجې د تولید په منظور چې دا حقوقي نتیجه به د حق یا وجیبې ایجاد، انتقال، تغییر یا اسقاط وي، چې د ښه پوهېدلو لپاره یې په دوه مثالونو کې واضح کوو.

لومړی مثال: یو ناکح خپلې منکوحې ته طلاق ورکوي، نو دلته چې کومه حقوقي نتیجه تولید بږي، هغه د زوجینو تر منځ په راتلونکې کې د زوجیت د اړیکو د ټینګولو (د متقابلو حقوقو او وجایبو) اسقاط کېدل دي.

دویم مثال: د نکاح د عقد د انعقاد پر اساس د زوجیت حقوقي آثار مرتب کېږي او ناکح او منکوحې دواړو ته حقوق او وجایب ایجادوي.

## دویم مطلب-د حقوقي اعمالو ډولونه:

حقوقي اعمال په دوه ډوله دي، چې هر یو یې جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### لومړی جز-یو اړخیز حقوقي اعمال:

له هغو حقوقي اعمالو څخه عبارت دي، چې یوازې د یوه شخص د ارادې د څرګندولو په نتیجه کې حقوقي نتایج رامنځته کوي او د بل شخص د ارادې څرګندولو ته په کې ضرورت احساس نه شي، د مثال په ډول: وصیت، طلاق، ابراء او وقف، چې له دې جملې نه که موږ و ګورو نو وصیتنامه چې عبارت ده د یو شخص د ارادې له بیان څخه په دې بنیاد، چې د خپلې شتمنۍ یوه برخه له خپل مرګ څخه وروسته له خپلو وارثینو څخه پرته یو معین شخص ته وسپاري، چې په دې مثال کې موږ ته په ښکاره ډول څرګند بږي، چې په دې وصیتنامه کې یوازې د موصي (وصیت کوونکي) اراده څرګند بدل دي، چې په نتیجه کې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ازیتوب سره د یوې حقوقي نتیجې د ایجادېدو باعث ګرځي، چې عبارت ده د دارایۍ انتقالېدل موصی لهٔ (وصیت کېدونکي) ته او د هغې حقوقي نتیجې د ایجاد لپاره د موصی لخوا د توافق د ارادې څرګندولو ضرورت نشته چې موصی لخوا نه د یو اړخیزه ارادې دا څرګندېدل د موصی لهٔ لپاره د موصی په شتمنۍ کې حق ایجادوي او د موصی وارثینو ته وجیبه انتقالېږي، چې د موصی له وفات څخه وروسته وصیت کړای شوې دارایۍ موصی لهٔ ته تسلیم کړي

## دویم جز-دوه اړخیز حقوقي اعمال:

دوه اړخیز حقوقي اعمال په تمامه مانا د پېژندلو په خاطر په لاندې څو مطالبو کې رانغاړو.

### لومړی-د دوه اړخیزو حقوقي اعمالو پېژندنه:

له هغو حقوقي اعمالو څخه عبارت دي، چې د دوه یا څو اشخاصو د ارادو څرګندولو په نتیجه کې د حق یا وجیبې په ایجاد، انتقال، تغییر یا اسقاط باندې منتج شي، لکه د مثال په توګه د داین ابراء، په دې مانا چې یو شخص په بل شخص باندې قرض لري، نو موړی شخص اراده لري، چې خپل قرض نه صرف نظر وکړي، د دې لپاره چې دا حقوقي ماهیت پیدا کړي او حقوقي نتیجه ترې تولید شي، د مدیون له خوا نه په خپله ذمه باندې د قرض الغاء کېدو په اړوند موافقې لپاره د ارادې د څرګندولو ضرورت دی، چې هغه خپل رضایت ونه ښایي، نو حقوقي اثار پرې نه مرتب کېږي او حقوقي نتیجه چې د داین د حق اسقاط او د مدیون د وجیبې له منځه تلل دي، تحقق نه پیدا کوي، خو که چېرته مدیون خپل رضایت وښایي نو دې ته دوه اړخیزه حقوقي اعمال وایي، چې د مقاولې یا کنوانسیون په نوم هم یادېږي

### دویم-د دوه اړخیزو حقوقي اعمالو (مقاولې یا کنوانسیون):

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه اړخیزه حقوقي اعمال به نتیجتاً په دوو مختلفو بڼو منتج کېږي، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

***لومړۍ فقره: دوه اړخیزه حقوقي عمل په خپله ثابته (مقاولې یا کنوانسیون) بڼه لري:***

کله چې دوه اړخیز حقوقي عمل د حق یا وُجیبې د سقوط نه بلکې د هغې په ایجاد، تغییر او انتقال باندې منتج شي، نو بیا د مقاولې یا دوه اړخیز حقوقي عمل په نوم نه بلکې د عقد یا تړون بڼه ځانته غوره کوي، د مثال په ډول، د اخیستلو او خرڅولو په عقد کې چې د عقد دواړو لوریو (بایع او مشتري) ته حقوق اوو جایب ایجادوي یانې بایع مشتري ته د ثمن په مقابل کې د مبیعې په ورکړه او مشتري بایع ته د مبیعې په عوض کې د ثمن پر ورکړه مکلف ګرځي (وجیبه لري).

په هر حال د حقوقي اعمالو له جملې څخه عقود لویه او مهمترینه موضوع ده چې په لاندې ډول ورته لنډه کتنه کوو.

***الف- د عقد پېژندنه:***

د دوه یا څو اشخاصو د ارادو توافق دی، د حقوقي نتیجې د تولید په منظور، چې دا حقوقي نتیجه به د حق یا وجیبې ایجاد، تعیر یا انتقال وي، لکه د اخیستلو او خرڅولو عقد.

- په حقیقت کې د تعاقدي وجایبو اساس له لاندې اخلاقي وجیزې څخه سرچینه اخلي.

(کوم قول چې مو د نورو ته ورکړی، هغه محترم وشمېرئ).

***ب- د عقد ډولونه:***

که مونږ په خپل ژوند کې وګورو نو ټول عقود یو شان نه دي، بلکې مختلف اشکال لري، چې د مطالعې د اسانتیا په خاطر یې په لاندې رشتو صنف بندي کوو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مسمی او غیر مسمی عقدونه:

مسمی عقدونه هغه عقدونه دي، چې له معینو او مشخصو نومونو... شرایطو او اثارو سره د قانون په واسطه پیشبیني شوې وي، لکه د اخیستلو او خرڅولو عقد، د اجارې عقد، د رهن عقد او داسې نور غیر مسمی عقدونه هغه دي، چې د قانون پر اساس نه بلکې د قراداد طرفینو د قانون په چوکاټ کې په هره طریقه چې وي منعقد او په یو نوم سره یې یاد کړي وي، لکه یو سړی په بل سړي موټر خرڅوي، څه پیسې ترې نغدې او د متباقي پیسو په مقابل کې ترې کور پرته تادیه کولو د یو کال لپاره واخلي.

- یو اړخیز او دوه اړخیز عقدونه:

یو اړخیز عقدونه هغه دي، چې د دوه اشخاصو د ارادو د موجودیت په صورت کې تحقق مومي، خو وجیبه د عقد یو لوري ته ایجادوي او دویم لوری د کومې وجیبې په تر سره کولو مکلف نه وي، لکه د هبې عقد. او دوه اړخیزه عقدونه عبارت له هغو عقدونو څخه دي، چې دواړه لوریو ته حقوق او وجایب ایجادوي، لکه اخیستل او خرڅول

- وړیا او ناوړیا عقدونه:

وړیا یا د تبرع عقدونه عبارت له هغو عقدونو څخه دي، چې یو له جانبینو څخه پرته د کوم عوض له ورکولو له مقابل جانب څخه یو شی د خپلو مفاداتو په خاطر لاسته راوړي، لکه عاریت او قرض حسنه... او ناوړیا عقدونه هغه دي، چې دواړه جانبین یې د عوض په مقابل کې یو شی له مقابل جانب څخه لاسته راوړي، لکه د اخیستلو او خرڅولو عقد، د کرایې عقد، د اجارې عقد او داسې نور.

پوښتنه: د وړیا او یو اړخیز او همدا رنګه د ناوړیا او دوه اړخیزه عقدونو تر منځ توپیر په څه کې دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ابه هر يو اړخيز عقد ته وړيا عقد ويلای شو، لکه هبه، ولې هر وړيا عقد ته يو اړخيز عقد نه شو ويلای، بلکې بعضې امکان لري دوه اړخيز وي، لکه عاريت په همدې ترتيب هر ناوړيا عقد ته دوه اړخيز عقد ويلای شو، لکه اخيستل او خرڅول ولې هر دوه اړخيزه عقد ته ناوړيا عقد نشو ويلای، ممکن هغه وړيا عقد وي، لکه عاريت

*-ناوړيا يقيني او ناوړيا احتمالي عقدونه*

ناوړيا يقيني عقدونه هغو ناوړيا عقدونو ته ويل کېږي او ناوړيا احتمالي عقدونه هغه دي، چې باوجود ددې نه چې اساساً ناوړيا عقدونه دي، اما بيا هم يو له طرفينو څخه په دې فکر کې وي، چې د مقابل جانب نه عوض لاسته راوړي او که نه يې راوړي، چې دا عوض په کومه اندازه او مقدار سره وي، يانې دقيق معلومات تر لاسه نه کړي، نو دا موضوع معمولاً له تصادف او احتمال سره مخامخ کېږي، لکه د بيمې عقد.

ددې فرعي تصنيف عملي فايده د نګاه له غبن څخه ده، نو که چېرې په يو عقد کې له مفصلې مطالعې څخه وروسته غبن څرګند شي نو دا د عقد د فسخې سبب ګرځي؟

لکه څرنګه چې د افغانستان د مدني قانون په دې ارتباط وايي، چې که چېرې په يو عقد کې د شي اصلي قيمت او د شي د خرڅلاو د قيمت تر منځ د ۱۵ فيصده نه زيات شي، نو متضرر شخص کولای شي، چې د عقد د فسخ کولو غوښتنه وکړي

*-آني يا فوري او متمادي عقدونه*

اني عقدونه هغه عقدونه دي، چې په هغې کې د طرفينو له خوا نه انا او فوراً وجايب اجرا کېږي، لکه پېرل او پلورل په نغدو پيسو سره.

خو متمادي عقدونه هغه دي، چې په کې دواړه يا يو له جانبينو څخه دزمانې په معينو مقاطعو کې د وجيبې په تر سره کولو مکلف ګرځي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د کرایې عقد، یا د بیعې عقد په قرض سره.

*- د معین او غیر معین مدت لرونکي متمادي عقدونه:*

د دې فرعي تصنیف فایده دا ده، چې معین مدت لرونکي متمادي عقدونه، مخکې له وخته فسخ کېدای نه شي، په داسې حال کې چې غیر معین مدت لرونکي عقدونه هر وخت نظر د جانبینو د ارادې ځرګندولو ته فسخه کیدلای شي.

*-نتیجوي او وسیلوي عقدونه:*

نتیجوي عقدونه عبارت له هغه عقدونو څخه دي، چې یو له طرفینو څخه له مقابل جانب سره یو نهایي هدف ته د رسېدلو تعهد کوي، مثلاً: د تابلو ترسیمول، د ودانۍ جوړول، د مېز جوړول او داسې نور... او وسیلوي عقدونه هغه دي چې په هغې کې یو معین هدف د تر لاسه کولو نه بلکې هدف ته د رسېدلو لپاره د هرو ممکنو وسایلو د استعمال تعهد کوي، مثلاً: د وکالت عقد، د مریض عقد د طبیب سره د تداوی په اړوند.

*-تراضي، شکلي او عیني عقدونه:*

تراضي عقدونه هغه عقدونه دي، چې په مجرد د طرفینو د ارادو په توافق سره منعقد کېږي او د کومو شکلیاتو او تشریفاتو ایجاب نه کوي، لکه اخیستل او خرڅول.

شکلي عقدونه هغه دي، چې پرته د طرفینو د ارادو د توافق او رضایت څخه د خاصو شکلیاتو او تشریفاتو ایجاب هم کوي، لکه د ازدواج عقد او داسې نور....

عیني عقدونه هغه عقدونه دي، چې پرته د طرفینو د رضایت او خاصو تشریفاتو د عقد د موضوع تسلیمي هم صورت و نیسي، لکه د هبې او ودیعت (امانت) عقود او داسې نور.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



-انفرادي او جمعي (اجتماعي) عقدونه:

انفرادي عقدونه هغه عقدونه دي، چې طرفين يې حقيقي يا فزيکي اشخاص تشکيلوي چې معمولاً او يا هم د کوم نماينده او ممثل په اساس د عقد په انعقاد کې برخه اخلي، لکه د ازدواج عقد او داسې نور.

برعکس اجتماعي عقدونه هغه عقدونه دي، چې يو يا دواړه جانبين يې د حقيقي اشخاصو يو ګروپ تشکيلوي، چې د يو معين نماينده پر اساس د عقد په انعقاد کې برخه اخلي، البته آثار او نتايج يې ټولو اعضاوو سره اړيکه پيدا کوي، لکه د دوه سهامي شرکتونو يا د يو حقيقي شخص او يو سهامي شرکت تر منځ منعقد شوی عقد.

-تعاطي او اذعان عقدونه:

تعاطي هغه عقدونه دي، چې د عقد دواړه طرفين په کې د آزاد او مساوي جروبحث له حق څخه برخور داره وي او د هغې په نتيجه کې عقد منعقد شي، لکه: د اخيستلو او خرڅولو عقد.

برعکس اذعان عقدونه هغه دي، چې په هغې کې يو د جانبينو ته دغه د آزاد جروبحث حق حاصل نه وي، بلکې هغه صرف قبول او يا د رد کولو توانمندي ولري، لکه: هغه عقدونه چې د بيمې او يا د حمل نقل مؤسسو سره منعقد کېږي.

-لازم او جايز عقدونه:

لازم عقدونه هغه عقدونه دي، چې پرته د قانون له صراحت څخه هيڅ يو له طرفينو څخه نشي کولای، چې وروسته د عقد له انعقاد څخه، هر وخت چې وغواړي عقد فسخه کړي، لکه: د بيعې عقد او داسې نور، خو د يادونې وړ ده، چې دا هم امکان لري، چې يو يا دواړو جانبينو ته د عقد په متن کې د عقد د فسخ کولو حق ورکړل شوی وي، چې دې ډول عقدونو ته، لازم خيار عقدونه ويل کېږي.

برعکس جايز عقدونه هغه عقدونه دي، چې هر يو له جانبينو څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر وخت چې وغواړي کولای شي، چې عقد فسخ کړي، لکه د وکالت عقد.

ځینې وخت ددې امکان هم شته، چې یو عقد د یو لورې لپاره لازم عقد او د بل لپاره جایز عقد وي، مثلاً: د رهن عقد، چې دا عقد راهن (رهن ورکوونکي) لپاره لازم عقد دی او نشي کولای، چې د دین له تادیه کولو څخه مخکې خپل مرهونه اموال ترلاسه کړي، اما برخلاف د مرتهن لپاره دا عقد جایز دی، کولای شي، چې نوموړی عقد فسخه کړي او مرهونه اموال راهن ته مسترد کړي.

*ج- د عقدونو د تشکیل او صحت شرایط:*

ددې لپاره چې په یو عقد باندې حقوقي آثار مرتب شي، باید د لاندې څلور ګونو شرایطو درلودونکی وي

۱- *رضایت:* د دوه اشخاصو د ازادو توافق په صریحو الفاظو (کتبي، شفاهي، حرکاتي او اشارات) چې د یو په ایجاب او د بل په قبول سره صورت نیسي، عبارت له رضایت څخه دی، لکه د اخیستلو او خرڅولو عقد چې د صریحو الفاظو په څرګندولو سره صورت نیسي.

پوښتنه: ایا سکوت هم د رضایت د څرګندولو یو وسیله ده یا خیر؟

ځواب: له حقوقي نقطې نظره د پرنسیپ په لحاظ سکوت د رضایت مانا نه ورکوي، ځکه دا موضوع د معاملاتو په ساحه کې ځینې مشکلات ایجادوي

د افغانستان د مدني قانون (۲۵۲) مادې له مخې، سکوت هغه وخت قبول ګڼل کېږي، چې د عاقدینو تر منځ تعاملي سابقه ولري او ایجاب د دې تعامل په اساس صورت نیولی او خالص د مقابل جانب په نفع وي.

*اهلیت:*

له هغه قانوني صلاحیت څخه عبارت دی، چې د هغې پر اساس یو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص د حق لاسته راوړلو، له هغې څخه ګټه اخيستلو او په هغې کې د تصرف اجراتو ورتيا او توانمندي پيدا کوي او په دوه ډوله دي.

*الف- د انتفاع اهليت:* له هغه صلاحيت څخه عبارت دی، چې د هغې پر اساس شخص ديو حق د تر لاسه کولو او له هغې څخه د ګټې اخيستلو توانمندي تر لاسه کوي، د مثال په ډول: يو شخص کور اخلي، نو هغه له کور څخه د ګټې لاسته راوړلو اهليت لري، چې د همدغه انتفاع اهليت پر اساس نوموړی شخص د کور مالک ګرځي، د پرنسيپ په لحاظ ټول حقوقي شخصيت لرونکي اشخاص د ژوندي تولد کېدو د ورځې نه تر مرګ پورې، د انتفاع اهليت لرونکي پېژندل کېږي، ولې په عمل کې که موږ وګورو، نو استثنآ ځيني اشخاص سره له دې چې د حقوقي شخصيت درلودونکي هم وي، خو د انتفاع اهليت نه لري، چې بهترين مثال يې طفل دی، چې د رشد سن يې نه وي پوره کړی، نو د ازدواج له عقد څخه فاقد الاهليت دی، په دې مانا چې د ازداج عقد نه په خپله، نه د ولي او نه هم د قيم او وصي په واسطه منعقد کولای شي.

*ب- د تصرف او اجرا اهليت:* له هغه صلاحيت څخه عبارت دی، چې د هغې په درلودلو سره شخص په خپل حق کې د معاملاتو د تر سره کولو توانمندي تر لاسه کوي، د مثال په ډول، يو شخص کور واخيست د انتفاع اهليت تر څنګ د تصرف او اجرا اهليت هم لري، په دې مانا، چې کولای شي چاته يې په کرايه ورکړي او يا يې خرڅ کړي

## ۳- د عقد موضوع

د عقد موضوع په حقيت کې د وجيبې له موضوع څخه عبارت ده او د وجيبې موضوع به د يو شي ورکول، د يو عمل اجرا يا ورڅخه امتناع کول وي

که چېرې د عقد موضوع يانې د وجيبې موضوع د يو عين (شي) ورکول وي، نو دا شرايط بايد ولري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ شی باید موجود وي

ـ شی باید د تجارت له حیثه د تملیک قابلیت درلودونکی وي

ـ شی باید د کمیت او کیفیت په لحاظ معلوم او مشخص وي

خو که چېرته د عقد موضوع د یو عمل کول یا ورڅخه امتناع کول وي، نو باید د لاندې شرایطو درلودونکی وي

ـ د عمل اجراً یا ورڅخه امتناع کول ممکن وي

ـ د عمل اجراً یا ورڅخه امتناع مشروع وي

*۴ـ د عقد سبب*

د عقد علت عبارت له هغه دلایلو څخه دي، چې د عقد طرفین د عقد انعقاد ته هڅوي، یا په بل عبارت د عقد سبب د شخصي او خصوصي امر څخه عبارت دي، چې په هر عقد کې مختلف او جدا ګانه اشکال ځانته غوره کوي، مثلاً: د کور د اخیستلو په عقد کې ممکن اهداف د اخیستونکي مختلف وي. لکه اوسېدل، په کرایه ورکول، یا یو چا ته هبه ورکول.

## دویم مبحث - حقوقي حوادث

دا چې د عندي حقوقو منابع په دوه ډوله دي، چې د هغې له جملې څخه مو د حقوقي اعمالو په اړوند په تېر څپرکي کې د موضوع له اړونده مهمو مطالبو څخه یادونه وکړه، نو دا څپرکی مو د عندي حقوقو دویمې منبع یانې د حقوقي حوادثو اړونده مفاهیمو لپاره ځانګړی کړی دی، چې په لاندې ډول ترې د څو مباحثو په ضمن کې یادونه کوو.

*لومړی مطلب-د حقوقي حوادثو پېژندنه:*

حقوقي حوادث عبارت له هغو واقعاتو څخه دي، چې پرته د شخص د ارادې د څرګندولو او یا قصد له موجودیت څخه د حقوقي نتایجو (د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق یاو جیبې د ایجاد، انتقال، تغییر او سقوط) باعث ګرځي، د مثال په ډول د متوفی دیون او دیونو انتقال وارثینو ته

نوټ: هېره دې نه وي چې په حقوقي اعمالو کې د قصد او ارادې موجودیت ضرورت او په حقوقي حوادثو کې عدم ضرورت دواړو تر منځ د بیلتون نښه ده، د مثال په ډول، وصیت نامه چې موږ یې د یو حقوقي عمل په حیث پېژندلای شو، ځکه چې دلته حقوقي نتیجه چې عبارت ده د موصی د وصیت کړای شوي اموالو او دارایی انتقال د موصی له د قصد او ارادې په بنیاد صورت نیسي او پرته د قصد او ارادې له څرګندولو څخه د نوموړي حقوقي نتیجې انتقال ممکن نه دی، اما برخلاف د دې د شخص د وفات په صورت کې د متوفی د یون او د دیونو انتقال د هغې وارثینو ته د یوې حقوقي حادثې په حیث پېژندلی شو، نه د یو حقوقي عمل په حیث، ځکه د دې حادثې حقوقي اثار او نتایج چې عبارت دي د موروث شخص د حقوقو او مکلفیت (وجایب) انتقال د هغې وارثینو ته د موروث شخص او وارثینو په قصد او ارادې سره صورت نه نیسي، بلکې پرته د هغې نه پرې نوموړي آثار منتج کېږي

## دویم مطلب-د حقوقي حوادثو ډولونه

د حقوقي حوادثو ډولونه موږ له دوه زاویو څخه تر مطالعې لاندې نیسو:

### لومړی جز-په عمومي لحاظ

د حقوقي حوادثو ډولونه ډېر زیات دي، خو په عمومي لحاظ په لاندې څلورو برخو باندې وېشل شوي دي

۱- هغه حقوقي حوادث چې د انسان په ژوند پورې ارتباط پیدا کوي، لکه تولد، فوت او...

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هغه حقوقي حوادث چې له وقایعو څخه سر منشاء اخلي، لکه قهریه قواوې او داسې نور.

۳- هغه حقوقي حوادث چې د قانون په اجراء پورې مربوط وي، لکه مرور زمان او داسې نور.

۴- هغه حقوقي حوادث چې د انسان له روش او رفتار څخه سرمنشاء اخلي، لکه جرم او...

د انسان له روش او رفتار څخه نشات کړای شوي حقوقي حوادث معمولاً، په دوو حالاتو کې د وجایبو د ایجاد باعث ګرځي، یا دا چې د دغې حادثې د وقوع په صورت کې به د یو شخص په دارایۍ کې پرته له استحاق څخه زیادت صورت موندلی وي، چې په دې صورت کې د هغه شخص چې پرته له استحاق څخه یې په دارایۍ کې زیادت رامنځته شوی دی دا وجیبه لري، چې باید هغه ببرته مسترد کړي، چې دا ډول حقوقي حوادث د نفع مولد یا غیر مستحق عنای په نوم یادېږي، یا ممکن د بعضې حقوقي حوادثو په وقوع سره د پورتني حالت په خلاف یو شخص متضرر کېږي، نو په دې صورت کې متضرر لپاره حق ایجادېږي، چې د مقابل جانب (د ضرر د وقوع عامل) نه د خسارې د جبران تقاضا وکړي او د ضرر عامل لپاره وجیبه ایجادېږي چې متضرر ته د خسارې جبران تادیه کړي

*دویم جز- په خصوصي لحاظ:*

د افغانستان د مدني قانون له حکم سره سم حقوقي حادثه د داسې فعل له تصرف نه عبارت ده، چې د شخص په اختیار یا د هغه له اختیار پرته منځته راځي او قانون پر هغه تاکلي اثار مرتب کړي وي

د پورتني تعریف په بنیاد حقوقي حوادث پر دوه ډوله دي، چې په لاندې توګه یې د بحث لاندې نیسو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی-غیر اختیاري حقوقي حوادث

عبارت له هغو حوادثو څخه دي، چې په طبیعي ډول یا د انسان د ارادې له مداخلې پرته منځته راځي، لکه توپانونه، زلزلې، مرور زمان او داسې نور.

غیر اختیاري حقوقي حوادث د عندي حقوقو منابع تشکیلوي او د حق د ایجاد او انقضا باعث ګرځي، د بېلګې په توګه که مستاجر (اجاره اخیستونکی) و نه شي کولای چې د طبیعي حوادثو له امله له هغې ځمکې څخه چې په اجاره یې نیولې استفاده وکړي، نو د مؤجر (اجاره ورکوونکي) حق نه ساقطېږي او د مستاجر په مقابل کې هېڅ ډول مسوولیت نه لري او همدا راز د دې حادثې مسوولیت هم موجر ته نه راجع کېږي، یا په همدې ډول مرور زمان د یو حق د اسقاط سبب ګرځي، مثلاً که یو ملکیت د چا له لاسه ووځي او دغه شخص چې ملکیت یې له لاسه وتلی دی، د هغه مودې په دننه کې چې قانون یې ټاکي په هغه اعتراض ونه کړي نو د هغې مودې له تېرېدو وروسته د حق د خاوند د عوه نه اورېدل کېږي.

دویم-اختیاري حقوقي حوادث

له هغو حقوقي حوادثو څخه عبارت دي، چې د انسان په ارادې سره منځته راځي، اختیاري حقوقي حوادث ممکن په دوه طریقو سره څرګند شي، چې هغه عبارت دي له مضر فعل او ګټور فعل څخه

الف-اختیار حقوقي حوادث د مضره فعل په اساس:

مضر فعل، عبارت له هغه فعل څخه دی، چې یو شخص د هغه په اجرا کولو سره بل شخص له ځاني یا مالي اړخه متضرر کړي او په دوه ډوله دی، یو هغه مضره فعل دی، چې ځان ترې متضرر کېږي، چې دا د خسارې د جبران سبب ګرځي، د بېلګې په توګه که یو شخص بل شخص

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووژني، يا يې زخمي کړي او يا هغه ته د ضرر نور ډولونه ورسوي، نو هغه ته د واردې شوې خسارې په جبران مکلف دی او همدارنګه که څوک د زخمي کېدا يا بل هر مضر فعل په سبب د چا د قتل يا مرګ موجب وګرځي، نو د هغو اشخاصو د نفقې په تعويض مکلف دی، چې د هغوی نفقه د مړه شوي شخص پر غاړه وه او له هغې څخه د قتل يا مرګ په سبب محروم شو، البته د تعويض د عوه د مرور زمان له تېرېدو وروسته نه اورېدل کېږي.

اودويم هغه فعل دی چې مال ترې متضرر کېږي، هغه مضره فعل چې مال ترې متضرر کېږي، هم د اجباري تاوان سبب ګرځي او په لاندې ډولونو وېشل شوی دی.

۱- *اتلاف*: د مدني قانون د ۷۵۸-۷۷۱ مادو له احکامو سره سم هغه شخص چې د بل چا مال تلف کړي، د هغه د تاوان په ورکولو مکلف دی، که څوک د چا مال تلف کړي، عام له دې چې مال په خپله د مالک په لاس کې وي او يا د هغه د امين په لاس کې په قصد سره وي او که پرته له قصد څخه له خپل فعل څخه د پيدا شوي ضرر په ضمان او که تلف جزيي وي، نو کوم نقصان چې مال ته پيدا شوی په تلفوونکي هماغه ضمان لازمېږي.

۲- غصب: د مدني قانون د (۷۲۵-۷۲۷) مادو له احکامو سره سم غصبوونکی د هغه څه په بېرته ورکولو مکلف دی، چې اخيستی يې دی، که د غصب په اثر ضرر ورسېده غصبوونکی د مال په ورکولو سربېره د تاوان په ورکولو هم مکلف دی، که غصب شوی مال له غصبوونکي سره هلاک شي (له منځه ولاړ شي)، نو د ټول مال ضامن ګڼل کېږي او که غصب شوی مال تغيير وکړي، نو د مال مالک کولای شي، چې د هغه عوض واخلي او يا يې تاوان واخلي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-تسبیب: د مدني قانون (۷۹۳-۷۹۴) مادو له حکمونو سره سم: کومه جنایي، حادثه چې له حیوان څخه پیدا کېږي، مسوولیت نه لري، مالک هغه وخت د حیوان د ضرر رسولو مسول دی، چې ثابته شي، چې د هغه له خوا د حادثې د واقع کېدو د مخنیوي لپاره لازم احتیاط نه دی شوی، که مالک حیوان ولیدلو چې د بل چا مال ته ضرر رسوي او منع یې نه کړي، یا د خپل حیوان له عیب څخه خبر و او د هغه ساتنه یې و نه کړه ضامن ګڼل کېږي.

## ب- اختیاري حقوقي حوادث د ګټور فعل په اساس:

دا ډول حقوقي حوادث د ګټورو افعالو ترسره کولو په اساس رامینځته کېږي، په دې مانا چې یو شخص داسې یو فعل ترسره کوي، چې نوموړی شخص د دې فعل په ترسره کولو سره بل شخص له مالي او ځاني پلوه متضرر نه کړي، د بېلګې په توګه، که څوک یو شی په دې ګمان بل چا ته ورکړي، چې راباندې واجب دی، یا یې راباندې حق دی او بیا ثابته شي، چې ورکول یې وربانديې واجب نه و او یا یې وربانديې حق نه و نو کولای شي له هغه نه یې بېرته واخلي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

# د عندي حقوقو ډولونه

ددې لپاره چې د عندي حقوقو په ډولونو باندې ښه پوه شو، علماوو عندي حقوق په لومړي قدم کې په درې برخو وېشلي دي، چې له هغې څخه وروسته بیا ځینې نور واړه عنوانونه هم لري، چې د ښه پوهېدو لپاره یې جلا جلا بیانوو.

## لومړی مبحث - سیاسي حقوق

(سیاسي حقوق له هغو اختیاراتو، امتیازاتو او صلاحیتونو څخه عبارت دي، چې اشخاصو ته په عمومي قواوو او دولتي ارګانونو کې د ګډون لپاره ورکول شوي وي) د مثال په ډول، د انتخابېدو حق، یا دا چې د ولسوالیو او ولایاتي شوراګانو یا د ملي شورا یا جمهوري ریاست ته او یا ښاروالیو لپاره د ټاکلو او ټاکل کېدو حق، چې نوموړی حق د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون په (۳۳) ماده کې صراحت لري: ((د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدو حق لري))

یا په بل عبارت سیاسي حق له هغه اختیار او صلاحیت څخه عبارت دی چې یو شخص ته واک ورکوي، چې د دولت د عمومي قواو او د هغه په جوړښت کې ګډون وکړي، چې په دې هکله د افغانستان اساسي قانون په ۴ ماده کې داسې صراحت لري (په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري، چې په مستقیم ډول یې خپله یا د خپلو استازو له لارې عملي کوي)

په هر صورت سیاسي حقوق ډېرې برخې لري، لکه ټول اتباع حق لري چې خپل نظریات او افکار څرګند کړي، ټولنې جوړې کړي، په حکومت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې برخه واخلي، په قوانينو کې د اتباعو حقوق رعايت شي، په قضايي سيستم کې د خلکو تر منځ په مساوي شکل د قانون تطبيق کول او داسې نور.

## دويم مبحث - عمومي حقوق

عمومي حق يا حقوق د انسان پر شخصيت او د هغه په جسمي، روحي او نفسي سلامتيا پورې اړوند او يا هم د دولت او افرادو په اړيکو باندې ناظر وي، يا په بل عبارت عمومي (حقوق هغه حقوق دي چې د دولت او افرادو تر منځ اړيکې او مناسبات ترتيب او تنظيموي، لکه د ژوند حق، د ازادۍ حق، د ټولنو د جوړېدو حق او داسې نور حقوق چې د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون په دويم څپرکي کې د اتباعو د حقوقو او وجايبو تر عنوان لاندې، عمومي حقوق د دولتونو د تجاوز او مصيبتونو پروړاندې، د درېدو او سرکښو ځواکونو د مهارولو يوه وسيله ده.

لکه مخکې چې له دې خبرې څخه يادونه وشوه چې، د اتباعو عمومي حقوق د افغانستان اساسي قانون په دويم فصل کې د اتباعو د حقوقو او وجايبو تر عنوان لاندې له (۲۲) مادې څخه تر (۵۹) مادې پورې بيان شوي دي، نو تاسې محترم محصلين دا کورنۍ دنده لرئ چې د اساسي قانون دويم فصل مطالعه کړئ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيم مبحث - خصوصي حقوق

(خصوصي حقوق هغه واک، امتیاز او صلاحیت دی چې هر شخص يې د نورو اشخاصو او یا شیانو پر وړاندې لري، لکه: د مالکیت حق، د شفع حق، د رهن حق، د ازدواج حق او نور.)

د خصوصي حقوقو د ایجاد اسباب عبارت له حقوقي اعمالو او حقوقي حوادثو څخه دي، چې په دې اړه په دریيم فصل کې په تفصیل سره بحث شوی دی او په دې ځای کې پرې بحث نه کوو.

لکه څرنګه چې په تعریف کې دې خبرې ته اشاره وشوه چې خصوصي حقوق به یا د یو شخص له صلاحیت او امتیاز څخه عبارت وي، چې د بل شخص په مقابل کې يې لري او یا دا چې د یو شخص صلاحیت او امتیاز دی چې د مال یا جنس په مقابل کې يې لري، چې له همدې وجې خصوصي حقوق په دوه برخو باندې ویشل شوي دي، چې هغه له مالي او غیر مالي حقوقو څخه عبارت دي.

چې په دې ځای کې موږ مالي او غیر مالي حقوق جلا جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

## *لومړی مطلب-غیر مالي حقوق:*

(غیر مالي حقوق عبارت له هغو حقوقو څخه دي، چې یو شخص يې د بل شخص په مقابل کې لري) یا په بل عبارت: غیر مالي حقوق له هغه امتیاز او صلاحیت څخه عبارت دي، چې موخه يې د انسان د عاطفي او اخلاقي اړتیاو پوره کول دي، د دغه حق موضوع د اشخاصو غیر مالي اړیکې دي چې د تبادلې ارزښت نه لري او په مستقیم ډول د ارزیابۍ او په پیسو د بدلولو وړ نه دي، د مثال په ډول: د ولایت، حضانت، زوجیت، ابووت، بنووت او داسې نور حقونه

غیر مالي حقوق په مطلق ډول داسې نه دي، چې هېڅ ډول مالي برخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نه لري، خینې وخت غیر مالي حقوقو کې هم مالي اثار لیدل کېږي، لکه د وراثت په حق کې شخص کولای شي چې د خپل مورث تر مړینې وروسته، دارايي شتمني تر لاسه کړي، په همدې ترتیب د زوجیت اړیکه، زوجې ته د نفقې د ترلاسه کولو وړتیا ورکوي، په هر حال بیا هم موږ نه شو کولای چې غیر مالي حقوق د مال د تحصیل وسیله وګرځوو.

### دویم مطلب-مالي حقوق:

( مالي حقوق هغه امتیازات دي، چې د هرهېواد حقوقي قواعد د وګړیو او اشخاصو د مادي اړتیاوو د لرې کولو لپاره هغه په رسمیت پېژني، موخه او هدف له مالي حقوقو څخه د هغو اړیکو تنظیم دی، چې له شیانو څخه د استفادې لارې چارې روښانه کوي او دغه حقوق په پیسو د تبادلې وړ وي، لکه د مالکیت حق د انتفاع حق او نور.

له یاده باید و نه باسو چې کله نا کله داسې هم واقع کېږي، چې خینې حقوق په داسې حال کې چې غیر مالي دي، مالي هم وي، لکه د مؤلف حق، چې دواړه اړخه لري، د ساري په توګه کله چې مؤلف خپل اثر پلورلو او خرڅولو ته وړاندې کوي، مالي حقوق پرې مرتبېږي، خو د هغه معنوي او اخلاقي اړخ یې یوازې په مولف پورې تړلی دی، چې غیر مالي ګڼل کېږي.

مالي حقوق بیا په خپل وار سره په عیني او دیني حقوقو وېشل کېږي

*لومړی جز-عیني حقوق:* عیني حقوق له هغه مستقیم تسلط څخه عبارت دي چې د عین پرذات قانون لخوا ورکول کېږي، یا په بل عبارت، عیني حقوق هغه واک دی چې شخص یې نسبت یوه شي ته لري او کولای شي چې هغه په مستقیم ډول او له واسطې پرته اجرا کړي، په دې اساس عیني حق دوه رکنه لري:

هغه کس ددې حق څښتن دی چې یا حقیقي او یا هم حکمي شخصیت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري، هغه شی چې د حق موضوع واقع شي، عيني حق بيا هم په خپل وار سره په دوو نورو کوچنيو برخو وېشل کېږي، اصلي عيني حقوق او تبعي عيني حقوق چې په لنډه توګه يې څېړو.

*الف-اصلي عيني حقوق:* اصلي عيني حقوق هغه دي چې شخص ته له شي څخه د استعمال او انتفاع پوره يا نيمګړی اختيار ورکوي، تر ټولو اصلي عيني حق د مالکيت حق دی، چې د هغه پر اساس مالک کولای شي، په خپل ملکيت باندې هر ډول تصرف او انتفاع ولري، اصلي عيني حقوق د افغانستان د مدني قانون په (۴۸۲) ماده کې داسې معرفي کېږي (اصلي عيني حقوق د تصرف او ګټې اخيستلو له حقوقو څخه عبارت دي، چې پر عين مرتبېږي او مختصر دي، چې لاندنيو حقوقو ته شاملېږي )

- د رقبې د ملکيت حق او له عين څخه ګټه اخيستل
- د عين د ګټې اخيستلو د ملکيت حق بې د رقبې له ملکيت څخه
- د ارتفاق حقوق

*ب-تبعي عيني حقوق:* په دې اساس معين عيني حق تر غوښتنې لاندې راځي او داين ته دا حق ورکوي، چې د مديون لخوا د حق د نه اجرا په صورت کې د وثيقي پر مبناء خپله غوښتنه تر استيضاً لاندې راوړي، په دې حالت کې داين پر وثيقي حق لري، چې د هغې پر خلاف پر حق(غوښتنې) پورې اړه لري او د هغې په ورکړې دغه حل له مينځه ځي او په همدې اساس هم دي، چې دې ډول حقوقو ته تبعې عيني حقوق وايي، د افغانستان د مدني قانون له مخې دغه حقوق عيني حقوق شمېرل کېږي

۱. د رسمي ګروی حق ۲. د حيازي ګروی حق ۳. د اختصاص حق
۴. د امتياز حق ۵. د عين د حبسولو حق

*دويم جز- ديني حقوق:* ديني حق هغه دی چې شخص يې نسبت نورو ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کوي او د هغه پرنسبت او اساس د حق څښتن د دې صلاحیت پیدا کوي، چې له هغو څخه د یو کار د کولو غوښتنه وکړي، د حق څښتن ته داین د کار د کولو یا اجرا کولو شخص ته مدیون او د ديني حق موضوع ته دین ویل کېږي

د ديني حق موضوع کیدای شي یو له د غو دریو موضوعاتو څخه وي

- د مال انتقال

-د یو کار تر سره کول

-د یو کار نه تر سره کول

*معنوي حقوق:* تر دې دمه داسې ارزښونه په حقوقو کې رامنځته شوي دي، چې په پیسو باندې تبادله کېږي او په بازار کې تبادله کېږي، ولې نه په بل شخص باندې تحملیږي او نه جنس پورې تعلق لري او نه د شخصیت له عناصرو څخه ګڼل کېږي، د دې حق موضوع د انسان د ذهن یو باارزښته ابتکار دی، یا په بل عبارت یو عقلي او عملي فعالیت دی، نو په همدې اساس په مالي او غیر مالي حقوقو پورې تړلی نه دی، خو خپله د مالي حقوقو له خصوصیاتو څخه ګڼل کېږي او په همدې اساس یې معنوي حقوق نومولي دي، لکه د تالیف حق، د اختراع حق، تجارتي حق او صنعتي علایم

*په شخصیت پورې مربوط حقوق:*

په دې ډلبندۍ کې چې کوم حقوق راځي د هغه موضوع نه مال دی او نه خارجي شخص بلکې شخص په خپل ځان باندې حقوق لري، چې څرنګه ژوند وکړي او څه و نومول شي، همدارنګه د جسماني تمامیت حق، شرافت، شهرت، تصویر او د ژوند شکل له همدې ډول حقوقو څخه ګڼل کېږي، په دې مانا چې دا حق نه یو خارجي شي پورې تړاو لري او نه په بل شخص پورې تړاو لري

پای

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځلیکونه


۱_ احتشام، محمود. قانون کې تعبیر و تشریح. لاهور: منصور بک.

۲_ الصیر في، یاسر احمد. المدخل الدراسة القانون. قاهره: جامعه القاهره، کلیه الحقوق

۳_ ابراهیمي، سید نصر الله( ۱۳۸۳۹ هـ ش)، حقوق بین المللي خصوصي. چاپ اول، انشارات سازمان، و انشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامي

۴_ بدراوي، منعم ( ۱۳۶۸ هـ ش)، مبادي علوم قانوني. مترجم، محمد اکرم، عبقري، دویم جلد، مرکز تحقیقات علوم اسلامي

۵_ تایب، برکت الله( ۱۳۹۱ هـ ش)، فقهي قواعد.

۶_ دانش، حفیظ الله حقوقو د مبادي درسونه

۷_ دانش، حفیظ الله حقوق وجایبه

۸_ دانش حفیظ الله کریمنولوژي

۹_ دانش، حفیظ الله د حقوق جزا تاریخ.

۱۰_ دانش حفیظ الله اصول محاکمات جزایي.

۱۱_ دانش حفیظ الله(۱۳۸۸ هـ ش)، جزا شناسي. کابل: مطبعه، طباعتي و تبلیعاتي حبیب الله حسیب

۱۲_ دانش، حفیظ الله(۱۳۸۸ هـ ش)، عمومي حقوق جزا. اول جلد، کابل: مطبعه طباعتي و تبلیعاتي حبیب الله حسیب

۱۳_ دانش حفیظ الله ۱۳۸۸، عمومي حقوق جزا. دویم جلد، کابل: مطبعه، طباعتي و تبلیعاتي، حبیب الله حسیب

۱۴_ د عدلیې وزارت، رسمي جریده. (۱۳۸۲ هـ ش) ، اساسي قانون پرلپسې ګڼه ۸۱۸.


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵ـ د عدلیې وزارت، رسمي جریده .(۱۳۵۵) ،جزا قانون پرلپسې ګڼه ۳۴۷.

۱۶ـ د عدلیې وزارت، رسمي جریده.(۱۳۵۵ هـ ش)، مدني قانون پرلپسې ګڼه ۳۵۳.

۱۷ـ د عدلیې وزارت، رسمي جریده(۱۳۳۲ هـ ش) د تجارت اصولنامه

۱۸ـ د عدلیې وزارت، رسمي جرید.(۱۳۸۸ هـ ش)، د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د منع قانون پرلپسې ګڼه ۹۸۹.

۱۹ـ سبحاني، ګلاب شاه.(۱۳۹۱ هـ ش)، د حقوقو مبادي ګودر خپرندویه ټولنه

۲۰ـ ستانکزی، نصر الله (۱۳۸۷ هـ ش)، سالنګ کتاب خپرونکي

۲۱ـ ستانکزی، نصر الله (۱۳۸۷ هـ ش)، مبادي حقوق عدلي او قضایي چارو پروژه.

۲۲ـ صناعي، پرویز.(۱۳۸۱ هـ ش)، حقوق و اجتماع. تهران: انشارات طرح نو.

۲۳ـ کاتو زیان، ناصر.(۱۳۸۱ هـ ش)، فلسفه حقوق اول جلد ، تهران: شرکت سهامي انتشار.

۲۵ـ کاتو زیان، ناصر.(۱۳۸۱ هـ ش)، فلسفه حقوق دویم جلد ، تهران: شرکت سهامي انتشار.

۲۶ـ کاتوزیان، ناصر.(۱۳۸۱ هـ ش) ،فلسفه حقوق درېیم جلد ، تهران: شرکت سهامي انتشار.

۲۷ـ قاضي سید ابو الفضل (۱۳۸۳ هـ ش) ،حقوق اساسي و نهاد های سیاسي.تهران: نشر میزان.

Scanned by CamScanner


(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸_ګراسمان، کونتر او داوید ، رینا.(۱۳۷۹ هـ ش) ،معاصر حقوقي سیستمونه اول جلد ، مترجم: محمد طاهربورګي، پېښور: ساپی پښتو څېړندویه ټولنه
۲۹_ګراسمان، کونتر او داوید ، رینا.(۱۳۷۹ هـ ش)، معاصر حقوقي سیستمونه دویم جلد ، مترجم: محمد طاهر بورګي ، پېښور:ساپی پښتو څېړندویه ټولنه
۳۰_ګراسمان، کونتر او داوید ، رینا.(۱۳۷۹ هـ ش)، معاصر حقوقي سیستمونه درېیم جلد ، مترجم: محمد طاهر بورګي ، پېښور:ساپی پښتو څېړندویه ټولنه
۳۱_لنګردوی، محمد جعفر، جعفري (۱۳۸۰ هـ ش)، مقدمه عمومي علم حقوق. تهران: ګنج دانش.
۳۲_محمد ، محمود ، عبدالرحمن. المدخل الی القانون. قاهره: الناشر، دارالنهقة العربیه
۳۳_نذیر، داد محمد.( ۱۳۸۹ هـ ش)، مبادي حقوق. لومړی جلد، کابل:انشارات، رسالت.
۳۴_نذیر، داد محمد.( ۱۳۸۹ هـ ش)، مبادي حقوق. دویم جلد ، کابل:انشارات، رسالت.
۳۵_نصیري، محمد.(۱۳۸۱ هـ ش)، حقوق بین المللي خصوصي.تهران: انشارات اګاه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**